د پښتو ادبیاتو تاریخ

لومړی ټوک

لومړۍ دوره تر اسلام دمخه

لیکوال

پوهاند عبدالحی حبیبي

کابل ۱۳۲۵

بسم اللّه الرحمن الرحيم

پيل

د لوي څښتن په مرسته د پښتو ژبې د ادبياتو تاريخ لومړۍ پلا زه ليکم. پوهان پوهيږي چه دغه کار دمخه چا ندي کړي، او نه پخوانو مورږ ته څه ابتدائي مواد د دې چاري لپاره را پريښي دي، نو ځکه به دغه زما ليکنه هم بشپړ نه وي او ښائي چه ډيري ماتي ګوډۍ ولري، خو سره د دې هم ښائي چه پوهان ما وبخښي، او دغه لومړۍ سعی که څه هم ناقصه ده په ښه سترګه ووينې!

زه په دې کتاب کي د پښتو د ادب دورې پر څلور ډوله ويشم او د هرې دورې لپاره يو ټوک ليکم نو به دغه د پښتو د ادب تاريخ هم څلور ټوکه وي په دې ډول:

۱. لومړۍ دوره او لومړی ټوک

په دې دوره کي به دا وښوول شي، چه تر اسلام دمخه پښتو ژبه وه که يه؟ د ژبې موقعيت په پخوانو آريانانو کي څه ؤ؟ او پښتو د زړو آريائي ژبو سره څه نسبت لري؟ دا لومړی ټوک تر اسلام دمخه زمانه را ښئي، او هر څه معلومات چه د پښتو ژبي په خصوص کي په لاس راغلي دي پکښې ليکل کيږي!

۲. دوهمه دوره يا دوهم ټوک

د پښتو ژبي دوهمه دوره د اسلام د آبتداء څخه شروع کيږي او تر ۱۰۰۰ هـ کال پوري رسيږي، په دې زرکاله کي چه هر څه پر پښتو ژبه راغلي وي، په دغه دوهم ټوک کي ليکو، د پښتو ژبې لومړني شاعران او نثر ليکونکي چه په دې زرکاله کي تير شويدي يو يو د دوي د ليکونو اوکتابو او آثار سره مفصل راوړو.

لنډه دا چه دا دوهم ټوک د ژبي د زروکالو تاريخ څرګندوي، مشاهير، ادبی مکتوبونه او مسلکونه، د ژبي اوښتني او تطورات ټول را ښيي.

۳. دريمه دوره، او دريم ټوک

دا دوره له ۱۰۰۰هـ څخه شروع کيږي تر ۱۳۰۰هـ پوري را رسيږي، نو زموږ کتاب دريم ټوک د پښتو ژبي د ۳۰۰ کالو يعني درو پيړيو تاريخ دي، په دې دوره کي د پښتو ادب ښه وده کړيده. او په نظم او نثر کي ډير تحولات پيښ شوي، او نوي نوي مکتوبونه او مسلکونه پکښي موندل شويدي، نو ځکه دا ټوک ډير مهم دي او د ژبي د خورا پخو پخو خبرو بيان کوي، او د ادب مهم اړخونه ئي راښيي.

٤. څلورمه دوره يا څلورم ټوک

له ۱۳۰۰هـ څخه شروع کيږي او د ژبي دور ورستنيو ٦۰ کالو پر مخ تگ او لوړتيا را ښيي. د نوي ادب او نوو تحولاتو څرگندونه کوي، د ژبي د عصري نهضت تاريخ بيانوي، هغه نوی حرکت چه د پښتو ادب په دې نوي دوره کي مخ پروده کړي دي، سره له ادبي خصايصو او مزاياو څرگنده وي. د څلورم ټوک لومړی برخه خو دغه ده، دوهمه برخه ئي پښتو ادب ته د مضمون او محتوياتو لامله يوه عمومي گڼه ده، يعني د پښتو شعر اقسام، عمومي مزايا ټول دلته د مثالو سره راوړل کيږي په دې ډول به د لوي خداي په مرسته د پښتو د ادبياتو تاريخ په څلور ټوکه کي وکاږم او هغه مواد او ابتدائي معلومات به سره را غونډ کړم چه تر اوسه مي لاس ته راغلي دي. زه دا منم، چه زما کار او سعی به خورا ابتدائی وي مگر هيله لرم چه وروستنی پښتانه به دا چاره ښه بشپړه کړي. او دا بڼ به د پلټني او تحقيق په گلونو ښه ښکلي او سمسور کړي، خو:

با غ دگلو به سمسور وي موږ به نه يو

د بلبلو به پرې شور وي موږ به نه يو

کابل نوی ښار، د اسد پنځمه، سنه ۱۳۲۳

(عبدالحی حبيبی)

نتوتوځي

ادب

ادب څه شی دي؟ - د ادب موضوع - د ادب تاریخ: (موضوع ـ اصول ـ غایه)

ادب څه شيی دي؟

د کتاب موضوع دا ده چه د پښتو ژبي د ادب تاريخ وليکو، نو تر هر څه دمخه بايد يواري ادب وپيژنو؛ چه څه شي دي؟

ادب په عربي ژبه ښيګړي او کياست او د ژبي او زړه ظرافت او ذکاوت ته وايي[1] چه ظرافت او حسن تناول ئي لنډ لغوي تعريف دي[2] اما په اصطلاح کي ادب په دې ډول تعريف کيږي: ادب هغه پوهنه يا ښه رياضت دي چه سړی د هغه په وسيله يو فضيلت او يو ښيګړه له ښيګړو څخه مومي[3] يا له تيرو تلو او خطاو څخه ژغورل کيږي[4] خلاصه: ادب د لغت او اصطلاح لامله ښيګړي ده، چه سړی له خطاء او بد څخه ساتي[5] او په خوي او خلق اړه لري، چه بيان ئي د اخلاقو د علم کار دي، او دلته په دې بحث اړه نلري.

---

[1] اقرب الموارد.

[2] قاموس د فيروز آبادی.

[3] معيار اللغة ج ا ص ٦١.

[4] تعريفات الجرجانی.

[5] دائرة المعارف د بستاني.

د ادب علم

ادب پر دوه ډوله دي: یو ته طبیعي او نفسي ادب وایو، چه لوړ ئي تعریف راغي، او د انسان اخلاقي ښیګړي لکه ښندنه، زغمنه (حلم) او نوري اړه پوري لري.

دوهم ډول ته کسبي او درسي ادب وایو، چه په لوستنه او زده کړه او پلټنه موندل کیږي[1] او دغه دوهم ډول ادب ته نو د ادب علم هم وائي.

نو په دې لنډ ډول د ادب د علم تعریف داسي کوؤ، چه دغه یو صناعي او کسبي پوهنه ده، چه د بلیغي او ښې وینا ډولونه په هر حال کي راښئي[2] او تل د دغه علم څخه دا زده کوو چه د خپل زړه مطالب په الفاظو او قلم څه ډول ښکاره کو، او بل څرنګه پخپلو خبرو وپوهوو![3] په دې کتاب کي هم تل له دغه دوهم ډول ادب څخه خبري کیږي او (ادبیات) هم هغو علومو او پوهنو ته وائي ، چه په دغه دوهم ډول ادب اړه لري. په نوي دنیا کي ادب یعنی literature نسبتاً ارت مفهوم لري او د ځینو پوهانو تعریفونه د ادب دغه عصري اړخونه ښه څرګندوی مثلاً "ادب د انسان د ژوندانه تفسیر دي" (میاتهیو آرنلډ). د دغي خبري شرح بل پوه سړی په دې ډول کوي "هغه ابدي او سر مدي قوه او شیوه چه قدرت انسان ته ورکړي دي، د دغو اظهار او ښکاره کولو ته ادب وایي" (میاکن).

د آیرلیند مشهور شاعر اټیس لیکي: "په ادب کي ژبه تشه د ژبي په ډول په کار نده، بلکه د یو لطیف فن په رنګ باید استعمال شي، نو هغه لطیف فن چه د ژبي په ذریعه ښکاره کیږي لټریچر بولي".[4]

خلاصه د انسان د احساساتو او افکارو او جذباتو ترجماني د ادب وظیفه ده، مګر دا ترجماني به تل په داسي ډول وینا او خواږه بیان سره وي، چه پر نورو باندي اغیزه وکړي، او خوندوره وي.[5] په دې ډول د ادب لمن ډیره ارته ده، او ټول هغه معلومات چه په ژبه او بیان اړه لري او د انسان د زړه ترجماني کوي، په ادبیاتو کي شمیرل کیږي او ادب ټولو بشري علومو او پوهنو ته هم له دې لامله خدمت کوي، چه د هر علم او پوهني د بیان او اظهار ذریعه

[1] د ابن هذیل عین الادب د علم الادب ص ٥ ج۱ په حواله.

[2] د هاشمي جواهر الادب،ج۱ ص ٨.

[3] د سخاوي ارشاد القاصد.

[4] روح تنقید ص ٦٠.

[5] د بروک انګلیش لیټریچر ص ٥- او دا جان مورلي آن دي سټډي آف لټریچر (On the Study of Literature) ص ٣٩.

هم دغه ادب دي په پښتو ژبه د ادب کلمه په دغه عامه معنی په (ژبوري) سره ښولاي شو، او ټول هغه علوم چه په ژبه او ښه بيان اړه لري پکښې داخلولاي شو.

د ادب موضوع

د پخوانو شرقيانو آراء

پخوانو پوهانو د ادب موضوع داسي ټاکلې ده، چه ادب فقط په وينا (نظم او نثر) کي وضاحت او بلاغت له خوا بحث کوي، اوګټه ئي هم دغه ده چه سړي په نظم او نثر وينا کي مهارت ومومي، او عقل ئي مهذب شی، زړه ئي پاک سي، له ناپوهۍ څخه وژغورل شي، اخلاقي کمال مينده کړي د ښه خوي او د ښه عمل او لوړ همت خاوند شي.[1]

پخوانو پوهانو چه د ادب موضوع منظومه يا منثوره وينا ګڼله، دوي ټول هغه علوم چه په دغو دوو ډولو اړه لري (علوم ادبيه) بلل نو په يوه لنډه خبره کي دا ويلاي شو، چه د ادب موضوع وينا ده، او وينا هم تل له الفاظو او کلماتو څخه جوړيږي، نو ادبي علوم هم د لفظ اوکلمې په شا او خوا کي سره ګرزي او د الفاظو احوال او ډولونه را ښيئ، د شرق پوهان دغه علوم چه د لفظ رازونه او ښنګوالي بيانوي، ډول ډول ويشي. عبدالرحمن ابن الانباري (۵۱۳-۵۷۷هـ) وايي چه اته علمه لکه نحو، لغت، تصرف، عروض، قافيه، صنعت الشعر، اخبار، انساب په ادب کي داخل دي، يو سړی چه له دغو علمو څخه په يوه يا ټولو پوهيږي اديب بلل کيږي.[2]

محمود بن عمر زمخشري (٤٦٧-۵۳۸هـ) په قسطاس کي ليکي، چه علوم ادبيه ۱۲ دي، او قاضي عميدالدين زکريا بن محمود قزويني د بيضاوي په حاشيه کي وايي چه ټول ١٤ دي[3] علامه ياقوت حموي د اديب او عالم فرق داسي کوي: چه اديب د هر شي څخه خورا ښه اخلي او تاليف ئې کوي مګر عالم د علم يو فن را اخلي او څيړي ئې.[4] په دي ډول د دي شرقي پوهنوال په عقيده د ادب موضوع ټول اشياء دي، او وظيفه ئې هم دغه ده، چه د هر

[1] جواهر الادب ص ۸ ج۱- علم الادب ص ۷ د ابن خلدون د مقدمې او د ابن هذيل الدب و السياسه په حواله.

[2] طبقات الادباء ص ۱۱۷.

[3] کشف الظنون ص ۷۵ ج۱.

[4] معجم الادباء ص ۱۷ ج۱.

شي ښيگړي ښکاره کړي. علامه علي بن محمد چه په سيد شريف جرجاني مشهور او په (۸۳۵هـ) مړ دي، علوم ادبيه په دې ډول ويشي، لمړي پلا د ادب علوم پر دوه ډوله دي اصول او فروغ، اصول اته علمونه دي، په دې ډول: (۱) که مفرد لفظ د اصل او ډول او مادې له پلوه وښئي علم لغت ئي بولي (۲) که د مفرد لفظ صورتونه او شکلونه را وښئي علم صرف ئي بولو (۳) که د اصالت او فرعيت له خوا د الفاظو يو له بله نسبت بيان کړي نو ئي (علم اشتقاق) بولو که داسي وي چه د الفاظو د ترکيب او سره نښلولو څيړنه وکړي، نو دا ډولونه لري (٤) که ئي د ترکيب اشکال او د اصلي معناو د اداء بحث کاوه (علم نحو) ده (۵) که بېله لغوي معناو د افادې ډولونه پکښې بيان شي (علم معاني) ئي بولي (٦) که د معنا د کيفيت او څنگوالي بحث د ښکاره توب او پټوالي له لامله وکري (علم بيان) ئي بولي که د هغو مرکبو الفاظو بيان وکړي، چه ځانله بيل وزن لري، نو دا هم لاندي ډولونه لري (۷) که فقط د الشعارو وزن ښکاره کړي (علم عروض) ئي بولي (۸) او که د بيتو آخر او د پاي د کلماتو بحث وکړي نو ئي (علم قافيه) بولو.

په دې ډول علامه سيد شريف اصولي ادبي علوم اته کښي، او (علم بديع) هم د معانی او بيان له قسمه بولي اما فرعي ادبي علوم څلور دي:

(۱) که د ليک او کتابت د نقوشو بحث وي (علم خط) دي (۲) که خاص د منظوم کلام څيرنه وي (قرض الشعر) دي (۳) که خاص د نثر وينا بحث وي (علم انشاء) ئي بولي (٤) که په دغو ټولو اړه نه لري (علم محاضرات) ئي بولي، چه تاريخ او انساب هم په دغه څلورم قسم پوري اړه لري، او دا علم سړی ته ښه وينا او بديهه ويل ورښيي چه د کلام معاني او تراکيب دواړه ښه او سم وي.[1]

ځني پوهان علاه پر دغو علومو د علم قرائت قوانين هم په ادبي علوموکي داخل گڼي[2] او علاوه پر دغه د تاريخ او قصو او انسابو او مسالک و ممالکو علوم د ادب فروغ گڼل شويدي![3]

---

[1] کشف الظنون ص ۷۵ ج ۱.

[2] کشاف اصطلاحات الفنون د تهانوی.

[3] د همائي تاريخ ادبيات ص ۲۸ ج ۱.

او علم دواوين (د مدونو اشعارو پوهنه) او علم امثال (يعني د متلو پوهنه) هم ادبي علوم دي[1] يو بل علم چه احاجي و اغلوطات بلل کيږي، او د الفاظو له هغو استعمالولو څخه بحث کوي د اصولي او قياسي قاعدو څخه مخالف وي لکه علم لغز او معماء دا هم په ادبي علوموکي داخل دي.[2]

نوې آراء

تر دي ځايه مو د پخوانيو ځينو شرقي پوهانو آراء د ادب په خصوص کي لنډ لنډ وليکل، مگر په اوسني عصر کي لکه نور ټول بشري علوم چه پر مخ تللي دي ادب هم تطور موندلی او په نوي رنگ رنگيدلي دي نو به بده نه وي چه د نوي عصر پوهانو افکار هم د ادب په شا و خوا کي واروو، لمړۍ پلا بايد دا ووايو، چه نسبت پخوا ته اوس ادب ډېر ارت شوي او خورا ښه او مفيد شی ځني جوړ شوی دي، نوي اصول ئې موندلي، او په نوي راز راوتلي دي، نو به په لاندي ليکوکي ادب د اروپا او نوي نړۍ په سترگه ووينو.

په غربی دنيا کي له پخوا زمانې څخه خلقو پر ادب باندي څېړنی کړيدي، د يونان معروف فيلسوف ارسطو په خپل کتاب "شعريات" کي هسي ليکي: چه ټول لطيف فنون د فطرت پيښې (محاکات) دي، د انسان چه هر شي خوښ شي نو ئې پيښې کوي، دغه پيښې دا نسان د لوړتيا اساس دي او د خپلي خوښۍ او تاثرات تل انسان د لطيفو فنونو په ذريعه نقل کوي، چه ادبيات هم له دغو څخه يو فن دي.

نيومن د ارسطو د قول شرح داسي کوي: چه "ادب خارجي صداقت نه بيانوي، بلکه داخلي رښتيا والي ښئي، شيان نه ښيئي بلکه خيالات تصورکوي."

گوسائين فرانسوی نقاد وائي: چه زموږ دماغ تل د فطرت ښکلاوي، او طبيعي جمال او ښه مناظرويني، نو د دغه ټولو ښکلاو د ترجمانۍ خواهښت دي، چه ادبيات ځني پيدا کيږي که موږ دغه ښه او ښکلي شيان وگورو، نو د دغو لامله مو په دماغ کي يو څه افکار او خيالات راگرزي د دغو افکارو او تخيلاتو ليکنه په ښو الفاظو او جملاتو سره ادب پيدا کوي!

---

[1] نفايس الفنون.

[2] د همائي تاريخ ادبيات.

نیومن وائي: موږ تل په خبرو سره خپل افکار څرګندوو، دغه افکار او خیالات که ولیکو نو ادبیات ځني جوړیږي.[۱]

د برطانیا دائرة المعارف لیکي چه literature یوه عمومي اصطلاح ده، د هغو تعابیرو لپاره چه افکار د لیک ډګر ته راولي، او د ادب ډولونه د نژادي خصایصو، یا فردي افکارو او طبایعو سره برابر وي، یا د ځینو اجتماعي او سیاسي ټولنو له احواله سره سم وي او د دوي د افکارو تبلیغ کوي، اجتماعي او سیاسي اصول ئي څرګندوي.[۲]

د امریکا یو اوسني پوهاند لیکي: چه د لتریچر کلمه له لاتیني litteratura څخه ده، چه ماده ئي هم littera یا

letter یعني نوشته او لیک ده، او عام تعریف ئي دا دي: هغه عبارات چه د افکارو او معانیو نمایندګي د الفبا د تورو په ډول کوي اما محدود او مروج تعریف ئې دا دي: چه ادب هغه سم او مهذب شوي او صنعتي بیانونه دي چه د تنقیدي علومو تر سیوري لاندي وي، او د افکارو د څرګندوني او ښکاره کړني او د ښکلا او ښایست لامله هم قیمت ولري، جان مورلي Morly په لنډ ډول وائي: ټول هغه کتب ادبیات دي، چه په هغو کي اخلاقي حقایق او عمومي اوضاع په ښه ډول ښکاره کیږي او ټول شیان د عمومي حقیقت سره ښنلوي.[۳] په نوي دنیا کي د ادب څانګي او ښاخلې دوني ډیري شوي دي، چه اکثر علوم په ادب کي داخل دي، حتي یو غربي مفکر وایي: چه ادب فقط دو ښاخه لري، که له عقله سره اړه ولري سائنس ئې بولو، او که د خیالو سره اړه ولري، نو شعر بلل کیږي په دې ډول نو مثبت علوم او سائنس هم د ادب له دائرې څخه نشي وتلاي نو دلته لازمه ده چه د ادب عصري موضوع ښه ښکاره کړو، که د دنیا مختلفو ادبیاتو ته وګورو، مقاصد او عناوین ئي تر نظر لاندي ونیسو نو ښائي چه لاندي موضوعات ټول په ادب کي داخل وي:

(الف) هغه لیکونه چه د حقایقو څرګندونه ئې مقصد وي چه دا لاندینۍ څلور څانګي لري:

(۱) هغه لیکونه چه د مشق لپاره وي، لکه د ښوونځیو مشقي لوستونه

(۲) واقعاتي لیکني، چه لاندي ډولونه لري:

الف- ورځني لیکني، لکه کورني خطونه، حسابونه، روز نامچې چه خپرونه ئې مقصد نه وي

---

[۱] روح تنقید ص ۷۰-۷۲.

[۲] د بریتانیا انسکلوپیډیا ص ۲۰٦ ج ۱٤.

[۳] د امریکا انسکلوپیډیا ص ٤۷۲ ج۱۷.

ب- کورني او شخصي لیکني او شخصي لیکونه چه د خپروني لپاره ولیکل شي لکه وصیت هجو

ج- رسمي لیکني چه نه خپریږي: لکه پاسسپورټ، قباله، او دغسي نور

د- رسمي لیکني چه خپریږي لکه قوانین، اصول نامې، او نور دغسي

هـ - نور عام ډول لیکونه چه د خپروني لپاره کښل کیږي، لکه سیاسي او داخلي خبرونه، جغرافي او تاریخي احوال د جرګو او حکومت رویدادونه

(۳) د حقایقو د ښووني لیکني لکه:

الف- د ښوونځیو او مدرسو د لوست کتابونه

ب- تحقیقي کتابونه، چه د لوړو او پوهو خلقو لپاره وي لکه تواریخ، سفرنامې، قصې او نور

ج- د خاصو خاصو فونونو پلټني د مخصوصو پوهانو له خوا

(٤) د خوښۍ او خندا او ټوکو لیکني لکه کیسي، معماوي ټوکي او نور دغسي

(ب) هغه لیکونه چه د تخیلاتو ښکارونه ئي مقصد وي او دا لاندي څلور څانګي لري

(۱) هغه لیکني چه د شخصي ژوندانه داخلي او د ننني محسوسات ښکاره کوي، لکه عشقي بدلي او سندري او خطونه

(۲) تنقیدي او د کره کړني لاندینۍ څانګي لري:

الف- څرګند کره کول: چه فیلسوف او ادیب ئي په ښکاره لیکي

ب- پټ کره کول: چه لیکوال خپل تنقید د کیسې په لباس کي وکړي

ج- د بدو اشوا کولو تنقید

د- د ښو ښکاره کولو تنقید

(۳) هغه لیکني چه د انساني پوهي د زیاتولو لپاره وي لکه د سائنس تجربې

(٤) د انساني فطرت د تهذیب او سموالي او، سپیڅلتوب لپاره لیکني لکه:

الف- د اخلاقو د ښه والي لپاره (اخلاقي ليكني)

ب- د دين او مذهب د تبليغ لپاره (تبليغی ليكني)[1]

په دي ډول د ادب موضوع د حقيقت او تخيل په څانگو كي ويشله كيږي، او لمن ئې هم خورا ارته ده، او رښتيا هم دا ده، چه د دې عصر ادب دغه ټول وظايف په ښه ډول اجرا كوي. د دې لپاره چه د ادب ارته لمن او د موضوع احتوا په ښه ډول تاسي ته ښكاره شي، نو د يوه بل الماني پوهاند راى هم د ادب د موضوع پر ويشنه دلته را نقل كوم:

(۱) د مطلب او معنا په لحاظ، چه لاندي څانگي لري

الف- هغه ليكونه چه د لطيف فن په ډول كښل شوي وي

ب- هغه ليكونه چه د لطيف فن په ډول نه وي كښل شوي

(۲) د ژبي او بيان د ډول په لحاظ لاندي څانگي لري:

الف- منطقي او استدلالي ليكني

ب- جمالياتي او د ښكلا ليكني

(۳) د موزونيت او موسيقيت يعني وزم لرني او غږوني په لحاظ لاندي څانگي لري

الف- آزاد او بې وزمه ليک (نثر)

ب- وزم لرونكي ليک (نظم)

اوس چه مو د مشرق او مغرب د پوهانو آراء او افكار د ادب د موضوع په ويښنه او پلټنه كي وويل، نو د لاندي نتيجه او لنډيز څني را اخلو:

ټولي هغه پوهني چه په ژبه او د انسان په پوهولو او پوهيدلو اړه لري او د افهام او تفهيم ذريعې دي، ادبيات دي، اوكه ادبيات نه وي، نو هيڅ سړى خپل مقصد بل ته نه شي ښكاره كولاي او د انسانانو د استفادې لاري تړلي كيږي.

[1] د ادب دا ويشنه اوگوست August كړې ده، ص ۷۲ روح تنقيد.

او ټول علوم او انساني مزایا چه په وینا او پوهیدنه پوري اړه لري، له منځه وزي او د انسان انسانیت هم ورسره محو کیږي، په دې ډول نو ادب د انساني ارتقاء او ذهني لوړتیا اساس دي، او نن چه انسان هر څه لوړتیاوي میندلي دي، د ادبیاتو په برکت سره دي، اوکه ادبیات نه وای نو به انسان هم اعجم حیوان وای.

د ادب تاریخ

(موضوع - اصول - غایه)

موضوع

تاسي دمخه ولوستل چه د ادب لمن څوني ارته ده او د انساني معلوماتو او پوهنو څوني لوئي برخي په ادب کي دننه گڼلي کیږي.

د انسانانو ژوند تل دودي او لویښت تر قانون لاندي دي، هر وخت اوښتني، انقلابونه، تغیرات پیښیږي او دا اوښتي تل د انسان د ژوندانه ډولونه هم اړوي، له یوه رازه ئي بل رازکوي. خو هرکله ټوله موجودات دکمال خوا ته ځي، او د بشپړتابه پر لوري درومي د دې قدرتي او فطري بشپړتیا او تکامل سره د انسان د ژوندانه ټول ارکان او اجزأ تغیر مومي، اوړي له یوه حاله پر بل حال کیږي چه ژبه او ادب هم تر دغه قانون لاندي دي. د تاریخ پاڼي دا خبره په ښه ډول را ښيئ، چه یو وخت د انسانانو یوې ډلي یوه ژبه ویله دا ژبه د افهام او تفهیم آله وه لومړي به ډېره ناقصه وه وروسته به تکمیل شوه، ادبیات به ئي وموندل، کتابونه به په ولیکل شوه، خو تر څو پیړیو وروسته به دغه مکمله ژبه ورکه شوه، بلي ژبي به ئې ځاي ونیوي.

د قدرت دا تخلیق، او لولونه او د بیانښت کړنه، او له منځه یستنه پر هر شي باندي جاري ده، غونډ غونډ ملتونه ورک شوي او پر ځاي ئي نور اولسونه دریدلي دي، عادات، اخلاق، علوم او د انساني ژوندانه ټول لوازم او ملحقات تر دې حکم لاندي دي، او ژبي او ادب هم دې اوښتلو او تحول ته غاړه ایښې ده.

د یوې ژبي د ادب تاریخ هم ټول هغه تحولات او لوړتیاوي، او احوال چه له ابتدأ څخه ور پیښیږي، بیا نوې نولکه د ادب موضوع چه ډېره ارته او پراخه ده، د ادبي تاریخ موضوع هم هغسي ده د ژبي پخوانی حال، او ورستني انقلابونه او ټول تحولات ښئیي په ژبه کي چه څه علوم او فنون موجود وي تاریخ ئي څرگنده وي. د یوه

ملت د فکری ارتقأ و علمي لوړتیاؤ احوال او اوضاع مفصل لیکي، د ټولو پوهانو د ژوندانه پیښې، او د دوي کتابونه او علمي کار نامې او آثار ښئیي.

نو داسي هم ویلاي سو چه د ادبیاتو تاریخ په حقیقت کي د ملت د عقلیت او د ژوندانه د ډیرو مهمو څانگو تاریخ دي. د ملتو د لوړتیا او ځوړتیا، دودي او پرمختگ ټول احوال بیانوي که د یوه ملت تاریخ د ادب له ښیگړو او پلوشو څخه تش وي، نو هغه تاریخ به خامخا په وینو لړلي وي، او بېله جگړو او شخړو به د بل څه بیان نه کوي، نو د عمومي تاریخ یوه مهمه څانگه دغه د ادب تاریخ دي چه سیاسي او اجتماعي تاریخ هم له ادبي تاریخه څخه مرسته کوي او د یوه ملت تاریخ چه له ادبی څانگي څخه ځان نسي مستغني کولاي، سبب ئې هم دا دي چه تاریخ تل د ملتو د لوړتیا او ځوړتیا څرگندونه کوي، او د دغو علت او اصلي سبب هم د ملتو علوم، آداب، او اخلاق دي. نو د تاریخ مهم کار او غوره وظیفه هم دغه ده، چه د یوه ملت عقلانی لوړتیاوي، او علمي او ادبي پیشرفتونه ښکاره کړي، او دا ټول د ادبیاتو د تاریخ کار دي.

اصول

د ادب د تاریخ د لیکني اصول ډول ډول دي، هر څوک ئې پر خپل ذوق سم لیکي، خو دلته به ئې ځیني اساسي ډولونه چه د تاریخ ادبیات غناصر بلل کیږي لاندي وښول سي.

۱- ژبي ته د پیدایښت له ابتدا څخه بیا تر اوسه گوري، او ټول هغه تغیرات چه ور پیښ شوي دي بیانوي ئې، مثلاً د حروفو، نومونو، افعالو او مشقاتو پیدایښت. د تعبیر اسالیب د کلماتو د جوړیدلو لاري، د اصواتو او ږغونو شرح، د ژبي عنصري ښیگړي پلټل، د ژبي ریښې معلومول او له نورو ژبو سره ئې پر تله کول، چه دي بحث ته (فیلالوژي) یا د "لغاتو فلسفه" وایي.

۲- ژبي ته گوري چه د نورو ژبو کوم اثرونه پر لویدلي دي؟ معاني او الفاظ ئې څنگه سره اوښتي دي؟ نوی کلمات تر دغه اجنبي اثر لاندي څنگه پیدا شویدي؟

۳- په ژبه کي چه څه علمي او ادبي ذخایر شته، هغه ټول را ښیئ مؤلفین او لیکوال ټول بیانوي، او په دې ډول د یوه ملت عقلاني او علمي لوړتیا بیانوي.

٤- د ادب تاریخ د ملت کیسې او نکلونه او روایات ټول تحلیل کوي، او له دغو څخه د دوي ادبي ذوق، افکار، ملي عقاید، او آراء را باسي، د تعبیر اسلیب چه د عوامو په کیسو کي سته را اخلي او ساتي ئې.

۵- د ادب تاریخ ټول افواهي اشعار (نا لیکلي آثار) او متلونه، او ملي سندري، پلټني او له دغو څخه د یوه ملت ادبي ذوق او استعداد معلوموي.

٦- د ادب تاریخ ټول مدون او لیکلي شوي آثار او کتب (لږ وي که ډیر) را ټولوي او له هغه څخه د ملت د ژبي او فکر او عقلاني تجلیاتو په خصوص کي معلومات اخلي.

۷- د ادب تاریخ هغه اوښتني او لوړتیاوي چه د علم او ادب لامله یوه ملت ته ور پیښیږي ښیي او د ادب اهمیت او غوره والي د بشر په تاریخ کي ښکاره کوي.

۸- د ادب تاریخ راښیي، چه د یوې ژبي وینا او کلام (نظم، نثر) څنګه پیدا شو؟ څنګه ئې لوړتیا و موندله، کومي دورې ئې تیري کړې؟ چا خدمت ورته کړئ دي؟ کوم کوم معاني او مقاصد او مضامین پکي سته؟ خاصیتونه او مزایا ئې څه دي؟ دا ژبه کومي ښیګړي لري؟ چه ها نوري ژبي ئې نلري.

غایه

ځکه چه د ادبیاتو تاریخ د هر ملت د علمي او عقلاني لورتیا تاریخ دي نو که سړي د یوې ټولني د ادب تاریخ ولولي ټول د تاریخ مهم حوادث او وقایع ئې ورته څرګندیږي؛ اجتماعي او سیاسي رشد ئې ور معلومیږي تاریخي مفاخر ئې ورته ښکاره کیږي.

موږ چه د پښتو ژبي د ادب تاریخ لولو خپل مفاخر راته څرګندوي د څبلو ملي ښیګړو سره مو اړیکي ټینګوي او په آینده کي د علمي او ملي ارتقاء دپاره د یوه نافع او پر ملي اساس ټینګ ادب د روزني لاري را ښئي.

په یوه ملت کي چه ادب لوړ نه وي د هغو تهذیبي او مدني سویه هم کښته وي، علمي او اجتماعي لوړتیا نسي لیدلاي، نو موږ چه د خپلي ژبي د ادب تاریخ ولولو؛ لوړ او ځور به ئې راته ښکاره شي. او په آینده کي به وکړاي سو چه یو ښکلي او مترقي ادب خپل قوم او ملت ته ورکړو او دا غایه زموږ په ملي ژوندانه کي ډیره مهمه او لوړه او ګټوره ده او د ملي عمران سټه هم پر دغه غایه باندي ټینګه ولاړه ده.

لومړي برخه

آریا او آرین

د ژبو ویشنه - هندو اروپائي ژبې– آریائي اقوام -

باختري آرین - آرایائي ژبه او پښتو - د آریا کلمه -

آریانا ویجه - آریا ورشه - نتیجه

د ژبو ویشنه

ژبه

ژبه هغه ږغونه دي، چه د دغو په وسیله هر اولس د خپلو مقاصدو تعبیر کوي، یا هغه اصطلاحي ویناوي دي، چه د یوه قوم پر ژبه جاري وي، په عربي ئې لسان یا لغت بولي، او له یوناني لوغوس څخه به جوړ شوي وي، چه معني ئې کلمه ده[1] او په اروپائي اصطلاح ئې لانګوج language بولي.

د دي ږغونو انواع د ملتو په اندازه مختلف او هم ډیر دي، نو ځکه پر نړۍ ډیري او ډول ډول ژبي پیدا شویدي، او هر اولس ته خپل ږغونه آسان او نور پردي ږغونه ورته ګران دي.

لوړي ژبي او کښتي ژبي

هغه ږغونه چه انسان ئې تر خوله را باسي ډول ډول دي، او بیا هم د ږغو مرکبات متفاوت دي، نو چه د ملتو د خولو ږغونه او بیا ئې هم مرکبات ډیر دي، ځکه ژبي هم پر دنیا ډیري دي، د ژبو پوهانو د نړۍ ژبي په ډول ډول ویشلي دي، یوه مشهوره ویشنه ئې دغه لاندي ده، چه پروفسور اډیلنګ ته ئې نسبت کیږي، دی وایي، چه ژبي د سموالي او تهذیت په درجه دوه ډوله دي:

۱- ګښته ژبي

چه لغات ئې د بیان لامله کښته، او الفاظ ئې خورا لنډ او یوه یوه هجا دي د اسم او فعل او حرف فرق ئې نه کیږي، له یوه لفظه به ئې د نورو مستقلو الفاظو په نښلولو سره، فعل، حرف جوړیږي د جنوبي افریقا د زنګیانو او د امریکا د هندیانو او د شمالي او شرقي ایشیا او د چین ژبي له دغي ډلي څخه دي.

۲- لوړي ژبي

هغه ژبي دي، چه لمني ئې ډیري پراخي او ارتي دي، او هر راز تعبیر چه انسان ورته اړ وي لري ئې، او د الفاظو هجاوي ئې هم ډیري دي، د متمدن عالم ژبي له دې ډلي څخه دي، او دا هم پر دوه ډوله ویشلي کیږي.

---

[1] زبدة الصحایف في اصول المعارف، ص ۹۷.

الف: اوښتونکي (متصرفه) ژبي

چه د تصرت او اړولو او اشتقاق قابلیت لري په کلماتو پوري ئې دمخه هم ملحقات نښلي او رووسته هم، یعني ځیني نخښي لري، چه د کلمې دمخه راځي، او په عربي ئې "سابقه" او په اروپائي اصطلاح prefix او په پښتو ئې (مخني) بولي.

دغسي ځیني نوري نخښي هم په دغو ژبو کي شته، چه تر کلمو وروسته راځي، چه په پښتو ئې "وروستني" په اروپائي اصطلاح suffix او به عربي ئې "لاحقه" بولي، او دغه مخني او وروستني ځانله بېلي معناوي هم لري، اوښتونکي ژبي دوې مشهوري څانگي لري:

لومړۍ څانگه: آریائي ژبي دي، چه زموږ د وطن آریائي نسل خبري په کوي، هر ځاي چه زموږ له خاورو څخه آریائیان تللي دي، د دوي ژبو ته آریائي وایو، او اروپایان دې ژبو ته (هندو اروپائي) Indo-European هم وایي، دا ژبي شمالي او جنوبي څانکي لري، شمالي ئې : د اروپا آریائي ژبي دي لکه لاتیني Latin، یوناني Greek، سلتي Celtic، اسلاوي Slavic، توتونیک Teutonic. جنوبي ئي د ایشیا آریائي ژبي دي، لکه سنسکریټ، ژند، پښتو، پاړسو.

دوهمه څانگه: سامي Semantic ژبي دي، چه پخوانیو متمدنو قومو لکه بابل، آشور، فنیقه ویلې. سامي ژبي دا ډلولنه لري:

آرامي: د بابل زړه ژبه ده. چه سریاني اوکلداني ئې څانگي دي.

عبراني: چه تورات په دې ژبه دي، او اسرائیلیانو آرامي او کلداني سره گډه کړه.

عربي: په سامي ژبو کي خورا ښه او مشهور ژبه ده چه عربي ملتونه ئې وایي او د اسلام او قرآن مقدسه ژبه بلله کیږي، حبشي ژبه هم د عربي څانگه ده.

ب: نا اوښتونکي (غیر متصرفه) ژبي:

دا ژبي کلک او جامد اصول لري، چه په بناء کي کورټ تغیر نه راځي، او د ځینو ادواتو په نښلولو سره اشتقاق ځیني کیږي، چه دغه ادوات ځانله معنا هم نلري، او اصول ئې بې اوښتلو پاتیږي. تورانی ژبي چه یوه ئې تورکي ده، او هم مغولي ژبي چه تنقاسي، اوغراني، اوزبکي ئې څانگي دي، ټول نا اوښتونکي ژبي گنلي کیږي.[1]

هندو اروپائي ژبي
یا آریائي ژبي

د ژبو د ویشني یو لنډ ډول مو دمخه ولوست، پوهانو دا ویشنه په ډول ډول کړیده بیله هغي لوړي ویشني یوه بله دا ده، چه د پنځو لویو وچو ژبي جلا جلا ویشي[2] اما ښه او معتبر تقسیم دا دي، چه ژبي د ریښې او اصولو او قواعدو د شباهت لامله وویشلي سي نو ځکه دلته ما دغه ویشنه غوره کړه.

تاسي ولوستل چه په لوړو او اوښتونکو ژبو کي یوه مشهوره ډله هندو اروپائي یا آریائي ژبي دي، چه د دنیا یو مشهور پښت یعني آریائي اقوام ئې وائي. دا ژبي د سموالي او ارتوالي لامله خورا ښې ژبي دي، او د بشر مدني اقوام هم په دغو سره ږغیږي ځکه چه زموږ ژبه پښتو هم له دغو ژبو څخه شمېرل کیږي نو لږ څه ډیر د آریائي ژبو څېړنه دلته ښائي: آریائي ژبي د ږغونو او اصولو له لامله دوې ډلي دي، چه هره ډله په خصوصیاتو او الفاظو او مخارجو او تلفظ او د کلمو په تغیر کي سره ورته ده، او له یوې کورنی څخه گڼل کیږي، د دې توپیر لپاره د ژبو پوهانو ټولي آریائي ژبي دوې ډلي کړي دي چه لومړۍ ډله ستم Santem بولي او دوهمه ډله سنتم Centum بولي.

---

[1] الفلسفه للغویه ص ۹-۱۵ - زبدة الصحایف ص ۹۸.

[2] د پروفیسور بالبي د ایتهوگرافئ اطلس.

د ویشني لار

دا ویشنه پر دغه علمي اساس بناه ده.

پوهاند فقط یوه کلمه (سل، صد، ۱۰۰) ئې معیار کړې ده او حروف ئې د ژبو د وېشني شاخصه گڼي،په لاتیني سل ته سنتم وائي، او به سنسکریت کي (سیتم) بولي، نو ټوله هغه آرایائي ژبي چه د دې کلمې په سر کي (س) بې (ن) وي د (ستم) ډله ئې بولي، او که لکه لاتیني د سل د کلمې په سر کي (س) یا (هـ) وي، او وروسته نون هم ولري، دغه ډله د (سنتم ډله) بلله کیږي، عموماً آریائي غربي ژبي د سیتم له ډلي او شرقي آریائي ژبي د سنتم له ډلي دي.[1]

د مثال په ډول: په سنسکریت کي سل ته (سیتم) وائي په پاړسو کي (صد، سد) بولي، په روسي ئې (استو) بولي چه (ن) نلري، نو ځکه دغه ژبي د سیتم له ډلي ښخه گڼو. بالعکس سل ته په لاتیني سنتم یا کنتم وایي، په انگلیسي او فرانسوي او ایتالوي کي هم (ن) لري نو ځکه ئې د سنتم په ډله کي بولو.

لاندي ئې دغه مثالونه لږ څه واضح وگورئ:

د سیتم ډله		د سنتم ډله	
سنسکریت	ستم	لاټیني	سنیتم
پاړسو	سد(صد)	یوناني	هیکاتون
هندي	سو	انگلیسي	هنډریډ
روسي	ستو	الماني	هنډریډ
پښتو	سل	فرانسوي	سانت

د ستم او سنتم پر علمي اساس ټولي آریائي یا هندو اروپائي ژبي د لاندنینۍ نقشې په ډول ویشل کیږي.

[1] د گورډن چایلډ آرینز، د دوکتور شفق تاریخ ادبیات ایران، ص٤.


آریائي (هند و اروپائي) ژبې
ستم
سنتم
سنسکریت
اوستا
پښتو
د فرس زړه ژبه
فارسي
پهلوي
ارمني
الباني
اسلاوي
لیتواني
زوړ پروس
روسي
سکاندنیاوي
سلتي (کلتي)
توتني
یوناني
لاتیني
ایسلینډي
دنمارکي
انګلیسي
هلنډي
الماني
ایتالوي
فرانسوي
رماني
اسپانوي
سویډي
نروژي

په دېې انځورکي تاسي ته د نړي مشهورو آريائي ژبو وېش ښکاره شو، او ومو ليدل چه د سيتم له څانگي څخه يوه ژبه هم پښتو ده، او دا ژبه د سينسکريت او اوستا (زند) سره ډېره نژدې خپلوي لري او درې سره د يوې مور لوڼي دي.

د آريائي ژبو يوه بله سره نژديوالي

د ژبو پوهان تل د ويشني او ډلي ډلي کولو پر وخت، د ټولو ژبو اساسو ته گوري د قواعدو مشابهت، او د لغاتو د ريښو سره نژديوالي ئې په غور ويني. که په دغو اساسوکي ژبې سره نژدې او سره ورته وي، نو دوي هغه ژبې په يوه ډله کي شميري، او وائي چه له يوې کورنۍ څخه دي.

وگوري دغه ژبې چه موږ په دمخني انځورکي آريائي ژبې وگڼلې، او دوي مو د هندو اروپائي ژبو په غټه کورنۍ کي داخلي کړې ټولي په اساسو او قواعدو او لغاتوکي ډيري سره نژدې دي که دغه لاندي جدول په غور وگوري، دا به درته ښکاره شي چه په رښتيا دا ژبې له يوې کورنۍ څخه دي.

فرانسوي	جرمني	انگليسي	لاتين	اوستا	سنسکريت	پاړسو	پښتو
پير	واتر	فادر	پتر	پيتر	پاتري	پدر	پلار
مير	موتر	مدر	ماته را	ماتر	ماتري	مادر	مور
سور	شوستر	سسټر	سور در	هوگهر (سوسر)	سواچر	خواهر	خور
فرير	برودر	برادر	فراتر	براتر	بهراتر	برادر	ورور

آريائي اقوام

د دوي پښت او خپرېدنه

دمخه مو وويل چه پښتو ژبه د هندو اروپائي يا آريائي ژبو څخه د سنسکريت او اوستا خور ده اکثر غربي پوهان چه د پښتو پلټنه ئې کړيده دا خبره مني، دوي وائي چه پښتو له سامي او نورو ژبو سره اړه نلري، له هندو اروپائي ژبو څخه ده.[1]

هندو اروپائي ژبي چه انډو ژرمانيک ئې هم بللي، د آريا د پښت ژبي دي، آريائيان د انسانانو يوه خورا مهمه ډله ده، چه له پيړيو پيړيو څخه دوي پر مځکه د لوړ مدنيت خاوندان دي او د شرق او غرب غټ غټ ملتونه له دي پښته څخه را وتلي او پيدا شوي دي.

آريائيان تر خپريدلو او ډيريدلو دمخه په يوه ځاي کي اوسيدل، چه دوي پخپله پخوانۍ ژبه، آريانا ويجه Aryana Vaego باله يعني د آريا مځکه يا د اصيلانو او نجيبانو او پاکزادانو هيواد.[2] وايي چه د دوي د هيواد هوا خورا ښه وه، مځکي ئې ډيري اباتي وې، دوې مياشتي ئې پسرلي ؤ، نوري مياشتي به يخني وه.

مورخين په دې خبره کي ډيره سره مختلف دي، چه آيا دغه آريانا ويجه چيري وو؟ ځني وائي، د بالټيک غاړي، او ځيني وايي چه د تور سين شمالي غاړي دي، بله ډله هسي ګڼي، چه د خزر د ډند شرقي او شمالي غاړي د آريائيانو اصلي مرکز وي.

خو ځيني پوهان دې ته هم تللي دي چه د آريائيان د توکم اصلي ځاي د پامير لوړي مځکي او د آمو سر چينې دي! په هر ډول د آريائي توکم اصلي ځاي هر چيري چه وو خو پر دوي هغه ځاي تنګ سو، او لکه په اوستا کي چه راوړي هغه مځکه يو په يوه سړه شوه، چه د خلقو د خوړو لپاره څه نه پکښي موندل کېده، نو ځکه آريائي توکم له هغي مځکي څخه ليږدنه (هجرت او کوچ) وکړ د دغه ليږد زمانه څلور زره کاله (ق،م) تخمين کيږي[3] دکتور پي

[1] راورتي انګليسي محقق د خپل پښتوګرامر په ديباچه، ص ۲۸ کي د پروفيسرکلپرت Klaproth او پروفيسر ډورن Dorn او الفنستون Elphinstone او نورو پوهانو افکار د پښتو په باب کي را نقل کړي دي چه دوي ټول دغه خبره مني.

[2] د جيګر الماني د خاوري ايرانيانو تمدن ج ۱.

[3] ايران قديم ص ۹ تمدن ايرنيان خاوري ص ٦٤-۷۰.

گایلس P. Giles دکیمبرج د پوهنتون د مقایسوي فیلالوژي پروفیسور د دغو آریائي اقوامو لامله هسي معلومات را کوي:

هند و آریائي نوم پر آریائي اقوامو او ژبو تر ټولو دمخه دوکتور تهوماس ینگ Thomas Young ایښي دي[1] اما د هندو ژرمن Indogermanic اصطلاح تر ټولو دمخه په ۱۸۲۳ ع یوه جرمني ژب پوهان کلیپروت Kalproth باب کړه، دې علماو د ژبو ړغونه، قواعد، عمومي ریښې او ستې ، او ټول خصایص ولیدل، او یوه ډله ژبې ئې په دغو نومو له یوې کورنۍ څخه وګڼلې، اما تر ټولو دمخه سر ولیم جونز Sir William Jones د هند د ایشیائي ټولني مشر په ۱۷۸٦ ع دغه ژبې یوه کورنۍ ګڼلي وې، خو دغه نومونه وروسته پر کښیښودل شوه.

دا خلق چه هندو اروپائي ژبې ئې ویلې د انسانانو د سپین توکم څخه وه، دوي ځیني حیوانات او بوټي پیژندل، ښائي چه ځیني لاسي صنایع ئې هم درلودل د اوسنیو ژبو سره ورته والي ئې موږ ته دا را ښئي چه دغه خلق به یو وخت یو ځاي سره اوسیدل، مګر چه د آمو غاړو او باختر ته را ورسیدل خورا دمخه وخت ئې (۲۵۰۰ق ،م) تخمین کیږي. دې خلقو ځانونه آرین Aryan بلل،[2] له علمي پلټونو څخه دا خبره زباده شوې ده، چه دغو آریائي اقوامو تر خپریدلو دمخه یوه ژبه او یو مذهب درلود. د آسیاي صغیر په کوي بوغاز Boghaz-Koi کي چه د پخوانو هیتانونو پایتخت (پټریوم) هلته و یو وړ لیک (کتیبه) پیدا شوې ده چه نیټه ئې (۱٤۰۰ ق، م) ده دلته یو آریائي قوم اوسید، چه میتاني Mitani نومیدل او دغه زړه کتیبه هم په دوي کي Tel-el Amarana ته منسوبه ده دغه زوړ لیک چه پوهانو وکوت، دا ئې ومنله چه په شمال غربي بین النهرین یا آسیائي صغیر کي هم د (۱٤۰۰ ق،م) په شاو خوا کي آریائي اقوام اوسیدل، په دې کتیبه کي د دوي د شهزادګانو نومونه راغلي دي چه سوچه آریائي نومونه دي لکه: آرتیتما Artatama، تسرتا Tusratta، سترنا Suttarna دغسي هم په دغه کتیبه کي د هغو ارباب انواع نومونه اخیستي شوي دي، چه د هند د آریائیانو په کتابو کي هم سته لکه: ایندره Indra وارونا Varuna ، یا دوه هسک غبرګولي ورونه ناساتی[3] Nasatyas.

علاوه پر دغه زاړه لیک چه د آریائي اقوامو د ژبي او مذهب یووالي (۱٤۰۰ ق،م)ښکاره کوي یو بل دلیل هم پر دې تاریخي خبره باندي سته له (۱۷٤٦) تر (۱۱۸۰ ق،م) پوري یو قوم چه کاسي Kassites نومیده، او د زاګرس په غرو (اوسنی کرمان) کي اوسیدل پر بابل او عیلام سلطنت وکړ، د دغو کاسیانو په ژبه کي هم دغسي کلمات راغلي

[1] ده لومړي پلا یو مضمون په دې خصوص کي په ۱۸۱۳ ع په The Quarterly Review کي وکیښ.

[2] کیمبرج هستري آف اندیا ج۱ ص۷۳.

[3] کیمبرج هستري آف اندیا ج۱ ص۷۲-۷٦.

دي، چه سوچه آريائي دي مثلاً شورياس Shurias او مرتياس Marytas چه د سنسکريت سوريا Surya (لمر) او مروتاس Marutas (د باد رب النوع) سره پوره ورته دي، دغسي هم سماليا Simalia (د واورنو غرو ملکه) کښې مې په هماليا او زيما Zima (واوره) پخوانيو آريائي کلماتو پوري نښلي. دغسي هم وروسته په (٧٠٠ ق،م) موږ د اسور بانيپال Assurbanipal آسوري لوي پاچا په کتب خانه کي د (اسرا ميزاس) Assara-Mazas نوم وينو، چه کښې مې دغه د اوسا اهورا مزدا Ahura Mazda (د لوي خداي نوم) دي، او دا نوم په سنسکريت کي اسورا Asura او په اوستا کي اهورا Ahura و، په دې ډول موږ له دغو دلايلو څخه دا علمي نتيجه اخلو چه د (١٥٠٠ ق، م) په حدودو کي آريائي اقوام په ژبه او مدنيت او ديانت کي سره يو وه او تر دغه وروسته دوي ښائي چه سره بيل شوي وي[1]

باختري آرين

هندي او ايرانۍ څانگي

دمخه مو وويل چه آرين اقوام له "اريانه ويجه" څخه خپاره شول، او زموږ وطن ته له شمالي خوا راغله تر آمو را واوښتل، او په باختر کي يو ښکلي مدنيت جوړ کي، او دا مرکزي آريائيان پر درې برخې باندي ويشلاي سو:

١- مرکزي او باختري: چه دوي د هندوکش په شمال او جنوبي لمنو کي هستوگه درلوده او زموږ د وطن په غرو او دښتو او درو کي سره خپاره شول. د اباسين له څنډو د آمو او د خراسان تر دښتو پوري د دوي اصلي مرکزي هيواد و. بلخ، تخارستان، هرات، ارارکوسيا، کابل، گندهارا، سگستان، خراسان د دوي د مرکزي هيواد مشهوري برخي دي. او جنوباً په بحيرهٔ عرب پوري د دوي د هيواد څنډې نښتي وې.

٢- يوه ډله آريائي اقوام له بلخه د جنوبي غربي خوا ته د هريوا (هرات) پر خوا له خراسانه تير شول، د پارس خاوري ئې ونيولې او اوسني ايران ئې تشکيل کړ. د دوي دغه هجرت مورخينو هسي تعين کړي دي، چه د (١٤) قرن

[1] کيمبرج هستري آف انديا، ج١ ص١٦ - ويدک انديا، ص ٢٦.

(ق،م) څخه شروع شوي ؤ تر اتمي قبل الميلادي پيړۍ پوري جاري ؤ. او لومړی دولت دغو آريائي اقوامو په ايران کښي د ماد Medie په نامه د اومي قبل الميلادي پيړۍ په ابتداء کي تشکيل کړي ؤ.[1]

۳- يوه دسته آريائي اقوام د باختر او هندوکش له شاو خوا څخه د کابل او خيبر او نورو لارو څخه ولاړل په سپتاسندو (يعني د اوو دريابو په مځکه) کي سره خپاره شول، دوي تر اباسين تير شول، د اباسين او گنگا په منځ کي يو ځلان مدنيت جوړ کړ، او د هند په زنگلو او بڼو کي ودان شول، د دغو هندي آريائيانو ليږدنه هم له څورلسمي قبل الميلادي پيړي څخه شروع کيږي.[2] د آريائي اقوامو دغه دري ډلي (باختري-ايراني-هندي) زموږ له دې کتابه سره اړه لري د دوي په ژبو کي پلټنه کوو، او د پښتو ژبي ادبي تاريخ ځني را باسو. د دوي د مدنيت، اجتماعي احوال، روحي اوضاعو په کتنه کي څه نه څه د پښتو تاريخ ځرگندوو.

مرکزي آرين چه د بخدي يا باختر (بلخ) په شاوخوا کي اوسيدل، ښه او غوره مدنيت ئې درلود، دوي خپل هيواد (آريا ورته يا آريا ورشه) باله، لومړۍ پلا دا نوم د منو سمهيتا Manu Samhita په کتاب (۲۲ شعر ۲ فصل) راغلي دي، مانو يا منو د آريا پلار کڼل کيږي، او آريائيان (منوري) هم بلل کيږي، دا پلار په دوي کي ډير شهرت لري، او د ده په نامه ځيني قوانين هم شته چه (د منو ليار) ئې بولي. آريا ورته هم مانو نيکه په خپل کتاب کي ذکر کوي، او مورخين وائي، چه په دې هيواد کي آريائيان ښښت تر ښښته پيدا شوي دي.[3] د دې نامه معني داسي ده: د اصيلو او ښاغلو هيواد.[4] د دوي مرکز بالهيکا- بخدي- بلخ و، چه د لوړو بيرغو ښار بلل کيدي، او تل به دا لوي د مدنيت مرکز د (رڼه-روښان-ښکلي) په صفتو ستايل کيدۍ مثلاً بلخ بامي- بلخ گزين (د منو او بامي کلماتو شرح وروسته په دې کتاب کي راځي).

---

[1] تاريخ هيروډوټ، ص ۲۱۰.

[2] تمدن هند، ص ۱۸٤ - هند قديم، ص ٤ - د هنديانو تاريخ د هنټر ليک.

[3] ريگويدي هند، ص ۸۵ د ډاس Das ليکنه.

[4] دآريا زاړه آثار، ص۱۲۱.

آریائي ژبه او پښتو

دمخه مو د آریائي ژبو ویشنه ولوسته او تاسي ته څرګنده شوه چه کومي کومي ژبي د آریا له کورنۍ څخه دي. دا طبیعي او منلې خبره ده، چه آریائي اقوامو په خپل لمړنی ټاټوبي (آریانا ویجه) کي ځانله یوه ژبه درلوده، چه له هغې ژبي څخه وروسته هندي، ایراني، بخدي ژبي راوتلي دي. په دې لومړنۍ آریائي ژبي کي تر اوسه څه معلومات د پوهانو لاس ته ندي راغلي، او نه چا څه پکښي ویلي دي، تش دوني ویل کیږي، لکه دوي چه مذهب، رسوم، منلي دودونه درلودل نو ښائي چه بیله ژبه به ئې هم درلوده، خو دا نه معلومیږي چه اصلي آریائي ژبه کمه او څنګه او څه راز ژبه وه، او څو عمر ژوندۍ وه؟

دوکتور ګوستاو لوبون وائي: چه تر خپریدلو او هجرت دمخه آریائي اقوامو یوه مخصوصه ژبه ویله چه نوم ئې (آریک) و دا ژبه اوس ورکه ده، خو سنسکریت ژبه له هغې ژبي څخه را وتلې ده[1] دا اصلي آریائي ژبه چه د ټولو آریائي ژبو مور یا انا بلل کیږي، لااقل تر میلاد (۳۰۰۰) کاله دمخه ویله کیده او د دوي مشترکه ژبه وه، خو اوس ئې هیڅ نښه او بولګه نده پاته، له دې جهته چه د آریائیانو تاریخ او لیکني د قبل المیلاد تر (۱۴۰۰) کاله دمخه نرسیږي نو دوني ویلاي شو، چه سنسکریت، اوستا، زړه پاړسو درې سره له دغي اصلي آریائي ژبي څخه زیږیدلي دي.[2]

میډیم راګوزن Z.A.Ragozin لیکی: چه تقریباً سل کاله دمخه په اروپا کي د هند د علومو پلټنه او زده کول شروع شول، هغه وخت چه چارلس ولکنس Wilkins مهابهارت ترجمه کړ، او د سنسکریت ګرامر ئې وکښ، نو سر ولیم جونز، د منو دهرم شاستر، او کولبروک Colbrook د هند پر فلسفه او قوانینو او ادب باندې کتابونه ولیکل، نو د اروپا او هند د ژبو پر تله او مقایسه شروع شوه، او دا فکر خلقو ومانه، چه سنسکریت د ټولو ژبو مور ده، مګر وروسته چه پلټني او د پوهانو کتني ډیري شوې، نو دا ښکاره شوه، چه تر سنسکریت لا دمخه یوه بله ژبه هم آریائي خلکو درلوده، چه په اصل کي هغه ژبه د نورو ژبو مور ده، یوه بل عالم جیکب ګرم په آریائی ژبو کي د صحیحو حروفو د تبدیل اصول وښوول، او دا ثابته شوه، چه د آریائي اقوامو لومړۍ او اصلي ژبه لا بله وه چه د هغې ژبي الفاظ او کلمات په ټولو آریائي ژبو کي مشترک دي.[3]

---

[1] تمدن هند، ص ۱۸٤.

[2] ایران قدیم، ص ۱۰۸.

[3] ویدک انډیاVedic India، ص ۳۳.

د اصلی آریائي ژبي عمر د ژبو پوهان (۲۵۰۰ تر ۳۰۰۰ قبل المیلاد) پوري تخمین کوي، دوي وايي: چه آریائي اقوام تر اباسین (انډوس) پوري وتل. خپل مشهور دیني کتاب ویدا Veda ئې په خپله ژبه انشاء کړه، د دې کتاب د لیکني تاریخ تر ۱٤۰۰ قبل المیلاد دمخه نه ځي ، لکه دمخه چه مو وویل چه د ایشیاي کوچک د آریائي اقوامو زاړه لیکونه هم د (۱٤۰۰ ق،م) په شااوخوا کي کښل شویدي، که د هندي آریائیانو کتاب ویدا له هغه لیکو سره پر تله سي، ژبي ئې سره مخالفي دي، خو د نومو اشتراک ئې څرگندیږي.

په دې دلیل نو ویلاي شو: چه (۱٤۰۰ ق،م) به شاوخوا کي د آریائي اقوامو ژبي سره بیلي شوي وې او اصلي آریائي ژبه په دغه وخت کي نه وه ژوندۍ، دا خبره هم د ژبو پوهان مني، څو یوه ژبه په نورو فرعي ژبو اوړي، یعني ځانله بیلي بیلي څانگي مومي، لږ تر لږه یو زرکاله غواړي.[1]

نو په دې حساب چه موږ د ویدا، او دکواي بوغاز د زاړه لیک له عصره یعني د (۱٤۰۰ ق،م) څخه زرکاله پخوا ولاړ سو نو به دا ووايو، چه د (۲٤۰۰ ق،م) په شا او خوا کي د آریائي اقوامو ژبه لا یوه وه، او لکه ځیني مورخین چه وایئ، دا ژبه له پارس او میډیا څخه تر پنجابه ویله کیده او د آمو شمالي خواوي سغدیانه هم پکښي شاملي وې[2] نو د دې اصلی آرایائي ژبي عمر له (۲٤۰۰ ق،م) څخه تر څلور زر قبل المیلاده پوري تخمین کیږي، یعني له هغه وخته چه آریائي اقوامو لومړۍ پلا له (آریانا ویجه) څخه هجرت کاوه!

د دې اصلي آریائي ژبي کوم اثر او نخښه لکه دمخه چه مو هم وویل، اوس نده پاته، خو زه به په راتلونکو لیکو کي د پښتو نژدي والي له دغي ژبي سره په ځینو علمي دلایلو ثابت کړم او دا خبره به زیاده کړم چه پښتو هغه اصلي ژبي ته خورا نژدې ده، او لکه سنسکریت او اوستا چه ځني زیږیدلي دي، پښتو هم د هغي ژبي لور ده.

دمخه مو وویل: چه آریائي اقوام له بخدي یا باختر څخه شرق او غرب ته سره خپاره شول په هند او ایران کي مدنیتونه جوړ کړل او ځیني له دوي څخه په بخدي او د هندوکش په شمالي او جنوبي لمنو کي پاته شول او وروسته په ټول هیواد کي سره خپاره شول، دا آریائیان چه د مرکزي او باختري ډلي څخه دي، ډیر قبایل او ډلي لري، چه یوه مهمه ډله ئې د (بخت=پکهت=پښتون) په نامه یادیږي، او پښتو ژبه هم دوي تر اوسه وايي، دا ژبه له قدیمه دوي ته پاته ده، او مرکزي آریائي ژبه چه له اصلي ژبي څخه دلې د آریائیانو پخپل مرکز او کور کي زیږیدلې ده، هم دغه

[1] تاریخ ادبیات ایران د حلال همائي.

[2] د "لوي دولاواله ډوبسن" کتاب هندو اروپائي، ص ۷۵ ج۳.

پښتو ده وروسته چه تاسي د پښتو او پښتون د نومو په خصوص کي تاريخي څيړني وګورئ دا خبره به ښه درته لڅه سي اوس دلته هم د پښتو د ربط دلایل له اصلي آريائي ژبي سره لاندي راوړم.

پښتو او اصلي آريائي ژبه (آریک)

د تاريخي او علمي څيړنو په استناد مو دمخه دا وويل چه پښتو د آریک ژبي لور ده، د دې خبري د پلټني او منلو لپاره باید موږ د آريائي توکم پخوانو کلماتو ته وګورو، چه له دوي څخه څه پاته دي؟ او هغه کلمې بیا په پښتو ژبه کي وګورو چه تر اوسه ژوندۍ دي!

او بله دا خبره هم باید دلته وسي چه آرين توکم له بخدي څخه یا د هند خوا ته ولاړل، چه ژبه ئې سنسکریت شوه او د ویدا کتاب په دغه ژبه دي، یا هغه قبایل دي چه ایران ته ولاړل، ژبه ئې فرس قدیم بیا پهلوي بیا اونسۍ پاړسو شوه اما هغه قبایل چه پخپله په بخدي کي پاته شول، کومه ژبه ئې ويله؟

زما دا عقیده ده چه دوي پښتو ويله، ځکه چه وروروسته دغه قبایل تر هندوکش را تیر شول، دوي د بخدي په نامه (بخت=پکهت=پښتون) بلل کېدل، او هغه تاريخي نوم دوي تر اوسه ساتلي دي، او هغه پخوانۍ ژبه هم دوي تر اوسه خوندي کړيده.

دا مطلب به وروسته زه ښه څرګنده کړم، چه پښتانه یعني د پښتو ژبي ویونکي هغه پخواني بخدي یا باختري آريائيان دي چه نورو ورونو ئې ایراني یا توراني یا مغولي یا هندي اقوامو په تماس خپله اصلي ژبه هیره کړه، مګر فقط ښاغلیو پښتنو تر اوسه ساتلې ده.

په دي کي هیڅ شک نسته چه بخدي آريائيان (۱٤۰۰ ق،م) یعني هغه وخت، چه د هندي آريائيانو ديني کتاب ویدا لیکل کیدئ د پکهت په نامه مشهور وه پخپله په ریګ ویدا Rig Veda کي هم د دوي نوم ذکر کيږي، نو چه دغه ملت په دغه نامه موجود وي د دوي ژبه هم باید موجوده وي!

له تاريخي اسنادو څخه ښکاره کيږي، چه آريائي بخدي یا د پکهت اقوام پسله (۱٤۰۰ ق،م) د هیواد شرقي غرو او د اباسین غاړو ته تللي او دلې میشته وه، ځکه چه ریګویدا د دوي نوم د هند په یوه مشهور جنګ کي ذکر کوي، او هم وروسته (۱۰۰۰ق،م) په بخدي یا باختر کي یوه بله ژبه پیدا کيږي چه زند ئې نوم دي او د اوستا مشهور ديني کتاب په دغه ژبه دي. او بیا هغه وخت چه هیرودوټ Herodote یوناني مورخ د پکهت او پاکتویس ذکر کوي، نو د (۵۲۰ ق،م) په حدودو کي هم دوي اندوس (اباسین) پر غاړو ښئي.

له دغو تاريخي ملاحظاتو څخه موږ دې نتيجې ته را رسيږو، چه پښتانه آريائيان لومړۍ په بخدي کي اوسيدل له هغه لومړنۍ ټاټوبي څخه دوي د هغه ځاي په نامه (بخت=پکهت) د خپلي زړې ژبي سره د (۱٤۰۰ تر ۱۰۰۰ ق،م) پوري د اباسين غاړو او د هيواد شرقي غرو ته ولاړل، دوي خپل د بخدي پکهت نوم سره له خپلي ژبي وساته او تر اوسه هم په دغه نامه او دغه ژبه مشهور دي.[1]

د دې تاريخ پلټنې په رڼا کي نو اوس تاسي ځيني لغوي دلايل هم واروئ.

د آريا کلمه

لومړۍ کلمه چه موږ ئې د پښتو ژبي د اصالت لپاره د لغوي دليل په ځېر پلټنه او څېړنه کوو پخپله د (آريا–آرين) کلمې دي.

تاسي ته دمخه هم وويل چه دا نوم ډېر قديم دي، مورخين وائي: هغه اقوام چه د آمو له غاړو څخه په باختر او هند و ايران کي خپاره شول، دوي ځانونه آرين Aryan يعني اصيل او نجيب او شريف ګڼل، او چه په هند کي خپاره شول، هلته د تور توکم انسانان دمخه اوسيدله هغو سره آريائيانو جګړې وکړې، او شا ته ئې وشړل، لکه دوي چه ځانته (آرين) يعني شريف او نجيب وايه، هغو قبيلو ته ئې داسو، يا ديسو Dasyu ويل دا دواړي کلمې په ريګويدا کي ذکر شويدي.[2]

د آرين د کلمې ځانګي په سنسکريت کي آريا يا اريا Arya او په زند کي ايريا Airya دي چه هغه د شريف او نجيب معنا لري او دوي له خپلو دښمنانو څخه ځانو ته په دغه نامه امتياز ورکاوه چه د دوي له پښته نه وه او اصيل نه ګڼل کېدل.[3]

[1] د پښتو او پښتنو تاريخي څېړني به وروسته مفصلي راشي دلته ضرورتاً لنډ لنډ ذکر وشو.

[2] د پانيکار هند قديم ج۱ ص٤ پخپله په ريګويدا کي هم د آرين ذکر راغلي دي ج۳ص۲۰۷.

[3] کيمبرج هستري آف انديا ج۱ص۷۳ د پخوانيو سړو تاريخ.

علاوه په ریگویدا، په اوستا کي هم دا نوم راغلی، او هسي وائي: خدای تعالي د آرین ځمکه او د آرین توکم او پښت پیدا کړ.[۱]

تر دغو دوو پخوانو کتابو وروسته بیا وینو چه هیروډوټ (٤٨٤-٤٢٥ ق،م) د آرین ذکر څو ځایه کوي. دی وائي چه میدي Medes اقوام په پخوانیو زمانو کي آرین Arian بلل کیدل[۲] ځکه چه میدي اقوامو د (٦٥٥ ق،م) په حدودو کي د ایران په پای کي یو لوی سلطنت جوړ کړیدي. نو دا ویلای شو چه د آرین اصطلاح تر دغو وختو پوري هم په ټولو آریائي اقوامو کي ژوندۍ وه او هخامنشي داریوش (٤٨٦-٥٢١ ق، م) هم په خپل ډبرلیک کي ځان افتخاراً آریائي او د آریا له پښته بللي دي.[۳]

د اروپا اوسنیو پوهانو، د دې کلمي په شا و خوا کي ښې ښې پلټني کړي دي، ځکه چه دا نوم آریائیانو له خپلي پخواني او اصلي ژبي څخه ورسره راوړي و، نو که په نورو ژبو کي د دغه نامه ریښې پیدا شي، هغه ژبي د آرین اصلي ژبي ته نژدې بللي کیږي!

دوکتور جیگر Geiger الماني محقق وائي، چه آرین له (آر) مشتق دي چه په سنسکریت کي د اصلي او بنیاد په معني دي، او آریا وائي نجیب او شریف او پارسا ته.[٤]

علاوه پر دغو اقوالو چه (آر) د اصلي په معنا بولي ځیني محققین دې ته هم تللي دي، چه آریا له (آر) مشتق دئ، چه پخواني سنسکریت کي د کرهني یعني کشاورزۍ او زراعت مفهوم درلود، نو له دې جهته آریا کرونکي او زارع ته ویل کیدي، دا قول د مشهور سنسکریت پوهاند میکس مولر Mexmuller دي چه دوکتور هنټر ئی هم د هند د خلقو په تاریخ کي مني او آرین د کرونکي په معنی اخلي.[٥]

میډیم راگوزن لیکي: چه (آر) د یوي په معني و، له لاتیني او ایټالوي (اراز) د سلاوي (اراتي) د یوناني (اروټ رون) د انگریزي ایریبل (د یوي وړ) دغسي د یوناني (ارورا) او د لاتیني آرور (یوي شوې کښت) ټول له دغي مادې

[۱] یشت فصل ۹ فقره ۹ فصل ۱۰ فقره ٥-۱۳،۲٥ فصل ۱۳ فقره ٥-۸.

[۲] هیروډوټ ج۷ص٦۲ د ویلر هیروډوټ ص ۲۸۹.

[۳] د ویسباخ میخي خطوط.

[٤] تمدن ایرانیان خاوري ج۱ ص ٦٥--٦٦.

[٥] مقدمهٔ تاریخ هند قدیم ص۹۲.

ښخه دي، آریائي اقوامو ځان له دې جهته کښتکار او زارع باله چه له وحشي تورانیو پونده و ښخه د دوي توپیر وسي او هر وخت ئې په دغه نامه فخر هم کاوه.[1]

د دې آریائي نامه اثر پر نورو اقوامو هم شویدي، د بابل او نینوا په آسوري ژبه ئې هم (آري) هغي مځکي ته ویل چه یوي اوکرلې شوې وي (ارارا) د دغه هیواد په کوشي ژبه د فصل ریبل وه.[2]

په دې ډول د آریا د کلمې په خصوص کي دوې نظریې د پوهانو تر منځ شته یوه دا وه چه آریا اصیل او شریف دي دوهمه دا ده، چه کرونکي او بزگر دي.

زما په عقیده د پوهانو دا دوې نظریې په تاریخي دلایلو سره نزدې او یو ځاي کیږي، تاسي به وائي څنگه؟ په دې ډول:

د کرهڼي اهمیت په آریائیانو کي

په آریائي قومو کي کرهڼي ته په خورا درنه سترگه کتل کیدل، دوي دیناً مکلف و چه زراعت ته توجه وکړي په ریگویدا او اوستا کي د کرهڼي او زراعت کارو ته د شرافت په سترگه کتل شویدي، او کرهڼه ئې د شریفو او اصیلو او پوهو خلکو کار بللي دي په ویدا کي راغلي دي "پوه او دانشمند انسان تل په کرهڼه او جوغ بخت وي"[3]

بل ځاي وائې:

"اې انسانانو: د غنمو او نورو شیانو د کرهڼي له پاره په سپاره مځکه سره څیري کړي، ښکلي اربې وچلوئ، او ځانونه په وساتئ"

"اې انسنانو! یوې وتړي: مځکي د کرلو لپاره ښه یوې کړئ، او پستې کړئ، اوربشي او غنم پکښې وکري زیار کښ کرونکي ته بویه چه تل د غویو جوغ ته سپاره ور واچوي او مځکه ښه په یوي کړي."[4] په اوستا کي هم تل

---

[1] ویدک اندیا ص ۳۵.

[2] مقدمهٔ تاریخ هند ص ۹۲.

[3] یجروید فصل ۱۲ فقره ٦٧-٦٩-٧٠.

[4] یجروید فصل ۱۲ فقره ٧١.

کرونکي شریف ګاڼه شي، او زردشت خلکو ته د کرهنې او څاروو د پالنې تشویق کوي، زارع ته په درنه سترګه ګوري او د ګاتها په یوه سندره کي بزګران او کرونکي د انسانانو په خورا لوړه او شریفه ډله کي یادیږي.[1]

په دې ډول د کرونکي او بزګر مقام په آریائیانو کي ډیر لوړ ؤ، او د دوي دیني کتابونه په لار ښوونه هر بزګر شریف او محترم ګڼل کیدي، او په دوي کي خورا لوړه او خورا شریفه اجتماعي دنده دغه زراعت او بزګري وه نو ځکه هر زارع او بزګر نجیب او شریف و او هر شریف سړی به هم کرونکي او بزګر و، اصیلتوب او نجابت د زراعت سره لازم و او هر چا چه به دغه اجتماعي وظیفه اداکوله هغه سړی به هم شریف هم نجیب ګڼل کیدي.

د شریف او زارع تطبیق

دمخه مو ولوستل: چه پوهان د (آریا) کلمه یا د اصیل او شریف په معني اخلي یا د زارع او کرونکي په مفهوم! دا دواړه مفهومه لکه تاسي چه ولوستل سره یو شي دي ځکه چه په پخوانو آریائي اقواموکي د دیني کتابو په لار ښوونه هر زارع نجیب او شریف و، او هر شریف هم زارع و نو ښائي چه په آریائي ژبه‌کي دي (آر) د اصل په معنا و، وروسته ځکه چه هر کرونکي سړی شریف ګڼل کیدي، نو هر کرونکي او زارع ته دي (آرین) یعني اصیل ویلي شوي وي. او یا دا چه (آر) اصلاً د زراعت او کرهنې مفهوم درلود، ځکه چه هر کرونکي او زارع شریف او اصیل بلل کیدي، نو به طبعاً د اصالت او نجابت معاني د آرین په‌کلمه‌کي مجازاً ګډې شوي وي.

داسي لغوي تحولات او معنوي اوښتني، د مجاز او حقیقت تر منځ په ژبوکي ډیري دي، نوکه د (آر) د کلمې حقیقي معنا اصل او نجابت وګڼو، زراعت به ئې مجازي اوکه زراعت حقیقت وګڼو، اصالت او شرافت به ئې د مجاز په ډول وروستني لغوي تحول وي، په دې ډول د پوهانو دواړي نظریې سمي او پر ځاي دي، او د آرین کلمه په دوو معناو بولو شریف او زارع یا زارع او شریف.

په پښتوکي د آرین ریښه

اوس به نو راسو، پښتو ته، چه په دې ژبه‌کي د آرین او (آر) د پخوانو کلماتو لپاره څه لرو؟ او اوس کوم مستقل الفاظ شته، چه دغه مفاهیم ولري؟

[1] ګاتها ص ۹۸ یسنا ۳۳ فقره ۳۵.

هو په پښتو کي د دغو دواړو معناو لپاره چه پوهانو د (آر) په خصوص کي ښوولي دي ریښې او مستعملي ژوندۍ کلمې شته، په دې راز:

۱- تر اوسه هم (آره) د اصل او بنیاد په معنا موجوده او مستعمله کلمه ده چه اکثر قبایل یې وائي[1] دا کلمه له پخوا څخه په پښتو ادب کي هم ځاي لري، او پښتو ادبیاتو پخپلو اشعارو کي د یوې مستعملي او ژوندۍ کلمې په ډول را وړې ده.

زمینداوري اکبر چه د ګوړ تیمور معاصر دي د (۸۰۰ هـ حدود) هسي وائي:

د غم آره ئې شوه ټینګه زما په زره کي   د رقیب سره خندا کړي هوسیږي

وروسته یو بل ادیب ملا الف هوتک چه بحر الایمان ئې په (۱۰۱۹ هـ) نظم کړي دي وائي:

دی له آره ؤ ښاغلي   څه که سو په ویر نتلئ

پیر محمد میاجي د (۱۱۳۵) په حدودو کي وائي:

شیخ متي چه خلیلي ؤ   دی له آره لوي ولي ؤ

نو آره د اصیل او بنیاد په معني د پښتو پخوانۍ کلمه ده چه تر اوسه هم ژوندي ده. او په دې معنا د ډوکتور جیګر الماني له قوله سره مطابقت لري، چه دی هم آره اصل او آرین اصیل ګڼي.

۲- که د آر دوهمه معنا یعني کښت او کرهڼه د میکس مولر په قول واخلو، دا هم کټ مټ په پښتو کي تر اوسه سته په قندهار کي بزګران وا کښتګران د لو پر وخت هسي وایي: (آره آره لور پر غاړه) به دې جمله سره د بزګرانو او زارعینو حال بیانیږي، چه دوي لومړی کښت کوي او بیا ئې ریبي! نو آره په دې محاوره کي خاص د کښت او کرهڼي مفهوم لري، چه د هنټر او میکس مولر له قوله سره سم دي.

نو که آرین په لومړۍ معنا اصیل وي هم په پښتو کي شته او که په دوهمه معنا کښتګر او زارع وي هم په پښتو کي تر اوسه مستعمل دي.

عین د آرین کلمه د پښتو له ګرامر سره هم مطابقت لري، ین Yan په پښتو کي خورا ډیر د نسبت د ادات په ډول راځي، او د کلماتو په پاي پوري نښلي مثلاً ژړ (برنج) ژړین (برنجی) که د کلمې په پاي کي (هـ) وي غورځي لکه

[1] د پښتو مرکې لوي قاموس (قلمي) - د راورټي پښتو لغت.

خاوره (خاک) چه خاورين (خاکی) د (هـ) په حذف ځني جوړ شوي دي نو که (آره) واخلو او د پښتو له دغو اصولو سره سم د نسبت (ين) پوري ونښلوو (هـ) غورځي او آرين ځني جوړيږي او ښائي چه وروسته ماقبل آخر زور په الف تبديل شوي او آريان هم ځني جوړ شوي وي.

په دې ډول آرين منسوب دي د (آره) کلمې ته چه په پښتوکي د اصيل يا کرهڼې په معني تر اوسه سته او په پخوانو آريائيانوکي هم په دغو دوو معناو مستعمله و او معنا ئې هم په آريائي پخوانۍ ژبه هم په پښتو (اصيل او شريف اوکرونکي) ده نو چه د (آر–آريا–آرين) دکلماتو ريښې تر اوسه په پښتوکي شته او هم پخواپه دغه ژبه کي استعماليدل او دا کلمې هم له اصلي آريائي ژبي څخه دي نو دا ويلاي سو چه پښتو د اصالت او قدامت له پلوه هغې زړې ژبي ته ډيره نژدې ده.

د آريا کلمه په پښتوکي کټ مټ هم مستعمله وه، په پښتوکي دا نوم د علم په ډول د سړو لپاره استعماليدې، د پښتو به قبايلوکي د يوسف نومي يو زوي (اريا) نوميدي، چه د ده اولاده بادي خيل بولي، افضل خان خټک په تاريخ مرصع کي ليکي:

"د يوسف پنځه زوي و، يو په کښې اريا نوميده، از بس چه ډير متبکر او مغرور و، بادي ئې باله، اوس ئې هم اولاد ته بادي خيل وائي"[1] يوسفزي د پښتنو مشهوره قبيله ده، چه تر اوسه هم په دوي کي د آريا اولاد بادي خيل شته، او دا ځني ښکاري، چه د (آريا) نوم په پښتوکي تر ډيره وخته معمول و.

آريانا ويجه

دمخه مو ولوستل: چه آريائيانو تر هجرت او خپريدلو پخوا په يوه مځکه کي ژوندکاوه چه پوهان ئې په تعين کي سره مختلف دي، مگر په دې اواخروکي ډيرو پوهانو دا خبره منلې ده چه د آريائيانو اصلي ټاټوبي د ايشيا په منځ

---

[1] تاريخ مرصع ص٤ د راورتي طبع.

کي د پامیر لوړي ته نژدې و چه د مختلفو اقوامو روایات او د آریائیانو د هجرت له لارو څخه هم دغه زباديږي[1] پرسي سایکس لیکي چه دا ځاي د آمو او ایگزارت په منځ کي پروت و، چه دغه پامیر او بدخشان ته نژدې دي.[2]

دې قدیم وطن او ټاټوبي ته دوي پخپله قدیمه ژبه (آرینه ویجه یا ویجو) (واج) ویله په اوستا کي چه شپاړس آریائي هیوادونه ښئي، (آرینه ویجه) هم یادوي، چه د وانگوهي دیتیا Vanghui Daitya د برکتمن روده سره واقع وه.[3] جیگر الماني او ځیني نور غربي پوهان وایي، چه دا (ارینه ویجه) په غرنیو مځکو کي وه، چه په سیر دریا او زرافشان او آمو اوبیده، او آریائیانو په دغو غرو کي ځانونه د تاتار، او نورو له حملو څخه خوندي کړي وه، او د (آرینه ویجه) د کلماتو معنا داسي ده: د شریفانو او اصیلانو مځکه یا د پاکزادانو ټاټوبي[4]

د آریا د کلمې په خصوص کي مو دمخه تشریحات او تاریخي او لساني پلټني ولوستې اوس به راسو، او د ویجه (واج) کلمه به هم په پښتو کي وگورو، چه سته که نه؟ دا تاریخي کلمه تر اوسه هم په پښتو ژبه کي مستعمله ده، د قندهار خلق ئې (اویجه) د الف په زور او مجهوله یا؟، او د جیم په زورکي وائي: احمد محمود د خداي پر اویجه نه پرېږدي چه په جمله کي اویجه هم د مځکي او سر زمین معنا لري، او دا پښتو ژوندۍ کلمه په هغه زاړه ډول او معنا په لږ تغیر تر اوسه مستعمله ده، او موږ ته را ښکاره کوي چه له آریائي پخوانۍ ژبي سره پښتو څنگه نزدې ده، او ښائي چه سنسکریت او اوستا هم دوني قرابت نه ور سره ولري.

آریا ورشه

لکه په اوستا کي چه د آریائیانو زوړ ټاټوبي او مسکن (آرینه ویجه) بللي سوي او ریښې ئې هم په پښتو کي سته دغسي هم هندی آریائیانو هغه خپل پخواني ټاټوبي (آریا ورته) یا (آریا ورشه) بلله، چه معنا ئې هغه د آریا مځکه یا ټاټوبي او د اصیلو او ښاغلو هیواد ده. تا سي دمخه ولوستل چه لومړۍ پلا دا نوم به (منوسمهیتا) نومي کتاب کي

---

[1] ویدیک اندیا، ص٤٤.

[2] تاریخ افغانستان، ج١ص٣٦.

[3] ویندیداد فرگرد.

[4] تمدن ایرانیان خاوري ج١ ص ٦٦-٧٤ - ایران قدیم ج١ ص ١١- د براون تاریخ ادبیات ایران ج١ ص٥٩.

راغلي دي. دي آریا ورته Arya Varta د همالیا او بحیرۀ عرب تر منځ مځکي ګڼي،[1] سر ولیم جونس وائي چه د منو قوانین تر مسیح اته سوه کاله دمخه کښل سوي، خو نوي پلټني دا ثابتوي، چه دوې یا درې پیړۍ تر مسیح دمخه دي[2]، محققین وائي چه دا نوم هندي آریایانو له پخوا او هغه وخته ور سره راوړي وو، چه دوي له بخدي څخه نه وه سره خپاره شوي خو د دې کلمې ادبي عمر درې پیړۍ قبل المسیح ته (لکه دمخه چه وویل سوه) رسیږي.

آریا ورته، آریا ورشه هم بلله کېده، او لکه ولسون Wilson چه وائي معنا ئې (د ښاغلیو او اصیلو ټاټوبي) ده[3] مګر هغه وخت چه دا نوم د هند آریائیانو ورسره یووړ، نو ئې دوني خپورتیا پیدا کړه، چه په پاي کي پر ټول هند اطلاق شو او تر ویدي دورې ډېر را وروسته چه د برهمنانو مدنیت له څلورمي پیړۍ قبل المسیح څخه په هند شروع شو، نو دوي بیا دغه (ورته=ورشه) واخیست، او د ګنګا د رود غاړې ئې (برهمنا ورته) هم وبللې[4] چه له دغه څخه هم د دغي کلمي زوړ استعمال او ادبي نفوذ ښکاره کیږي. او د آریائیانو یوه زړه او پخوانۍ کلمه ګڼل کیږي. علاوه پر دغو دوو زړو نومو چه (آریا ورشه) او (برهمنا ورشه) دي په آریائي قبایلو کي چه هند ته ولاړل یوه قبیله Bharata (بهارته) نومیده، چه دوي تر اباسین تیر شول، او په هند کي مدنیت جوړ کړ، او وروسته د دوي د جنګي کارنامو لپاره (مهابهارته) مشهور رزمي کتاب سو. دې قبیلې د آریائیانو د پخواني نامه (آریا ورشه) پر وزن او ډول د هند مځکي پخپل نامه (بهارته ورته) یا (بهارته ورشه) وبللې، او وروسته دا نوم د هند ملي نوم شو[5] او هغه زړه اصطلاح (آریا ورشه) ئې ورکه کړه، خو په دغو درو سره نومو کي (ورته او ورشه) راغلې ده، چه په دواړو ډولو تلفظ کېده او معنا ئې هم هغه (ټاټوبي او هیواد) و.

اوس به راسو او و به ګورو، چه ورشه په پښتو کي سته که يه؟

په قندهارکي تر اوسه (ورشو) wurshu په آخرني مجهول واو چراګاه مرتع، او مناسب ځاي ته وائي، ښه ورشو ده یعني ښه د څر ځاي یا مناسب ځاي دي، ورشو ئې ځني ورکه کړه، په هغه وخت کي ویل کیږي، چه له ډېره اضطرابه له سري څخه ځاي او خوا ورکه شي.

---

[1] کیمبرج هستري آف اندیا، ج ۱ ص ۵۱.

[2] تمدن هندګوستاو لوبون، ص ۲۱۰.

[3] آریانا اینټیکوا، ص ۱۲۱.

[4] د شرق اقصي تاریخ، ج ا ص ۱۰، مدنیت بخښونکي هند، ص ۳۸.

[5] مدنیت بخښونکي هند، ص ۳۸.

دا کلمه له پخوا څخه د پښتو په ادب کي هم ځاي لري، او ژوندۍ وه ژوندۍ ده مثلاً ماشوخيل حمید مهمند وائي:

هغه سرکا زمانې د سپو د لوبو   چه ئې نه واهه مزري پل په ورشو

ورشو مرتع او د څړ ځاي ته هم وائي، او دا مفهوم د آریائي قبایلو له ژوندونه سره ښه اړخ لګوي، تاسي دمخه هم ولوستل، چه زراعت او مالداري په دوي کي څوني مهم کارګڼل کېدي، دوي هر شي ته د زراعت په سترګو کتل، نو ځکه "ورشو" دوي ته دیناً او مادتاً ډیره مقدسه وه، او دا کلمه له قدیمه په دوي کي پر ښه مرتع او چراګاه اطلاق کېده، وروسته چه دوي هري خوا ته تلل نو دا نوم ورسره ملګري و او دوي پر خپل هیواد او وطن او ټاټوبي باندي اېښووئ.

دلته یوه خبره پاته شوه، هغه دا ده، چه (ورته او ورشه) څه اړه سره لري، او څنګه ورته او ورشه یو له بله سره اوښتي دي. لومړۍ باید دا ووایو: چه آریائي قبایل ټول له باختره او هم زموږ له وطنه تر اباسین اوښتي او هند ته تللي دي، ټول هغه کلمات چه اوس یا پخوا زموږ او د دوي تر منځ، مشترک دي، ځکه چه د آریا د پښت زانګو زموږ د وطن مځکي دي او هندي آریائیان هم له دې ځایه تللي دي نو دا په ټینګه ویلاي سو، چه د هغو زړو کلماتو اصلي اشکال هم باید دلې پاته وي او هر څه تغیر چه وروسته ور پېښ شوي وي، هغه به د نوي محیط اثر وي.

پر دې تاریخي اساس باندي نو دا ویلاي سو، چه ورته هم اصلاً ورشه او دغه د پښتو ورشو وه، وروسته چه آریائي قبایل په هندکي خپاره شول، نو دوي هغه په ورته سره تبدیل کړه خو دواړه ډولونه ئې هم را نقل شویدي.

دا د ورته د (ت) تبدیل، د ورشه په (ش) هم دفعي او یو په یوه ندي، (ت) ډیره په (س) اوړي، او دا تغیر تاریخي هم دي، مثلاً پارت یوه تاریخي آریائي قبیله وه چه د دوي نوم د داریوش په ډبر لیک کي (پرثو) راغلي دي[1] نو د (ت) او (س) او (ث) تر منځ پخوا یو صوت په آریائي ژبو کي مشترک و، چه هغه (ش-شه) ته هم ورته دي، په پښتو کي هم (ت) ځاي په (س) اوړي مثلاً (کتل=کسل) چه یوه معنا لري، وروسته د (س او ش) تبدیل هم عام، او په پښتوکي خورا ډیر وي، مثلاً ، راسه - راشه - سي - شي- سوي - شوي - ولاړ سه- ولاړ شه او نور په دې ډول ښائي چه دغه پښتو (ورشو) په اصلي آریائي ژبه کي ورشه یا ورشو وه وروسته چه نوي محیط او نوي چاپیر ته ولاړه او په نوو خولوکي ولویده، ورشه، بیا ورته شوه.

---

[1] ایران قدیم، ص ۱۲۱

نتیجه

تر دې ځایه د پښتو رابطه د اصلي آريائي ژبي (آریك) سره ښکاره شوه، تاسي دلته دري پخواني آريائي کلمې په اوسنۍ پښتو کي ژوندۍ او مستعملي وليدلې: (۱) آریا، آرین = پښتو (آره) (۲) ویجه پښتو (اویجه) (۳) ورته - ورشه ـ ورشو پښتو به دغه مبحث کي فقط دغه دري کلمي تحلیل شوي، وروسته چه د پښتو تطبیق د نورو آريائي ژبو (سنسکریت، زند، زړې پاړسو) سره کیږي، داسي ډیر مثالونه او کلمات به راوړم چه تر اوسه زموږ په ژبه کي سته او ژوندي دي.

او د دې برخي لنډه نتیجه دا ده

پښتو له هندو اروپائي یعني آريائي ژبو څخه ده ځکه چه د آريائي د پښت زانگو دغه زموږ د هیواد مځکي دي، نو اصلي آريائي ژبه هم دلې ویله کیده او دلې پخپله پاته ده یا ئې لور پښتو تر اوسه په دغه غروکي ژوندۍ ده.

د آريائي اقوامو نوري ژبي لکه د ویدا ژبه (سنسکریت) د اوستا ژبه (زند) د پښتو خوندي، او تر دغو دواړو ژبو پښتو اصلي آريائي مور ته نژدې ده، او تر اوسه هم په پښتو کي زاړه آريائي کلمات له اصلي آريائي ژبي څخه پاته او ژوندي دي.

دوهمه برخه

پښتون او پښتو

پښتون - د لسو ټبرو جگره او پښتون - د پکهت ویشنه - پښتون په ویدا کښي - پښتون په اوستا کښي - پښتون او یوناني مورخین - بختي په اسلامي دوره کښي - نتیجه - پښتو - پښتو او د اوسنیو پوهانو آراء - د دغو افکارو نتیجه او د پښتو اصل - پښتو ولي سامي یا عبري ژبه بللې شوې ده؟ - یوه ضروري یادونه ـ پښتو ولي هندي یا ایراني گڼلې شوې ده؟

پښتون او پښتو

آریائي اقوام چه له خپلي زړې آرینه ویجه Aryana Vaeje یعني د اکسوس (آمو) او سیر دریا له سر چشمو څخه خپاره شول، او په بخدي او باختر کښي مدنیت جوړ کړ، وروسته نو له دغه ځایه بیا د هند او ایران خواو ته ولاړل. دوي ځیني مشهور قبایل درلودل، چه له هغه څخه یوه مشهوره قبیله پکهت=پښتون وه، د دې نامه تاریخي څېړنه او قدامت د پښتو ژبي اصالت او قدامت هم څرگندوي، نو ځکه د کتاب په دې دوهمه برخه کښي مفصلاً لومړي د پښتون پر کلمه او وروسته پخپله پر پښتو بږغیږو.

پښتون: تاسي دمخه ولوستل، چه د باختري آریائیانو یوه ډله تر اباسین (اندوس) پوري وتل، او د دوي یو معروف دیني کتاب ویدا Veda تر اوسه پاته دي، دا کتاب د آرایائی اقوامو په تاریخ کښي ډېر اهمیت لري، د هغه عصر ډېر وقایع څرگندوي، او ځکه چه اکثري برخي ئې زموږ د وطن په غرو او دریابو او مځکو اړه لري، او پکښي بیان شوي دي، نو محققین د ویدا کتاب زموږ د هیواد یو پخوانی کتاب گڼي.

له دې کتابه موږ د هیواد پخواني تاریخي وقایع او حوادث را باسو، او هم د ژبي په تاریخ کښي ښې ښې استفادې څني کوو، وروسته چه په دې کتاب کښي د ویدي ژبي او پښتو د څېړني وار راشي، مفصلاً به ئې در وښیو، چه دا کتاب څه شي دي؟ خو دلته دغوني بس ده ، چه د ویدا د انشاء او لیکلو نېټه تر ۱٤۰۰ ق، م پوري رسیږي.

که موږ وغواړو چه د پښتو ژبي تاریخ وپلټو، ناچاره یو، چه لومړی دا ځان ته څرگنده کړو، چه پښتون قوم له کومه وخته په تاریخ کښي ځاي نیولي دي؟ او دا اولس زوړ او پخوانی دي که نوي؟

د لسو ټبرو جگړه او پښتون

هغه وخت چه آریائي اقوام زموږ د وطن په غرو او دښتو او د هند به زنگلو او ورشوگانو کښي سره خپاره شول د دې ټبرو تر منځ یو خورا لوي او مشهور جنگ پیښ شو، چه د ویدا په زاړه کتاب کښي بیان په خورا ښه ډول راغلي او کیفیت ئې دا دي:

"له آرایائي اقوامو څخه د بهارته Bharata قبیله د کوبها یعني کابل او ارغنداو له ورشوگانو څخه تر خیبر او بولان او نورو لارو تېر شول، او د سندهو Sindhu (اباسین) ورشوگانو ته کښته شول. او په هند او پنجاب کښي سره خپاره شول دلته د بهارته د تېر پاچا (سوداس) نومید، چه د دیواداسا Divadasa زوي یا لمسي و، د دې پاچا سره د کوزیکا Kusika له علمي او ادبي کورنۍ څخه یو ریشی[1] او مذهبي مشاور ؤ، چه ویسوا میترا

[1] ریشی د آیائیانو شاعر او روحاني و، شرح به ئې وروسته راسي، په نورو لیکوکي دا اصطلاح راوړو.

Visvamitra نوميدي، دې ريشي روحاني قوه او نفوذ او پوهه درلوده. د سوداس پاچا سره ئې د ستردو Sturdu (ستلج) او ويپاشا Vipasha (بياس) په نيول او فتوحات کښي ډېر کومکونه کړي وه، خو وروسته سوداس پاچا دا ځپل مذهبي مشاور ويوست، او په عوض کښي ئې بل سړي چه واسيستاس Vasistas نوميدي مقرر کړ. د دغو دوو تنو ريقيانو تر مينځ مخالفت او جگړه ونښته، د ويسوا ميټرا ډېر قبايل پر خوا وه، او خلقو ئې په خوله کوله، نو ده ډېر آريائي قبايل سره را ټول کړل، او د سوداس سره ئې جگړه وکړه، خو پاچا بريالي شو، او د انو Anus او دريوهو Druhyu د قبيلو ملکان ووژل شوه.

دا جگړه د پاروشني Parushni (ايراوتي=راويی) پر غاړه پيښه شوي وه، او هغه لس آريائي قبيلي چه پدغه جگړه ئي لاس پوري کړي وو اکثر هغه قبايل دي، چه تر اوسه ئې هم بقايا زموږ په هيواد کي شته، او داسي ښکاري، چه تر دغي جگړي وروسته دوي د هندو ورشوگانو ته ليرد او هجرت بند کړ، او دلې پاته شول، د دغو لسو ټبرو نومونه دا دي:

١- پکتهه Pakthas (بگتويس=پکهت=پښتون)

٢- اللينا Alinas (د نورستان خلق)

٣- بهالانا Bhalanas (د درۀ بولان خلق)

٤- شيوا Chivas (د شيوکۍ خلق چه اباسين پر غاړه اوسيدل)

٥- ويشانن Vishanins

٦- انو Anus (چه د پنجاب د راوي رود پر غاړه اوسيدل، او د بريگيوس Bhrigus مشهور روحاني کورنی د دوي ستانه وه).

٧- دريوهيو Druhyus (دا قوم هم د انو سره اوسيدل)

٨- توروا شا Turvasha (دا دوې قبيلې سره ملگري وې).

٩- يادو Yadus

١٠- پورو Purus (دگندهارا د شاو خوا خلق)[١]

دا وې لس مشهوري آريائي قبيلې چه د لسو ټبرو په جگړه کي برخه درلوده، او لکه محققين چه وائی، او دغو ځخه اوس هم اکثري قبيلې زموږ په هيواد کي سته، او له هغه وختو ځخه تر اوسه دلې پرتې دي.

[١] کمبرج هستري آف انډيا، ج ق ص ٨٢- تاريخ افغانستان، ج ١ ص ٨٩.

د پکهت ویشنه

په دغو آریائي قبایلو کې مونږ د ژبي لامله فقط له لومړئ یعني پکهت سره اړه لرو، او له دې تفصیله مو مقصد دا دي چه د پښتون ملت لومړئ تاریخي وثیقه هم دغه ده، چه نوم ئې په ریگویدا کې یاد شوي دي، او دا څرگندوي، چه دا اولس تر میلاد ۱٤۰۰ کاله دمخه لا هم موجود و، او په آریائي کورنې کې نوم او نښان درلود.

د پکهت تاریخ په هغه وخت کې هم ډیر روڼ دي، او هر څوک ئې پیژني، دوي چه له بخدي څخه تلل، څو ډلي شول: یوه برخه ئې پخپله په باختر او بخدي کې پاته شوه، چه دوي وروسته د پارت Parth په نامه بلل کیده، او د قبل المیلاد د دریمي پیړئ په شا او خوا کې یو د دوي مشر ارساس پارتي د غرب پلو ته ولاړ، او د هري رود غربي خوا ته ئې د خزر تر څنډو پوري مدنیت جوړ کړ، او هغه مځکه ئې هم پخپل نامه پارتیا Parthia وبلله، او هلته دوي د پارت په نامه سلطنت او روڼ مدنیت او بیل ثقافت وموند (د ۲٥٦ ق،م حدود) یوه بله برخه هم له دغو پښتنو څخه د ارمنستان غربي خوا ته ورسیده، او هورې هم د پکهت=پکویس په نامه مشهور وه، او هغه ځاي د دوي په نامه (پکتیکا) بلل کیدئ.[1]

پښتون په ویدا کې

په ویدا کې مو د پښتنو ذکر ته دمخه اشاره وکړه، ځکه چه دا تاریخي وثیقه د پښتنو اهمیت او ثقافت، او سیاسي او اجتماعي ژوندون د ۱٤۰۰ ق،م په شا او خوا کې ښکاره کوي، نو به دلته لږ څه دغي خبري ته تفصیل ورکو: په ویدا کې پکتها د پښتنو د پاچا په ډول، او پکهت د قوم نوم، څو ځایه او مکرر راغلي دي. هغه انگلیسي ترجمه چه د اروپا مشهور هند پوهاند او مستشرق رالف ټي ایچ گریفت Ralph T.H. Griffith له ویدا څخه په دوه ټوکه کې گړیده، د پکهت ذکر ئې په دغو ځایو کې راغلي دي:

۱- دوهم ټوک ۱۸ مخ - اومه برخه - ۱۷ سندره

۲- دوهم ټوک ۱٥۳ مخ - اتمه برخه - ۲۲ سندره

۳- دوهم ټول ۲٦۰ مخ - اتمه برخه ۱ سندره

٤- دوهم ټول ٤٦٥ مخ - لسمه برخه - ٦۱ سندره

اوس به نو لاندي د ویدا څني هغه جملې او فقرې راوړو چه په هغه کې د (پښتون=پکهت) نوم یاد شوي دي:

"... برگویس Bhrigus او دروهیوس Druhyus [2] ژر غوړ ونیوئ یوه دوست بل دوست ته د دوو لیرو قبیلو په منځ کې نجات وباخښه... د پکهت او بهالانا او الینا، او شیوا، او ویشانن خلق سره را ټول شول آریائې ملگري لار ښووني ته د تریتسو Tristus قبیلې ته راغي، د ده دا د زړوتوب راتگ، له دې لا مله و، چه د جگړي سره ئې مینه

---

[1] تاریخ هیرودوت ص ۲۸۱ - تاریخ افغانستان، ج ۱ ص ۹۰.

[2] بریگوس له خورا پخواني روحاني کورنئ اوستانو څخه و، مگر د ریوهوس ستانه او روحاني نه وه.

درلوده،[1] له دې سندري څخه څرګنديږي چه پکهت (پښتون) او بهالانا (د بولان يا لغمان خلق) الينا (نورستانيان) شيوا (د انډوس د غاړو و يا د کابل د شيوکي خلق) په يوه جنګ کي سره ملګري وه، او پښتانه په هغه وختو کي له خپلو وطني ورونړو سره مله او متحده وه. بل ځاي هسي وايي:

"اې اسونانو[2] پر خپلو جنګي اربو سپاره شي، پر خپل طلائي پلاز کښيني، اې هغه خلقو چه تاسي بهالايان ياست، هغه مرستي چه تاسي له پکته او ادريګو Adhrigu سره وکړې، نو بابهرو Babhru له خپلو دوستانو څخه پيل شو[3]" په دي سندره کي چه پکته راغلي دي، د ښتنو پاچا دي، ادريګوا او بابهرو هم د ده ملګري پاچهان دي شاعر د کوم جنګ کيسه کوي، او د پښتنو د پاچا او ادريګو لپاره د سهارنيو ستوريو څخه کومک غواړي له دې څخه ښکاري چه په دغو وختو کي هم پښتنو اداري نظام او مشر او پاچا درلود، او په ګډه او ملګري له دښمنانو سره جنګيدل، د ويدا په بل ځاي کي هسي راغلي دي:

"اې اندرا! ته ډير لوي يې، له تا څخه غواړم، چه موږ ته پیء وري غواوي را کړې! لکه مدهه ياتي تيا Medhyatithia او ني پا تي تيا Nipatithia (د دوو شاعرانو نومونه دي) ته چه دي ورکړي دي هغسي چه د کنوا Kanva ټبر، او د تارسادسيو Trasadsyu شهزاده، او پکته (د پښتنو پاچا) او داساوراجا Dasavraja ته دي ورکړي دي...[4]"

په دې سندره کي شاعر له اندرا (د جنګ رب النوع) څخه پيوري غواوي غواړي، چه د آريائيانو په ژوندون کي ډير اهميت درلود، او هم دوه تنه نور شاعران او د کنوا قبيله او يو شهزاده او بل پاچا او هم د پښتنو پاچا (پکته) د مثال په ډول راوړي، او له اندرا څخه د دوي په توګه غواوي او بډائي غواړي.

له دې سندري څخه ښه څرګنديږي، چه اندرا د جنګ رب النوع د پکهت له دلاوري او جنګري قبيلي سره ډيره مهرباني درلوده، او دا قبيله په هغه وخت کي هم ډيره بډايه او اباته وه ډيري غيلې اوګورمونه ئې درلودل.

د ويدا په بل ځاي کي د پښتنو يادونه هسي شوي ده:

"هغه ډير ښه سندرچي د جنګ په تودوالي کي دا دعا وويله، چه په جنګ کي پر آسونانو Asvins بري ومومي هغه وخت چه خورا سخي رب النوع د پکهت پلار او مور وژغورل، نو ئې پر اووهوتاو[5] يرغل وکړ شياوانا Chyavana (د يوه پخواني شاعر زوي) د ښکلو سوغاتو د وړاندي کولو لپاره، په ډير تدابيرو هغه مذبح سمبال

[1] ويدا، ج ۲ ص ۱۷-۱۸ اتلسمه سندره ٦،۷ فرد.

[2] اسون: د سهار دوه ستوري دي، چه د پخوانو آرئيايانو په عقيده دوه سپاره ارباب انواع وه.

[3] ويدا، ج ۲ ص ۱۵۳- ۲۲ سندره- اتمه برخه ۹ فرد.

[4] ويدا، ج ۲، ص ۲٦۰، لومړۍ سندره اتمه برخه.

[5] هوتا هغه علماء وه، چه لوئي قرباني به ئې د هغه په ذريعه کولې.

کړ، توروایانا Tvrayana چه تر ټولو موجوداتو ښه ړغ لري، د نذر مشوبات ئې د سیل په څیر راتوي کړل، چه مځکه زرغونه او اوبه کړي ...“[1]

لکه پیشل Pishel مشهور وید پوهاند چه ویلي دي، توروایانا د پښتنو د پاچا نوم دي، د شیاوان شاعر سره چه د بریگو زوي و، د پاچا مخالفت ولوید.

شیاوانا د آسون له رب النوع سره مینه درلوده، د قربانۍ ځاي ئې په ډېرو ایرو او خوشبویو دود او سمبال کړ، چه د پکهت پر پاچا بري ومومي، خو اندرا د جگړې رب النوع د پښتونو د ننگیالی قبیلي پر خوا شو، قرباني ئې منع کړه، هوتاگان چه د قربانۍ د اجزاء لپاره راغلي وه، سره وئې شړل، نو د پښتنو پاچا د اندرا د خوښۍ لپاره مشروبات لکه بهانده رود داسي وبهول او پر دښمن بریالي شو.[2]

په دې ډول پښتانه تل په جگړو کي پر دښمنانو بریالي وه، او د دوي د پاچا اقتدار هم خورا ډېر و، د ریگویدا سندري له دغو جگړو څخه ښه تفصیلات را کوي، چه اندرا هم تل د پښتنو ملگري و، او په جگړو کي د دوي پاچا ته کومک رساوه.[3]

دا خو پخپله د پکهت یعني د ښتون ډېر پخواني تاریخي تذکار و، چه د ویدا په پاڼو کي شوي دي، بیله پکهت څخه په ویدا کي د پښتو د ځینو قبیلو نومونه هم ذکر شوي دي، او دا ځني ښکاري، چه د پښتنو قبایل په هغه وختو کي هم موجود او مشهور وه، مثلاً:

”دیووداسا د ارغنداو او د هراوت پر غاړه له څو قبیلو سره جنگونه وکړه چه نومونه ئې دا دي: ډاسا Dasas پاني Pani بریسایا Brisaya پاروتا Paravata دا جنگونه د هیلبرنټ Hillebrandt په قول د سراسوتي Sarasvati یا هر اوتي یعني د هراوت او ارغنداو پر غاړو وه، دي وایي: چه په دغو جگړو کي د ارا کوزي (اوسنی قندهار) خلق شامل وه، او د ویدا پاراوتا قبیله هغه پاروئتي Parueti گڼي چه بطلمیوس یونانۍ جغرافیا وال هم د ارغنداو په ورشو کي ښوولې ده.[4]

ځکه چه ویدا تل زموږ د هیواد مځکي، غرونه، رودونه یادوي او د دې هیواد کتاب دي، نو دا ویلاي شو، چه د هیلبرانټ نظریه رشتیا ته نژدې ده، او سراسوتي چه په اوستا کي هراوتي و، اوس دغه هراوت دي، ډاسا چه د دغو مځکو یوه قبیله وه، په پښتنو کي تر اوسه هم په دغه نامه ځیني قبائل سته، مثلاً په سلیمان خیلو کي تر اوسه هم داسو Dasu قبیله سته.[5] پانۍ هم اوس په پني مشهور دي، چه په سیوۍ کي د ډاډر شمال ته اوسي، او ځانونه

---

[1] ویدا، ج ۲ ص ٤٦٥ - ٦١ سندره - لسمه برخه.

[2] د ویدا ص ٤٦٥، ج ۲، فټ نوټ.

[3] ریگویدیک کلچر، ص ٣٥٦.

[4] کمبرج هستري آف اندیا، ج ۱ ص ۸۷.

[5] حیات افغاني ص ٢٥٨.

کاکړ ګڼي[1] بریسایا کتې متې اوس هم سته بړیڅ Barech ئې بولي، چه د قندهار په شوراوک کي اوسي او د هیواد په جنوني څنډوکي تر هلمنده او سیستانه پراته دي، په دوي کي د فتح خان بړیڅ کسې تر اوسته مشهوري دي[2] او په هند کي هم د پنجاب ویرچ Variach قبیله دغه بړیڅ ته رسي او د جنوبي هند بهرایچ ښار هم له دغه نامه سره اړه لري.

دغسي هم د ویدا پاراواتا چه بطلیموس د ارغنداو پاروئیتي قبیله بللې ده، تر اوسه هم پ ه الکوزوکي پروټ Parut نومي پښه شته[3] ځکه چه الکوزو هم د اراکوزي خلق دي نو پروټ هم هغه پاراواتا قبیلې ته نژدي دي.

په دي کرښوکي زما مقصد د پښتنو د تاریخ بیانول ندي، بلکه تش دا خبره څرګندوم، چه د پښتون نوم او مدنیت د ویدا همزولي دي، او بیله دې نومه د پښتنو د ډیرو قبیلو نومونه هم په ویدا کي راغلي دي.

پښتون په اوستا کي (پښتون، بخدي)

تر ویدا وروسته زموږ د هیواد یو مهم تاریخي سند د اوستا کتاب دي، چه د ۱۰۰۰ ق,م په شا و خوا کي نیټه دي دا کتاب هم د بخدي، بلخ په ورشوګانو کي کښلي شوي دي، او زموږ د هیواد تاریخي وثیقه ده، په دې کتاب کي صراحتاً د پښتون یا پکهت نوم ندي راغلي، خو موږ دا ویلاي سو، چه دغه کتام هم د دې اولس له نومه خالي ندي، په دې ډول:

دمخه مو وویل: چه آریا د توکم مرکزي هیواد بخدي، باختر، بلخ دي لکه چه ښکاره ده.د ویدا پکهت، د هیروډوت پکتي یا پکتیس سره یو دي چه دغه نومونه بخد او بخت او بیا هم وروسته بخت او پکت او پښت سول، او د بخدي د زاړه نامه ریښه تر اوسه هم په پښتون کي سته. دا نوم په وروستني ویدي ادب کي بلهکا Balhika راغلي دي، چه د ویدا په یوه برخه اتهروا ویدا Atharva Veda کي کتې متې دغسي ضبط دي، او په پهلوي ادب کي هم بخلي، بخل، باخل، راغلي دي.[4] په مهابهارت کي بهلیکه Bahlika کښل سویدي[5] او پانیني Panini د سنسکریت د نامه موسس او صرفي او نحوي عالم هم تر میلاد دمخه په څلورمه پیړۍ کي په بهیکه قبیلو کي ډیر قبایل راوړي، او هغه ټول بلخیان بولي، پخپله په اوستا کي چه د آریائیانو د هیوادو شپاړس نومونه راغلي دي، څلورم ئې بخدي[6] Bakhdi دي چه په اوستا کي بخدیم سریرام "ښکلي بلخ" هم بیا ذکر شوي دي، او لکه د

---

[1] حیات ص ١٥٤.

[2] حیات ص ٢٤١.

[3] حیات ص ١١٨.

[4] آریانا ص ٩٤ - ١١٥- ١١٧.

[5] اردو مهابهارت.

[6] وندیداد - لمړی فرګرد.

اوستا فرهنگ (ص ۱۱۰) چه لیکي د دې نامه عنصري توري (ب،ا،خ، د، ي) یا (ب،ا،خ،د،ي) دي، چه باخدي یا باختري څني جوړیږي.

پروفیسر پرزي لوسکي J. Przyluski د دې نومو له نژدیوالي څخه دا نتیجه اخلي، چه دغه ټول نومونه د بلخ دي[1] او جکسن Jackson وایي: د اوستا په هغه پهلوي نسخه کي چه له سمرقنده را وتلي ده، او د اتمي میلادي پیړۍ لیک دي، بخل بامیک په اتم باب کي راغلي دي، چه دغه اوسني بلخ ځیني مراد دي.[2]

اوس نو د دې نومو د اوښتلو سلسله وګورئ.

د ویدا پکهت: (پ) به (ب) اوړي، ک په (خ ـ ښ) اوړي، (ت) په (د) اوړي، نو پکهت =بخت = پخت= بخد =پښت.

د اوستا بخدي: اصل پکهت یا بخت یا پښت و، وروسته بخدي د دوی په نامه د ښار نوم شو.

دا نوم

د سنسکریت او اتهروا ویدا: بلهیکا سو. او د:

مهابهارت: بهلیکه سو. وروسته:

د پهلوي: باخل، بخل او

د لومړنۍ پاړسو: باختر، بلخ سو.

د دې ټولو ریښه هغه پکهت او پښت دي، چه وروسته د پښتون نوم ځني زیږیدلي دي، او دا نوم تر اوسه هم ژوندي دي، نو هیڅ شک نه پاتیږي، چه د اوستا بخدي داسي اوړي: بختي=ښندي، پښتي. چه د یونان مؤرخینو هم پکتي، پاکتي راوړي و.

پښتون او یوناني مؤرخین

لکه چه تاسي ولوستل، پښتون قوم د آریا له هغو مشهورو قبیلو څخه و، چه د ویدا او اوستا د لیکلو او غږولو په وخت کي ډیر شهرت درلود، د مدنیت خاوند و، پاچهي او اداري نظام ئې درلود، پخپل هیواد کي د نورو هموطنانو سره په اتحاد او ملګري اوسیدل.

دې قوم تر ویدي او اوستائي عصر وروسته هم تل خپل نوم او نښان وساته، او تل مورخینو په ښه نامه ستایلي دي او هیڅ وخت یو نومورکی ملت نه و، لکه چه تر دغو عصر وروسته، د یونان مشهور مؤرخ هیروډوت Herodote (۴۸۴-۴۲۵ ق، م) هم پخپله مشهوره جغرافیا کي د پښتنو ذکر کوي، دي د پښتنو هیواد د پکتیکا

[1] تاریخ افغانستان، ج ۱ ص ۸۲-۸۳.

[2] د زند اوستا ترجمه، ج ۱ ص ۸ - زردشت ص ۲۷۱.

Pactyica په نامه یادوي چه د انډوس Indus (اباسین) پر دې څنډه واقع دي. او خلق ئې ډېر عښتلي او مړني دي.

د دوي کالي پوستینان دي، وطني غشي او لیندۍ او چړې لري، په دود او جال کي باختري خلقو ته ورته دي.[١] هغه وخت چه سکائي سلاکس Scylax یوناني امیر البحر د داریوش (٥٢١-٤٨٦ ق.م) له خوا د بحیرهٔ عرب د غاړو د کشف په کار مامور سو، نو دي د کاسپتیروس[٢] Caspatyrus له خوا د پکتیکا پر لار اندوس ته ولاړ، او په کښتۍ کي سپور سو، او بحیرهٔ عرب ته له دغي لاري په اندوس کي ورسیدي[٣] سکائي لاکس پخپله سیاحت نامه کي د پکتیکا ذکر هم کړي دي.[٤]

علاوه پر دغه هیروډوت د ارمنستان په ١٣ ستراپي کي هم پکتیکا راوړي او دا د پښتنو هغه برخه ده، چه دمخه موږ در وښووله او د پارتیا څخه غربي خوا ته تللي وه، او هیروډوت ئې په ارمینیا Armenia کي نوم او بیان راوړي دي.[٥]

د یونان یو بل جغرافیا لیکونکي بطلمیوس کلودیوس Ptolmey Claudius هم د پښتنو هیواد "پکتین" یاد کړي دي، دي وايي: چه پکتین د پاروپامیز و جنوب ته دي دا ځاي د پکتیانو مسکن دي.[٦]

بطلیموس چه تر هیروډوت را وروسته د دوهمي میلادي پیړۍ په لومړۍ نیمه کي ژوندی دي په لوړ ډول د پښتنو هیواد راښئي او دا ځني ښکاري چه په دغه وخت هم د پښتون شهرت په مدني دنیا کي ډېر و، او دا قوام هر چا پیژاند.

د ویدا پکهت د یونان د جغرافیاوالو او تاریخ لیکونکو له خوا پکتي، پکتیس او پکتویس Paktves ضبط شوي دي او داسي معلومیږي، چه دا تغییر د یوناني ژبي د لهجې او خصوصیت له پلوه دي، لکه چه د اروپا پوهان اکثراً دغه مني، پروفیسور لاسین Lassen چه د یوناني باختري پاچهانو تاریخ ئې کښلي دي لومړۍ پلا ئې د یونان پکتویس له اوسني پښتون سره تطبیق کړ. وروسته دا نظریه نورو پوهانو لکه ترومپ Trumpp او ګریرسن Grierson هم ومنله. دوي د جغرافیائي موقعیت له مخي د یونان پکتویس پښتانه وبلل او دا علمي نظریه ئې ثابته

---

[١] د هنري افغاني مطالعات ص ٢.

[٢] ځیني وايي دا ښار د کابل په حدودو کي و، ځیني ئې د کشمیر پر خوا بولي.

[٣] د ویلر جغرافیاي هیروډوت، ص ١٩٨-٢٧١ - د مکالي تاریخ هیروډوت، ج ١ ص ٢٦٠-٣٠٨، ج ٢ ص ١٥٧-١٦١- انسکلوپیدي اسلام، ج ١ ص ١٥٠- تاریخ باختر راولسن ص ٣٠.

[٤] راورتي د پښتوګرامر مقدمه ص ٣١ د ملپومني Melpomene، ج ٤ ص ٤٤ په حواله.

[٥] د هیروډوت جغرافیا ص ٢٨١.

[٦] تاریخ افغانستان، ج ١ ص ٩٢.

کړه او اوس ټول مورخین د ویدا پکهت او د یوناني مورخینو پکتویس دغه پښتون ملت ګڼي[1] چه د دوي مدنیت او د نامه تاریخ ډیر قدیم دي او تر ۱۴۰۰ ق،م پوري رسیږي.

بختي په اسلامي دوره کي

دا نوم تر اسلام وروسته هم ژوندي او مستعمل و په دې ډول: د باختر او بخدي د پښتنو اوښان پخوا مشهور وه. بارتولډ مستشرق وايي، چه سلمانا سارد آشور دوهم پاچا په ۸۴۳ ق،م یو مخروطي ستون جوړکړي دي، او د بختي اوښانو تصاویر پر هغه ستون تر اوسه سته دغه اوښان به تل له باختره د پاچهانو دربارو ته د ججې او خراج په ډول وړاندي کیدل[2] اسلامي مورخین هم بختي اوښان ذکرکوي، چه د سیستان او کابل او بلخ څخه به تل د عربو خلفاو دربارو ته استول کیدل[3] په اوسني پاړسو او پښتوکي هم بختي اوښان مشهور دي او د افغانستان په اسلامي تاریخوکي هم "اشترهاي بختي" ذکر شوي دي[4] او د بلخ اوښان ئې بختي بلل لکه چه په ۱۰۴۱ هـ د بلخ والي نذر محمد خان د شاه جهان د هند پاچا و حضور ته هدایا ولیږل او محمد صالح لاهوري ئې ذکر هسي کوي: "در همان نزدیکي سي و پنج راس اسپ و سه زره و ده شتر بختي نر و ماده بطریق پیشکش ګذرانید."[5] دا اوښان هم پښت او بخت یعني بخدي ته منسوب دي او د پښتون دکلمې ریښې هم په دغو نوموکي دي.

نتیجه

له دغو ټولو تاریخي پلټنو څخه اوس دا نتیجه اخلو چه الفاظ اوکلمات او نومونه تل د زمانو د تیریدلو او تللو سره اوړي یعني ځني حروف زیاتیږي، او ځني کمیږي، ځني له منځه وزي اوکوم توري چه په خوله کي مخرج سره نژدې وي یو له بله سره اوړي مثلاً د پکهت کلمه (پ،ک،هـ، ت)لري.

پ به ب اوړي لکه: د پاړسو شب = د پښتو شپه
د پاړسو به = د پښتو په
د پاړسو سبک = د پښتو سپک
ک په خ اوړي لکه: د پاړسو کلاه = د پښتو خوله
د هندکو مکهه = د پښتو مخ

[1] د بارتولد تاریخي جغرافیا ص ۱۳۰.
[2] د بارتولد تاریخي جغرافیا ص ۴۹-۵۰.
[3] په طبري او الکامل کي د عمر و لیث مبحث وګوري.
[4] تاریخ سیستان ص ٦٦.
[5] عمل صالح یا شاه جهان نامه، ج۱ ص ۴۹۳.

د هندکو پکاول = د پښتو پخول

خ په ښ اوړي لکه: د پښتو خاغلي = د پښتو ښاغلي

د پښتو ښکلي = د پښتو خکلي

د ښښتو خار = د پښتو ښار

(هـ) چه ملفوظه نه وي حذفیږي لکه: د هندي کهر = د پښتو کور

د پښتو ستنه = د پښتو ستن

د پښتو لمنه = د پښتو لمن

د په ت اوړي لکه: د پاړسو آباد = د پښتو ابات

د عربي زیاد = د پښتو زیات

دا د اوښتني اصول په آریائي ژبوکي ډیر باب دي، او ډیري کلمې په هندي او پښتو او ایراني ژبوکي یو له بله سره اوښتي دي، نو (پکهت، بخدي، بخت، پخت، پښت) ټولي له یوې کورنۍ دي، او په پاي کي له دغي آریائي قدیمي ریښې څخه د (پښتون) نوم جوړ شوي دي.

پښتو

اوس چه تاسي د پښتون د کلمې زړې ریښې وموندلې، او په زاړه تاریخ ئې هم پوه سواست نو به د هغو تاریخي پلټونو په سیوري کي تاسي ته دا خبره زیاده سي، چه پښتون د ریګویدا تر لیک یعني تر ۱۴۰۰ ق،م لا دمخه یو مشهور او نوموړي او ننګیالي ملت و، وروسته هم په هره دوره کي مورخینو وپیژاند او ذکر ئې په قدیمو او نوو تاریخي کتابوکي راغلي دي.

یو اولس چه هسي روڼ تاریخ لري، مدنیت لري، ثقافت لري، له پخوانو زمانو څخه اداري نظام او حکومت او پاچهان لري، د دې ټولو شیانو وجود او خوندي کول، په یوه قوي او ژوندۍ ژبه اړه لري، ځکه چه په ټولو تاریخي دوروکښي پښتنو دغه ټول د ژوندانه ارکان او لوازم درلود، او هم ئې ساتلي و او تر اوسه هم ورسره دي، نو بی له هیڅ شکه دوي باید ژوندۍ او ښه ژبه هم ورسره ولري.

د دوي دغه ژبه چه ثقافي ژوندون او تاریخ ئې ور ساتلي دي پښتو ده، لکه د پښتون نوم چه د ویدا او اوستا همزولي دي، دغسي هم د پښتو نوم ډیر پخواني دي، ولي چه دا ژبه د پښتون ژبه ده، چه د پښتون تاریخ دوني زوړ دي نو طبعاً د دوي د ژبي نیټه هم بویه چه ډیره پخواني وي. د پښتو نوم هم د هغه (پکهت=بخت=پښت) څخه جوړ شوي دي، په دې ډول د پښتو ژبي اساسي قاعده دا ده چه د هر اولس او قوم د نامه په پاي کي یو مجهول (واو) ور اچوي او د هغه قوم ژبه په دغه نامه بولي، مثلاً په پښتو هندکي یا اندکي هندوستاني ته وايي، چه دا نوم

هم د يونان مورخينو اندیکه Indika ضبط کري دي[1] که د دغي قاعدې سره سم يو مجهول (و) په پاي کي ور واچوو، ځکه چه آخر حرف علت (ی) هر وخت لويږي، نو به هندکو يا اندکو Indko ځيني جوړ شي، چه پښتانه د هنديانو ژبي ته وايي، او چه کلمه سره سپکه او تخفيف شي نو (انکو) يي هم بولي، يو شاعر وايي زه خوار پښتون يم انکو مي څه زده؟ راته وئيږي "مارا تمهارا" دا قانون عام دي، پښتانه خپل ګاونډي اقوام ديګان Digan بولي او ژبه يي په هغه قاعده ديګانو Digano بولي. دغسي هم د پاړس ژبي ته پاړسو Parso وايي نو که د ريګويدا د پکهت=پښت په پاي کي پر دغه قاعده برابر يو مجهول (و) زيات شي، پکهتو=پښتو ځني جوړه شي، چه معنا يي د پښتنو ژبه ده. ځکه چه د (پکهت=پښت) نوم زوړ دي، نو د پښتو نوم هم هغوني پخواني دي.

پښتو خو اصلاً د ژبي نوم و، وروسته دې کلمې يو بل ادبي مفهوم وموند چه په پښتنو کي دغه اجتماعي مقصود هم ډير مهم او د غور وړ دي پښتو که څه هم يوه کوچنوټې کلمه ده، مګر د مفهوم له مخي هسي ارته او پلنه شوه چه د پښتنو ټول اجماعي نظام ئې په لمن کي ونيو او اوس پښتانه خپل ټول عنعنات، ملي اخلاق، پښتني، ښيګړي، ملي دودونه او جالونه يعني خپل ټول اجتماعي او روحي نظام د "پښتو" په نامه يادوي، د کلمې د مفهوم دا وسعت او ارتوالي دي چه پښتانه د پښتو له کلمې سره ډيره مينه لري، او پښتو د دوي د مليت څرګنده نخښه ده.

که يوه پښتانه ته وويل شي، چه پښتو نلرې، دا لوي ښکنځل دي، ګويا د ټولو انساني صفاتو نفي ئې ځيني وکړه نو د پښتنو په حياتي قاموس کي د پښتو لنډه ترجمه دا ده "پښتو: يعني د ټولو ښو انساني صفاتو مجموعه، او د ښښتني عنعناتو او ښو اخلاقو او ښو دودونو بنسټ."

لکه پښتو چه د ژبي له نامه څخه چه محض علم وه يو بل ملي او اجتماعي ارت مصداق موندلي دي، دغسي هم د پښتون کلمه پر خپل تش علميت نده پاته. پښتون که د صفت په ډول وويل شي، هلته نو داسي معنا ورکوي: يو سړي چه په ټولو انساني شريفو او ښو اخلاقو متصف وي، مخصوصاً رښتين او دلاور او د عزم او کلکي ارادې خاوند ته پښتون وايي. په دې اجتماعي او اخلاقي مصداق پښتو او پښتون هسي استعماليږي:

هوتک خان پښتو کړې ده. يعني يوه کار ته ئې عزم او کلکه اراده کړيده، او له هغه څخه نه تيريږي. پر خپله پښتو ټينګ دي، يعني پر څپله وينا او وعده ټينګ ولاړ دي، صادق الوعد دي، خواجه رزق الله چه په ۱۱۵۹هـ د چپرهار په رودکي زوکړي دي، په دغه معنی پښتو هسي راوړي:

د بلا غشي مي خيژي له پوښتو　　　زه خواجه رزق الله نه پريږدم پښتو[2]

خپله پښتو تر سره کول: يعني خپله وعده او اراده تر پايه رسول.

تر پښتو اوښتل: پر وعده نه دريدل، تر څپله وينا تيريدل، بې زړه توب کول، تر اخلاقي مقرراتو اوښتل.

---

[1] ايران د بارتولد ص ۲۰.

[2] پښتانه شعراء، ج ۱ ص ۳۷٦.

پښتون کيدل: پر عزم او اراده په شجاعت او دلالوري دريدل، او څرګند اعلان کول، سپيڅلي اخلاق او احساسات او ښکلي انساني عواطف درلودل. دا اجتماعي معاني او مصاديق ډېر دي، دلته د دې کتاب وظيفه نده، چه د پښتو او پښتونوالي زياتي څېړنه وکړي، فقط په دغه يوه اشاره بسنه کوو.

پښتو او د اوسنيو پوهانو آراء

تر ډېره وخته پښتو ژبې ته د چا پام نه و، او لکه خوشحال چه ويلي و "بکره او پيغله وه" په نونسم عيسوي قرن کي چه د اروپا علماء او پوهان شرق ته را شيوه سول، نو د شرق د ژبو او علومو او زړو نخښو په پلټنو کي دوي ژبې هم وپلټلې او زده ئې کړې، دغو پوهانو يوه نوې څانګه د علم او تحقيق په دنيا کي بيرته کړه، چه هغه استشراق Orientalism او دا ډله عملاء مستشرقين Orientalists بلل کيږي، او موږ په پښتو لوړنۍ ته خاتيځ پوهنه او پوهانو ته ئې خاتيځ پوهاند وايو، چه په پاړسو ئې خاورشناس بولي. دغو پوهانو يقيناً تاريخ او علم ته ښکاره خدمتونه کړي دي، دوي د مصر زاړه خطوط او د ايران ډېر ليکونه او د هند او چين زړې ژبې زده کړې، مړې ژبې چه اوس ژوندۍ ندي، او نه ويلي کيږي، دوي بيرته ژوندۍ کړې، او پر دغو باندي غټ غټ کتابونه وکښل، اصول او قواعد او د خط او ليک لياري ئې کشف کړې، په دغه پوهانو کي يوه ډله هغه خلق وه، چه دوي د اراياني مدنيت د پلټني لپاره زيارونه کښل، د هند آريائي ژبې ئې زده کړې، زاړه کتابونه ئې ولوستل او پخپلو ژبو ئې ترجمه کړل، د ايران ژبې ئې وپلټلې، زړه پاړسو، پهلوي ئې ولوستي، او له دې ډلي څخه يو څو تنه داسي هم دي، چه دوي پښتو ژبه زده کړه، او ډېر علمي تحقيقات ئې په دغه ژبه کي وکړل، د پښتو قواعد او ګرامر ئې ضبط کړل، لغات او محاورات ئې وکښل، بدلي او اشعار ئې ټول کړل، زاړه کتابونه او آثار ئې وموندل.[1]

د موسيو برتلز روسي خاتيځ پوهاند په قول اروپا کي لومړۍ پلا ګولډن شتت الماني پر پښتو يو کتاب وکښ او ځيني لغات ئې پکښې را ټول کړل، دا کتاب په ۱۷۹۱ع په سينټ پترز بورګ کي طبع او خپور شو له دې څخه موږ ته څرګنديږي چه يو سل او پنځوس کاله پخوا يعني يوه نيمه پيړي دمخه لا د اروپا پوهانو دې خوا ته مخه کړې وه، او په دغو وختو کي دوي د پښتو علمي او ادبي پلټني په ښه ډول کړي دي.

پروفيسور کليپروت Kleproth ليکي: "پښتو ژبه که څه هم بعضو پوهانو له سميتکي Semitic يعني سامي ژبو څخه ګڼلي ده مګر زه وايم چه دا ژبه سوچه له انډو ژرمانيک Indu-Germanic (هندو آرين) ژبو څخه ده، ځکه نه په الفاظو او لغاتو او نه په قواعدو او ګرامر کي له سامي ژبو سره څه اړه لري."[2] پروفيسر ډورن Dorn چه په پترزبورګ کي اوسيدي او په ۱۸۴۷ع کال ئې يو کتاب د Archestomathy of the Pashtu چاپ او خپور کړ

[1] د دې کتاب په څلورم ټوک کي به د اروپا خاتيځ پوهانو يعني مستشرقينو د زيار او تاليفاتو مفصل تاريخ وليکم، دلته فقط د دوي ځني آراء راوړل کيږي.

[2] د راورټي د پښتو ګرامر مقدمه، ص ۲۸.

هسي وائي: پښتو نه په ترکيب نه په لغاتو او نه به ګرامر کي له عبراني Hebrew او چالديک Chaldic سره څه مشابهت لري، بلکه دا ژبه له انډو تيوتن Indu-Teutonic ډلي څخه ګڼله کيږي او پښتانه د افغانستان اصلي او پخواني اوسيدونکي دي.[1]

مورخ اډلنګ Adelung ليکي: "که څه هم زه په پښتو کي ډير معلومات نلرم خو دا ويلاي شم، چه دا ژبه ډيره اصيله او ممتازه او وتلې ژبه ده."[2]

مستر الفنستون M.R. Elphinstone مشهور مورخ هسي ليکي: "د پښتو بنسټ او آره په آساني سره نه معلوميږي، ځکه ډير الفاظ چه دا ژبه ځيني جوړ شوې ده، او هم خورا ډير افعال او ادات ئې داسي دي چه ، آره او ريښه ئې نده معلومه، او دا هغه الفاظ او کلمات دي، چه د ژبي اصلي اجزاء ګڼل کيږي، بيا هم ځيني له دغو الفاظو څخه له زند Zend او پهلوي ژبو سره نژديوالي لري، مثلاً پلار، مور، خور، ورور... دي تر لوړو خبرو علاوه دا همم وائي چه: "په ۲۱۸ پښتو کلماتو کښي ما پلټنه وکړه، و مي کتلې، يوې هم له ساماني ژبي سره کم لږ مشابهت نه درلود، خو په دغو الفاظو کي په سلو کي پنځه تر لسو هسي کلمات وه، چه له کردي Kurdish ژبي سره يې نژديوالي لاره، ځکه چه کردي ژبه هم له هندو ژرمن ژبو څخه ده، نو سړي ويلاي شي چه پښتو هم له دغو ژبو څخه ده..."[3]

مسټر راورټي H.G. Raverty چه د پښتو ژبي لوي پوهاند او پلټونکي دي، او ډيرکتابونه ئې پکښي ليکلي او خپاره کړي دي، د خپل پښتو ګرامر د (کلکتې طبع ۱۸۵٦ ع) په مقدمه کي مفصلاً د پښتو پر آره او سټه بحث کوي او د آريائي او سامي ژبو سره ئې د ګرامر او الفاظو له پلوه پر تله کوي، وروسته دې نتيجې ته رسيږي، چه:

"د پښتو او زند او پهلوي ژبو تر منځ ډير شباهت سته، د پښتو په پخوانو کتابو کي لکه ژند، حروف د حرکاتو پر ځاي کښلي شوي دي، نو ځکه زه وايم، چه پښتو د سنسکريت او ژند سره ډير نژدې والي او له پهلوي سره هم ټينګه اړه لري... که د پښتو ژبي د ټولو سيمو ادبياتو ته وګورو را ښکاره کيږي چه دا ژبه په ادب کي هم ډيره بډايه ده، ډير شعراء او مؤلفين پکښي تير شوي دي، پر دغو علاوه ځيني ملي سندري او سيرې بدلي هم په پښتو کي شته، چه د ملي سازو سره ويلي کيږي، دا بدلي داسي له حرارته ډکي دي، چه ما ته خپلي ملي بدلي او سندري را په يادوي او ډيري مي د پيښور په هستوګڼه کي ټولي کري دي."[4]

بل اروپائي پښتو پوهاند او محقق سړي هانري والټر بيليو H.W. Belew دي، چه د ۱۸٦۷ع په شا او خوا کي د بنګال عسکري منصبدار و، دې سړي هم د پښتو ګرامر کښلي او په تاريخ کي ډيرکتب ليکلي دي، دی د پښتو

[1] راورټي ص ۲۹ ــ د ډورن د مقدمې په حواله.

[2] مټريډيټس Mithridites، ج ۱، ص ۲۲۵.

[3] د کابل پيښي Account of Kabul، ج ۱، ص ۳۰۲.

[4] د راورټي پښتو ګرامر ص ۳۷-٤۸.

ژبي بر اصالت هسي وائي: "له ټولو ځپلو پلټنو څخه په لنډ ډول دا نتیجه اخلم: چه پښتو اصلاً د سنسکریت یوه خور ده، او ځکه چه د هند او ایران تر منځ ویله کیږي، نو په پیړیو پیړیو د پارسي اثرونه پر لویدلي او ډیر الفاظ ئې سره ګډ شوي دي، خو سره د دغه هم دې ژبي خپل ځان او قواعد نه دي بایللي، او د فیلالوژي له اصولو سره ئې سم دغه نوي شیان، پخپل قالب کي اچولي دي او په خورا ښه ډول ئې پر خپل رنګ را اړولي دي..."[1]

بل اروپائي لوي عالم او پښتو پوهاند خمز دارمسټټر J. Darmesteter فرانسوی دي، چه د ده یو کتاب د پښتو ملي سندري Chants Populaires des Afghan په ۱۸۸۹ع نشر سوي دي، دا محقق پخپله د پښتونخوا په غرو کي ګرزیدلي، او ډیر ملي اشعار ئې (د پښتونخوا هار او بهار) په نامه سره را غونډ کړي دي، دي د پښتو په خصوص کي دا نظریه لري: "پښتو له هندي لهجو څخه نده، او نه له پاړسو او پهلوي څخه پیدا شوي ده، بلکه دا ژبه د زند (اوستا) یا د یوې بلي ژبي سره چه زند ته ورته وي، ډیر مشابهت لري. پښتو اشعار د سپیڅلتوب او طبیعي والي له پلوه خاص امتیاز لري، بدایع او نازکخیالي ئې ډیره سپیڅلي او سوچه ده... پښتانه اخبار نلري، خو د دوی اشعار ټول وقایع او روزمره پیښي ځرګندوي، دا بدلي د ښتنو تاریخ هم دي..."[2]

خلاصه ډارمسټټر د پښتو به نسبت دا عقیده لري، چه د اوستا له پاتو برخو څخه یوه ژبه پښتو پاته ده، او دا ژبه د اوستا یوه مخصوصه څانګه بلله کیږي، او د زند سره ډیره نزدیکي لري، او اړیکي ئې ډیر ور سره ټینګ دي.[3]

د اروپا د علماو څخه ډوکتور ارنست ترومپ E. Trumpp هم ډیر محقق پوهاند دي چه په ۱۸۷۳ع ئې د پښتو ګرامر وکیښ. دي هم په دغه کتاب کي د پښتو پر اصل او ریښه هسي رأي ښکاره کوي: "زه په ټینګه او ډیر اعتماد دا ویلاي سم، چه پښتو اصلاً له غربي (ایراني) ژبو څخه نده، بلکه په اصلي انډو آرین Indu Aryan ډله اړه لري، خو سره د دغه هم خالصه هندي نه بلله کیږي بلکه پخوانو زمانو څخه دا ژبه زړه مستقله ژبه ده، او په لومړئ سر کي هم له هندي او ایراني ژبو څخه بیله شوې ده خو بیا هم له دواړو سره په خصوصیاتو کي اشتراک لري، او مقتدره او برجسته ژبه ښکاري..." [4]

ډوکتور هنري V. Henry چه د لیل د کتابخانې کتابدار او یوه فرانسوي دي، هسي لیکي: "پښتو له یوې خوا سنسکریت او په ځینو شیانو کي اوستا ته نژدې ده، مثلاً هغه لواحق suffixes چه د کلماتو په پاي پوري نښلي او سنسکریت او اوستا دواړه په دغه خصوصیت کي سره نژدې دي. پښتو هم په دغه خاصیت کي دوي ته ښه ورته ده، د افعالو په ګردان او فاعل او مفعول کي هم ډیر شباهت زند ته لري، د کلماتو به پاي کي چه سنسکریت او اوستا مخالفت سره لري، پښتو زند ته نژدې کیږي. او کله کله هم سنسکریت ته ورته وي. د دې ټولو نژدیوالو او مشابهت

---

[1] د بلیو پښتو ګرامر مقدمه ص ۱۱.

[2] د ډارمسټټر د پښتو ملي سندري مقدمه، ص ٦٢-٦٥ او لومړي فصل.

[3] د برون د ایراني ادب تاریخ، ج ۱ ص ٤٦.

[4] د ترومپ پښتو ګرامر .

علت دا دي: چه دغه ژبي له يوې ريښې څخه را وتلي دي، او د آريائي ژبو تر انشعاب دمخه دوي سره يو وې. او هم دوه درې زره کاله پښتو له دغو ژبو سره ګاونډۍ وه، او متوالي اړيکي ئې سره درلودل..." [1]

بل له نژدو خللقو څخه چه د پښتو پلټونکي ګڼل کيږي موسيو برلز روسي معاصر مستشرق دي. دا سړي د لينګراډ په اکادمۍ کي د پښتو په خصوص کي داسي رأي ښکاره کوي:

"پښتو د خپل تاريخي قوت او قدرت سره يوه پخواني ژبه راغلي ده او په اوږدو اوږدو زمانو ځيني تغيرات هم ور پيښ شوي دي خو دا تحولات داسي ندي لکه پر پاړسو چه وارد شوي دي، پښتو ټوله پردي لغات په ځان کي حل کړي، او پر خپلو اصولو ئې را اړولي دي، او د ځان جزو ئې ګرزولي دي، د اروپا علماو له ډيره وخته د دې ژبي قواعد، لغات، اشعار سره ټول کړي دي. ډارمسټټر او فريدريک ميولر چه په پښتو کي څه پلټني کړي دي، داسي عقيده لري چه پښتو د زند يا له يوې بلي ژبي سره لکه زند ډير مشابهت لري، ميولر دا خبره پر علاوه کوي چه د پښتو قرابت له زند سره هسي دي لکه د اوسني پاړسو څپلوي چه د پخوانۍ هخامنشي پارسي سره ده، ارنسټ ترومپ وايي چه پښتو د آرياى ژبي يوه مستقله څانګه، او د هندي او ايرانيو څانګو تر منځ منځګړې ده، د ترومپ دا نظريه پروفيسور فون سپيګل Von Spiegel او دکتور هارنل Hoernle هم په ټيمګه مني، ګريرسون Grierson او پال تيډسکوي ئې هم تائيد کوي... که څه هم د علماو په رايو کي ځيني کوچني اختلافات ليدل کيږي خو بيا هم ټول متفق دي، چه پښتو يوه زړه او قديمه ژبه ده، او هندي او ايرانيو څانګو سره د خور نسبت لري..." [2]

ميجر لوريمر Lorimer د پښتو پر صرف او نحو يو مشهور کتاب کښلي، او په ۱۹۱۵ع په اکسفورډ کي چاپ شوي دي، دی د دې کتاب په پاي کي پر پښتو هسي رأي ښکاره کوي: "پښتو که څه هم تر اوسه نه ده روزلي شوې خو ښه ښه صفات لري، که څه هم تر اوسه ډيره ارته ژبه نه بلله کيږي، خو د خيالاتو د ښکاره کولو لپاره ډير قوت لري، الفاظ ئې مؤثر او کلک او څرګند دي، دا يوه ژوندي ژبه ده، ځانله خپلواکي او مهم د امتياز خاصيتونه لري، چه له هندي او نورو ژبو څخه ئې په دغه خاصيتو سره بيلولاي شو، که څه هم د پاړسو په توګه نازکخيالي او استعارات په دې ژبه کي لږ دي خو پښتو د نرتوب قوه لري، او نسبت نورو ژبو ته پښتو په خارجي انقلابو او جګړو کي لږ خساره ليدلي ده، په تلفظ کي ئې قوت پروت دي، دا خبره هغه وخت په ښه ډول سړي ته معلوميږي، چه د يوه پښتانه سره خبري وکړې، يا د دوي ادبيات او کيسې مطالعه کړې..." [3]

---

[1] د هنري افغاني مطالعات ص ٥-١٠.

[2] د لينګراډ د اکاډمۍ د لسانياتو سلسله، ج ٤.

[3] پښتو او د پښتو ګرامر او قواعد د لوريمر تأليف.

وروستني ډېر محقق ژب پوهاند سر جي، اي، گريسن G.A.Grierson د فلسفي او ادب ډوکتور دیي، چه لنگوسټک سروي آف انډيا Linguistic Survey of India ئې په اوه جلده کي ليکي ده، او د دې کتاب لسم ټوک د پښتو بحث لري، د ده آراء د پښتو په خصوص کي په لنډه ډول لاندي راوړو:

آريائي اقوام د خيوا، خوکند او بدخشان تر منځ پخپله اصلي مځکه کي اوسيدل، له هغه ځايه يوه ډله تر هندوکش را واوښتل، د کابل له درو څخه هند ته تير شول، او بله ډله هم د ايران پر خوا ور شيوه شوه، د دغو دوو ډلو ژبو ته هندو آرين يا هندو ايرانين Indu Aryans ژبي وايو، له قديمي زمانې څخه دا آريانان پر ډېرو قبيلو ويشل شوي وه، مثلاً د داريوش Darius (۵۲۲-۴۸۴ ق،م) په ډېر ليک کي دوولس قبيلې ذکر شوي دي.

او هري دغي قبيلې ځانته ژبه درلوده، خو دوني ښکاري چه د دغه ډېر ليک زاره پاړسو Old Persian چه په پارس کي ويل کيدله او د شرق ژبه يعني اوستا Avesta سره بيلي دي اوستا اصلاً شرقي ژبه وه، او ډېرو پوهانو د باختر Bactria ژبه بللي ده، نو موږ ځيني آريائي ژبي د پاړسو له نسله گڼو او پرسک Persic ئې بولو، او بله ډله نا پاړسو non-Persic گڼو. ايراني او هندو ژبي دواړه له يوې ريښې څخه، او سره نژدې دي، خو وروسته يو له بله سره بيليږي، که د اوستا ډېر پخواني اجزاء د ويدا د سنسکريت سره پر تله شي، دا مقصد ښه ځني څرگنديږي، خو هر څوني چه وختونه ډېر پر تير شول، دا دواړي ژبي ډېري سره ليري شوې، دلته د هندوکش په جنوب او د هند د شمال غربي سرحدو پر خوا ځني ژبي لکه ډاردي Dardic او پيساچا Pisacha پر خپل زاړه حال پاته دي، او دا ژبي تر هندي او ايراني ويش دمخه ځيني آريائي ذخاير لري له هغو ژبو څخه چه موږ ئې ناپاړسو non-Persic بولو، او د ميډي Medic ژبي اطلاق هم پر کيداي شي د پامير ژبي دي، لکه غلچه Ghalchah او بدخشي Badakshi دغسي هم اورمړي Ormuri او بلوڅي Baluchi. له دغو ژبو څخه پښتو هم د افغانستان د يوې مهمي برخي او ډيروگاونډيو قبايلو ژبه ده، او تر څلوويښتو مليونو پوري په دې ژبه خبري کوي.

د دې ژبي نوم پښتو دي، چه د افغان ملت ژبه گڼله کيږي، مگر د افغان نوم ايرانيانو پر دوي ايښي دي اصلاً دوي هغه پکهت Pakthas قوم دي، چه په ريگويدا کي نوم راغلي او وروسته هيرډوت د پکتويس Paktves په نامه ذکر کړي دي.

اما د افغان نوم هم په پخوانو آثارو کي ريښه لري، مثلاً د هند په پورانا Puranas کتاب کي چه اسوکا Asvakas راغلي دي، يا سترابون Strabon يوناني مورخ چه په لومړي ميلادي پيړي کي اوټکنواي Aotaknovi ذکر کړي دي، دا هغه اوگانا Avagana يا آوگانا Aavagana دي، چه د هندوستان مشهور منجم ورا هميهير Varahamihira په شپږمه ميلادي پيړۍ کي ذکر کړي دي، په هر صورت خو د دوي اصلي نوم پښتون او د ژبي نوم ئې پښتو ده. دا ژبه لکه پخوا چه خلقو په عبراني Hebrew پوري نښلوله، اوس سوچه آريائي ژبه ثابته شوه او لکه د پامير غلچه Ghalchah او بلوڅي ژبې چه د آريائي ژبو به نا پاړسو non-Persic او شرقي کورني يعني زند Zend پوري اړه لري، دغسي هم پښتو اساساً له دغي کورنۍ څخه ده، پروفيسور ميولر F.R.Muller لومړي سړی دي چه په ۱۸۶۲ع ئې پخپل کتاب Veberdies Pracheoer Afghanen کي دا رأي ښکاره کړه، چه پښتو

د آریائي ژبو په شرقي ډله اړه لري، دوکتور ترومپ پخپل پښتو گرامر کي په ۱۸۷۳ع په خورا قوي ډول ذکر کوي، چه غربي (ایراني) ژبه نده، بلکه په هندي آریائي ژبو کي داخله ده، دا نظریه دمخه پروفیسور وان سپیگل پخپل کتاب Eranische Alterthumskunde کي هم تائید کړې وه، او هم دوکتور هورنل Hoernle پخپل کتاب د گاوډي ژبو گرامار Grammar of the Gaudi Language کي هم دغه نظریه مني، خو لومړی پلا ډارمسټټر د هند د فیلالوژیک وفد په راپورت کي په ښه ډول وخیړله (۱۸۸۷ع) او په بل کتاب (د پښتو ملي سندري) کي وویل[۱] چه پښتو په زند یا په بله داسي ژبه اړه لري، چه هغه هم زند ته ورته وي.[۲] دا وه دگریرسن نظریات چه د ده دکتاب لمړیو مخو څخه مو لنډه کړه، تر دې وروسته دي د پښتو ادب پر تاریخ لنډ نظر کوي، او بیا نو مفصلاً د پښتو گرامر او لغات او لهجې د نمونو سره ضبط کوي، چه دلته زیاتي تر دې زموږ له بحثه سره اړه نلري.

د دغو افکارو نتیجه او د پښتو اصل

په لوړو کرښو کي موږ د اروپا د پوهانو د افکارو یوه لنډه نمونه تاسي ته د پښتو په خصوص کي وړاندي کړه، له دغو نظریاتو څخه موږ کولاي سو، چه یوه علمي نتیجه په لاندي ډول واخلو، او هغه څه چه مو دمخه د پښتو ژبي د تاریخي اصالت په خصوص کي ولیکل ښه پسې تائید کړو.

د اوسنیو پوهانو له علمي پلټنو څه خو لومړي دا مسئله ښه ښکاره شوه، چه پښتو یوه آریائي ژبه ده، له سامي او عبري ژبو سره کومه اړه نلري، په آریائي ژبو کي هم پښتو د میولر او ډارمسټټر په قول له زند یا زند غندي له بلي ژبي څخه را وتلې ده، مگر تر دغو ټولو د ډوکټور ترومپ نظریه حقیقت ته نژدې ده چه پښتو د ایراني او هندي آریائي ژبو تر منځ د اتصال حلقه ده[۳] او په تاریخي دلایلو باید دا ومنو، چه پښتو ژبه له اصلي باختري ژبي یا آریک څخه مستقلاً را وتلې، او مستقیماً د زند او سنسکریت خور ده. په راتلونکو مخو او څېړنو کي به تاسي د دې تاریخي حقیقت دلایل او براهین مفصلاً ولولي، او دا خبره به د یوه تاریخي مستند حقیقت په ډول درته څرگنده سي.

پښتو ولي سامي یا عبري ژبه بللې شوې ده؟

ځینو مورخینو او لیکوالو پښتو له سامي او عبري څانگو څخه گڼلې ده، د دې خبري علت هم دا دي چه د اسلام د مقدس دین سره یو ځای زموږ هیواد ته عربي ژبه راغله، د دې سامي ژبي کلمات او لغات د دیانت په اثر په پښتو گډ شول، نو هر چا چه په پښتو کي عربي مفغن کلمات لیدلي دي، حکم ئې کړي دي، چه دا ژبه له سامي

---

[۱] د دې نظریې شرح دمخه تیره شوه.

[۲] د هند د ژبو راپور، ج ۱۰ ص ۱-۱۳.

[۳] د هنري افغاني مطالعات، ص ۵.

کورنۍ څخه ده، مګر دا خلط او ګډون عارضي دي، او د اسلام له مقدس دین سره د عربو تسلط راوړي دي. که نه وي تاسي به ئې په نورو جلدو کي ووینئ، چه د اسلام په ابتداء کي پر دې ژبه د عربي اثر لږ ؤ، او کورټ د هغي ژبي کلمات او لغات نه وه په راګډ شوي، د پښتو د اسلامي لومړۍ دورې ادبي آثارو او سندرو ته چه ګورو، سوچه او لغړ پښتو دي.

یو بل علت هم ښائي چه دې خبري ته وي، او هغه دا دي چه عبري او یهودي توکم له پخوانو زمانو څخه د آمو پر غاړو او زمونږ د وطن په ښارو کي خپور شوي و، مسټر فرلانګ په ۱۸۹۷ع کي لیکي: چه د سیریا یوه پاچا د یهودو ډېر اقوام له بیت المقدسه د خراسان خوا ته وشړل، دا یهود په ٦۳۰ ق،م په باختر او د هري رود پر خواو هستیدل، دوي وایي، چه هرات په تورات کي د هارا په نامه راغلي دي.[۱]

دا نظریه چه آریائي مدنیت له سامي ثقافت سره په ویدي زمانو کي هم ارتباط درلود، د پوهانو له خوا هم څه نه څه څرګنده شوې ده، مثلاً ډوکتور بریډل کیت D.R. Berriedalekeith د ایډنبرګ یونیورستي د سنسکریت پروفیسور هسي لیکي: " لږ لږ اشارات موجود دي، چه ویدي خلقو له سامي بابلیانو Babylon Semitic سره هم اړیکي او روابط درلوده، د ریګویدا په یوه عبارت کي چه بینکناټا Benkanata راغلي دي، او هندي Bikander ئې ریښه ده، د ځینو بابلي الفاظو سره ورته دي، دغسي هم بریبو Bribu نوم چه د هند په اصطلاح مشهور ښندونکي دي، مسټر ویبر Weber له بابلي سره نښلولي دي.[۲]

دغسي هم د منا mana کلمه په ریګویدا کي راغلې، او هر ځاي د طلائي golden صفت هم ور سره دي، په ټینګه د یوناني mina سره نښلي، چه یونان هم له فنیقیانو Phoenicians څخه اخیستې ده[۳] دغسي هم پرسو Paracu چه د تیشي او تبر په معنا ده سامي اصله ګڼل شوې ده، خو دا ټوله یقیني ندي، اما سره د دغه هم سړي ویلاي شي، چه سامي لوي مدنیت د آریائي خلقو سره نژدې اړیکي درلوده، که څه هم په ریګویدا کي ظاهراً نا آریائي non-Aryan عناصر نه ښکاري، خو بیا هم ځیني ګوچنۍ ډلي سته، چه د دوي د مدنیت اوضاع له سامي مدنیت سره نژدې کیږي.[٤]

دغسي هم په وروستنیو وختو کي نکشیترا nakshatras یعني قمري بروج او منازل په ټینګه له سامي مدنیت څخه اخستل شوي دي، ځکه چه په ریګویدا کي هیڅ ذکر نشته، فقط په وروستیو برخو کي د دغو یادونه شوې ده، نو له دغو اشاراتو څخه سړي د سامي او آریائي مدنیت روابط په پخوانو زمانو کي منلاي سي.[٥]

---

[۱] د فرلانګ ساینس آف ریلیجن، ص ۳۹.

[۲] د ویبر هندي پوهني، ج ۱۷ ص ۱۹۸.

[۳] د زمر Zimmer کتاب Altindischelben، ص ۵۰-۵۱ او د ویبر هندي پوهني، ج ۱۷ ص ۲۰۲.

[٤] د اولډنبرګ د ویدا مذهب، ص ۱۹٤ - دبلو مفید د ویدا مذهب، ص ۱۳۳.

[٥] کیمبرج هستري آف انډیا، ج ۱ ص ۸۸.

عربو مورخينو هم له خورا پخوانۍ زمانې څخه د بني اسرائيلو خروج د خراسان پر خواو ذکر کړي، او دا ئې راوړي دي چه د يهودو ځيني ډلي پر دې خواو آبادي وې[1] که موږ د جغرافيا پخواني کتب وپلټو، هم داسي ښکاري، چه د اسلام په لومړۍ دوره کي په بلخ او هرات او نورو ښارو کي ځيني يهود اوسيدل، مثلاً حدود العالم د ۳۷۲ هـ تاليف د گوزگانان مرکز او پايتخت "جهودان" بولي او وايي چه په گوزگانان (د اوسني ميمنۍ په حدودو) کي د عربو ځيني ډلي هم اوسيدلې چه پونده وه، او د خراسان تر نورو عربو دوي سره پاشلي پراته وه.[2]

له دغو تاريخي دلايلو څخه دا ويلاي سو چه د امو په جنوبي ورشوگانو او د گوزگانان او خراسان په حدودو کي د اسلام تر وختو پوري لا هم يهود او عرب يعني سامي خلق موجود وه، دا خو طبيعي خبره ده، چه د دوو قومو گډون او نژديوالي د دوي پر ژبو او اخلاقو يو له بله اثر سره کوي، نو ښائي چه هم د دغه اثر نتيجه وي، چه په پښتو ځيني عبري يا عربي لغات گډ شوي وي، او له دغه کيفيته څخه ځيني خلق پدې فکر کي لويدلي وي، چه پښتو هم عبري يا عربي ته ورته يعني سامي ژبه ده.

مگر وروسته چه د اروپا محقق پوهان راغلل، دا ژبه او د دې قواعد او اصول ئې په علمي معيار وکتل، نو دوي په ښکاره د پښتو د سامي توب نظريه افسانه وگڼله، او د ښښتو تعلق ئې له بني اسرائيلو سره خورا ليري وباله[3] او موږ دا خبره په تيرو مخو کي د پوهانو د اقوالو به ترڅ کي تاسي ته په ښه توگه څرگنده کړه.

د اوسني تاريخ اساس پر مشاهداتو او څرگندو دلايلو اينښول کيږي، او سړي نسي کولاي چه په تشو اقوالو په تاريخي پلټنو کي د ځان ويسا وکړي، البته که روايات او عنعنات د مشاهداتو سره مرستي سي، نو هغه تاريخي خبره خورا ټينگه وي. په اوسنيو علمي اساسو کي چه د تاريخ لپاره خورا اهميت لري، د ژبو مقايسه او پر تله کول دي، د کومو قومو ژبي چه سره ورته وي، سړي حکم کولاي شي، چه دوي هم سره خپل او سره نژدې دي.

لکه چه تاسي دمخه ولوستل، پښتو ډيره آريائي ژبو او زند او سنسکريت ته ورته ده، له آريائي ژبو سره عنصري او اساسي گډون او اشتراک لري، سامي ژبو ته نه د قواعدو، نه د لغاتو او محاورو له خوا ورته ده، نو ځکه پوهان د پښتو د سامي توب نظريه نه ده منلې.

محمد عبدالسلام خان له اوسنيو ليکوالو څخه دي، چه د پښتو د سامي توب د فکر ملگري ښکاري، ده پخپل يوه کتاب کي ځيني کلمات سره ټول کړي دي[4] چه له عبراني سره ئې ورته گڼي، مگر که موږ په غور او ځير وگورو کټ مټ هغه کلمات په اوستا او سنسکريت کي هم سته، نو که موږ دا خبره ومنو، چه د عبري ژبي ځيني کلمات له

[1] معجم البلدان, ص ۳۹۱ - ابوالفدا, ج ۱ ص ۷۱.

[2] حدود العالم, ص ٦٠-٦١.

[3] گزيټير افغانستان، ص ۲۳ د ۱۹۰۹ ع طبع.

[4] نسب نامۀ افاغنه، ص ۷۰.

آریائی پخوانو ژبو سره ورته وي، باید چه آریائي ژبي هم له سامي کورنۍ څخه وګڼو، حال دا چه دا خبره د علم او تحقیق له مقیاسه ډیره لیري ده د مثال په ډول دا کلمات دی د دلیل په توګه راوړي:

غر، غور

په پښتو کوه ته وائي، په عبراني ژبه (ګور) غر، او جمع ئې ګورم دي، دی وائي، چه غور هم عبري نوم دي، ابوالفدا په لومړۍ ټوک ص ۵۷ او ابن بطوطه سیاح د خپلي سفر نامې په لومړۍ جلد کي دا نوم د شام لپاره ذکر کړي دي[۱] مګر اوسني اروپائي محققین وائي چه دا دواړي کلمې پخواني آریائي دي، د اوستا به هوم یشت برخه کي ګیري د غره په معنا راغلي[۲] او هم په خورده اوستا کي کټ مټ په دغه معنا دي[۳] په سنسکریت کي هم ګیر او ګیري giri د غره معنا لري.[٤]

د غره کلمه په پښتو نومو کي خورا ډیر اثر لري، غلجي (غلزي) هم غرزي و، غور، غرچه، غرج، غلج، خلج، ټول له دغي ریښې څخه دي، چه په منځوۍ آسیا کي د آریائي قبیلو او ځایو نومونه دي، لکه چه روسي معروف مستشرق باټولد دې خبري ته تفصیل ورکوي.[5] بل مستشرق، توماسچک Tomaschek وايي، چه ګر gar په پخوانۍ باختري ژبه د غره په معنا و او غرچه هم کوهستاني او غرني ته وايي.[٦] دا خبره د عربو جغرافیا لیکونکو هم ذکر کړیده، یاقوت حموي د البشاري په حواله لیکي، چه د غرجستان (اوسني شبرغان، تالقان، دولت آباد تر مرو او مرغاب پوري) نوم له غرج څخه جور سوي دي چه د غره معنا لري.[۷] منهاج سراج جوزجاني چه زموږ د وطن معروف مورخ دي، هم دا نوم غرستان لیکي.[۸]

ښه اوس نو سړي ویلای سي چه غر، غرچه، غلجي، ټول آریائي دي، که په عبري ژبه کي (ګور) وي، وي دي، هر شي خپل نژدې اصل ته رجع کیږي، نه لیري ته.

[۱] نسب نامۀ افاعنه، ص ۷۰.
[۲] فرهنګ اوستا، ص ۲۷۲- اوستا لومړي ټوک لسم یسنا.
[۳] خورده اوستا د بمبئي طبع، ص ٤۹۷.
[٤] هندي او انګلیسي قاموس، ص ٦۱۱.
[5] د بارتولد تاریخي جغرافیا، ص ۸۸.
[٦] د پامیر ژبي.
[۷] معجم البلدان، ج٦ ص ۲۷۷.
[۸] د طبقات ناصري قلمي نسخه، ص ۲۱٦.

بل ځاي دي لیکي: چه د پښتنو نوم له عبري پښت او پاښت څخه جوړ شوي دي چه متفرق کول او پاشل معنا لري[1] حال دا چه پکهت په دغه نامه او هم دلي په دغو مځکو کي ریگویدا او یوناني مورخینو ټولو ذکر کړي دي، نو سړي نشي کولایل چه دغه خپل او نژدې نوم پریږدي، او له سامي مځکو څخه یاشت را واخلي، او پښتو ځیني جوړه کړي.

دي بیا وایي: چه شلح پتیري ډوډۍ ته وایي، او عبري کلمه ده. په پښتو (ویشله) ځني جوړه سوي ده[2] حال دا چه اوسنی علم د فیلالوژي پر اصولو د کلماتو د اوښتلو او تحول ټول اصول ضبط کړي دي، خو دا چه له شلح څخه ویشله جوړه شي هیڅ فیلالوژي هسي قاعده نده راوړې، بلکه دا اصلاً ویشلې ده. په قندهارکي تر اوسه هم دغسي وایي، له پښتو مصدر ویشل (تقسیم کردن- حصه حصه کردن) څخه دا نوم جوړ سوي دي، دا ډوډۍ د دفعي احتیاج لپاره ژر ژر پخیږي او ویشله کیږي. یو خو هغه ډوډۍ وي، چه اوړه واغږي، یو ساعت دو ساعته ئې کښیږدي، بیا ئې نو پخوي، دا ډیر وخت غواړي. کله چه ډوډۍ ته دستي ضرورت وي نو اوړه خیشته کړي، تبخي تود کړي ژر ئې پر واچوي، چه ژر پخه سي، او د وړو خلقو په منځ کي وویشله سي، دې ته نو ویشلې وائي، کلمه هم پخپله پښتو او د پښتو پر قواعدو برابره له ویشل مصدر څخه را وتلې ده، د عبراني شلح ډیره لري ده.

دا یو څو کلمې دلته د مثال په ډول ذکر شوې او سړي دا ځني فهمولاي شي، چه د پښتو لغاتو او کلماتو نښلول، په سامي ژبو پوري کوم علمي اساس نه لري او فقط دا فکر د بني اسرائیلو او سامي کهولو له نژدي هستوگي اوگاونډي توبه څخه پښتو ته پیدا شوي دي.

یوه ضروري یادونه

دلته باید دا خبره هم په لنډ ډول ذکر سي، چه له پخوا زمانو څخه د هند له خوا د اقوامو روابط له سامي اقوامو سره جاري وه، د سند به اوسني علاقه کي د موهنجودیرو کشفیات دا ښیي، چه شپږ زرو کاله دمخه یو مشترک مدنیت د دې ځایه تر بابل او آثوره موجود و، وروسته چه آریائي اقوام پر هند مسلط شوه نو د دوي تجارتي او د تگ راتگ روابط هم طبیعي دي. په دې تعامل او ارتباط کي ضرور ژبي هم یو پر بل باندي اثر کوي، لغات او کلمات ئې هم یو له بله سره اخیستل کیږي، او سره گډیږي. مثلاً موږ ډیر سوچه او لغړ آریائي د سنسکریت لغات وینو، چه په عربي ژبه کي هم کټ مټ سته، او دا لیري نه ده، چه دغه لغات په تجارتي او اجتماعي تعامل کي له هنده عربو ته تللي دي، یا ځني لغات له عربي څخه هند ته راغلي وي. د مثال په توگه د اپت apat پښتو کلمه وگوري، عربي ئې آفت جمع آفات مستعمله ژوندۍ کلمه ده، چه په سنسکریت کي هم عیناً

[1] نسب نامه، ص ۷۰.

[2] نسب نامه، ص ۷۰.

apat يا اپتي apati د فاجعې، بد بختي، پريشانۍ او خفت او رسواتوب په معني ده[1] په پښتوکي هم دا کلمه په دغو معناؤکښې مېږ ژوندۍ ده، لکه پدې لنډيوکي:

لکه شين کښت ژليو زمول کړم   را باندي راغله له آسمانه اپتونه

د وير اپت را باندي راغي   په بيلتانه کي د زړه ويني تويومه

ځکه چه سنسکريت ژبه پښتو ته خورا نژدې ده نو دلته موږ دا ويلاي سو، چه اپت هم آريائي کلمه ده، پښتو او سنسکريت له عربی څخه نده اخيستې. دا يوه کلمه ما د مثال په توگه راوړه، که نو داسي کلمات ډيري دي، او تر اوسه هم په پښتوکي مستعمل دي.

نوکه داسي کلمات ومومو چه اوس هم په پښتوکي وي، هم په عربي کي او په نورو آريائي ژبو لکه سنسکريت او زندکي هم وي، دلته نو موږ په ټينگه ويلاي سو، چه هغه کلمې آريائي دي او له سامي ژبو څخه ندي راغلي، بلکه ښائي چه له آريائي ژبو څخه سامي ژبو ته نقل شوي وي، او دا خبره دليل هم نه گرزي، دې ته چه موږ دي پښتو له سامي کهوله وبولو.

پښتو ولي هندي يا ايراني گڼلې شوې ده؟

تاسي دمخه ولوستل چه ځني پوهان دې ته هم تللي دي، چه پښتو د آريائي ژبو له هندي کهوله، يا د ايراني کورنۍ څخه ده، د دې راي علت هم هغه دي، لکه د سامي توب طرفدارانو چه ويلي دي دوي ليدلي دي، چه د پښتو ډيرگرامري خاصيتونه او لغات د هندي او ايراني ژبو سره ورته دي، نو ځينو ايراني بللې، او نورو بيا هندي گڼلې ده. مگر موږ دلته د خپلو تيرو ليکونو په رڼاکي په ټينگه وايو:

لکه ډيرو پوهانو چه هم دا خبره منلې ده، پښتو نه هندي ده او نه ايراني. بلکه له اصلي آريائي ژبي څخه مستقلاً او مستقيماً زيږيدلي ده، او لکه د اروپا اوسني پوهان چه وائي: د هندي او ايراني ژبو د اتصال حلقه هم ده. دکتاب په راتلونکو برخوکي چه پښتو د ويدا او اوستا سره پر تله سي دا خبره به په ښه ډول څرگنده سي.

[1] هندي او انگليسي قاموس، فرهنگ نظام، ج۱ ص ۹۳.

دریمه برخه

پښتو او د ویدا ژبه (سنسکریت)

د ویدا ژبه - سنسکریت - ویدا او د سنسکریت نور مشهور کتب - د ویدي ژبي او سنسکریت ژوندي کلمات په پښتو کي - د مقایسي اصول - ویدا - ریگ او ریشي - سمهیتاـ سروتي - سمرتي - سیند - سوما - چهند - اشلوک - د سنسکریت نوم - دسیو - څلور ډلي - برهمن - کشتري - ویسیا - سودر - ورڼه - من - ستهانـ نمزدک مزدا - ویا کرن - منوـ دتاله من - پیسې ـکر - اجتماعي تشکیلاتـ پتي - کولا - گرامه - ویسه - پور - سمیتي - ناچ - سامانه - ارباب انواع - ډیوس - پریتهي وي او نور ...

پښتو او د ويدا ژبه
يا پښتو او سنسکريت

لومړۍ برخه

تاسي ته دمخه د ژبو د نوي او علمي ويش پر اساس دا خبره ښکاره شوه چه پښتو او سنسکريت نژدې اړيکي او روابط سره لري، بلکه د اوستا او سنسکريت تر منځ دغه ژبه د اتصال کړۍ هم ده، له هغه وخته چه د دنيا ژبي د مقايسوي فيلالوژي comparative philology پر علمي اساس تر پلټني او تحقيق لاندي راغلي دي نو په دغه خوا کي خورا نوي او ښه معلومات هم د بشر په لاس کښيوتلي دي - ټولي آريائي ژبي که په اروپا کي دي، که په ايشيا کي، که په شرق کي دي که په غرب کي، پر دغه علمي اساس هسي سره نښتي او نژدې ثابتي شوي دي چه پوهانو ټول له يوې ريښې او يوې آري څخه بللي دي.[1]

د پښتو اړيکي او روابط هم له سنسکريت او اوستا سره د دغي علمي پلټني پر اساس ښه څرګنديږي، او زه د کتاب په دغو برخو کي کوشش کوم چه په پر تله ئيز (مقايسوی) ډول، مفصلاً د پښتو ژبي قواعد او ګرامر او لغات او اصوات له سنسکريت سره مقابله کړم، تر دې څيړني وروسته به دا تاسي ته زباده شي چه په رښتيا هم پښتو د سنسکريت سره د خور توب روابط لري او دا دوې آريائي ژبي سره خوندي دي.

د دې مقصد لپاره چه تاسي د پښتو او سنسکريت مقايسوي اوضاع ښه وپيژني دا دواړي ژبي چه د تاريخ او بنسټ له پلوه سره نښتي دي په ښه ډول مطالعه کړاي سي نو بويه چه تر هر څه دمخه تاسي يو وار پخپله سنسکريت ژبه هم ښه وپيژني او د دغي ژبي تاريخ او پخواني ادبي آثار او کتب ښه درته معلوم وي، دا دي چه لومړی زه دلته په دې خصوص کي څه معلومات درکوم. وروسته نو اصلي مقصد ته ځم.

د ويدا ژبه

د آريائي اصلي ژبي تفصيلات مو څه نه څه دمخه لوستلي دي هلته مو وويل چه له ۲۵۰۰ ق،م تر ۱۵۰۰ ق،م پوري دغه ژبه د آمو پر غاړو موجوده وه وروسته له دغي ژبي څخه ځني څانګي بيلي شوي دي چه دمخه مو د هندي او ايراني څانګو په نامه در وښولې او د ويدا د کتاب پخوانۍ برخي چه تر اوسه پاته دي د دغي اصلي آريائي ژبي تحولات او اوښتني موږ ته را ښئي.

---

[1] د لاکمنيا کتاب په ويدا کي شمالي هيوادونه، ۳۱ ص ۱-۳ The Arctic Home in Vedas by Lokamanya

په حقیقت کې د ویدا کتاب هم اوس بشپړ او ټول د پشر په لاس کې نسته ځکه ځني پخوانۍ برخې ورکې او له لاسه وتلې دي. اکثر پوهان چه پدغه کتاب کې د ژبې او د لسانو تحولاتو له پلوه کتنې کړې دي دوې دا عقیده لري چه د ویدا کتاب ډېرې سندرې ورکې دي او دغه اوسنۍ سندرې چه زموږ په لاس کې دي هم د یوه وخت ندي، دا سندرې د ژبې له پلوه ډېر فرق سره لري. ځینې برخې ئې زړې او پخوانې دي او ځینې برخې ئې هم نوې او زلمۍ دي، د دغه تاریخي مقصد د ځرګندونې لپاره باید لږ ځه شرح او تفصیل هم ولیکو.

د ویدا بخدي سندرې یا زړه او ورکه برخه

ویدا د آریائي اقوامو زړې سندرې او اشعار دي چه ځلور برخې لري. دغو ځلورو برخو ته ئې "معلومې سندرې" وائي، مګر هغه وخت چه آریائیان د هندوکش به شمال کې اوسیدل او ګښته لا نه وه را شیوه سوي دوې ځینې نورې سندرې هم درلودې چه تر دغو معلومو سندرو دمخه او پخوانې وې. د معلومو سندرو خورا زړه برخه ریګویدا Rig Veda ده چه پوهانو د ریګویدا له مطالعې ځخه دا خبره ځرګنده کړې ده چه دا سندرې په یو وخت کې ندي ویلي شوي بلکه آرتهر مکدونل وائي چه د ژبې او تخیل او سبک له پلوه دغه سندرې باید په ځو سوه کاله کې ویلې شوي وې.[1]

ویوین دوسن مارتین هم لیکي: چه ریګویدا زاړه او نوي سرودونه لري، چه زړې سندرې ئې تر نوو (٤،٥) پیړۍ دمخه دي.[2]

له دې ځخه چه پخبله د ریګویدا معلومې سندرې هم د یوه وخت او یوه ځاي او یوې زمانې ندي معلومېږي چه د ویدا ژبې په هره زمانه کې تحولات لیدلي دي، او د هرې زمانې ژبې ځانته بیل شکل او بیله بڼه مودلې ده، او تر ریګویدا دمخه نورې سندرې هم په آریائیانو کې وې. پخپله ریګویدا هم ډېر ډېر د هغو پخوانو ورکو سندرو او پخوانو شاعرانو یادونه کوي، په دې باب کې ډوټ Dutt مورخ په واضح ډول هسې لیکي: "د ریګویدا په کتاب کې چه کوم اختلافات سته، دا ټول د هغو ورکو سندرو یادګار ګڼل کیږي، او دا تغیرات چه په ویدي ژبه کې ښکاري دا را ښئي چه تر دغو سندرو دمخه هم نورې سندرې وې چه هغه ورکې دي، د ریګویدا متن پخپله "پخواني پوهان" یادوي، او له هغه سندرې ذکر کوي چه پخوا ویلې شوي وې.[3]

له دغو ټولو ځخه ښکاري چه آریائیانو د هندوکش په شمال او بخدي کې ځینې سندرې درلودې چه اوس ورکې دي، دا سندرې کټ مټ لکه پښتو ادبیات شفاهي وې، یعني لکه د پښتو بدلې د خلقو په یاد وې او یوه له بل ځخه زده کولې په دې ډول پښت پر پښت نورو ته نقل کیدې او دغه سندرې "د آریایانو ورکې بدلې" بولې.

---

[1] د سنسکریت د ادبیاتو تاریخ، ص ٤٥.

[2] د هند د شمال غرب جغرافیا ۹.

[3] د ډوټ کتاب د ایریانیزیشن آف انډیا، ص ٥٥ The Aryanisation of India.

وروسته چه آریائي اقوام د هندوکش جنوبي ورشوگانو ته را شیوه سول نو دوي د سپین غره، ارغنداو، کنړ او سوات په غرو او دروکي ځیني سندري درلودې او بیا چه تر اباسین (انډوس) پوري وتل، د پنجاب په ورشوگانو کي دغه بدلي پسې بشپړي کړې چه د ویدا کتاب هم دغه بدلي دي او اوس ئې سمهیتا Samhita یعني مجموعه بولي او پر څلورو برخو ویشلي کیږي.[1]

مقصد دا دي: چه تر ریگویدا دمخه هم زموږ په هیواد کي آریائي بدلي وې چه د هغو ژبه به هم غالباً هغه آریائي اصله او پخوانۍ ژبه وه، مگر دې ژبي تحول وموند، او ویدي ژبه ځني جوړه شوه، چه د ویدا دکتاب څلور برخي په دغه ژبه دي ځکه چه په ویدا کي موږ د وطن د غرو او رودو نومونه راځي، نو دا ښکاري چه د پخوانو او ورکو بدلو ژبه هم دلې ویله کیده او د معلومو سندرو ژبه یعني "ویدي ژبه" هم دلې زموږ په هیواد کي د هندوکش جنوب ته پیدا شویده.

د معلومو سندرو ژبه یا ویدي ژبه

د ویدي ژبي ادبي آثار اوس سته او د پوهانو مفصلي پلټني پکښي شوي دي، موسیو وکرناگل Wackernagle وائي: چه آریائي ستانو او روحانیونو یوه ژبه ویله چه د صوت له پلوه له ویدي ژبي سره یوه وه فقط د شاعرانه اصطلاحاتو په نه درلودلو کي فرق ورسره درلود. دغه معلومي بدلي چه اوس زموږ په لاس کي دي، په اوښتلي شکل را رسیدلي دي. که نه وي ویدي ژبي ځانته پخوانۍ صرف او نحو درلوده او پخواني اشکال پکي وه، دغه معلومي بدلي چه زموږ څخه سته، په زمامو زمانو او پیړیو پیړیو ئې له زاړه حاله تغیر کړي دي له دې جهته د BH او DH حروف یوازي په H کښل شوي، او د (ر،ل) پر ځاي (L،ل) راغلي دي.[2] په دې ژبه کي چه کوم تغیرات او تحولات پیښ سویدي هغه ټول د ریگویدا له لسو ټوکو څخه معلومیږي د دغه کتاب د لومړیو سندرو ژبه د ویدي ژبي لومړنې شکل دي، وروسته وروسته چه دکتاب لسمي برخي ته نژدې کیږو ژبه ئې تغیر کوي او ښکاره ښکاره اختلافات پکښي لیدل کیږي، حتي د ریگویدا ضمایم او شروح هم په داسي ژبه دي، چه د ویدي ژبي پیړۍ په پیړۍ تغیرات ښه را ښیئي، او لکه پوهان چه وائي د ویدا د لومړیو برخو او وروستنیو تر منځ باید اقلاً پنځه پیړۍ تیري شوي وي.

د ریگویدا ځینو برخو ژبه د اوستا له زړې برخي (گاتا) سره داسي ورته ده، چه تر ډیره وخته پوري د اروپا د پوهانو دا خیال ؤ، چه د اوستا ژبه فقط د ویدي ژبي محرفه ده او د سنسکریت اوښتلي رنگ دي، تر ډیره وخته

[1] پخپله د ویدا او سمهیتا دکلمو په خصوص کي به وروسته مفصلاً بحث وکړم.
[2] تاریخ افغانستان، ج ۱ ص ۱٦۲.

ویلیام جونس Gons د اکسفورد محقق عالم دغي خبري ته ټینګ ؤ څو چه پروفیسور رسک وروسته د اوستا د ژبي استقلال او وجود ثابت کړ.[۱]

له دې څخه هم دا خبره په ښه ډول څرګندیږي، چه د ویدي ژبي پیدایښت په هغه ځاي کي و، چه اوستا پکښي پیدا شوې ده او هغه نو زموږ هیواد او د آریا مرکز دي، ویدي ژبه هم تر ډیره پر خپل حال پاته نشوه، آریائي اقوام تر انډوس (اباسین) تیر شول، د پنجاب او هند په شنو او زرغونو ورشوګانو کي سره خپاره شول، د دوي د حیات د نوي چاپیر اغیزې هم طبیعي وې، نو ځکه د دوي ژبه هم بل راز شوه، او له ویدي ژبي څخه یوه بله مهذبه او سمه کړې ژبه پیدا شوه، چه سنسکریت ئې بولي.

سنسکریت

د سنسکریت د کلمې معنا هم مهذبه او بشپړه او سمه کړې ده[۲] د خپله نامه سره سمه دغه ژبه د ویدي ژبي له تهذیت او سمولو څخه پیدا شوه، پوهان په دې خبره کي اختلاف لري، چه آیا کوم وخت دا ژبه ویله کیده که یه؟ خو دا را ښکاره ده چه سنسکریت یوه پخوانۍ علمي او ارته ژبه ده، په زرو زرو کتابونه له پخوانو زمانو څخه دې ژبه کي پاته دي، ځکه چه د دې ژبي ادبي او علمي آثار ډیر دي او د زمانې له یرغله هم ساتلي پاته شوي دي، لغات او کلمات او قواعد ئې هم ټول شوي او لیکل شوي دي، نو د آریائي ژبو د مقایسوي فیلالوژي لپاره ډیر قیمت لري، او سړی کولای سي چه د یوې ژبي اساس د سنسکریت له مقایسې څخه معلوم کړي.

د سنسکریت نوم او د دې ژبي تهذیب او سمول نسبتاً نوي کار دي. پاڼیني Panini د اټک او د پیښور د حدودو یو معروف عالم او د ویدي ژبي پوهاند و. دې سړي هغه ویدي ژبه سره سمه او مهذنه کړه صرف او نحو ئې ترتیب کړه، نوم ئې سنسکریت یعني سمه کړې ژبه پر کښیښو، وروسته دا نوم مشهور شو او ویدي ژبي او دغي ژبي ته ئې سنسکریت Sanskrit یعني بشپړه او سمه کړې ژبه the perfected وویله.[۳]

د پاڼیني آثار تر اوسه پوري هم سته، پوهانو ترجمه کړي دي، د ده د ژوندانه عصر تر ۳۰۰ ق،م دمخه نه ځي، دا د کیت Keith قول دي[٤] میکس میولر مشهور مستشرق وائي چه د ۳۵۰ ق،م په حدودو کي پاڼیني خپل آثار لیکلي دي.[٥]

---

۱ فرهنګ نظام، ج۲ ص۳.

۲ دا کلمه هم پښتو ده، وروسته به ئې شرح او تطبیق راسي.

۳ بریتانیکا، ج ۱۹ ص ۹۵٤..

٤ کیمبرج هستري آف اندیا، ج ۱ ص ۱۱۳.

٥ مقدمۀ تاریخ هند قدیم ص ۱۰۰.

د پاڼيني مشهور کتاب د ده نحويات دي، چه ټول په ويدي ژبه اړه لري، او تاريخ ئې هم هغه تر مسيح دمخه څلورمه پيړي ده.[1] دا کتاب هر وخت ډير مشهور و او اته برخي ئې درلودې چه هره برخه ئې ادهيايا Adhyaya (وينا lecture) بلله او ټول کتاب اشټ ادهيايا Asht Adhyaya يعني اته ويناوي نوميدي. دا کتاب په خپل عصر کي ډير مهم دي او په نورو ژبو او قومو کي ساري نلري، بلکه سړي ئې د ژبي په علمي تحليل او تجزيه کي لومړي کتاب ګڼلاي سي. داسي ښکاري چه تر پاڼيني دمخه هم بعضو پوهانو د سنسکريت ګرامر کښلي و، ځکه دي پخپل کتاب کي تقريباً څلور شپيته (٦٤) تنه خپل اسلاف ښيي چه ډير تر ده دمخه ئې په دي کار ګوتي پوري کړي وې مثلاً دي ساکاټاينه Sakatayana او ياسکه Yaska نومونه اخلي، چه دا ياسکه د پاڼيني سلف او د نيروکته يعني صرف مولف و، او ده د سنسکريت په ګرامر کي دا اساس څرګند کړ، چه ټول نومونه (اسماء) له کړو (افعالو) څخه را وتلي دي.

تر پاڼيني وروسته نور پوهان هم د ده د کتاب په شرح مشغول شول، مثلاً يو عالم کاتايانه Katayana نوميده چه د ده يادداشتونه او تنقيدي شرح وارتيکه Vartika نوميږي اوس هم دا کتاب سته، بل مشهور شارح ئې پاتينجلي Patanjali نوميږي چه په ١٥٠ق،م ئې د پاڼيني لويه شرح ليکلي، او مهابهاشيه Mha Bhashya نوميږي، او په دغه کي د کلاسيکي سنسکريت تاريخي او تنقيدي پلټني سته، او د پاڼيني له ٤٠٠٠ قاعدو څخه ئې ١٧١٣ قاعدې په تنقيدي ډول شرح کړي دي، دی ګونارديا Gonardiya بلل کيږي، يعني د ګونارده Gonarda اوسيدونکي چه دا ښار شل ميله د اودهـ شمال غربي خوا ته واقع و.

سنسکريت د لغاتو کتب او قواميس lexicography هم لري، او دغه کتب په نظم وه لومړي مشهور کتاب امره سيمه Amarasimha نومي عالم به شپږمه ميلادي پيړي کي د امره کوشه Amra-Kosa يعني (نه نا بوديدونکي خزانه) immortal treasury په نامه کښلي دي.[2] د سنسکريت کتب او علوم په اسلامي دوره کي هم مشهور وه، مثلاً ابو ريحان البيروني د ٤٢٠ هجري به شا و خوا کي د هند د نحوي په کتابو کي پانيريتي (پانيرت) Panirit ليکي چه خپل مصنف پاڼيني ته منسوب دي.[3] په دې ډول د سنسکريت نوم د ٣٥٠ ق،م په حدودو کي جوړ شوي او دا ژبه د زړې ويدي ژبي له سمولو او اصلاح کولو څخه پيدا شوي ده او وروسته دا اصطلاح داسي عامه شوه چه د ويدا ژبه، او تر ويدا وروسته د نورو کتابو ژبي او پخپله دغه سمه کړې ژبه، دا ټولي د سنسکريت په نامه وبللي شوې او اوس چه هم دا نوم ياد شي، دغه ټولي ژبي ځني مقصد دي.[4]

---

[1] ويدک انډيا ص ٨٠، بريتانيکا، ج ١٩ ص ٩٥٤.

[2] بريتانيکا، ج ١٩ ص ٩٧٠.

[3] کتاب الهند، ج١ ص ١٧٨.

[4] بودهسټ انډيا، ص ٩٧.

د سنسکریت خورا زړه کتیبه چه تر اوسه د بشر لاس ته رسیدلې ده په ۱۵۰ع کال اړه لري مگر په څلورمه عیسوي پیړۍ کي دا ژبه عامه سوه، او په ټولو کتیبو او رسمي نوشتو کي اسعمالیده، او ډیري نوشتې او ډیر لیکونه له دغه عصره پاته دي، او وروسته دا ژبه ډیره ادبي او علمي سوه، فلسفي، عشقي، طبي، او نور ډول ډول کتب پکي ولیکل سوه او ښې ښې ډرامې هم لري، د سنسکریت ادبي تاریخ پر دوو برخو ویشل کیږي لومړۍ برخه ئې ویدي ده، دوهمه د کلاسیکي ادب دوره ده، او دواړي د ځینو مهمو ممیزاتو او سبک له رویه سره بیلي دي لومړۍ دوره له ۱۵۰۰ تر ۲۰۰۰ ق،م ده او دوهمه دوره له ۵۰۰ تر ۱۰۰۰م پوري را رسیږي، ویدي دوره عبارت له هغه سمهیتا (مجموعو) څخه ده، چه څلور ویده پکي شامل دي، او نور ملحقات ئې هم په دغه دوره اړه لري. مگر سترا Sutra شرح ئې د ویدي ادب او کلاسیکي دورې د اتصال حلقه ده وروسته په کلاسیکي دوره کي د حماسیاتو اشعار epics لکه مهابهارت، او رامایین شامل دي، پوران Puranas او رومانسي او قصصي کتب هم په دغه دوره کي سته، فلسفي، قانوني، طبي او تکنیکي کتب هم لري، چه له دغو څخه د منو Manu قوانین ډیر مشهور دي.[1]

سنسکریت فقط د علم ژبه وه او اکثر پوهان په دې فکر دي چه دا ژبه عموماً نه ویله کیده ځکه چه د عمومي وینا ژبه باید ډیره اسانه او ساده وي، مگر سنسکریت هسي د علم په درنو انډیو بار ده، چه عوام ئې کورټ نسي زده کولای او تاریخ هم دا نه ښکاره کوي، چه یو وخت دا ژبه د عوامو ژبه وه، پخپله د هند برهمنان وایي چه یو وخت دا ژبه د هند په شمالي خواو کي ویله کیده، خو وروسته د دې ژبي نوري څانگي پراکریت Prakrit یعني فرعي ژبي پر غالبي شوې، او دا فقط د علم لپاره مخصوصه شوه[2] او هم د پوهانو او دیني خلقو په منځ کي محصوره پاته شوه، او لکه چه پوهان وائي د دې ژبي پوهانو د مقدس والي له جهته نه غوښته چه عوام او هر څوک دا ژبه زده کړي یا ئې واوري نو ځکه د کتابو او پاڼو په منځ کي ژوندۍ وه خو ویله کیده نه.

ویدا او د سنسکریت نور مشهور ادبي او دیني کتب

که څه هم زموږ د پښتو ژبي څیړنه او مقایسه له دغو ابحاثو سره مستقیماً اړه نه لري او ښائي چه ځینو ښاغلو لوستونکیو ته دغه شرح او تفصیل بې گټې وایسي، مگر په دې کتاب کي به ښائي چه ډیر د ځینو سنسکریت کتابونو نومونه راسي، نو ښه دا ده چه په لنډ ډول دغه کتب هم وپیژنو وروسته به نو خپل اصلي مقصد ته چه د پښتو پر تله او مقایسه ده، ولاړ سو، د ویدي ژبي د پیدا کیدو او بیا د سنسکریت لنډ تاریخ هم له دغه جهته دلته ولیکل شو، چه ښاغلي لوستونکي ته لږ څه ابتدائي معلومات وي:

---

[1] بریتانیکا، ج ۱۹.

[2] فرهنگ نظام، ج ۲ ص ۸.

اکثر پوهان دا عقیده لري چه د ویدا کلمه د (ود) له مصدره جوړه شوې، او د پوهني په معنا ده، ودیا په عمومي ډول علم ته وائي[1] ماکس میولر مشهور وید پوهان دغه عقیده لري او وروسته ئې گریفت او ماکدونل هم تائیدکوي چه د وید معنا پوهنه، علم، دانش دي او ښائي چه دغه کلمه لومړۍ کلمه وي، چه له آریائي ژبي څخه پاته وي.[2]

په لوي سرکي ټولي آریائي بدلي او اړې سندري پر دوه ډوله ویشلي کیږي:

لمړۍ برخه سروتي Cruti یا شروتي بولي چه معنا ئې "ارویدل شوي او الهامي" دي[3] او دا ټول سرودونه د هغو خلقو په عقیده الهامي وه چه "مقدسي سندري" ئې گڼلي. دوهمه برخه ئې سمرتي Smriti بولي، یعني روایي او یو له بله نقل شوي یا په یاد شوي سندري چه دوي به مقدس روایات او عنعنات گڼل. مگر د الهام کیفیت ئې نه درلود.[4] په لومړي برخه یعني سروتي کي ټول ویدونه Vedas داخل دي او دوهمه برخه د ویدو شروح او ضمیمې او تفاصیل دي چه ټول پر اصلي ویدو باندي بنا سوي دي، ویدونه څلور دي او دغو څلورو ته سمهیتا Samhita یعني مجموعه هم وائي په دې تفصیل:

۱- ریگویدا Rig Veda چه دا یو قسم منظومي بدلي او سندري وې او ټولي ۱۰۲۸ سندري کیږي[5] چه هره سندره بهجن بولي او دا ټولي سندري پر سلو برخو منډلا Mandala شاملي دي. هره برخه ئې یو منډلا (دائره) بولي. د وید معنا مو دمخه زده کړه. ریگ له rich څخه را وتلې کلمه ده چه معنا ئې تمجید او ستاینه او ثنا ده. نو ریگ ویدي د ستاینې او ثنا او صفت د علم معني کوي. وائي چه آریائیانو یوه ډله شعراء درلودل چه دوي ته ئې ریشي Richi ویل[6] او دا سندري هغو ته منسوبي دي. ځیني خلق ریگویدا پر اتو برخو Ashtata ویشي او هره برخه بیا پر اتو نورو ټوکو ویشي چه هر ټوک ئې ادهیا Adhya بولي. هره ادهیا دیرش فصله ده چه "درگا" ئې بولي او هر فصل پنځه ویناوي (فقرې) دي د مضمون له پلوه ریگویدا ټول د ارباب انواعو ستاینې او مذهبي دعاوي دي.

د ریگویدا خورا زړه نسخه چه تر اوسه میندلې شویده تر ۱۵۰۰ع پخوانۍ نده مگر په زروکاله دمخه د دې کتاب حفظ او ساتنه آریائیانو کوله، هر لفظ او هره وینا ئې بیله بیله شمیرله او په یادوله ئې، له پخوانو کتابو څخه

---

[1] د وید تعلیم، ص ۱.

[2] د گریفت د ویدا ترجمې مقدمه، ج ۱ - د هند د ادبیاتو تاریخ، ج ۱ - د ماکدونل د سنسکریت د ادبیاتو تاریخ، د دغې کلمې لغوي تحلیل او تطبیق به وروسته بیان شي.

[3] د دغوکلماتو شرح به هم وروسته راسي.

[4] د ویدو تعلیم ص ۱ - ویدک انډیا ص ۷۷.

[5] وایي چه په دغو بدلوکي ۱۱ نوي بدلي چه Valakhilyas بللي کیږي هم گډي دي (بریتانیکا).

[6] د دې کلمې شرح او تحلیل به وروسته راسي.

ښکاري چه ريګويدا ټول ۱۵۳،۸۲٦ الفاظ او ٤۳۲،۷۰۰ حروف درلودل، ټولي جملې ئې په يوه حساب ۱۰٤۰۲ او په بل حساب ۱۰٦۲۲ وې.[۱]

علامه البيروني ليکي چه بيد (ويدا) يو ډول نظم دي، چه خلق ئې معجز او الهامي ګڼي، او يو مشهور عالم بيا پر څلورو برخو وويشه: لومړۍ برخه چه رګ بيذ ده د نظم يو مخصوص ډول دي چه رج rij=رګ rig ئې بولي. بيذ يعني د هغو شيانو پوهنه چه معلوم ندي، په دې کتاب کي اوامر او نواهي، ترغيب او ترهيب، د قربانۍ او تسبيح چمونه ذکر شوي دي، لومړۍ پلا د بيذ ليکل منع وه، مګر وروسته دغه موجوده بيذ بياس د پراشر زوي ترتيب کړ، او موږ ته پدې نزدې زمانه کي يوه کشميري عالم بسکر Buskar بيذ وکيښ او د دغه کتاب يو تفسير ئې هم مرتب کړ.[۲]

۲- دوهم ويد ساما ويدا Sama Veda دي، چه د ماکډونل په قول له سامن Saman يعني آهنګ او نوا څخه ئې نوم را وتلي، او دا کتاب د ريګوا له سندرو څخه جوړ شوي او عموماً هغه بدلي دي چه د قرباني پر وختو باندي ويلي کيدې او د مارکس ميولر په قول د ريګويدا مويد مضامين پکښي دي، دا سندري ټولي په لوړ ږغ ويلي کيدې او شمير ئې ۱۵٤۹ دي، چه بيله ۷۸ سندرو نوري ټولي له ريګويدا څخه را اخستلې شوي دي.[۳]

۳- يجور ويد Yajur Veda دريمه برخه ده چه د قربانۍ دعاوي او مراسم پکښي ذکر شويدي. دې ويد هم له ريګويدا څخه تقريباً نيمي سندري را اخستي دي. ماکډونل وايي چه دا نوم له ياجوس Yajus څخه جوړ شوي دي چه معنا ئې قرباني ده، په دې کتاب کي ځني منثوري جملې هم راغلي دي او دوې برخي لري؛ ترويجر (کرشنا) Karishna چه اتريا سمهيتا ئې بولي يعني د ته اتريا Taittiriya ريشي مجموعه. بل سپين يجر (سکلا) چه ياجن ولکيا Yajanavalkya سمهيتا ئې بولي يعي د ياجن ولکيا ريښي مجموعه.[٤]

تبصره: دغه دري ويدونه چه لوړ ذکر شول، ترائي ويديا Trayi Vidya يعني دري پوهني او دري علمونه ئې هم بولي.

٤- اتهروا ويدا Atharva Veda يعني د طلسم او جادو پوهنه، څلورم ويد دي، چه د ماکدونل په قول تر ريګويدا وروسته پيدا شوي، اوسني شکل ئې هم وروستني دي، منظومي بدلي لري چه ريګويدا ته ډير ورته دي، مضامين ئې په طلسم او جادو او شيطان اړه لري، د بدو خلقو اوضاع بيانوي د ريګويدا سره په سندرو کي تقريباً برابر دي، او شپږمه برخه ئې هغه بدلي دي چه د ريګويدا څخه اخستي شوي، او بله شپږمه برخه ئې هم

[۱] ويدک انډيا ص ۷۳ - د ويدو تعليم ص ۲-۳.
[۲] کتاب الهند، ص ١٦٥ باب ۱۲.
[۳] د سنسکريت د ادبياتو تاريخ ويدک انډيا ص ۷۱ - د ويدو تعليم ص ۲.
[٤] ويدک انډيا ص ۷۱ - د ويدو تعليم ص ۲.

نثر ده.[1] اتهروا ویدا پر شل برخي ویشلي دي، چه هره برخه ئې کانډا Kanda بولي او دغه ټول ۷٦۰ سندري او تقریباً شپږ زره سروده کېږي.[2]

سمرتي یا د ویدو ملحقات: پخپله د ویدو سندري او سرودونه بیلي دي، چه هغو ته منتر یا گیت وائي او دغه برخي الهامي بللي شوي دي، مگر ځني نور شروح او ملحقات هم لري چه نثر دي او په دغو کي ځني مذهبي هدایات لیکل شوي، او ظاهراً تر پخپله وید وروسته دي چه د ژوندانه چاري او ځني فلسفي افکار هم پکي بیان شوي دي. دغو ملحقاتو ته برهمنا Brahmana وایي او دوې نوري برخي هم لري چه آرانیاکا Aranyaka او یوپانیشاد Upanishad ئې بولي. د لومړي معنا ده د ځنگله تفکرات او د دوهم معنا ده پټ الهامات، دغه ملحقات هم د ژبي هم د مضمون له پلوه دویدو په شرح او هم د آریائي اقوامو د فکر او فلسفې لامله ډېر اهمیت لري.[3]

دغو ټولو ملحقاتو ته چه په ویدو اړه لري، سمرتي وائي او دا هغه روایات دي چه تر ویدو وروسته پیدا شوي، او د شرح او تفسیر په ډول لیکل شویدي، سمرتي چه د مضامینو له پلوه په غور وکتل سي، دغه لاندي مقصدونه پکښي پیدا کېږي، چه اصطلاحاً ئې ویدانگه Vedanga بولي، او دغه لاندي شپږ دي:

۱- سکشا Siksha د صوتیاتو او تلفظ او لهجې بحث phonetics چه کوچنۍ کوچنۍ څېړني دي او معروف گرامري عالم پاڼیني ته ئې نسبت کېږي او د پاڼینیا سکاشا Paniniya Siksha په نامه یادېږي او د دویدو د صوتیاتو او تلفظ لپاره ډېر اهمیت لري.

۲- چهند یعني د اشعارو عروض او معیار چه پنگل Pingale نومي عالم د چهندا سترا Chhandah Sutra په عنوان لیکلي، او د عروضو prosody ابحاث لري، پخپله د ویدا په ساماویدا برخه کي هم د عروضو لږ شرح په دوو برخو کي سته.

۳- ویاکرن vyakarana یعني گرامر او نحو، چه د پاڼیني مشهور گرامر د ویدي ژبي اکثر قواعد بیانوي او له گرامري تحقیقاتو ډک دي.

٤- نیروکته nirukta یعني صرف او د الفاظو علم او د لغاتو د ریښو پوهنه etymology په دغه علم کي یو کتاب یاسکانیروکته Yaskanirukta سته، چه د دویدي ژبي د لغاتو ریښې ښئي او دري برخي دي (۱) مترادف کلمات (۲) خالص او مخصوص ویدي کلمات (۳) د ارباب انواعو نومونه.

۵- جوتشه yotisha یعني هیئت او د اسمانو علم astronomy.

---

[1] ویدک انډیا ص ۷۲ - د ویدو تعلیم ص ۳.

[2] اتهروا ویدا د گریفت ترجمه، ج ۱ ص ۵.

[3] د ویدو تعلیم ص ۳ ـ ویدک انډیا ص ۷۵ - کیمبرج هستري آف انډیا، ج ۱ ص ۱۱٤.

٦- کلپه kalpa يعني رسوم او آئين او دودونه او جالونه ceremonial په دغه خصوص کي ډير ابحاث د سترا sutra برخي لري او د قوانينو کتابونه هم ټول په دغه ډله کي دي، دغه شپږ مضمونه دي، چه د سمرتي په برخوکي موندلي کيږي مگر ټول دغه مضامين متفرق او پاشلي دي، داسي ندي چه مثلاً يوکتاب يا يوه يوه برخه ورته ټاکلي شوې او يو يو مضمون پکښي ليکلي شويدي، بلکه که ټول د ويدا ملحقات وکتل سي، د دغوشپږو علومو بيان لري.[1]

د ويدي ادب زماني او خلاصه

پوهان دغو ټولو آثارو ته چه دمخه ذکرکړل شوه ويدي ادب وائي او په دې لاندي ډول ئې خلاصه کوي:

١- د چهند Chhandas زمانه يعني د زاړه ريگويدا عصر له ١٢٠٠ ق،م تر ١٠٠٠ق،م

٢- د منترو Mantras زمانه يعني د نوي ريگويدا عصر له ١٠٠٠ ق،م تر ٨٠٠ق،م

٣- د برهمنا Brahmanas زمانه يعني د تفسير او ملحقاتو عصر له ٨٠٠ق،م تر ٦٠٠ق،م

٤- د سوترا Sutras زمانه يعني دکوچنيو مذهبي رسالو عصر له ٦٠٠ ق،م تر ٢٠٠ ق،م

د ويدي ادب په دغه ويشنه کي ماکس ميولر په ښه ډول د دغه ادب مختلفي دورې را ښئي،[2] مگر دکلو په تعين کي اختلاف دي او لکه دمخه چه موږ وښوله د ويدي ادب عصر بايد تر ١٥٠٠ ق،م پوري ورسيږي، اکثر پوهان لکه ولسن، بارتهه، هاگ هم د دغي خبري پر خوا دي، او هاگ وائي چه د ويدي ادب د خورا پخوانو سندرو عمر تر ٢٤٠٠ ق،م پوري هم رسيږي.[3]

نورکتب

تر ويدو وروسته نور معروف کتب هم په سنسکريت کي سته چه لاندي په لنډ ډول معرفي کوو:

(١) مهابهاراتا Maha Bharata د هند مشهور رزمي قصه ده، چه دکورو او پاندو دوو آريائي کورنيو د جنگ احوال بيانوي. د پهلوانانو او برياليو دلاوري او ژوبلوري مناظر ښکاره کوي، او داکتاب ٢١٥٠٠٠ بيتونه دي، وائي چه داکتاب هم بياس نومي عالم ته منسوب دي، او د منتر په قول د ١٢٠٠ ق،م په حدودوکي کښل شوي او د يوه سړي تاليف هم ندي.[4]

[1] ويدک انډيا ص ٧٧ - بريتانيکا، ج ١٩ ص ٩٥٨.
[2] ريگويدا ج ٤ مقدمه.
[3] د ويدو تعليم ص ١٠ - ويدک انډيا ص ٧٩.
[4] تمدن هند ص ٣٢٨ - د قديم هند د تاريخ مقدمه ص ١٢٨.

(۲) راماينا: بله مشهوره قصه راماينا Ramayana ده چه دا هم د سنسکريت له مشهورو ادبي کتابو څخه ګڼل کيږي، د هنتر به قول زرکاله تر مسيح دمخه دا قصه واقع شويده، او بالميک نومي عالم ته دا کتاب منسوب دي، ټول ۲٤۰۰۰ اشلوک او ٤۸۰۰۰ بيتونه دي.[1]

علاوه پر دغه نور ډير کتب هم سته چه مشهور دي لکه: پران، شکنتلا، هتو پديش او نور چه د لنډووني لپاره ئې فقط نومونه ياد شول. اوس چه تاسي ته د ويدي ادب او سنسکريت د آثارو او کتابو يو لنډ لنډ معلومات وړاندي شول، نو ځم خپل اصلي مقصد ته چه د ويدي ژبي او سنسکريت پر تله او مقايسه ده، له پښتو سره.

د ويدي ژبي او سنسکريت لغات چه په پښتو کي اوس هم ژوندي او مستعمل دي

پدې کتاب کي زه د ويدي ژبي سره د پښتو پر تله فقط د لغاتو او کلماتو د نژديوالي له پلوه بحث کوم، او دا ښکاره کوم چه د ريښې او بنسټ له مخي د دواړو ژبو کلمات ډير سره ورته او نژدې دي، او د ويدي ژبي هغه زاړه لغتونه تر اوسه هم په پښتو کي ژوندي او مستعمل دي، د ويدي ژبي ادبي آثار او کتب خوشبختانه پاته دي، او اوس موږ استفاده ځني کولای سو، مګر د پښتو کوم ليک او زړه نسخه په لاس کي نلرو، نو ځکه د ويدي ژبي د نژدې والي لامله د پښتو اصالت او قدامت معلوموو، دغه مقايسوي څيړنه د فيلالوژي او فقه اللغه تر اصولو لاندي ده مګر وروسته چه د پښتو او سنسکريت مقايسه شروع سي دلته به په دوه ډوله پلټنه او څيړنه کوو، لومړي به د سنسکريت کلمات په لوړ ډول د پښتو سره تطبيق کوو وروسته به د دې ژبي ځني اساسي قواعد او صرفي اصول هم له پښتو سره پر تله سي، په دې ډول به له ويدي ژبي او سنسکريت سره د پښتو قرابت په ښه ښير څرګند سي.

د پرتله کولو او مقايسي اصول

د اصلي مقصد تر پيل دمخه بايد لومړې د خپل کار اصول در وښيو، يعني په دې ځان پوه کو، چه زموږ دا پرتله او مقايسه پر کومو اصولو بنا ده؟

عموماً د هري ژبي د تشکيل لپاره دا څلور لاندني مواد ضروري دي، اوکه سړي وغواړي چه د يوې ژبي آره او بنسټ ځانته معلوم کړي، او يا ئې له بلي ژبي سره مقايسه وکړي، نو ښائي چه دغه لاندني مواد ئې تر غور او پلټني لاندي راولي.

۱- ږغونه او اصوات چه ژبه ځيني جوړه شوې ده phoenetics

۲- حروف او توري چه د هغو ږغو نمايندګي کوي، او په ليک کي اشکال را ښئي letters

[1] تمدن هند ص ۳۳۲ - د قديم هند د تاريخ مقدمه ص ۱۲۸.

۳- د حورفو اوښتنه او يو له بله تبديل چه د کلماتو تحول هم له دغو اصولو څخه زده کيږي او دا هم په اکثرو ژبو کي مثبت اساسونه لري morphology

٤- لغات او کلمات، چه څنګه جوړ شوي دي؟ جامد کلمات ئې څنګه دي؟ مصادر او مشتقات ئې څنګه دي؟ vocabulary [1]

پر دغو څلورو موادو برابر د ژبو پرتله او مقايسه کيږي، او په دې کتاب کي زما د پلټني او څيړني آره دغه څلور خبري دي، د ږغو او توريو او لغاتو او کلماتو شرح او تفصيل او پرتله به وروسته راوړم، دلته به لومړي د دريم خبري يعني د حروفو د اوښتلو او يو له بله د تبديل څني اساسي خبري در وښيم، چه اوس دستي دغه مواد زموږ لپاره د ويدي ژبي په مقايسه کي په کار راځي.

توري او د اوښتلو اصول ئې

ژبه عبارت له هغو ږغو او آوازو څخه ده، چه تر خوله راوزي. دا ږغونه راز راز دي او هر ږغ ځانته په خوله کي يو ځاي لري، چه له هغه ځايه هغه مخصوص ږغ راوزي، دغه ځاي وتوځي (مخرج) بولي، ټول ږغونه له خولې څخه راوزي، له شونډو څخه نيولي بيا د ستوني تر پايه يعني سينې پوري د حروفو مخارج دي، ځيني توري په شونډو کي ويل کيږي لکه (ب، م) ځيني توري د خولې له منځه راوزي لکه (ج، ل) ځيني حروف حلقي دي، لکه (غ، خ) ځيني حروف په سينه کي ويل کيږي لکه (هـ، ا).

د دنيا د ټولو ژبو ږغونه او آوازونه يعني توري تر سلو پوري رسيږي او هره ژبه ځانته څني داسي ږغونه هم لري چه هغه په نورو ژبو کي نه وي، مثلاً د عربي ژبه نه مخصوص حروف لري (ث،ح،ذ،ص،ض،ط،ظ،ف،ق) چه په پښتو او پاړسو کي نسته او د پښتو او آريائي ژبو ځيني حروف لکه (پ،ټ،ډ،ړ،ژ،ږ،ښ،ڼ) بيا په عربي او سامي ژبو کي نه راځي، عموماً د ټولو ژبو توري چه له شونډو څخه ستوني تر پايه ادا کيږي په لاندي ډول څو برخي لري:

۱- شونډيز توري (حروف لبي يا شفوي) labials (ضمه u، او o، ب b،بهـ bh،پ p، ف f،م m، وw)

۲- تالوئين توري (حرف کامي) palatals (ت t، ټt، ج j، چ ch،د d، ډ d، رr، ړ r، زz، ژ zh، ږ z، سs ش sh، ښ sh، ل l، ن n، یy)

۳- ستونيز توري (حلقه) gutturals (خ kh، ع a، غ gh، گ g، ک k، کهـ kh)

٤- ټټريز توري (حروف سينه يا جوفي) زور (فتحه)، زير (کسره)، آA ، الفA، هـ h، د دغو څلورو ډولو حروفو د ابدال او اوښتلو قانون دا دي:

---

[1] فرهنګ نظام، ج ۳.

۱ لومړي پلا د يوه مخرج حروف سره اوړي.

۲- دوهمه پلا ښائي چه هغه حروف سره واوړي چه مخارج ئې سره نژدې وي.

۳- کله کله داسي هم پيښيږي چه يو توري په داسي بل توري تبديل شي چه په مخرج کي ډير له اصله ليري وي دا نو داسي کيږي چه يو حرف لومړی پلا په داسي بل حرف واوړي چه په مخرج کي ور نژدې وي وروسته بيا دغه مبدل صورت په بل داسي حرف ابدال شي چه دغه دوهم صورت ته نزدې وي، دې ته ابدال بالواسطه بايد ووايو.

٤- حروف صحيح يا صامت توري consonants په اوښتلو کي تر لوړو درو قاعدو لاندي دي مگر حروف علت يا صايت يعني ږغيږي توري vowels چه هر وخت صامتو توريو ته حرکات ورکوي، او د دوي په کومک د صامتو توريو تلفظ کيږي، د ابدال پر وخت کم قيمت نلري، کله له منځه ځي، کله اوړي، کله زياتي کيږي. ږغيږ توري دا دي (چه ساکن وي) الف a، و v، ی y، هـ (حرکي) h، آي i، يو u، او o، ائې e.

دا حروف ذاتاً اصالت نلري، د نورو د حرکت ښکاره کولو لپاره دي، اصلاً د دوي تشکيل هم د يوه ږغ له درنولو او سپکولو څخه دي، دا لاندي نقشه وگوري:



يو مثال: د ابدال د دغو قاعدو د څرګندولو لپاره دا يو مثال دلته راوړل کيږي (اشو) ashva په سنسکريت کي آس ته وايي، په اوستا کي اسپه aspa سو، په پاړسو اسپ asp او په پښتو نر آس او ښځه ئې اسپه ده. وګورئ د سنسکريت (ش) تالوئيز توري دي په (س) بل تالوئيز توري اوړي، نو (اش) طبعاً (اس) کيږي، واو شونډيز توري دي، پ هم له شونډو څخه را وزي، نو va و= پ pa شو اسپ او اسپه ځيني جوړ شول.

په پښتو کي (واو) د علت لامله حذف شو آس پاته شو. تر څلورو لوړو قاعدو لاندي د حروفو د ابدال لنډه نقشه دا ده:

هـ - ا	ح - هـ	ر- ل	ع- ا
س،خ، که	ت، ټ،ط	م،ن،ڼ	ق،ک
ب،پ،و،ف	د،ډ	ن،ل	ن،ڼ
ګ، غ	ذ،ز	ږ،ژ،ج،ځ	و،ا
س،ش	ص،س	څ،س،چ،ش	ی،ج
هـ،س	ض،د	د،ل،ت	ت،ث

ويدا Veda

تر ټولو دمخه بايد د ويدا کلمه تر غور لاندي راولو ځکه د اکثرو پوهانو په عقيده دا کلمه له پخوانۍ اصلي آريائي ژبي څخه ده، او دوي وائي چه د دې کلمې اصل (ود) دي چه د پوهني معنا لري.[1]

په سنسکريت کي د ډيرو کلماتو ريښه هم دغه کمله ده، او ډول ډول الفاظ ځني جوړ شويدي، مثلاً ودت vidit علم، فهم ويد يا علم، زده کړه او وديا بهاياس vidya bhyas زده کړه، لوستنه وديا پراپت vidya prapti د علم تحصيل د پوهني زده کړه وديا دان vidyadan د علم خپرول او اشاعت، وديا رتهي vidya rthi زده کونکي، محصل، ودیالي vidyalay مکتب ښوونځي، زده کړوځي، وديا وان vidya van پوهنوال، عالم، علمي.[2]

په دې ډول د ويدا کلمه له (ود) څخه مشتقه ده، او په سنسکريت کي د علم، پوهني په معنا ده مګر لکه کلمات چه د عصر او زمانو په تيريدلو سره تغير او تحول کوي، معاني هم دغسي دي، چه په تقريبي ډول بلي خوا ته ميل کوي او لږ لږ له خپله اصله ليري کيږي. د سنسکريت ود vada د پښتو ژبي د ډيرو کلماتو سره په ريښه او معنا کي نژدې والي لري، که څه هم کټ مټ دغه کلمات لکه سنسکريت د پوهني او علم معنا نه ورکوي خو د پوهني

[1] د دې کلمې شرح لږ څه دمخه تيره شوې ده.
[2] هندوستاني قاموس، ص ۷٦٦.

مقصد ته نژدې دي، او سړی ويلای سي چه له اصلي آريائي ژبې څخه دا کلمه سنسکريت ته په لږ معنوي تحول راغلې ده، اصل ئې په پښتو کي محفوظ دي، يا دا چه د پښتو معاني ئې لږ څه مغيري شوې دي، په دې ډول:

په پښتو کي وده vadah د واو په زور او د دال په زورکي تر اوسه د نشو و نما او لويوالي په معناؤ مستعمله ده، په قندهار کي وايي: دا تاک په دې مځکه کي وده نه کوې يعني نه لوئيږي او نشو و نما نه کوي، له دغه ريښې څخه واده vadah جوړ شويدي، چه په واده کي هم وده يعني نشو نما او تکاثر پټ پروت دي، انسانان په واده سره نشو نما او ډيربښت کوي، له دغي کلمې څخه وديدل لازمي مصدر، ودوي متعدي مصدر، او ودون، ودونه، وديده، وديدنه ودينګ جوړ شوي دي.

وده يعني لويښت او نشو نما له پوهني سره لازمي شي دي، وده بې پوهي نه کيږي او هر ځاي چه پوهنه، او علم موجود وي، هلته وده هم سته، دا معنوي تلازم دغه دوه کلمې ښه سره نژدې کوي، نو هغه کلمه چه د (ويدا) نوم ځني مشتق دي، کټ مټ په پښتو کي (وده) ده، د دې معنوي تطبيق او تلازم د ښرګندوني لپاره دا لانديني لغوي پلټنه هم د ويلو وړ ده.

د ويدا کلمه چه په اصل کي (ويد) ده، د دال په زور، په اسلامي دوره کي بيد beed ضبط شويده، (واو) او (ب) دواړه شونډيز توري دي، او ابدال ئې هم خورا ډير دي: مثلاً پښتو وري پاړسو بره. پښتو وان van پاړسو سوبان، لکه باغوان او باغبان.

نو ويد، بيد او په پخواني اصطلاح بيذ هم شو[1] چه په پښتو کي له دغي ريښې څخه تر اوسه هم بد bud سته، مثلاً پلاني ډير بد سړی دي يعني هوښيار، عاقل، دانشمند دي، دا کلمه وروسته به بودائي عصر کي هم کټ مټ د دغه بدهـ په نامه کي موجوده وه، او علامه البيروني ليکي چه د هندوانو په عقيده مادهٔ مطلق او مجرده هيولا (ابيکټ) درې شيه بالقوه له ځانه سره لري: عقل، دين، جهل. او لومړی يعني عقل ته (بدهه) وايي، چه د راحت او خوښۍ او هوسائي باعث دي.[2]

د بد کلمه د پارس په ژبو هم ننوته، مګر د حافظ ساتونکي، مشر او رئيس معنا ئې وموندله، المسعودي عربي مورخ ليکي: چه په پارس کي تر اسلام دمخه ډير منصبونه موجود وه، او تر ټولو لوړ منصب د (موبذ) ؤ، يعني حافظ الدين او د دوي په ژبه (مو) دين او (بذ) حافظ ته وايي. جمع ئې (موابذه) ده، دغسي هم اصفهبذ له اصفه (سپه) او بذ څخه مرکب دي، يعني سپه سالار په دغه ډول د بيربذ (حافظ الکتاب) هو تخشه بذ (د کاسبانو او تجارو مشر) و[3] دغسي هم الخوارزمي کوهبذ د صاحب الجبل او هيربذ د رئيس النار په معناؤ را وړي دي[4] چه له

---

[1] کتاب الهند، ج ۱ ص ۹۳.
[2] کتاب الهند، ج ۱ص ٤۱.
[3] التنبيه و الاشراف.
[4] مفاتيح العلوم ص ٦٤-٦٥-٧۱.

دغو ټولو څخه دا ښکاري چه (بذ) د پاړسوانانو په اصطلاح تر اسلام دمخه د رئيس او حافظ، مهتر معانی درلودل، چه د بودائي بدهـ او د پښتو اوسني بد سره ډيره اړه او نژدې والي لري.

په پښتو کي يو بل مصدر هم سته، بودول budawal يعني ځيني اخستل او تحصيل او لاسته راوستل، مثلاً خپلي پيسي مي ځيني بود کړې يعني لاس ته مي راوستې او تحصيل مي کړي. ښائي چه دا هم يو معنوي تحول وي له دغي ريښې څخه، دغسي هم ويل کيږي. چه دا شي د بود دي، يعني د ګټي او نفعي دي.

له دغو لوړو تاريخي او لغوي پلټونو څخه نو دا نتيجه لاس ته راځي، چه د پښتو (وده) او بيا (بد) په هغه پخواني (ود) او (ويد) او (بيد) اړه لري او د دغو کلماتو ريښه پخوانۍ آريائي ده، او په پښتو کي هم تر اوسته له دغي ريښې څخه ډيري کلمې ژوندۍ دي، او دا ثابتوي چه د آريائي پخوانۍ ژبي سره اوسنۍ پښتو څنګه ټينګه رابطه او اړه لري؟

ريګ او رشي Rig-Rishi

د ويد شرح او تطبيق مو لوړ ولوست، او دا هم در معلومه ده چه ريګ ويدا Rig Veda د ويد د کتاب مهمه او لومړۍ برخه ده اوس به راسو دې ته چه د رګ rig کلمه څه معني لري او په پښتو کي ريښه سته که يه؟

لکه دمخه چه هم ويل شويدي، د رګ ماده rich ده چه د البيروني په قول د رج rij مجموعه ده، او رج يو ډول نظم و چه د قربانيو پر وخت په درې ډوله ويل کيدي، لومړۍ په ساده ډول، دوهم داسي چه پر هر لفظ باندي دريږي، دريم ډول چه تر ټولو ښه دي، جمله جمله ويل کيدي، او دمخه جمله بيرته ور سره تکراريده بيا نو بله جمله ور سره يو ځاي کيده.[1]

اوسني پوهان وايي چه رګ د ستايني او حمد و ثنا معناوي لري، او دا کلمه په سنسکريت کي هم په دغه معنا ده، مګر که موږ دقيق سو داسي تحليل کيږي:

ګ،ج، چ او بيا ش ټول تالوئيز حروف دي يو له بله سره اوړي، هغه ريج rij چه البيروني راوړي دي، يقيناً د رګ rig معروف ډول دي، په سنسکريت کي ريج riju سم اوسيده او دغسي هم په ښو اخلاقو ستايلي او د ښو خويو څښتن ته وايي ريچا richa د ويدي روحانيونو يوه مخصوصه ډله وه، او ريشي rishi يا rikhi د آريائي اقوامو روحاني مشران وه، چه پر څو ډلي ويشلي کيده لکه مهاريشي، ډويا ريشي، راجا ريشي او دغسي هم رګهـ raghu د هند د يوه مشهور شاعر کاليداس د يوه شعر نوم دي.[2]

که موږ وګورو دا ټول نومونه نژديوالي او ربط سره لري (رج،رچ، رش،رګ) ټوله له يوې کورنۍ څخه دي، او دا ټول د ريشي rishi کلمې ته منسوبيږي، ريشي په پخوانيو آريائي اقوامو کي د مشر او بادار او رهنما او شاعر او

---

[1] کتاب الهند، ج ۱ ص ۱٦٧.

[2] هندوستاني قاموس، ص ٤٢٧، ٤٣١، ٤٣٤.

روحاني مقام درلود، او د ويدو برخي هم دغو ريشي گانو ته منسوبي دي، مثلاً يوه برخه د يوه ريشي په نامه ده، او بله د بل. او هندوان دا عقيده لري، چه دغو ريشي گانو ته د ويدو د مضامينو الهام کيدئ، او د دغو روحانينو له ارباب انواعو سره ټينگه رابطه درلوده. په ويدو کي د ډيرو ريشوگانو نومونه هم راغلي دي، او داسي ښکاري چه هر قوم به ځانته ريشي درلود[1] او هر ريشي د خپل قوم رهنما، روحاني، شاعر، خطيب بلل کيدي، او هر وخت به ئې خپل قوم ته د قربانيو او عباداتو د وختو دعاوي او سندري نظم کولې. د حمد او ثنا مضامين به ئې په شعر کي ويل، دا سندري او دعاوي چه سره ټولي شوې، نو د ويدا کتاب ځيني ترتيب شو، او هره برخه ئې د هغه ريشي په نامه وبلله شوه، چه هغه دغه سندري او دعاوي نظم کړي وې، يا دا چه د آريائيانو په عقيده ده ته ئې الهام شوي ؤ. نو ريشي هغه رج rij يا رگ ته منسوب دي چه معنا ئې ده ستايونکي، ثنا گوي، شاعر د ښو اخلاقو څښتن. نو ريگ ويدا، رج ويدا داگرده له يوې ريښې څخه را وتلي شيان دي، او معنا ئې ده د ستايني، د حمد او ثنا او د ښو اخلاقو او سموالي پوهنه.[2]

اوس به نو راسو پښتو ته: زموږ په ژبه کي داسي کلمې سته چه تر اوسه هم ژوندئ دي، او د دغي کلمي سره ښکاره خپلوي لري: لومړئ کلمه ده "رشه" يعني خلق او ارثي سجبه مثلاً وايي: دغه ئې د پلار او نيکه رشه ده، يعني د پلار او نيکه خلق او سجيه ئې دغه ده؛ دوهمه کلمه "رشا" ده، دا د هغه چا صفت کيداي شي چه قولاً او عملاً معتمد وي، او ويسا پر کيداي شي، مثلاً زلمي خان ډير ريشا سړی دي يعني معتمد مطلق دي، او د ښه خلق خاوند دي، په دې ډول له ريشي څخه ريشا يو صفت جوړ شوی دي، دريمه کلمه "وراشه" ده چه د خبري او وينا معنا لري، وراشه ئې نده زده، د هغه چا حال بيانوي، چه نه ژبه لري، نه وينا. حميد مومند وائي:

خندا وه په عاشقئ راپوري خلق   چه خندل مي د پندگويو په ورشو

معلوميږي چه نامعقولي او بدي خبري ته وراشه نه وايي بلکه ښيې وينا او دگټي خبري ته وراشه ويله کيږي په دې ډول سړي ويلاي سي چه د ريشي آريائي کلمه له پښتو رشه، رشا، وراشه سره ډير نژديوالي او خپلوي لري، ښائي چه کوم معنوي تحول ور پيښ شوي وي، مگر د دغه سره هم ډير بيلتون نه سره لري، د رشي خاوند ريشاوي او وراشه هم لري، د ورشې خاوند تل د رشي څښتن او ريشا سړي دي، دا ټول سره لازم او ملزيوم دي، د آريائي ريشي کلمې په طبيعت کي هم دغه ټول صفات پراته دي، هر ريشي د ښه خلق خاوند، او معتمد او د ښې وينا خاوند و، د ويد سندري د ده الهامات وه، او هغه به ئې لوستلې، نو هر ريشي شاعر هم و، يعني "وراشه وال" و، او په دې ډول د دغه پخوانئ او تاريخي کلمې ريښې په پښتو کي تر اوسه سته.

او ريکويد Rig Veda چه رجويد هم ضبط شوي او رج، رچ او رش هم کيداي سي، ريښه ئې دغه رشي rishi ته را رسيږي او معنا ئې داسي کولاي سو: منظوم ويدا، د ريشي ويدا، د ښو خويونو او ښې وراشې علم.

---

[1] د ويدو تعليم ص ۸ - ويدک انډيا ص ۷۰.

[2] تاريخ افغانستان، ج ۱ ص ٦٢.

سمهیتا Samhita

پوهانو د دې کلمې معنا مجموعه collection راوړې ده، پخپله د ویدا څلور کتابونه چه دمخه ذکر شول، د مقدس علم څلور مجموعې ګڼل شوي دي او هره یوه سمهیتا بلله کیږي[1] مثلاً ریګویدا سمهیتا، ساما ویدا سمهیتا او نور، الماني مستشرق ونټرنیټس M. Winternits اصلاً ویدي ادب پر درو برخو ویشي. یوه مهمه او لومړني برخه ئې سمهیتا بولي، چه ټول د ویدو متون پکي داخل دي[2] په پښتو کي تر اوسه دغه کلمه کټ مټ نژدې دغي معنا ته سته سمته samatah یعني مجموع او ټول او کافي او په ښه اندازه: مثلاً وني ښه سمته میوه کړیده یا ډوډۍ ئې وخوړه، خو ښه سمته ځني پاته سوه، پلاني ډیري پیسې لري، خو سمته ئې څلویښت زره کیږي.

نو دغه د پښتو سمته کټ مټ د ویدي ژبي سمهیتا دی (ی) او (الف) چه حروف علت دي هر وخت حذفیږي، یا زیاتي کیږي، یا د حرکاتو کار ورکوي. په دې لنډۍ کي دا تاریخي کلمه ساتلې شویده:

د غم د برخو په ویش راغلم سمت سمت غمونه زما په برخه شونه

یعني کافي او مجموعه غمونه د برخو په ویش کي زما حصه شوه.

شرتي، سروتي Cruti

دمخه مو وویل چه د ویدي سندرو یوه برخه یعني متون او څلور سمهیتا، سروتي یا شرتي بولي، او دا عقیده لري چه دغه سندري الهامي وې.[3]

دا پخواني کلمې هم د پښتو پر اصولو تحلیل کیداي سي، د (س،ش،ښ) ابدال یو طبیعي کار دي، سرتي، سروتي د یوې کلمې انواع او مختلف صور دي، په شرتي کي واو تخفیفاً حذف شوي دي، دا کلمه د پښتو (ښه راوتې) ده، الف چه حرف علت دي او په فیلالوژي کي کوم قیمت نلري، له منځه تللي دي نو که باقي حروف یو ځاي ولیکو، طبعاً (ښروتي) کیږي، ښروتي لمړي شروتي بیا شرتي او سروتي شویدي، ښه راوتې، یعني په ښه ډول راغلې او الهام شوې چه هغه الهامي معنا لري.

---

[1] بریتانیکا، ج۱۹ ص ۹۵۷ - کمبرج هستري آف اندیا، ج ۱ ص ۷۷.

[2] د هند د ادبیاتو تاریخ، ج۱.

[3] د دې کلمې نوره څیړنه د اجتماعي تشکیلاتو په بحث کي د سمتي تر کلمې لاندي راځي.

سمرتي Smriti

د دې کلمې شرح هم دمخه تیره شوه، د ویدو هغه برخي چه الهامي ندي، سمرتي بولي. دا هغه د وید ملحقات او شروح دي، چه د روایت او تحدیث په ډول یو له بله نقل شوي، او مغنن راغلي دي. د دې کلمې اصل غالباً له دغه پښتو شمیر، او پاړسو شمار، شمردن سره شریک دي. په پښتو وایي شمیرلي یا شمرلي چه په پاړسوکي شمرده دئ.

د س،ش ابدال عمومي دي ت، ل دواړه د نژدې مخرج حروف دي. ابدال ئې روا دي، او ښائي چه دلته بالواسطه وي، یعني شمیرلي لومړي وار سمردی او بیا دال په (ت) بدل شوي وي سمرتي.

د مثال په ډول دا کلمې وګوري د لام او دال ابدال سل=سد، لس=دس، (ده هندي) لیونی=دیوانه، بیا نو (د) ابدال په (ت) لکه زیاد=زیات، آباد=آبات، شهد=شات.

سیند Sind

دا کلمه هم ډیره تاریخي ده، او بیخي زړه، په ریګویدا کي، سپته سندهو Sapta Sindhu مکرراً راځي، یعني اوه روده چه دغه نوم په اوستا کي کټ مټ دغسي هپته هندو Hapta Hindu ذکر کیږي په دې علاقه کي چه اوه روده بهیده، یوه حصه ئې اوسني پنجاب دي، چه پنځه روده پکي بهیږي.[1]

دغسي هم سندهو په ویدي سندروکي صرف د رود په معنا هم دي، ځکه چه هر وخت د اوستا په ژبه کي د ویدي ژبي (س) په (هـ) تبدیل کیږي، نو د هند نوم هم له سیندهو څخه جوړ شوی دي.[2]

پخوانو آریائیانو د انډوس رود هم سندهو باله، او مطلق هر رود ئې هم په دغه نامه باله. او داسي معلومیږي چه دوي په لوی دریاب (بحر) خبر نه وه دا کلمه ئې پر هر رود اطلاق کوله.[3]

په اتهروا ویدا کي هم دا کلمه په دغو دواړو معناو راغلې ده، کله مطلق رود ته وائي، او کله انډوس Indus ته سندهو ویل شوی دي.[4] د اوستا لومړي فرګرد، د هغه عصر د شپاړسو مشهورو مځکو او هوادو نومونه بیانوي. پنځلسمه مشهوره مځکه ئې هپته هندو Hapta Hindu ده، چه دغه نوم په زړه پاړسوکي هندوا Hindava راغلي، او هغه سندهو په هندو ابدال شوی دي، د اوستا په لومړئ فرګرد په ۱۹ فقره کي وایي: "له ښو مځکو څخه بنځلسمه چه خالق پیدا کړې ده، هپته هندو (اوه روده) دي..."[5]

---

[1] تاریخ افغانستان، ج ۱ ص ۷٤ - ویدک انډیا، ص ٦٧.

[2] مدنیت بخش هند، ص ۳۸ - ایران، ص ۲۰.

[3] کمبرج هستري، ص ۸۰.

[4] اتهروا ویدا، ص ۱۲-٤۰+٦۲+۱۰۷.

[5] اوستا، ج۱ ص۹.

دا نوم په ویدي اصطلاح (سندهو) په پښتو کي تر اوسه هم مستعمل او ژوندی دي (سیند) یا یې مخفف (سین) دواړه اوس په هغو دواړو معناو چه په ویدا کي وې مستعمل دي مثلاً په عمومي معنا د کابل سیند، د کنړ سیند ویل کیږي، او په مخصوصه معنا (سیند) یا (اباسین) انډوس ته ویل کیږي، خوشحال خان وایي:

که مو یو ځل رسد وسي تر سنده   بیا دي نه وینم په تورو ستروګو هنده

دلته مقصد فقط انډوس دي یا لکه دا لنډۍ:

اباسین بیا په ځپو راغي   په سر ئې راوړه سپیني خولې ژړ پیزوانونه

یا په عمومي معنا، لکه د خوشحال خان دا بیت:

که ئې درست په سیند کي ډوب کړې هم به سیځې   چه سیځل ئې په نصیب شوله روزګاره

په دې ډول سیند او سین د پښتو مستعمل او ژوندي لغت دي، چه په ویدي ژبه کي هم ؤ او ښائي چه له اصلي آریائي ژبي څخه دواړو ژبو ته راغلي وي.

سوما، هوما Soma, Haoma

دا د یوه بوټي نوم دي، چه په ویدي ژبه ئې سوما بولي، اما لکه په اوستا کي چه د ویدي ژبي (س) په (هـ) ابدال کیږي، نو په اوستا کي هوما راغلی دي. دا بوټي هغه وخت آریائیانو مقدس ګاڼه، چه دوي لا په بخدي کي سره یو ځاي وه، او پر هند او ایراني ځانګو نه وه ویشل شوي، دوي به پخپلو مذهبي مراسمو کي د دې بوټي شیره چیښل، او یو راز مشروب به ئې ځني تیاراوه، چه نشه ئې درلوده او ډیر مقوي او تود و.

د دې بوټي نوم له قدیمه تر اوسه ډیر مشهور دي، او په عربي ئې "هوم المجوس" بولي او شرح ئې داسي لیکي: یو بوټي دي یاسمین ته ورته لږ څه شیریني او حدت لري، هوم المجوس ئې له دې جهته بولي چه آتش پرستان ئې د خپل عبادت پر وخت استعمالوي.[1] علامهٔ البیرونو د دې بوټي شرح هسي لیکي:

هوم المجوس په سندي ژبه ئې خوم، او په سریاني ئې عرزا و مغوشي او په پاړسي ئې آفتاب پرست بولي، مجوسیان (د زردشت تبعه) وایي، چه دا بوټي ساق نلري او په آذربایجان کي شین کیدي او چا نسواي موندلاي، ځکه چه مارانو به تل د مرغانو چیچیان خوړل نو یوه پاچا د دې بوټي ښاخله راوړه، او د مرغانو په ځالیو کي ئې ګنبیښووه او ماران ئې په وبیرول وروسته دا ښاخله د ځالیو په ونه پوري ونښته او ډیره شوه.[2] په شرقي طب کي هم دا بوټي ډیر مشهور و، حکیم محمد حسین دهلوي ئې شرح داسي لیکي: هوم المجوس د لومړي حرف په پیښ، او د واو په سکون، دا بوټي مراتیه هم بولي ، لاندي ساق ئې یو او نري او کلک وي، ګل ئې تیره ژړ دي یاسمین ته ورته، بلګونه ئې کوچني او ګلان ئې لکه یاسمین داسي وي، د تحفې لیکونکي وایي چه دا بوټي د ژړ ارغوان

[1] المنجمد ص ٦٨٧.
[2] د البیروني الصیدله، ص ١٤١.

له جنسه څخه دي، حکيم مير عبدالحميد وايي: چه هوم المجوس يو گل دي، چه جعفري ئې بولي ډير اقسام لري، طبيعت ئې په دريمه درجه تود او وچ دي، ځني ئې گلان د ساړه او وچ طبيعت لرونکي گڼي، خواص ئې دا دي: جالي حاد مخفف، د سنگ مثانې لپاره ئې د گلو خيسانده مفيده ده گل ئې د تپ د وينو د بندولو لپاره مستعمليږي...[1]

د اروپا نوي پلټونکي هم د دې بوټي ډير تفاصيل ليکي، د دوي د تحقيقاتو لنډيز او نتيجه لاندي راوړله کيږي، چه د هوما په خصوص کي لږ څه د نوي دنيا د پوهانو افکار هم دلته ښکاره سي، مادام راگوزن ليکي: د سوما بوټي په لوړو غرو کي پيدا کيده. د دې بوټي پرستش په آريائي اقوامو کي تر بيلتون دمخه شروع سوي و، دوي لمړی د دې بوټي څخه مشروب جوړاوه وروسته پخپله د يوه رب النوع په ډول ومنل سو. او هغه چا چه دا بوټي مقدس نه گاڼه آريائيانو په سپکه ورته کاته، د سوما سوداگران او خرڅونکي ئې مجرمان گڼل، او هغه څوک چه سوما وساتي، او شيره ئې ونه کاږي، دوي دشمنان بلل، دا خلق د غرو پونده سوداگران وه، چه سوما ئې له غرو څخه وړه، او خرڅوله به ئې او په يوه خاص ډول به ئې د هند له آريائيانو څخه قيمت اخيست، هغو به تل داسي غوبي چه رنگ ئې تک ژړ (فاقع) ؤ په ښه ډول ساتل او دغه غوبي به ئې د سوما د بوټي په عوض کي ورکول داسي ښکاري: چه د سوما بوټي شيدې يا شيره درلوده، ښاخونه ئې کلک وه، پر ښاخلو باندي بلگونه نه وه، رنگ ئې سور يا طلائي و. نارونه ئې د دباندي خوا لکه د نل بند بند ؤ، له دغه څخه تروه اوگاڼه شيره په نښتيځلو وته، او له دغه سره به ئې ځيني نور اجزا گډول، او د عبادت د وخت لپاره به ئې مشروب ځيني جوړاوه، ونډشمان Windischmann وائي: چه دا بوټي به د سپوږمۍ په شپو کي پيغلو او نجونو ټولول، په يوه گاډي کي چه دوو مږو به چلوله، د قربانۍ تر ځايه وړل کيده، وروسته به روحانيونو اوستانو، يوه ښاخه لاندي او بله ډبره باندي کړه، دغه بوټي به ئې کوټل، او په لاسي اونگ کي ميده کول، بيا به ئې تر پشمي ټوکر صافول، په دغه شيره کي به وروسته شيدې يا اوړه ورسره اچول او تخمير کول به ئې، دا مشروب دوي په ډير شوق چيښه، او د ژوندانه ساتونکي او د جاوداني عمر بخښونکي ئې گاڼه د ريگويدا شاعران ئې ډير صفت کوي: مثلاً په ريگويدا کي راځي: موږ سوما وچښل، نه مړه کيږو، په رڼا کي ننوتو، دښمن په موږ څه کولای سي؟ د فاني انسان رخه به په موږ څه وکړي؟

د سوما مشروب دوي د اسماني سوما (سپوږمۍ) يو څاڅکي يا شبنم گاڼه چه د تل ژوندانه (امرت) حامل وي او ټول قوت او طاقت هم پکښې پروت دي.[2] د سوما اهميت او منزلت له دې څخه ښکاره کيږي، چه (اندرا) د جنگ رب النوع له دې مشروبه سره ډيره علاقه لري او د قوت او غښتلوالي لپاره ئې ډير خوري او د اندرا ټول جنگي قوت هم له دې څخه دي او بل دا چه د ريگويدا نهمه برخه ټوله د سوما په ستاينه ډکه ده، او د اوستا يوه برخه هم "هوم يشت" نوميږي او د دغو دوو پخوانو کتابو مهمي برخي د سوما=هوما ستاينه کوي.

[1] مخزن الادويه، ج ۲، ص ۲۷٤.
[2] ويدک انډيا، ص ۱۱۵.

وايي چه لومړۍ پلا يوه ساماني ګربت (عقاب) چه سينا Cyena ئې نوم و د هريتي بريزا Haratibareza له غره څخه دا بوټي راوړ، او د يوپائيري سينا Upairisaena (هندوکش) سيترا Staera (تيرا) کوسرادا Kusrada (د غور کوراسون غر) پورانا Paurrana (پروان) سپي تاګونا ګيري Spiya-Gaona Gairi (سپين غر) پر غرو ئې خپور کړ.[1]

د هوم يشت له دغه بيانه ښکاري، چه د دې بوټي د شنه کيدو او د دوي ځاي د افغانستان مشهور غرونه وه، تر اوستا دمخه په اتهروا ويدا کي هم د سوما بوټي د شنه ګيدو ځاي د منجوان Mangoavan غر ښودل شوي دي، او دا هغه غر دي چه اوس ئې منجانن بولي، د نورستان او بدخشان تر منځ واقع دي، او د جرم دره پکښې ده، د اتهروا ويدا (منجوان) او سوسني منجان تر منځ فقط د واو د حذف فرق دي واو خو حرف علت دي، او هيڅ قيمت نلري.

په اتهروا ويدا کي د يوه قوم ذکر راغلي دي، چه موجاوان Mujavans يا موحاوانت Mujavants نوميږي، دا قبيله د بهليکا سره يو ځاي ذکر شوې ده چه مقصد ئې هغه د بلخ خلق دي. ګريفت وايي چه موجاوان يوه قبيله ده، چه د هند په شمالي غربي خوا کي اوسيده.[2]

ماکډونل وائي: چه دا قبيله د ګنداری قبيلی سره ګاونډۍ وه ځکه چه ګنداريان د کابل او پيښور تر منځ ميشته وه نو به د دوي په شمالي خوا يعني د لغمان او نورستان به شا او خوا کي منجوان اوسيدل.[3] چه د اتهروا ويدا په قول د بلخ له خلقو سره هم دا قبيله نزدې ده.

مورګينسټرن G. Morgensterne ناروېژي مستشرق هم دغه منجان هغه تاريخي منجوان بولي او د شرقي پوهنو په کتاب کي مفصلاً شرح ليکي[4] له دغو ټولو توضيحاتو څخه ښه څرګنديږي ، چه هوما يا سوما اصلي ځاي زموږ د هيواد جګ جګ غرونه وه، او دا بوټي د دغه ځاي و، د سوما د بوټي په تشخيص کي هم نوو پوهانو راز راز نظريې ښکاره کړي دي، مثلاً ګريفت د يوې مجلې په حواله چه Quarterly Review[5] نوميږي هسي ليکي:

چه ډوکتور ايچيشن Aitchison وايي ښائي چه سوما د افډرا پاچيکلاد Ephedra pachyclada بوټي وي، چه د هريرود په ورشوګانو کي تر اوسه هم hum يا هومه huma يا ايهمه yahma بولي، دوکتور جوزف بورنمولر

---

[1] هوم يشت ۱۰-۱۱ - د افغانستان تاريخ، ج ۱، ص ۱۵۲.

[2] اتهروا ويدا، ج ۱ ص ۲۲٤.

[3] د هندوستاني ادبياتو تاريخ ص ۱۵۳.

[4] تاريخ افغانستان، ج۱ ص ۱۵٤.

[5] ۳۵٤ ګڼه ۱۸۹٤ ع، ص ٤۵۵.

Bornmuller چه په کرمان کي ډير عمر اوسيدي سوما د افډرا يوه نوعه گڼي او وايي چه له سائبيريا څخه بيا د ايشيا تر غربه د افډرا ډير انواع موندل کيږي[1].

سر اوريل ستاين انگليسي مورخ او مستشرق هم دغه شرح مني، دی ليکي: چه دکتو ايچيشن د افغانستان د سرحداتو د تحديد د ډلي عضو و، ده له بلوچستانه تر هري روده په ډبرينو مځکو کي دا بوټي موندلي دي (چه هوم بندک) hombandak ئې هم باله، پخپله اورل ستين وايي چه په ۱۹۱۵ ع کال ما هم د ايران او افغانستان په سرحداتوت کي دغه بوټي وليد چه خلقو هوم باله او افډرا هغه تاريخي هوما دي چه په ويدا او اوستا کي ئې ذکر راغلي دي.[2]

په دې ډول هوما يا سوما دغه بوټی دي، چه په علمي ژبه افډرا بولي، او آريائيانو به شيدې او شات ورسره گډوله، او مشروب به ئې ځيني جوړاوه. اوس به وگورو چه په پښتو د دې تاريخي بوټي نوم څه دي؟

دمخه مو وويل چه د سنسکريت (س) تل په اوستا کي په (هـ) اوړي، نو سوما هوما شو، تر ميم وروسته الف فقط د ميم د زور ښکاره کولو لپاره ليکل کيږي ځکه چه په پښتو کي د زورکار (هـ) هم ورکوي، نو بايد په پښتو رسم الخط دا کلمه هومه وليکو. (هـ) هر وخت پښتانه په همزه اړوي، مثلاً هگۍ، اگۍ بولي، هلک ته الک وايي. د هومه لومړی حرف که په همزه واړول سي (اومه) به شي.

پښتانه يوه بوټي ته اومه (په مجهول واو) وايي، چه په غرو او ډبرينو مځکو کي شين کيږي، دا بوټي نر او ښځه اقسام لري، په هندوکش او سپين غره او د تيراه او د مهمند په غروکي دا بوټي ډير دي، په قندهارکي اومان بولي، جنوبي وال ئې هم اومه يا ماوه بولي، د پاړسو په اصطلاح (بندک) دي. په نورستان کي هم دا بوټي تر اوسه سوم بولي.[3]

د دې بوټي ايرې خلق د خولې په نسوارو او باروتو گډوي، ښاخلي ئې بلگونه نلري، نيم گز قدر لوئيږي، بند بند وي، يو راز ثمر لري، چه مات ئې کي شيدې ځني راوزي ځني خلق ئې ايرې د کشتې په نسخو کي هم استعمالوي، وگوري: هغه پخواني آريائي نوم کټ مټ په پښتو کي ژوندي دي، او اوس هم ويل کيږي او له دې څخه د پښتو ربط له ويدي ژبي سره په ښه ډول ثابتيږي، هغه د هوم نوم چه خارجي پوهانو د ايران او افغانستان په سرحداتو کي اوريدلي دي کټ مټ دغه پښتو نوم دي، چه عوام ئې اومه تلفظ کوي.

[1] د اتهروا ويدا حواشي، ج ۱ ص ۲۵۲.

[2] د هندوستاني ادبياتو تاريخ ص ۱۵۳.

[3] د يعقوب حسن خان فقه اللغه، ص ۲۷۰.

چهند Chhandas

دا کلمه په ويدي ادب او ويدي ژبه کي ډېر اهميت او شهرت لري، په پښتو کي خو اوس مستعمله نده، مګر په زاړه ادب کي ژوندۍ وه، او په غزنوي او غوري دورو کي لا هم مستعمله وه! دلته به لومړی د دې لغت تاريخي اهميت ښکاره کو، بيا به ئې په پښتو کي در وښيو.

دمخه مو د ويدو د ملحقاتو او زمانو په بحث کي ولوستل چه چهند په ويدي اصطلاح عروضي اصولو ته وائي، او د ماکس ميولر په قول د ويدي ادب خورا زړه برخه چه په ۱۲۰۰ تر ۱۰۰۰ ق.م اړه لري چهندس بلل کيږي. يعني عروضيات. د ويدا په ملحقاتو کي هم څو کتابونه په دغه علم اړه لري هغه وخت چه پاڼيني نومي مشهور ويدي عالم او ژب پوهاند د سنسکريت ژبه ترتيب کړه د ريګويدا ژبه ئې چهندس وبلله يعني د نظم او عروضو ژبه يا د ويدي شعر ژبه، ټي وي آر ډاويډس T.W.R. Davids د بودائي ادب پروفيسر وايي چه د چهندس اصطلاح په بودائي دوره کي هم وه اکثر بودائي ادبي کتب او آثار په چهندس ډول ليکل شوي دي هغه ډول ژبه چه برهمانا۔ او۔ پنشدا د ويدا ملحقات په ليکل شوي وه د ګرامر پوهانو چهندسه Chhandasa بلله يعني د چهندس ژبه يا د ويدي شعر ژبه. بودا هم خپله وينا word په دغه چهندس ليکلې وه خو هر چا به په خپله ژبه ويله.[1]

په حقيقت کي چهندس د اداء او تلفظ او وينا هغه اصول وه چه د ويدا کتابونه په ليکل شوي وه دا يو راز نظم و، وروسته داسي منظومه وينا د ويدا په تعقيب او پيروۍ رواج شوه او دغه ډول وينا ئې چهندس وبلله ځکه چه اصل او اساس ئې پر نظم ايښود شوي و، نو د هر نظم او شعر اصولو يعني عروضو ته ئې هم چهندس وويل او دا اصطلاح وروسته پر هر عروضي شاعر باندي اطلاق کيده لکه دمخه چه مو ولوستل په ويدي شپږو علومو کي چهندس ډېر مهم علم و، د ويدو د نظم او تلفيق ټول اصول پکښي بيانيدل دا علم د وينا او فصاحت معيار و، هغه وخت چه پنګل Pingale خپل کتاب چهنده سترا Chhandahsutra وکيښ د عروضو اصول ئې پکښي څرګند کړل وروسته د ويدا په ډېرو شرحو کي د دې علم بيان وشو. د پنګل د کتاب شرح هلايودهه Halayudha نومي عالم د مرتيا سنجي وني Marita Sanjivani په نامه وکښله او په سنسکريت کي هم دغه اصول وروسته تعقيب کړل شوه.[2]

علامهٔ ابو ريحان البيروني پخپل کتاب الهند کي د دې علم شرح مفصلاً ليکي ده چه دلته ئې لنډيز راوړم له دې څخه به په اسلامي دوره کي هم د چهند اهميت در معلوم شي تر نحو وروسته چند (چهند) مهم علم دي، چه د شعر د وزن او نظم اصول (عروض) بيانوي. هندوان دا علم خورا ضروري ګڼي ځکه چه د دوي اکثر کتابونه نظم دي او د دوي د خپلو منظوماتو ډېره ستاينه کوي، او خورا ډېر ئې لولي، په لوستلو ئې خوښي او چکچکي کوئ، که څه هم تر نظم نثر ډېر آسان دي، خو بيا هم دوي کروټ نثر نه خوښوي.

[1] کمبرج هستري آف انديا، ج ۱ ص ۱۸۶.
[2] برطانيکا ، ج ۱۹ ص ۹۷۰.

د هندوانو کتب اکثر نظم دي، او هم له دغه جهته ئې د علومو زده کړه گرانه ده ما د اقلیدس او مجسطي کتب دوي ته ترجمه کړل، او د اصطراب فن مي د دوي په ژبه ورته ولیکي. دوي له هغونو شتو څخه نظم جوړ کړ او ځکه چه په نظم کي توضیح نه وي، نو ئې دا کار ډیر ځانته گران کړ!

د چهند فن لومړیَ پلا پنگل او چلت نومو پوهانو ایجاد کړ، او کتابونه ئې پکښي وکښل تر ټولو مشهور کتاب ئې گیست دي، چه د څپل مصنف په نامه مشهور شوي دي. د مرگلانچن او پنگل او اولیاند کتابونه هم معروف دي.[1]

دا و د چهند د کملې تاریخ چه وروسته په سنسکریت کي عموماً د اشعارو معیار او علم العروض ته هم چهند ویل کیده، او دا کلمه د دغي ژبي معروف لغت سو.[2] په پښتو کي اوس دا کلمه مستعمله نده، خو په زاړه ادب کي موجوده وه، ښکارندوي غوري د سلطان شهاب الدین غوري (٥٦٩-٦٠٢) معاصر پخپله یوه قصیده کي هسي وايي:

په بربڼ چه ږغ د چونیو نغوریده سي   ته وا چندي سره پیودي اشلوکونه[3]

چندي دلته د شاعر او ناظم معنا لري، د پټي خزانې په قلمي نسخه کي هم دې کلمې ته د شاعر معنا کښلې شوې ده، او له دې څخه څرگندیږي چه هغه پخوانی چهند ته منسوب نوم دي (هـ) چه په دې کلمه کي وه، وروسته هیسته شوې ده او داسي ډول (هـ) له اکثرو کلماتو څخه لویږي، ځکه چه صوتي حرف دي او د پښتو په صایتو حروفو (علتو) کي هم شامل دي.

د دې کلمې دا معنا له موقع څخه هم معلومیږي، پیودل په پښتو نظم کولو ته وايي، اشلوک هم قدیمه آریائي کلمه ده، شرح به ئې وروسته راسي.

اشلوک ashlok یا ishlok

دا کلمه په سنسکریت کي د شعر او نظم verse په معنا ده[4] او داسي معلومیږي چه اشلوک غندي اشعار په هندي آریائیانو کي ډیر وه، علامهٔ البروني لیکي چه اکثر هندوکتب اشلوک دئ او دا یو راز نظم دي چه (چارید) ئې بولي، او هر پد ئې اته حرفه وي، مگر په څلورو سروپډو کي دا اته حروف یو راز نه دي د څلورو پدو آخر حرف له یوه جنسه یعني دروند (ثقیل) وي. د اشلوک دا شرط دي چه د هر پد پنځم حرف به تل سپک (خفیف) او شپږم به ئې دروند (ثقیل) وي، اوم حرف به هم په هر دوهم او څلرم پد کي سپک او په نورو دوو یعني لومړي،

---

[1] کتاب الهند، ج ۱ ص۱۸۰-۱۸۱.
[2] هندوستاني قاموس، ص ٣٤٤.
[3] پټه خزانه، ص ٥١.
[4] هندوستاني قاموس، ص ٤٢.

او دریم پدکي به ثقیل وي، نور حروف چه هر راز وي پروا نلري. اشلوک د هندی کتابو بنیاد دي.[1]

په دې ډول داسي ښکاري چه د اشلوک په معنا کي تخصیص تر تعمیم وروسته راغلي دې، لومړی ئې مطلق نظم او پیودلي کلام ته (اشلوک) وایه، وروسته د نظم یو مخصوص ډول شو، او د سنسکریت په عروضو کي تر مخصوص قالب لاندي سو.

تاسي دمخه د چهند په بحث کي ولوستل چه دا کلمه د ښکارندوي په یوه قصیده کي راغلې ده، هلته په قلمي نسخه کي دې کلمې ته د (اشعار) معنا کښلې شوې ده، چه کټ مټ هغه قدیمه معنا ده. داسي معلومیږي چه دا کلمه تر ٦٠٠ هـ پوري په پښتو کي هم مستعمله او ژوندۍ وه، او له دې څخه چه په پښتو کي مستعمله وه دا ثابتیږي چه پخوانۍ آریائي کلمه ده، او پخپل اصلي ټک او هیواد کي ژوندۍ وه.

د سنسکریت نوم Sanskrit

تاسي دمخه هم ولوستل چه سنسکریت د تهذیب شوی، بشپړ شوی، او سمه شوې معنا لري، او په لنډ ډول مو د دغي ژبي تاریخي وده او نشونما هم دمخه زده کړه، اوس ئې لغوي تحلیل وگوري:

اصلاً دا نوم مرکب دي، لومړي جزو ئې (سم یا سن) دي دا لغت په دوه ډوله قدیم آریائي لفظ دي. په پښتو کي اوس هم (سم) د (راست، مستقیم، درست) په معنا سته، مثلاً سم لرگی، سمه لکړه، سمه لار، سم کار او نور ... دې کلمې پخوا نور مشتقات هم در لودل، چه اوس لږ مستعمل دي مثلاً سمي samay د اصطلاح او بهبود او ښیگړي په معنا لکه شیخ متي چه وائې:

په غرو کي ستا د عشق شپیلکۍ دي　　　　د دې نړي په عشق سمي دي[2]

یا سما sama د تنظیم او انصاف او عدل په معنا، لکه شیخ اسعد سوري چه وائي:

له سما وي ودان آهنگران و　　　　په ټیکنه ؤ په درست جهان او ښار[3]

دغسي هم اوس سمون او سمول او سمونگ او نور مواد له دغي ریښې څخه په پښتو کي مستعمل دي په سنسکریت کي هم سم sam او سن san دواړه لکه د لاتین con د پریفکس (یعني سوابقو) په ډول راځي، معنا ئې ده یو له بله سره، موافقت، نژدیوالي لکه سم بند sambandh یعني connection سره نښتل، اتصال. له دغي ریښی څخه ډیري کلمې را وتلي دي، لکه سما sama د موافقت او برابرۍ وضعیت، سمتوب، په معنا، او سماپت

[1] کتاب الهند، ج ١ ص ١٩٤.

[2] پټه خزانه ص ٢٧.

[3] پټه خزانه ص ٤٣.

samapt تكميل، تمامول، سمول، ترتيب او تهذيب كول.[۱] د سنسكريت لومړي جزو هم دغه سم يا سن دي، چه ريښه ئې قديمه آريائي ده او ښائي چه له اصلي آريائي ژبي څخه په پښتوكي تر اوسه پاته وي، او سنسكريت ته هم تللې وي، د ميم او نون سره اوښتل په پښتو كي اوس هم ډېر دي، مثلاً مښتل، نښتل، مښلي، نښلي، يا لګه لانده، لامده، لنده، لمده.

دوهم جزو ئې سه يا زه دي چه كټ مټ د پښتو ښه اوس موجود دي، په سنسكريت كي وائي سوډول sadaul يعني ښه ډول او ښه ځيره[۲] چه عيناً اوسنۍ پښتو ده تاسي دمخه ولوستل چه (س،ش،ښ) د يوه مخرج او سره نژدې حروف دي ابدال ئې هر وخت روا دي (واو) او (هـ) هم دواړه صوتي او د علت حروف دي په اوښتو كي كم قيمت نلري، ځكه چه د سنسكريت (س) هر وخت د اوستا په (هـ) اوړي، نو په اوستا كي دا كلمه (هو) ده.

د دې نامه درهم جزو (كريت) دي، چه معنا ئې (كرده شده) دي او دا هم د پښتو كړ ته ډېر نزدې دي، په سنسكريت كي كرن karan كټ مټ د پښتو كړن يا كړل يعني كول (وكردن) دي.[۳] نو د سنسكريت كلمه له (سم زه كرته) يعني (اصلاح كرده شده) څخه محرفه[٤] ده او دا كټ مټ د پښتو سم ښه كړي "يعني ښه سم كړې" عبارت دي چه د ژبي د تانيث له جهته بايد "ښه سمه كړې" وويله سي[۵] يعني به ښه ډول او ښكلي توب سمه كړې ژبه چه كټ مټ په دغو معناو "ښه سمه كړې، ښه آراسته كړې، ښه ترتيب او تنظيم كړي، ښه بشپړه كړي" د ژبو پوهانو هم ضبط كړيده.[٦]

او د كلمې له تحليل څخه پخپله د سنسكريت په نامه كي د پښتو ژبي اغيزه ښه ښكاري.

دسيو Dasyu

هغه وخت چه آريائي اقوام د افغانستان له غرو او ورشوو څخه د هند خواو ته شيوه شول او تر اباسين ور تير شول، دوي د هندوستان له اصلي بومي خلقو سره مخامخ شول او له دغو خلقو سره ئې جګړې او مقابلې وشوې، څو ورو ورو ئې هغه خلق مات كړل او مځكي ئې ځني وينوې. د هند بومي وګړي چه تور لينګي ئې بولو د تور پوست او پلنو پزو خاوندان وه، دغه خلق پخوانو آريائيانو دسيو، داس Dasyu يا Dasa بلل، چه معنا ئې دښمن، ميرڅمن، بيدين ده.

[۱] هندوستاني قاموس ص ٤٧٢.
[۲] هندوستاني قاموس ص ٤٨٣.
[۳] هندوستاني قاموس ص ٥٦٨.
[٤] فرهمک نظام ، ج ۲ ص ۸ ديباچه.
[۵] پښتو فقه اللغه، ص ۲٦۱.
[٦] هندوستاني قاموس، ص ٤٨٠.

دا کلمه په هند کي د آرین یعني نجیب او شریف په مقابل کي استعمالیده. آرین چه غنم رنګي انسانان وه، د "شریف" په نامه ئې ځانونه ستایل، او د هند تور لینګیان ئې "دسیو" یعني دښمنان او بد خلق او بې شرفه ګڼل، د ویدي عصر شاعرانو دوي پیت پزي او تور پوستي بللي دي، او دغه اقوام اوس په هند کي "دراویدي" بولي.

په ریګویدا کي د آریائیانو او دسیو د جګړو ډېر تفصیلات راغي، او هر کله دوي له خپلو ارباب انواعو څخه خپل بری پر دسیو باندي غواړي، اندرا چه د جنګ رب النوع دی، هر کله دسیو سره جګړې کوي.[1]

تر ویدا وروسته د ایران د داریوش په ډېر لیک کي هم د آریائي اقوامو په مقابل کي د دوي د مستملکاتو خلق په دې نامه بلل شویدي، او وروسته په هند کي د دې کلمې معنا لږ تغیر خوړلي (داس) تش د غلام او مریي او چوپړي په معنا پاته شوي دي.[2] ګییګر الماني وایي چه په اوستا کي دانو هغه دانوه یا د ریګ ویدا (دسیو) او وروستني (داس) دي، چه د آریائیانو دښمنان او رقباء وه، دانو چه په ۱۳ یشت ۳۷-۳۸ فقره او په ۵ یشت ۷۳-۷٤ فقره کي راغلي دي د ارباب انواعو دښمن او اندرا ئې سخت مخالف دي، د ګراسمن به ډکشنري کي هم دانو او داسه دواړه له یوې ریښې څخه را وتلي نومونه دي.[3]

د اوستا په ځینو برخو کي دژ یا دش Dush عموماً د بد او بابیز په معنا و، چه د ډېرو کلماتو په سر پوري دا کلمه نښته، د خورده اوستا په اور مزدیشت کي (دوش مینو) لیدل کیږي[4] چه دغه اوسني د پارسي ژبې (دشمن) هم له هغې زړې کلمې څخه جوړ شوي دي، تر پهلوي ژبې دمخه چه کمه ژبه ویله کیده په هغې کي (دشمیر) دشمن او معاند او ضد په معنا و[5] دغه (دش) د ډېرو پاړسو کلماتو په سر کي راغي لکه دشمن، دشنام، دشوار، دژخیم، دوزخ، دزد.

له دغو ټولو مطالعاتو څخه ښکاره شوه چه د ویدا دسیو، داس او بیا هم دانو او د اوستا دش مینو او بیا د پهلوي دشمبر له یوې ریښې څخه دي، او هم په سنسکریت کي دش dash کټ مټ هغه (داس) دي، چه د مریی او غلام اوکښته به معنا ؤ، او داش هم دغسي دي.[6]

اوس چه سړی وګوري د سنسکریت (دش) یا (دس) هغه د اوستا (دش) ګرد سره یو شی دي، او په پښتو کي هم دا ټول موجود دي، داسي د سین ابدال په شین خو پخپله په دغو کلمو کي سته او (ش) هم هر کله په (ښ) اوښتلاي سي نو په پښتو کي طبعاً (دش) اوړي (دښ) کیږي یو (ن) د پښتو د نسبت له اداتو څخه پوري ونښلوئ

[1] کمبرج هستري آف انډیا، ج ۱ ص ۸۵ - تاریخ افغانستان، ج ۱، ص ۱٦۸.
[2] د ویدیک انډیا ص ۲۱۸.
[3] د خاوري ایرانیانو تمدن، ج ۱ص ۱۰۳.
[4] د خورده اوستا فرهنګ، ص ٤۹۰.
[5] دساتیر آسماني ص ۲٤۵.
[6] هندوستاني ډکشنري، ص ۳۷۰-۳۸۸.

(دښن) به سي، لکه پم او پمن، خيره، خيرن، پخه، پخن، او نور. نو چه (دښ) د بد او بابيز او ضد په معنا و (دښن) هم دغو صفاتو ته منسوب کيږي، او د (ن) د ادات له خواصو څخه دا ده چه اکثر د عيوبو لپاره راځي.

د (دښن) کلمه په پښتو کي خورا عامه ده. او په پخواني ادب کي ښه ځاي لري، جمع ئې "دښنه" او "دښني" هم د دشمنۍ به معنا مستعملي کلمې دي، مثلاً سليمان ماکو وائي: پر دښن ئې يرغل وکاوه... سره ومړوړل ئې دښنه.[1]

ملکيار وائي: توري تيرې کړئ ... دښن مو پرې کړئ.

بابا هوتک وائي:

زلمو پر ننگ ځانونه مړه کړي   دښن په عشيو مو پيبه کړئ[2]

امير نصر لودي د پښتو خورا پخواني شاعر وائي:

زما دښنه هسي تورا کړي   يا توراني دښن چه وايي[3]

عبدالقادر خان خټک وايي:

خو عارف د چا په ښو شکر گزار دي   نه په بدو د دښنه لري گله

څلور ډلي Caste

هغه وخت چه آريائي اقوام په افغانستان کي اوسيدل، او د باختر او هندوکش په ورشوگانو کي پراته وه، دوي ځانته ځيني اداري او ملي تشکيلات درلودل، په مساوات ئې ژوندون کاوه، مگر چه دوي تر انهوس (اباسين) ور واوښتل او په هند کي خپاره شول، هند تر دوي پخوا د تور لينگي اقوامو او تور پوستانو ډک و، له هغه سره د دوي جگړې وې، او پخپله آريائيانو ځانونه سپين پوستي بلل، په ريگويدا کي دا فرق او امتياز ذکر شوی، او له تورو دسيو سره د سپينو آريائيانو مقابله داسي شوې ده:

د باد رب النوع (ماروت) پر دسيوگانو باندي حمله وکړه دوي ئې د تالندي په غړغړو سره تباه کړل د دوي ورشوگانې او پټي ئې سپين پوستو دوستانو ته ور وويشل.[4]

د دسيو او آرين د دغه تصادم او جگړو نتيجه وه چه د هند خلق په رنگ او پوست او کړه وړه کي سره بيل شول او پخواني ناآرين اقوام د تورلينگي او پيت پزي (پايسه يزي) او بې پزي په صفاتو په ويد کي ذکر شول، او

---

[1] پښتانه شعراء، ج ۱.

[2] پټه خزانه، ص ۱۱.

[3] پټه خزانه، ص ۷۱.

[4] ريگويدا، ج ق ص ۲۲.

آریائیانو دوي نجس او مردار خواره ګڼل.[۱]

هغه وخت چه آریائیان د هند په مځکو کي خپاره او غالب او بریالي شول نو دوي د هند خلق پر څلور ډلي وویشل پخپله آرین درې ډلي وه، څلورمه ډله هغه دسیوګان او تور لینګیان وه، چه ذکر شول. دې ویش ته په انګریزي کي کست caste وائي چه له پرتګالي کاستا یعني نژاد او نسل څخه ئې اخیستي دي، مګر په سنسکریت کي ورنه vorna یعني رنګ color بولي، ځکه چه دا تقسیم هم پر تور او سپین رنګ باندي شوي ؤ.[۲]

د رنګ او نسل ویش لومړي په آریائیانو کي نه ؤ د ویداد دورې په اواخرو کي پیدا شوي دي، ځکه چه په لومړیو ویدو کي د دې ویش کوم ذکر نسته، او نه ئې نومونه راغلي دي، فقط د لسم وید په ۹۰ برخه کي چه پرش Purush ئې بولي په افسانوي څېر د دغو څلورو ډلو د پیدا کیدو ډول ښودل شوي دي، مثلاً: "چه د پردوش بدن ئې تقسیم کړ، برهمن ئې له خولې څخه، راجنیا ئي له مټو څخه ویش ئې له ورنو څخه، او شدر ئې له پښو څخه پیدا شول".[۳]

په ویدا کي فقط دغوني د څلورو طبقو ذکر راغلي دي، زیاتي څه نسته، خو د هند آریائیانو د دغو څلورو ډلو امتیاز هسي وایي، چه خوله پر ټولو اعضاؤ باندي شرف او لوړتیا لري، نو برهمن چه له خولې څخه پیدا شوي دي، کار ئې ښوونه او پرمان روایي ده، هغه څوک چه له بازو او مټه پیدا شویدي، کار ئې جګړه، او ساتنه او قوت دي، کم خلک چه له ورنو څخه را وتلي دي، د دوي کار دا دي، چه د تمدن نظام ټینګ کړي، او وداني او کښت او زراعت د دوي وظیفه ده، مګر هغه چه له پښو څخه پیدا شوي دي کار ئې فقط چوپړ وهل او خدمت کول دي.[٤]

د څلورو فرقو د پیدا کیدو دغه افسانوي رنګ تر اوسه هم په هند کي موجود دي، لومړي ډله ځانونه ډیر شریف ګڼي او دا درې ډلي له شدر (دسیو) سره کورټ مخالفت نکوي، اچهوت یعني ناملموس ئې بولي.

د دغو څلورو فرقو له نورو خصوصیاتو سره دلته زموږ کار نسته، فقط دلته دا څلور نومونه چه د آریائیانو زاړه ژوندون سره اړه لري، د پښتو له پلوه تحلیل کوو، ځکه چه ځیني پوهان وایي چه دا څلور سره کلمې پښتو دي، او ریښې ئې په دغه ژبه کي سته، لاندي ئې شرح راځي.

برهمن Brahmana[٥]

لومړي ډله ده، چه روحاني او مقدسه ګڼل کیږي، او تر ټولو ډلو لوړه او پاکه ده، د دوي وظایف په جامعه کي

---

[۱] ویدِک انډیا ص ۲۲۰.

[۲] کمبرج هستري ص ۹۲ - د ویدو تعلیم ص ۱۲۳.

[۳] ویدک انډیا، ص ۲۱۷.

[٤] وید ـ پرش سکته ۱۰-۹۰.

[٥] منو شاستر.

مقدس او روحاني دي، د هند مشهور مقنن منو Manu بر برهمنانو وظايف هسي ټاکي: خداي برهمنانو ته دغه وظايف مقرر کړي دي د ويدو ويل او په نورو لوستل، ځان او نورو ته قرباني کول، خيرات ټولول او ورکول... برهمن چه وزيږي، د ټولو مخلوقاتو خاوند وي، او په دنيا کي تر ټولو معزز وي، د دين، د خزانو ساتونکي هم دي وي، برهمن د خپل حسب او نسب د لوړتيا لامله د هر څه مستحق دي که دی د لسو کالو وي او کشترې د سلو کالو، بيا هم پرکشتري د ده درناوي او عزت لازم دي.[1]

پوهان د برهمن ترجمه په (دعا کونکي يا نمانځونکي preist) کوي[2] او دا کلمه له (برمهه) څخه جوړه شوې ګڼي، برمهه د دعا او مقدسو سندرو په معنا و، چه وروسته ئې تحول وکړ، او يو مجرد جوهر او اعلي موجود شو، چه هر ځاي او په هر شي کي سته او بيا نو د يوه بيل رب النوع په مفهوم وپيژاند شو.[3]

په اوسنۍ پښتو کي کټ مټ دغه تاريخي آريائي کلمه سته، برم bram عظمت، جلال، لوړييا، حشمت ته وايي، د برم خاوند يعني د عظمت او لوړتيا خاوند له برمه ولويږي يعني له جلاله او عظمته پريوزي، پلاني په برم کي دي يعني د حشمت او جلال په حالت کي دي، خوشحال وائي:

که هندو که مسلمان د پت په کار کي　　　　چه مي وليدل د هيچا نشته برم

دلته برم bram د آزرم او نرم او چرم په قافيه کي راغلي دي، داسي معلوميږي چه د ختکو محاوره دغسي وي.

د برم اوسني معاني هغه تاريخي مفهوم ته نژدې دي لغات او کلمات د خپل تحول په دوره که دغسي تغيرونه کوي، مثلاً (برمه) ډير پخوا په ويدي عصر کي د نمانځني او دعا او ستايني معني درلودل، وروسته يو مجرد د تخليق جوهر، او بيا د لوي رب النوع نوم سو، په دغو ټولو معناؤ کي د جلال او عظمت او قوت او قدرت معاني پراته دي، چه اوس ئې په پښتو کي هم په دغو معناو مستعملوو.

له برمه څخه برهمن داسي جوړ شو، چه يو د نسبت ادات (من) چه اوس هم په پښتو کي سته، پاي ته پکښې زيات سو، برمهمن شو، يعني د جلال او عظمت او لورتيا خاوند، په کثرت استعمال (هـ) تر (ميم) دمخه شوه دوه ميمه سره يو ځاي شوه، په ټولو ژبو کي چه دوه حروفه سره يو ځاي شي، که ئې تلفظ دروند وي يو غورځوي لکه هډيره چه هډيره شوې ده، دلته هم يو ميم ولاړ، برهمن پاته شو اما د (من) د نسبتي ادات نور مثالونه زموږ په ژبه کي دا دي، خوړ ـ خوړمن، کړ ـ کړمن، درد ـ دردمن.

د برهمن معنا که دغه د پښتو (برم من) يعني د جلال او عظمت خاوند واخلو د دغي آريائي ډلي له مقامه سره هم مطابقت لري، ځکه چه دوي يقيناً د لوړتيا خاوندان وه او تر ټولو مخلوقاتو غوره او لوړ بلل کيده، د بشر خورا

---

[1] منو شاستر (١) برخه ٨٨-٩١ فقره ص ٤٦-٤٧.

[2] کمبرج هستري ص ٩٢.

[3] ويدک انډيا ص ١٩٩-٢٥٥.

ممتازه طبقه هم دوي وه، او نور ټول طبقات ئې هم خادمان ګڼل کیده.[١]

کشتري Kshtari

دوهمه طبقه ده، چه په ویدا کې راجنیا Rajanya او په وروستو کتابو کې کشتري او بیاچهتري ذکر شوې ده پخبله لومړي کلمه د شهزاده او سرباز او جنګي معنا لري.[٢]

په منو شاستر کې د کشتري Kshatriya په نامه یاده شوې ده، او دغه لوي مقنن ئې وظایف هسي تعیین کړي دي. کشتري ته حکم وشو چه د خلقو حفاظت وکړي، انعام او بخشش ورکړي، قرباني وکړي، وید ولولي، له شهوت پرستي څخه ځان وساتي.[٣]

دا طبقه تر برهمن وروسته دوهمه مقتدره ډله ده، چه پاچهان او مشران له دوي څخه وه، اهل اداره او د سیاست خاوندان هم دوي وه، عسکري امور، جنګي چارو په دوي اړه درلوده، دوي د برهمنانو د برم او عزت وسیله وه، او تر هغو وروسته ئې غټ غټ امتیازات درلودل، کشتري باید تل به جنګ کې ونه تښتي او خپل رعایا وساتي، او د برهمنانو احترام وکړي، دغه دري خبري د کشتري لپاره ضروري وې.[٤]

علامه البیروني وایي: چه د کشتر لپاره برم او بړبست ضروري دي، خلق باید له ده څخه وبیریږي دی ښائی چه بهادر، غښتلي، حوصله لرونکي، متین، زبور، ښندونکي وي، او لوړ لوړ کارونه په سواني اجرا کړي.[٥]

په دې ډول د کشتري وظایف اداري او عسکري وه، او نوم ئې هم کټ مټ دغه مقصد ښه را ښئي، او په پښتو کې ټینګې ریښې لري، بلکه سوچه پښتو دي، کشتري په پښتو کې له دوو کلمو څخه جوړیږي، لومړي جز ئې کش دي چه په پښتو (کښ) ورته وایو، کښل یعني (کشیدن، آختن) هم له دغې ریښې څخه متداول ژوندي مصدر دي د (کښ) په الحاق پښتو ډیري کلمې لري لکه زیارکښ، امبارکښ، ګورکښ، او کښ د آختن په معنا له توري او تیغ سره راځي مثلاً توره کښل، چاړه کښل، خوشحال خان وایي:

په درست جهان دي نه وي یو د ما غندي رسوا بل　　　　ورځم توره وکښلې چه مین واورم په تا بل

دوهم جز ئې (ترې) دي چه مفرد ئې (تره) ده، د لومړي حرف په ضمه، اوس موږ د (ت د ضمي د ښکاره کولو لپاره مفرد (توره) او جمع ئې (توري) لیکو، خو تلفظ ئې فقط د (ت) په ضمه دي او پخوانۍ املا ئې هم (تره، او تري) ده.

---

[١] تمدن هند، ص ٢١٥.

[٢] کمبرج هستري، ص ٩٢.

[٣] منو شاستر.

[٤] تمدن هند، ص ٢١٥ - ویډک انډیا، ص ٢١٢.

[٥] کتاب الهند، ج ا ص ١٣٠.

پخوا پښتو د عسکر د نامه لپاره له دغو دوو کلمو څخه کار اخیست، او لښکر او سپاهیان ئې د (کښتري) په اوسني املا (کښتوري) بلل یعني توري کښلي (شمشیر آختگان). دا کلمه د الفاظو په اړولو او مقلوب کولو (تور کښ) د عسکریت په معنا هم مستعمله وه، او کټ مټ ده هغه (گښتوري) مقلوبه ده.

د پښتو یو ډیر پخواني ادبي اثر (خیر البیان) دي، چه د زرم هجري کال په حدودو کې د پښتانه د فکر او فلسفې یوه نابغه بایزید روښان لیکلي دي، او قلمي نسخه ئې مشهور مستشرق سر دینسن راس پیدا کړې، او نارویژي خاور شناس مارگن سترن یوه مقاله د دغه کتاب په باب کې کښلې وه. په دغه مقاله کې له خیر البیانه څخه څو مخه په لاتیني حروفو چاپ شویدي، چه په یوه جمله کې دغه د (تور کښ) کلمه هم راغلې ده، او هغه دا ده: مشغول دي ډیر آدمیان په کرلو په بازرگاني باندي یا په پوند گلي، یا په تور کښ باندي، ځیني په نور نور چاري مشغولي کا آدمیان.[1]

دلته د خیر البیان لیکوال د انسانانو چاري او وظیفې (زراعت، تجارت، او عسکریت) ښئي، او عسکریت (تور کښ) بولي او داسي ښکاري چه دا کلمه تر زرم هجري کاله هم مستعمله وه، او زوړ شکل ئې هغه تاریخي کشتري دي.

ویسیا Vaicya

دا نوم په ویدا کې ویسیا، او په سنسکریت کې ویس Vais، ویسیه Vyasy ویشیا Vaishya راغلي دي او پسله کشتري دریمه طبقه ده.[2]

منو مقنن وایي: چه ویسیا باید غلې وساتي، انعام ورکي، قرباني وکړي، ویدا ولولي، تجارت وکړي، پور ورکړي. کرهڼه او زراعت هم د ده کار دي.[3]

د دې طبقې وظیفه په آریائیانو کې تجارت او زراعت او نور مدني او عمراني کارونه وه، غلې او گلې به دوي ساتلې، د کرهڼې اصول او د تخمو پیژندنه، د ښې مځکې او بدې مځکې بیلونه، د اجرت او مزدا اندازه، د رانیولو او خرڅولو دودونه، اوزان او اکیال پیژندل، دا ټول د ویسیا کار ؤ، پر ده لازمه وه چه د جواهراتو او غلو او فلزاتو او کالو او عطریاتو او نورو مسالو قیمت به ښه ور معلوم ؤ دغسي د ویسیا باید څو ژبې زده وي، او پخورا ایمانداري او او ویسا او اعتماد او زیار خپل کار وکړي، دا طبقه له محصولاتو او جنگي خدماتو څخه بالکل معاف وه، ټول عمراني خدمات دوي ته سپارل شوي وه.[4]

---

[1] د هند د آثار عتیقه مجله، ج ۱۱ ص ۵۷۰.

[2] هندوستاني قاموس ص ۷۷۹.

[3] منوشاستر (۱) برخه.

[4] تمدن هند، ص ۲۳٤-۲۳۲.

علامه البیروني دا نوم (یش) راوړي چه د (ویش) معرب دي، او وظایف ئې هم کټ مټ دغسي ښئي لکه لوړ چه ذکر شول[1] او له دغو ټولو څخه سړي ته ښه معلومیږي چه د ویسیا وظیفي او کارونه ټول داسي وه، چه په اعتماد او اعتبار او رښتي ئي اړه درلوده، پخپله منو مقنن د دوي په اجتماعي وظایفو کي اعتماد او باور او ویسا لوي او مهم شرط ګڼي[2] او که سړی ورته ځیر شي هم دغه مهم وظایف یعني تجارت او زراعت او مالداري بیله ویسا نه کیږي، او د ټولو اقتصادي کار او آره او سته هم پر اعتماد او ویسا ولاړه ده.

وګورئ ګټ مټ د دغي طبقې نوم هم (ویسا) دي، او هیڅ لیري نده، چه د پښتو (ویسا) او دغه (ویسیا) له یوې ریښې څخه وي!

ویسا په پښتو ادب کي ډیره مشهوره کلمه ده، معنا ئې اعتماد، باور او اعتبار ده، خوشحال خان وائي:

په دا ساه نشته ویسا　　　　هر دم ته وایه الله

یعني په نفس اعتبار او اعتماد نشته. بل ځاي وائي:

هر چه کټګان دي په صوبه کي د خدا　　　　څوک په بند دي څوک لاګرزي نا ویسا

یعني بې اعتبار او بی اعتماده ګرزي.

ښائي چه اصلي ویدي نوم له ویسا سره مشترک (ویسیا) ؤ، وروسته په دې نامه کي تغیر راغلي، ویشي، ویش سو په عربي (بیش) البیروني راوړي دي دغه (ویش او بیش) د عوامو په معنا هم په پښتو کي مستعمل و، ځکه چه دا دریمه طبقه عوام وه، او برهمن او کشتري له خواصو څخه ګڼل کیده.[3] خوشحال خان وائي:

زه خوشحال دي د بدۍ نیکي ګواهي لم　　　　د ښایست مخي دي نشته په خوي ویښئې

د بیت آخرۍ کلمه داسي ده (ویښ ئې) یعني په ښایست کي له خواصو او په خوي له عوامو څخه یې! له دې څخه هم معلومیږي لکه ویسا چه په پښتو ادب کي مستعمله او ژوندي کلمه وه، وروستني (ویش) هم مستعمل ؤ!

شودر Shudra

څلرمه ډله او تر ټولو کښته او ناملموسه ګڼله کیږي، لکه چه دمخه وویل شوه، دا ډله د هند بومي تور لینګیان وه، چه دسیو (دښمن) بلل کیده.

---

[1] کتاب الهند، ج۱ ص ۱۳۰.

[2] منوشاستر، ۹ باب ص ۳۲۶-۳۳۳.

[3] پخپله ویسا او ویش هم ځینو پوهانو د عامي او معمولي دړی په معنا راوړي دي. کیت Keith د اډنبرګ یونیورستي د سنسکریت پرفیسور ئې معنا commoner یعني معمولي او د عوامو د ډلي سړي لیکي (کمبرن هستي ص ۹۲). له دغه څخه هم د پښتو ژبې د ادبي استعمال ور نژدې والي ښکاره کیږي چه د خوشحال خان په بیت کي کټ مم دغه معنا ورکوي.

منو مقنن وایي: چه شودر بل هیڅ کار نلري، بیله دې، چه د نورو خدمت وکړي، او دوي راضي ولري.[1] شودر غیر آریائي خلق وه، نو ، ځکه دوي ئي ذلیل او نا نجیب ګڼل، او ټولي کښتي پیشي او کارونه دوي ته محول وه، مثلاً دوبي ګري، موچي ګري، بازي ګري، مانړوتوب، ماهي ګیري، د وحشي مرغانو ښکارل، ټوکرۍ جوړه ول، چنډالي، ډمبتوب، او نور.[2] شودر، سودر، او شدر ټول د دې کلمې مختلف اقسام او اشکال دي، او د شودر معنا هم کښته، ذلیل، نانجیبه ده[3] چه درو نورو ډلو دغه خلق له ځانو سره نه ګډول او دوي ئې بې شرفه او ډېر کښته خلق ګڼل.

دا کلمه د پښتو (سوډر) سره هم په معنا هم په لفظ کي نژدې والي لري په پښتو سوډر (نالایق، کښته، بې عقل، بې تهذیب، ناپوه) ته وایي مثلاً پلاني خوشي سوډر سړی دي، یعني ناپوه او نالایق دي.

دا کلمه تر اوسه هم ژوندۍ ده، او کله ئې خلق د سرکوزي او خنزیر په معنا مستعملوي، مګر نده معلومه چه حقیقت کم دي او مجاز کم؟

ځیي پوهان وایي: شودر اصلاً د یوې علاقې نوم و چه اباسین ته نژدې وه او په (وشنو پران) نومي هندي زاړه کتاب کي شودر، او ابهیر یو ځاي ګڼل شوي دي. یوناني مورخ مګستهنیز دا خلق تور مخي بولي، او تر سکندر دمخه د هخامشیانو کومکیان وه[4].

ښائي چه شودر لومړی د دغه ځاي نوم و ځکه چه آریائي اقوام تر اباسین پوري خو لومړی له دغو اقوامو سره مخامخ شول، نو ئې دوي داسیو او کښته او ناپاک وګڼل، او دا نوم ئې د هند پر ټولو بومي تورو اقوامو باندي کښیښو.

په پښتو کي چه د سوډر لپاره کم بد مفهوم پاته دي، دا هم دغه زاړه آریائي فکر نتیجه ده او دا دوې کلمې لکه لفظ چه سره نښتي او نژدې دي معنا ئې هم سره نښلوي.

ورڼه او د وظیفو ویش

دمخه مو ولوستل چه د څلورو ډلو د امتیاز لوي عامل د رنګ سپین والي او تور والي و (شودر) تور مخي او تور لینګي خلق وه، اما درې نوري ډلي سپین پوستي آریائیان وه، ریګویدا هم دسیوګان په تور مخو سره ستائي.[5]

دغه امتیاز او په انګلیسي اصطلاح caste ته په ویدي ژبه ورڼه Varna ویل شوي دي، یعني رنګ او جوله او

---

[1] منوشاستر (۱) برخه ۹۱ فقره.

[2] کتاب الهند، ج ۱ ص ۱۲۸.

[3] د وید تعلیم ص ۱۲۸.

[4] د وید تعلیم، ص ۱۲۸.

[5] ریګویدا لومړۍ برخه ۱ باب ۱۸ فقره، دوهمه برخه ۲۰ باب فقره ۷.

ښه. ښه تر اوسه په پښتو کي د مخ او څيرې رنګ ته وايي، مثلاً ښه ئې اللوتې ده يعني د مخ رنګ ئې الوتي دي يا پلاني په بله ښه راغي يعني په بل رنګ راغي.

د (و) او (ب) ابدال عمومي دي، مثلاً کابل، کاول، زابل، زاول، شوربا، ښوروا نو په دغه قاعده (ورښه) لومړي پلا (برښه) سو، ځکه چه د (ر،ښ) تلفظ مشکل و، نو (ر) حذف شوه، (ښه) پاته شوه.

له دغې مطالعې څخه تاسي ته ښه ښکاره کيږي، چه لکه د څلورو ډلو نومونه چه پښتو دي، دغسي هم د ډلو د جوړيدلو اساسي نوم هم پښتو دي، او هغه ويدي کلمه اوس هم په پښتو کي سته، چه شکل ئې (ښه) دي يعني رنګ color بل اکثر محققين دې خبري ته ټينګ دي چه دغه د څلورو ډلو ويش د آريائيانو د هند تر هجرت دمخه نه ؤ، دوي پخپل اصلي هيوادکي د مخني درې ډلي درلودې څلورمه ډله چه شودر ده په هندکي پيدا شوه.

د دې خبري بل ټينګ دليل دا هم دي چه د باختر (بخدي) آريائيانو هم درې ډلي درلودې او په اوستا کي نومونه داسي ذکر شوي دي خوتو Khvaetav ورزن Verezena آيريامن Airyman[1] د دغو درو اوستائي ډلو په مقابل کي د هند (برهمن، کشتري، ويسا) موجود دي[2] او دا خبره ځيني ښکاري چه آريائيانو درې ډلي درلودې روحاني ډله، عسکري ډله اقتصادي ډله. دا عنعنه په پښتو کي کټ مټ موجوده ده، دوي هم د خپلو اقوامو وظايف دغسي ويشلي دي، د پښتنو يوه خورا قديمه عنعنه دا ده: "وايي چه د مړاني باد را والوت، د غرغښت، پر ژبه ونښت، نو تلقين او روحاني چاري او وينا او علم او ادب د غرغښت کار دي. دا باد د (بيټني) پر مټ (بازو) ونښت، توره او عسکريت د دوي کار دي مګر د (ځړبن) پر لمن ونښت نو دوي تل د لوئي لمني خاوند دي، سياسي کارونه او شاهي او مدنيت پالنه او وداني او زراعت او تجارت دا ټول د ځړبنو وظايف دي."

دا عنعنه کټ مټ هغه زړه آريائي ريښه او اساس لري، او سړي ويلاي سي چه له ويدا او اوستا دواړو سره مشترکه ده، نو لکه نومونه اوکلمات چه پښتو وه، دغسي اصلي ويش هم د پښتو دغي عنعنې ته ورته دي.

من Man

داکلمه په سنسکريت کي زړه، ارادې، روح ته وايي[3] او علامه ابو ريحان البيروني د عقلي او حسي موجوداتو په شرح کي هسي بيان کوي: چه تر پنځو حواسو وروسته من (اراده) ده، چه له حواسو څخه ډول ډول کارونه اخلي، په حيوان کي د ارادې محل زړه دي، او په دغه مناسبت خلق اراده من بولي، چه اصلاً من زړه ته وائي[4] دا کلمه په پخوانۍ پښتو کي کټ مټ په دغه معنا موجوده وه، او داسي معلوميږي چه زموږ له هيواده هند ته تللې ده،

[1] ٣٢ يسنا ١ بند، ٣٣ يسنا ٣ بند، ٤٦ يسنا ١ بند.

[2] گاتها، ص ٨٧.

[3] هندوستاني قاموس، ص ٧٠٣.

[4] کتاب الهند، ج ١ ص ٤٥.

يا به د زړه په معنا حقيقت وي مجاز به ئې اراده وي يا به اراده مجازاً مشهوره شوې وي.

د ښتو يو خورا پخواني شعر چه امير کروړ جهان پهلوان د غور پاچا د ۱۳۹هـ په شا او خوا کي ويلي دي، دا کلمه لري دا پاچا وائی:

عشي د من مى ځي بريښنا پر ميرخمنو باندي[1] دلته هم ښکاري چه (من) د ارادې په معنا دي يعني د ارادې غشي مي لکه بريښنا پر دښمنانو باندي ځي.

ستهان Sthan

ستهان په سنسکريت کي د طرف او ځاي، مرکز، موقف، سر زمين په معناو دي[2] او دا کلمه په نورو آريائي ژبو کي لکه پاړسو د (ستان) په ډول تر اوسه هم مستعمله ده مثلاً شارستان، گلستان، غرجستان، افغانستان.

داسي معلوميږي چه د ستهان کلمه پخوانۍ آريائي کلمه وي، ځکه چه آريائيان په هند کي تيت شوه، دا کلمه ئې په دغو معناو در لوده دوي ديوستهان Deva Sthan د عبادت ځاي ته ويل[3] او خپل گرد مملکت ئې هم لومړي ديوستهان باله يعني د عبادت او نيکيو ځاي، چه ورروسته ئې هندوستان وباله يعني د هندوانو ځاي او هيواد.[4]

دا کلمه کټ مټ په پاړسوکي هم پخوا مستعمله وه، او مفهوم ئې هم تقريباً دغه و مثلاً فخر مدبر مبارک شاه د غزنوي عصر مورخ ليکي: "به ستهان لوهور در ميان شدند"[5] دا کلمه په پخوانۍ پښتوکي هم مستعمله وه، او هم له دغه جهته ويلاي شو، چه يوه آريائي پخواني کلمه ده، چه هم دلې پخپل هيواد کي پاته، او هم شاو خوا په سنسکريت او پاړسوکي رواج شوې وه، ښکارندوي د پښتو د غوري دورې يو شاعر وايي:

د اسلام د دين شهاب د نړي لمر دي تور ستهان ئې کړ رڼا په جهادونه[6]

دغه بيت له يوې قصيدې څخه دي، چه ښکارندوي د سلطان شهاب الدين غوري په مدح کي ويلې ده دی وايي چه سلطان شهاب الدين تور ستهان يعني تور مملکت (هند) په جهادو روښانه کي، له دې بيته د کلمې پخواني ژوند په پښتوکي ښکاري.

[1] پټه خزانه ص ۳۳.
[2] هندوستاني قاموس، ص ٤٥٨.
[3] هندوستاني قاموس ص ٤١٠.
[4] کتاب العلم، ج ۱ ص ٥٤.
[5] آداب الحرب، ص ۳۹.
[6] پټه خزانه، ص ٥۳.

نمزدک، مزدک، نمست، مزدا

دا کلمات ټول آريائي دي، د هند او ايران په ژبو کي پخوانۍ ريښې سته، او په پښتو کي هم ډيري کلمې سته چه په دغه ريښه اړه لري.

لومړی به سنسکريت ته وگورو: نمست namasit محترم، ستايلې شوی، معزز نمسيت namasyit يا نمسيه namasya د عزت او احترام خاوند، مجلل مکرم[1] دا مواد چه په سنسکريت کي موجود دي ريښه ئې (ن،م،س، ت) ده چه (ن) ئې په نورو ژبو کي کله کله حذفيږي (س) په (ز) بدليږي او (ت) په (د) خو په اصل کي د احترام، نيايش، لمانځلو، او تکريم معاني پراته دي، په اوستا کي هم دا کلمه ښه موقع لري.

مزدا Mazda په اوستا کي د لوي خداي نوم دي، چه اهور مزدا يا اورمزد ئې هم باله. دا خداي دوي يو مبداء واحد مجرد گاڼه چه ټول مخلوقات ئې پيدا کړي دي، دلته ئې زموږ (مزدا يا مزد) يعني دوهم جزو د دې بحث لپاره په کار دي، چه هغه (م،ز،د) حروف لري او د سنسکريت (م،س،ت) سره د يوه جنسه دي او له يوه مخرجه. په مزدا کي هم د تجليل او تکريم معاني پراته دي ځکه چه خداي تعالي جليل دي لوي دي، او د تجليل او پرستش وړ هم فقط دی دي!

په پښتو او پاړسو کي له دغي مادې څخه نماز او نمونځ، نمنځل، او نمزدک او مزگت جور شويدي، چه شرح ئې لاندي راځي:

د پاړسو نماز او مزگت

نماز اوس فقط د عربي صلوة په معني دي. چه يو مخصوص عبادت دي مگر په پخوانۍ پاړسو کي دا کلمه د نيايش خضوع، تکريم تجليل په معناوو هم وه، عبدالحي گرديزی ليکي: "چون امير را بديدند همه نماز بردند و خدمت کردند"[2]

فردوسي وائي:

زمين را ببوسيد و بردش نماز　　　　همي بود پيش زماني دراز

اما مزگت په پاړسو کي د مسجد په معنا و چه دغه هم د تجليل او نيايش ځاي دي. زموږ د وطن يو جغرافيا ليکونکي په (۳۷۲ هـ) کي مسجد جامع "مزگت ادينه" ليکي، مثلاً د هرات د لوي مسجد په خصوص کي وايي: "و مزکت جامع اين شهر آبادان تر مزکتها است"[3]

ابو علي محمد بلعمي د سامانيانو مشهور وزير (متوفي ۳٦۳ هـ) د تاريخ طبري په ترجمه کي ډير ځله د مسجد

[1] هندوستاني قاموس، ص ۷۴۹.
[2] زين الخبار، ص ۷۵.
[3] حدود العالم، ص ۵۷.

پر ځاي مزکت لیکي مثلاً: "و مریم همچنان اندران حجرهٔ مزکت بدست زکریا علیه السلام بوده" یا "روز آدینه نمزکت جامع نمازکرد"[1]

په دې ډول د پاړسو نماز او مزکت هم د هغي ریښې څخه دي چه د سنسکریت (نمست) او د اوستا (مزد) ځني جوړ شوي وه، او د دغو کلماتو معنوي ارتباط هم د تجلیل او نیایش او نمنځي په مفهوم کي ښکاره دي، د پښتو ژبي مونځ، نمونځ، لمونځ (نماز) مزدک، نمزدک (مسجد)، لمانځل، نمانځل، لمانځه، نمنځنه (نیایس، عبادت، تکریم) او نمنځن (با نماز و نیایش و مهر)، نمنځلي (ستوده و نیایش شده) ټول له هغي ریښې څخه دي او (ن،م،ځ) ئې هغه پخواني حروف دي، چه هم په سنسکریت، هم په اوستا کي وه، او هم په پاړسو کي سته (ځ، ز، س) درې سره د یوې کورنۍ او یوه مخرج حروف دي ادبي اسناد ئې دا دي. دوست محمد کاکړ وائي:[2]

شپې ئې روڼي په لمانځو وې په ژړا او به نارو وې
چه به ګنبیووت په لمانځنه یا به ګنبیووت په ستاینه

یا:

یوه ورځ جهاد الفضل ترکلوکلو لمانځل

دلته ټول د نیایش، عبادت، تجلیل په معناؤ دي.

خوشحال خان وائي:

پیرځوینه، ښه سلوک نمنځنه، عدل که دي دا خویونه شته څه غواړې نور؟

عبدالقادر خان وائي:

سر و مال ښندل زینت د عاشقانو عنایت، مهر، نمنځنه زینت ستاسي

دلته د (عبادت، مهر، نوازش) معاني لري.

بل ځاي خوشحال خان نمنځلي او نمونځ دواړه له یوې ریښې څخه په نژدو معناؤ سره راوړي:

خداي هغه په دواړوکونو دي نمنځلي چه په ورځ ئې عدل و داد په شپه نمنځونه

نمنځن هم له دغي ریښې څخه د (با مهر او با لطف او ښو) په معناو دي، عبدالقادر خان وائي:

که نمځن ویل دي نه کیږي و ما ته کله کله راته کړه خبرې سپوري

په پښتوکي له دغي قدیمي ریښې څخه مزدک، او نمزدک د مسجد او نیایش‌ګاه په معناو هم سته، تر اوسه د ناصروکوچي قبایل مسجد مزدک بولي.

په زړو ادبیاتوکي دا کلمه نمزدک nmazdak ضبط شوې ده، ښکارندوي د غوري سلطان شهاب الدین په دعاکي وائي:

---

[1] تاریخ طبري، ص ۲۲۸، ۷۲۸.

[2] پټه خزانه، ص ۸۹.

نوم دي تل وه پر دريځ په نمزدکونه.[۱]

يعني نوم دي تل د مسجدو پر منابرو يادېږه، دا مزدک او اوسني مزدک هغه د پاړسو پخواني (مزکت) ته ډېر نژدې دي، او لکه چه وويل شوه، ريښه ئې هغه پخواني آريائي ده چه هم په سنسکريت هم په اوستا کي هم په پاړسوکي سته.

وياکرڼه Vyakarana

دمخه تاسي ته د ويدا د ملحقاتو په بحث کي په سپړو ويدانگوکي وياکرڼه يعني گرامر او نحو هم در وښودله شوه، دې علم په آريائيانو کي ډېر اهميت درلود د ۶۰۰م په حدودوکي دا علم ښه تکميل شو، او د پاڼيني پر وياکرڼه باندي نورو پوهانو هم شروح وليکل، مثلاً پاتنجلي خپل بارتک او مهابهاشيه کتب وکښل، شو پورما نومي عالم هم "کانتر وياکرڼه" وکيښ، چه د مبتديانو لپاره و تر ډېره عمره دا علم په هندکي مخ په لوړتيا ؤ لکه چه پر دې آخرکتاب باندي اوه شرحي کښل شوې دي، هر څوک چه به پنډت کيدئ، نو د دې علم زده کړه ورته ضرور وه، پنډت جيادتيه او بامن په ۶۶۲ع د پاڼيني دکتاب شرحي ليکلي دي، چه کاشکابرتي نوميږي او وروسته هم ډېر کتب پر دغه علم منځ ته راغلي دي[۲] البيروني وايي: چه بيا کرن د صحيح کلام او سمي وينا علم دي د اشتقاق ابحاث لري، د بالاغت اصول هم پکښي بيانيږي، د دې علم مشهورکتابونه اته دي.[۳]

د سنسکريت په قاموس کي وياکرن Vyakaran دگرامر په معنا وياکرني Vyakarani دگرامرست او دگرامر پوهاند په مفهوم راغلي دي[٤] دا کلمه دو جزوه معلوميږي. لومړي جزو ئې (و-ی) دي، چه دا حروف عموماً په ټولو آريائي ژبوکي د (گفتن) په مفهوم کي ريښه لري مثلاً د پښتو (ويي) چه کلمې او لفظ ته وائي، او په پخواني ادب کي مستعمل و، خوشحال خان وايي:

دا ويي زما دراز دي　　　　دا منزل دور او دراز دي

نور محمد غلجي وايي:

زه و تا ته يو ويي کړم زما ورورهٔ　　په سهار بيداري کړه آخر وگوره[۵]

د پښتنوکلمات هم له دغي ريښې څخه را وتلي دي وينا (نطق)، ويل (گفتن)، وينه (گفتار)، وي (گفت) د

---

[۱] پټه خزانه، ص ۵۷.
[۲] د هندوستان تهذيب، ص ۹۸.
[۳] کتاب الهند، ج۱ ص ۷۸.
[٤] هندوستاني قاموس، ص ۷۷۷.
[۵] پټه خزانه، ص ۱۳۵.

فرانسي وايل voyelle او انګليسي واول vowel (د حرف علت په معنا) د لاتيني ووکس vox يا vocare وو کاري (د بږغ کولو په معنا) د انګليسي وايس voice (د بږغ په معنا) دا ټول دغه د (و-ی) ريښې لري.[1]

نو د سنسکريت د (ويا کرن) لومړي جزو هم له دغو ريښو څخه مرکب دي، (ويا) يعني ويل، ګفتن، کلام، وينا. دوهم جزو خو کټ مټ په پښتو کي اوس هم مستعمل دي کړن، کړنه، يعني کول، نو (ويا کرن) جمعاً وينا کول، ويل، کول يا (ويي کړن) يا (ويي کړنه) ده چه کټ مټ هغه زړه معنا او زوړ شکل لري، ښايي چه دا کلمه هم زموږ له هيواده اوله پښتو څخه تللې، او په ويدي ژبه او سنسکريت کي د ګرامر او نحو لپاره مصطلحه شوې وي.

منو Manu

د ويد ادبيان له قراره د اوسنو انساناو لومړی سړی منو Manu نوميده چه لومړۍ پلا اور د ارباب انواعو له خوا ده ته سپارلي شويدي، ويدا وائي : چه د وي، وس، وت Vevasvat دوه زامن وه، لومړي ياما Yama دوهم منو، مګر ياما دمخه مړ شو، نو ځکه دي لومړی فاني کيدونکي (مرتيا) بلل شوی دي[2] پخپله وې وسوت په ريګويدا کي د ځلان او درخشان معاني لري، کله نمر او اسمان ته هم وائي، مثلاً: يوه رب النوع ماترشون Mataricvan اګني (اور) له خورا ليري ځايه چه وي وسوت يې نوم ؤ (يعني له اسمانه) راوړ[3] په حقيقت کي د (وي وسوت) دوه زامن وه، يو له يوې موري چه ياما نوميده، د بلي ماينې زوي ئې (منو) دي چه د انسانانو اعلی مورث ګڼه سي، کله د (منو) نوم يوازي د سړي او انسان لپاره هم راځي، او لغوي معنا ئې پوهيدونکې او منونکې ده.[4]

د هندي آريايانو له کتابو څخه داسي ښکاري چه په پخوانو زمانو کي يو لوي طوفان راغلي و، د دې طوفان ذکر تورات او قرآن غظيم هم کوي، له هندي کتابو څخه په متسياپران، او اګني پران، او مها بهارت کي دا قصه راځي مګر "شت پته پران" ئې خورا مفصله راوړي، ميکس مولر مستقرق لومړي پلا دا کتاب ترجمه او خپور کړ، وروسته جوليس ايک لنګ د مشرق د پخوانو کتابو په سلسله کي په ۱۸۸۲ع د دې کتاب ترجمه بيا په ۱۲ ټوکه کي خپره کړه، له دې کتابه ښکاري چه منو تر طوفان وروسته لومړی انسان دي، چه په قراني او توراتي ژبه ئې موږ (نوح ع) بولو د منو د قصې لنډيز دا دي: سهار منو د لاس پريوللو لپاره اوبه راوړې، يو کب ئې لاس ته ورغي دې کب ورته وويل: چه ته ما وساته، يو لوي طوفان راځي ، زه به تا ځني وژغورم. دا کب ده وروزه، چه لوي شو، نو ئې وويل: چه په پلاني کال طوفان راځي، يوه بيړي جوړه که، چه طوفان راسي، ته پکښي سپور سه، منو دغسي

[1] فقه اللغه، ص ۲۶۸.
[2] ويدک انډيا، ص ۱۰۶-۱۲۳.
[3] ريګويدا ٦ برخه ۸-٤ فقره لسمه برخه ۳۹ فقره.
[4] ويدک انډيا ص ۱۹۲.

وکړه، چه په هغه کال طوفان راغي نو دی په بيړۍ کي کښينوست، او هغه ماهی راغي، د ده کښتۍ ئې تر شمالي غره (هماليا) پوري ورسوله، نور ټول خلق په طوفان کي مړه شوه فقط منو پاته شو، ده د اولاد خواهش درلود عبادت ئې کاوه او په رياضت بخت و، وروسته خداي تعالي ده ته يوه ښکلې ښځه راوليږله او د دوي له اولاده څخه د منو قوم پيدا شو، آريائي هندوان ځانونه د ده له پښته بولي.[1]

دا خو د دې پخواني کتاب د منو قصه ده، اما په مهابهارت کي هم دا افسانه راغلې ده او منو د ياما ورور بولي. په گوت پران کي هم د منو دغه قصه راغې[2] او داسي ښکاري، چه په هندي رواياتو او ميتولوژي (علم الاساطير) کي منو د انسانانو پلار دي، چه تر طوفان وروسته انسانان له ده څخه پيدا شويدي، مگر وروسته منو او د ده پلار د رب النوع پر ډول هم منل شوي دي.

د منو پلار وی وسوت هغه (وی ون گهت) Vivanghat دي چه په اوستا کي هم د ياما پلار بلل شوي او وروسته د اسمان درخشان رب النوع و. [3]

وی ونگهت چه په اوستا کي د ياما پلار بلل کيږي[4] هغه د عربو ونجهان يا ويون جهان دي[5] چه د (ويونگهان) معرب رنگ دي، او ياما هم هغه د اوستا يما Yima دي چه وروسته جم او جمشيد بلل شويدي.

خلاصه: د ياما او منو افسانې وروسته ډول ډول رنگونه موندلي دي، خو دلته زموکار د دوي تاريخي پلټنې ندي، بلکه فقط د منو د کلمې لغوي تطبيق دي چه د لوړو تاريخي پلټونو په رڼا کي به لاندي لږ څه شرح سي:

لکه چه وويل شوه پخپله ويدا (منو) د مطلق انسان او پوهيدونکي او منونکي په معنا راوړي، او منو شيا (پوهيدونکي او فکر کوونکي) هم انسان بولي[6] گويا د (م،ن) په طبيعت کي د انسان د پوهني او منني لپاره مفاهيم پټ پراته دي دغه د (منو) افسانې هر راز چه وي، خو صحت يا غلطي ئې دلته په مورد اړه نلري فقط د لغت لامله دوني ويلاي شو، چه (منو) د آريائيانو په اصطلاح د لومړي انسان نوم و، وروسته لکه د عربي (آدم) د انسان مطلق او عام نوم سو، په سنسکريت کي هم مانو Manav د سړي او سړگي او گوچني په معناو دي[7] چه په پښتو کي هم کټ مټ هغه پخوانې معنا لري، پښتانه (برمانو) د غره سړی، او ځنگلی سړی ته وايي، او پخپله (مانو) د

[1] شت پته پران - د ويدک انډيا له اقتباسه سره سم.

[2] ويدک انډيا، ص ۲۵۲-۲٦۰.

[3] ويدک انډيا ص ۱۹ فرهنگ.

[4] اوستا، ص ۱۱،۲۱۷،۲۹۵.

[5] آثار الباقيه، ص ۱۰۳.

[6] ويدک انډيا، ۱۲۳.

[7] هندوستاني قاموس، ص ٦٦۱.

سمي او مدني سړي بولي ښکاره ده چه (بر مانو) د لوړی مځکي سړی معنا لري يوه ملي لنډۍ ده:

د بر مانو په شان ترهيږي   د روغ مانو په شاني ګښينه ديد دي کړمه

يعني د وحشي او زنګلي په شان ولي لما څخه تره او نفرت کوې، د روغ انسان په ډول ګښينه، چه په ليدو دي ځان موړ کړم!

د دغه (م،ن) له ريښې څخه کټ مټ اوس (منل، مننه) لرو چه په پخواني معنا دي د منونکي کټ مټ د منو معنا ده او هم په ظاهري شکل هم په معناکي سره نژدې دي، ښائي چه د (منل) له ريښې څخه (منو او مانو) جوړ شوي وي او لکه دمخه چه ذکر شول (من) د ارادې په معنا هم له دغي ريښې څخه وي، چه منل او اراده کول ټول انساني خاصيتونه دي، او په معناکي نژديکت هم سره لري.

په هر صورت د منو د زړې کلمې د پښتو په مانو او منلوکي سته، او دا پخواني کلمه هم له دې ځايه تللې ده تر اوسه هم په پښتو اعلاموکي (منو) سته، چه پر سړو دا نوم ږدي.

من Man

په دې ځاي کي من د مخصوص وزني معيار په معنا هم بايد راسي، د مخه مو من د ارادې په مفهوم تطبيق کړ، مګر من چه د تاله کاښي دي، هم يوه خورا پخوانۍ کلمه ده، چه په ريګويداکي داسي ذکر شوې ده: موږ له جواهر او څاروي، او اسان او يو من سره زر راوړه.[۱]

دا کلمه له آريائي خلقو څخه کلدان او سامي بابل ته هم تللې وه، ځکه چه هغو د هند سره پخواني تجارتي روابط درلودل نو ډير داسي آريائي او هندي نومونه ئې وړي دي وروسته د من کلمه په روما او يونان کي هم رواج وه[۲] دا وزني معيار تر اوسه هم په پښتو او پښتنوکي سته، او داسي مشهور دي چه دليل او سند ته احتياج نلري، حتي په پښتوکي د من له کلمې څخه يوه مخصوصه اصطلاح جوړه شوې او تقريباً يو رنګ اشتقاق ځيني شويدي، مثلاً مخصوصه اصطلاح ده "من په منيا کول" يعني خپل زيار په کښل او امتحان په يوه شي کول چه د من د کلمې څخه منيا جوړه شوې ده.

پيسې پاسو pasu دمخه د سوما په بحث کي وويل سوه، چه د سوما سوداګرانو به دا بوټي زموږ د هيواد له غرو څخه وړل او آريائيانو به د هغه په مقابل کي تک ژر، يا طلائي رنګه غويي دوي ته ورکول، له دې څخه معلوميږي، چه د اجناسو د مبادلې واحد په آريائي خلقوکي غويي ؤ، داسي غويي دوي پاسو pasu باله او

---

[۱] ريګويدا ۸۱ برخه ٦٧-۷۸ فقره.

[۲] ويدک انډيا، ص ۲۳۱.

وروسته هر دولت او هر ثروت او دارائي په دغه نامه بلله کیده لکه چه پخوانو د رومن خلقو هم "پیسو" یا "پکوس" pecus ثروت ته ویل، بیا چه مسکوکات په دوي کي رایج شول، هغه ئې هم پیکوس یا پیکو pecu بلل.[۱]

ډنکن فوربس لیکي، چه پیسا paisa د یوې مسي سکې نوم هم دي چه زمونږ نیم پنس ته نژدې ده عموماً د money معنا هم لري.

دا پخواني ویدي کلمه اوس به پښتو کي هم ژوندې او خورا مستعمله ده، توره او مسي ایکي ده، چه په پاړسو ئې پول بولي جمع ئې پیسې د عمومي ثروت او هم نقد مال په معنا راځي.

مثلاً احمد ډیري پیسې لري، دلته ئې معنا دا نده، چه ډیري توري ایکۍ لري، بلکه مقصد ډیر نقود او حتي عومي ثروت دي.

دا کلمه له ویدي عصره تر اوسه په دغو معناو ژوندۍ ده، په هند او افغانستان کي ډیره مشهوره وه، څو چه اوس ئې یوه بله نوې کلمه په ناوړه ډول په عوض کي ودریده "پول" چه نه تاریخي حیثیت لري، او نه ملي او قومي، بلکه په پښتو کي استعمال هم په جمله او جمع کي په ښه ډول نه کیږي، او د پښتو او پاړسو د "پل" له کلمې سره په جمع او جمله کي التباس هم مومي مثلاً پل پل پول که ئې جمع کړو د لومړي جمع پولونه راځي چه التباس سره لري نو ښائې چه پښتو "ایکي" یا پیسه د پول لپاره واخلو او پیسې ثروت او نقد مال ته ووایو.

کر، کریش Krish

د شدیار کولو او کرلو او زراعت مهم کارونه د آرئیانو سره له خورا پخوا څخه وه، لکه چه تاسي دمخه ولوستل، پخپله د (آریا) کلمه هم له دغي ریښې څخه را وتلې ده، (ک،ر) اساساً په آریائي ژبو کي عنصري توري دي چه په معنا کي قلبه، شدیاره، کرهڼه پراته دي، پخپله کرش په اوستا او ویدا کي راغلي، او شدیاره کول افاده کوي. گیگر وایي: کریش یوه کلمه ده چه ډیر ویدي اوستائې الفاظ ځیني جوړ شویدي، کرشتینه یا چرشتیه د آریائي قبیلو نومونه وه، چه دوي خپل ځانونه په افتخار په دغو نومو بلل، په اوستا کي کرشیوت د دهقان او بزگر معنا لري.[۲] په سنسکریت کي هم دغه ریښه په اکثرو کلماتو کي ښه ښکاري، کرشي krishi د کرلو او زراعت معنا لري، کرشان kirshan کرونکي ته وایي، کرشن krashan شدیار کونکي او یوي کونکي دي[۳] د پاړسو کاشتن، کاریدن او د پښتو کر، کرهڼه، کرښت کرونکي، له دغي ریښې سره ډیر نژدې والي لري، کرښه خط ته وایي، چه د شدیاري د خطوط سره چه (کري شي) بلل کیده نزدیکي لري.

---

[۱] تاریخ افغانستان، ج۱ ص ۱۳۹.

[۲] د شرقي ایرانیانو تمدن، ج ۱ ص ۲۴۵.

[۳] هندوستاني قاموس، ص ۵٦۷.

د آریائیانو اجتماعي تشکیلات

له ویدا او نورو پخوانو کتابو څخه ښکاري، چه پخوانو آریائیانو ځانته اجتماعي تشکیلات او د ژوندانه دودونه او د ټولني لپاره مخصوص سیستم درلود. اوس چه موږ گورو د پښتنو ژوندون هم کټ مټ هغه ډول او هغه پخواني رنگ لري او د پښتون والي په لیاره او قوانینو کي هم دغه زاړه رسوم په ښه ډول پالل کیږي، پښتانه د ملي ژوندانه لپاره تل خپل اولسي تشکیلات محترم گڼي، کورنۍ، عشیره، کلي، لته، هیواد تر اوسه هم خاص خاص مراتب لري ځکه چه دغه دودونه آریائیانو له پښتونخوا څخه وړي وه، نو ښائي چه زاړه نومونه ئې هم پښتو وي، چه لاندي هر یو جلا جلا لیکل کیږي، او پښتو والي ئې هم ښوول کیږي.

پتي Pati

په ویدي ژبه کي دا کلمه ډیره مشهوره ده د بادار، مالک، رئیس، مشر معناوي لري مثلاً په هغه وخت کي ویس پتي vicpati د کلي د مشر نوم و.[۱]

معلومیږي چه آریائیانو له پخوا زمانې څخه پخپلو اجتماعي تشکیلاتو کي دا نوم درلود، گوپت gopat یعني شپانه پاچا یو نوم و چه دا نوم او دغه اصطلاح آریائیانو تر بخدي او ویدي مدنیت دمخه هم درلوده په ۱۹۳۹ع د آمو شمالي خوا ته اوسني سمرقند ته نژدې په تل نبروکي د دې پاچا تصاویر پیدا شویدي او دارمستر وائي چه په آریانا ویجه کي د آریائیانو پاچا دغه و، د اوستا په گویشت او بنداهش کي هم د گوپت ذکر کیږي[۲] مقصد دا دي چه پت کلمه خورا قدیمه او د آریائیانو د بخدي تر راتگ هم دمخه د دوي په اصلي ټک (آریانا ویجه) کي هم وه. گوتراپتي gotra-pati یعني د غوجل مشر وراجه پتي vraja-pati یعني د ورشو[۳] او چراگاه مشر گرامه پتي grama-pati یعني د کام مشر، دا ټولي اصطلاحات د ویدي آریائیانو دي.[٤]

---

[۱] کمبرج هستري، ج ا ص ۹٤.

[۲] تاریخ افغانستان، ج ق ص ۱۱۲-۱۱۳.

[۳] وراجه او ورشو ډیر سره نژدې دي، د ورشو بحث دمخه تیر شو.

[٤] تاریخ افغانستان، ج۱.

په سنسکریت کي هم پت او پتي مستعمل دي، او ډیر کلمات د (پ،ت) د ریښې څخه را وتلي دي، مثلاً پیت pit مینه، عاطفه، پیتا pita پلار، پیتم pitam ډیر مینه ور، ډیرگران او خوږ، پت pat ښه، عزت، اخلاق پت یا پتي مالک، بادار، څښتن، میړه، پتا pata پلار.[1]

دا مفاهیم او معاني چه د (پ، ت) په مشتقاتو کي پراته دي، ټول سره نژدې دي او ښائي چه ځني حقایق وي، وا ځني مجازونه، په پښتو کي هم دا کلمې پت pat او پتي pati دواړي مستعلمي دي، پت د عزت او غیرت او ناموس او ننګ معناوي لري. مثلاً حمید وایي:

پروت په وینو کي لټ پټ ښه یم په پت کي　　　　نه سرو زور په تخت باندي بې پته

عبدالقادر خان وایي:

په یاري به هاله صادق باله شي　　　　چه تر مرګه د یاري پت وپالي

دغسي پتي یعني د بت خاوند هم په پښتو کي سته، مثلاً ډیر پتي دي یعني د پت خاوند دي، بې پتي یعني پت نه درلودل، او بې غیرتي، او بې ننګي.

پیر محمد میاجي وایي:

داسي ووې شیخ متي　　　　د مولا په عشق پتي[2]

نو قدیم پتي هم دغه اوسني پښتو پتي او پت ته ډیر نژدې دي، ښائي چه مشر او بادار او پاچا ئې له دې جهته پتي باله، چه په دوي د اولس پت خوندي وو، او دوي ننګیالي وو، او عزت او ناموس او ننګ ئې ساته، او ورستنۍ معناوي چه د مالک، بادار، څښتن، میړه په ډولو راغلي دي، د زمانو له تیریدلو سره مجازاً خپرې شوي وي، مثلاً هر مالک او بادار او څښتن د خپل مملوک او مادون پتي دي، ځکه عزت او ناموس ئې ساتي، ننګه ئې پر ځاي کوي، دغسي هم میړه تل د مایني ناموس ساتي نو ئې ځکه پتي دي.

کولا Kula

د آریائیانو د ژوندانه اساس لکه د نورو انسانانو دا چه دي پر کورنۍ ایښو شوي و، دوي کورني ته ډیره په درنه سترګه کاته، کورنۍ هر وخت د خیر او برکت ځاي و، د کورني مشر او مدیر پلار و، او له څو کورنیو څخه یوه عشیره جوړیده، د کورنۍ اهمیت او د توکم ډیریدل لکه اوس چه په پښتنو کي لیدل کیږي په پخوانو آریائیانو کي هم کټ مټ دغسي دي. لکه مرحوم بیټ نیکه چه په خپل شعر کي د خپلو وګړیو ډیریدل غواړي "دا وګړي ډیر

[1] هندوستاني قاموس.

[2] پټه خزانه، ص ۱۳۳.

کړې خدايه" دغسي هم په ويدا کي د پخوانو ريشيانو ډېر اشعار او سرودونه سته، مثلاً خداي د ژوندانه څښتن دي، دي د دولت خاوند دي، دي قوي او غښتلي کورنۍ ورکوي، اې څښتنه! موږ داسي مه کوې چه بې کورنۍ او اولاده پاته شو.[1] په ويدي ژبه کورنۍ او خاندان ته، کولا kula وائي چه د هغه عصر په اجتماعي تشکيلاتو کي ډېر اهميت لري او له کورنۍ څخه نور لوړ تشکيلات شروع کيږي.

دا کلمه يقيناً د آريا له زانگو او اصلي ټکه، يعني زموږ له هيواده تللې ده او تر اوسه هم زموږ په ژبه کي ژوندۍ او مستعمله ده.

په پښتو اوس موږ کورني او خاندان ته کهول وايو: د قندهار مشهورو مشرانو کهولونه تر اوسه مشهور دي محمد زي (د پاينده کهول) بولي يعني د سردار پاينده خان خاندان، دغسي دي د اڅک کهول، د بارک کهول موږ په محاوره کي وايو، کاله ته ځم، له کاله راغلم، دلته ئې (هـ) حذفيږي، شيخ رضي لودي چه د ٤٠٠ هـ په حدود کي ژوندي ؤ هسي وائي:

نصره نه مو يې له کهاله لودي نه بې په کاوه

د ده تربور نصر لودي وائي:

د لودي زوي سنتې يم[2] د حميد له لوړ کاله يم

د پښتو د خورا پخواني شاعر امير کروړ په يوه شعر کي دا کلمه (کول) راغلې ده: "په باداري مي لوړاوي د کول د سور وکړه" يعني د سور د کورنۍ، چه دغه کلمه کټ مټ د سليمان ماکو په تذکره کي هم کول کښلي شوي، او ويدي رنگ لري،[3] له دې څخه ښکاري چه خورا په قديمو زمانو او بيا د اسلامي دورې به اوائلو کي هم دا کلمه لکه چه اوس ژوندۍ ده، مستعمله وه.

گرامه Grama

د ويدي دورې په اجتماعي تشکيلاتو کي گرامه هم وه، چه غالباً د کلي معنا لري، او له څو ټبرو څخه به يوه گرامه جوړيده او مشر ئې گرامڼي gramani بلل کيده.[4]

دا ويدي کلمه په سنسکريت کي هم خورا مشهوره وه، ډېر کلمات نور ځني وزيږيده، مثلاً گراموا‌سي gramvasi يعني د گرام اوسيدونکي، کليوال، گرام ادهي پتي gramadhipati د کلي پتي او د کلي مشر، گرامڼي

[1] ريگويدا، ۷ برخه ٦ فقره.
[2] پټه خزانه، ص ۷۱.
[3] وگوري پښتانه شعراء، ج ا ص ٦٤.
[4] کمبرج هستري ، ج١ ص ۹۱.

gramani د کلي یوه کورنۍ، گرمیاسوه gramyasva د کلي آس یعني خر، گرامین gramin کلیوال[1] او نور. چه دغه ټول اشکال اوس هم پښتو ته نژدې دي مثلاً گراماسي (گرام اوسي)، گرام ادهي پتي (گرام اډې پتي)، گرامیاسوه د گرام اسپه او گرامین لکه خاورین اوس هم په پښتو هغه معاني لري. د گرام کلمه تر اوسه هم کټ مټ په دغه ډول په پښتو کي مستعمله ده په مشرقي خوا او په نورستان کي هم اکثر کلي په دغه نامه دي مثلاً وډې گرام، لوي گرام، شگرام، بشگرام، کول گرام، اشترگرام او نور. د بگرام نوم هم دغه ریښه لري، یو بگرام د کابل په شمالي خوا کي دي، بل پیښور د بگرام په نامه یادیدي. شیدا وائي:

تر هغه پوري بگرامه[2]　　　　په جهان مشې بې نامه

بگرام د کابل او جلال آباد په منځ کي یو موقف دي، چه په نامه کي دغه ریښه سته. پخپله دا کلمه د (گرام) په ډول هم په پښتو کي وه او داسي معلومیږي، چه زموږ له هیواده تللې او په ویدي ژبه کي ځاي نیولي دي یوه پښتو لنډۍ ده:

د بیلتانه سندري اورم　　　　جانان له گرامه سهار کډې باروینه

ویسه ویس Visa'vic

دا کلمه بیله هغه (ویسیا یا ویش) چه دمخه په آریائي څلورو ډلو کي ذکر شوه، ځانته مستقله کلمه ده ترگرام لوړه په اجتماعي تشکیلاتو کي ویسه وه چه د څو گرامو وگړي به یوه ویسه بلله کیده، او مشر ئې ویس پتي، vispati یا راجن rajan باله.[3]

گایگر الماني لیکي: چه (ویس) په اوستائي دوره کي هم کلي ته ویل کیدې، هم یوې قبیلي ته چه څو کورنۍ ئې درلودې او د اوستا vis د سنسکریت له vic سره یو دي چه په ریگویدا کي د کور، کورني، ټبر معاني لري.[4]

داسي معلومیږي چه د (و،ی، س) په طبیعت کي د سکونت او هستیدلو معاني پراته دي، مثلا د ویدا او اوستا (ویس) د انگلیسي هاوس house د پښتو (وسیدل، وسیده، هستیده ، اوسي) ټول دغه مواد لري.

لکه محققین چه وایي ویسه هم د اوسیدونکي او مستقر او ساکن په معناؤ دي[5] او لدې جهته چه ویس هم د اوسیدلو او استقرار ځاي ؤ نو د پښتو د وسیدل له مصدره سره ئې رابطه ډیره نژدې ده.

---

[1] هندوستاني قاموس، ص ۱۱٦.

[2] پښتانه شعرا، ج ۱ م ۲٦۲.

[3] کمبرج هستري، ج ۱ ص ۹۱-۹٤.

[4] د شرقي ایرانیانو تمدن، ج۱ ص ۲٦٦.

[5] تاریخ افغانستان.

پور Pur

دکتور کيت Keith د دې کلمې شرح داسي ليکي چه د پخوانو هندي بومي اقوامو له مدنيت څخه موږ ته معلومات نه لرو فقط دونه ښکاري چه دوي د غويو لويي گلې درلودې او په داسي سنگرو او محکمو ځايو کي ژوند کاوه چه له ډبرو څخه ئې جوړ کړي وه. ريگويدا دغه ځايونه پور pur بولي چه وروسته دا کلمه د ښار town په مفهوم هم مستعمله شوه.[١]

ډونکن فوربس وايي چه په سنسکريت کي هم پور د ښار او کلي، کامپ camp يعني د پاچا د ناستي د ځاي kingston په معنا وه.[٢]

لکه دمخه چه وويل شوه، د ډيروگرامو او کلو کوږه (ويسه) بلله کيده د ويسي مشر ويسپتي و، ده به يو ټينگ او محکم ځاي درلود، چه په اوسنۍ اصطلاح ئې موږ ارک بولو او دوي پور باله.

دا کلمه په پښتونخوا کي دونه مشهوره ده چه ډير ځايونه اوس هم پور بولي مثلاً بټه پور، سلطان پور، فتح پور چه په ننگرهار کي دي په هند کي هم ډير ښارونه به دې نامه دي مثلاً بهاول پور، بيجا پور، رام پور او نور.

اعليحضرت امير شير علي خان چه د کابل شمالي خوا ته نوي عسکري ځاي بنا کړ شير پور ئې وباله چه تر اوسه هم په دغه نامه مشهور دي. په پښتو کي به مفرد ډول دا کلمه د پوړ په شکل پاته ده، پوړ طبقې ته وايي مثلاً دري پوړه وداني يا پوړ پر پوړ يعني طبقه پر طبقه.

دا موجوده معنا هم هغي پخواني ته نږدې ده ځکه چه هر پوړ محکم او ټينگ وي او پخوانو کلاو او ارگو پوړونه هم درلوده چه آثار ئې تر اوسه سته.

سميتي Samiti

دمخه تاسي د سمهيتا په بحث کي ولوستل چه معني ئې مجموعه ده او د پښتو سمت هم نژدې دغه معنا لري.
په آريائي اجتماعي تشکيلاتو کي يو مهم شي سميتي و چه دغه کلمه هم له هغې ريښې څخه ده، دلته به لومړي د سميتي اجتماعي مفهوم در وښيو، وروسته به ئې پر لغوي او تطبيقي خوا وږغيږو.

لکه اوسني پښتانه چه په خپلو قبيلو کي جرگې لري، او دا جرگې له په خوانيو زمانو څخه د اجتماعي چارو د فيصلې کامل اختيارت لري، او ځانته لياري او اصول هم لري، دغسي پخوانو آريائيانو هم ملي جرگې درلودې. يوه مهمه جرگه ئې سميتي samiti بلله.

---

[١] کمبرج هستري، ج١ ص ٨٦.
[٢] هندوستاني قاموس، ص ٢١٠.

په ریګویدا کي د دې جرګې بحث راغلي دي[۱] او علما وايي چه دوی دوې جرګې درلودې یوه ئي سبها sabha بلله او بله سمیتي، په سمیتي کي سپین ږیري او د قبیلې مشران سره غونډېدل او دا عمومي جرګه وه اما سبها د کلي وړه جرګه وه او مقامي رنګ ئې درلود، په سمیتي کي پاچا هم شاملیده او د پاچا او مشر د ټاکلو هم حق د دکتور زیمر Zimmer په قول دې جرکې درلود.[۲] په ویدي ژبه د سمهیتا او سمیتي کلمو په معنا کي د ټولني اجتماعي مفاهیم پراته دي. ګویا د دې مفهوم لپاره (س، م، ت) عنصري حروف دي، په هندي ژبو کي هم دغه ریښې په ډېرو کلماتو کي په دغه مفهوم سته مثلاً سمت simat د تولیدلو عمل، سمیت semet یو له بله سره ټول، ور سره، سمیتنا samitna یو له بله سره ټولول او سره غونډول.[۳]

لکه چه دمخه ویل شوي دي د پښتو سمت هم کټ مټ دغه شکل او مفهوم لري، ځکه چه په سمیتي (جرګه) کي هم د ټولني او غونډېدو مفهوم لري، نو لیري نده جه دغه ټول کلمات له دغي ریښې څخه وي.

ناچ

رقص او اتڼ د انسان له فطري خصایصو څخه دي په پخوانو اقواموکي هم و، له ریګویدا څخه ښکاره کیږي، چه آریائیانو هم اتڼونه درلوده، او لکه اوس چه د پښتنو زلمي اتڼونه کوي او څوښي غوړوي، پخوا هم دوي دغسي اتڼ درلود او دا اجتماعي دود پکښي موجود و.[٤]

په سنسکریت کي اتن ناچ بولي او دا کلمه تر اوسه هم په هند کي پر رقص dance اطلاقیږي[۵] په پښتو کي د دي فعل لپاره د اتڼ مخصوصه کلمه سته مګر د ناچ او رقص د فعل لپاره له هغې قدیمي ریښې څخه نڅا او نڅل هم لرو فقط (چ) په (څ) بدله شوې ده، له دغه مصدره افعال هم جوړیږي مثلاً ناځي، و به ناځي، و ئې نڅل، یو شاعر وائي:

لکه ناځي چه بسمل له تیره تیغه　　　　چه په تیغ دي شوم کړم نو نڅا راغله

سامانه Samana

[۱] ریګویدا، ج ۳ ص ۲۵۳.

[۲] کمبرج هستري،ج ۱۱ ص ۹۶-۱۳۳.

[۳] هندوستاني قاموس ص ٤۷۸.

[٤] تاریخ افغانستان، ج ۱ ص ۱۳۲.

[۵] هندوستاني قاموس، ص ۷۲٦.

دا کلمه په ريگويدا کي ډيره راځي او د يوې ميلې نوم و چه په ارت ميدان کي به کيده او ټول طبقات، ښځي او نر، گوچني، لويان گرد پکښي حاضريدل.

غير بازانو به غيږي ايستي، ورزشکارانو به لوبي کولې،سپرو به هم خپل هنر ښکاره کاوه ريښيانو به اشعار ويل. دا ميلې به کله د شپې کله د ورځي اجرا کيدې، او د مظاهرې او نمايش عمليات به کيدل.[1]

دا ميلې تر اوسه په قندهار او نورو ښارو کي سته، په پسرلي په مني په ژمي مخصوص ځايونه لري او خلق پکښي ټوليږي، په مياشتو مياشتو دوام کوي، لکه پخپله ميلې چه پاته دي، نوم ئې هم په پښتو کي پاته دي مگر لږ څه معنوي تحول ور پيښ شويدي.

په قندهار کي سامانه تظاهر، نمايش په فخر سره څرگندوني ته وائي، مثلاً فلاني ساماني کوي، يعني تظاهر او نمايش کوي، او ځان ښکاره کوي، سامانه گر متظاهر او نمايشي سړي ته وايي، په سامانو تلل، يعني په کبر او خود نمائي تلل، مثلاً يو شاعر وائي:"راغي ابو جهل کافر نبي ته په سامان" دا لږ معنوي تحول علت هم لري ځکه چه د آريائيانو ميلې هم د تظاهر او نمايش او سامانو ځايونه وه، هلته قوت، هنر، حسن، جمال ټول خلقو ښکاره کول، حتي پيغلو ميړونه هم هلته ټاکل، زلمو به ځانونه سينگارول، گويا دا ميله هم په حقيقت کي يو نمايش، او په دغه اوسنۍ معنا "سامانه" وه چه اوس هغه د ميلې مفهوم له دې کلمې څخه تللي، او فقط هغه اصلي مقصد يعني "نمايش او تظاهر" پکښي پاته شوي دي. ځکه چه سامانه له آريائي اجتماعي مظاهرو څخه وه، نو تر اجتماعي تشکيلاتو لاندي راوړله شوه.

ارباب انواع

د پخوانو آريائيانو له ژبي څخه ځيني مهم نومونه د دوي ارباب انواعو دي چه دلته ئې له لغوي پلوه مونږ له پښتو سره پر تله کوو، دا ارباب انواع له پخوانو زمانو څخه دوي درلودل، او د ريگويدا سندري د دوي په نومو او اوصافو ډکي دي، لکه چه پوهان وائي: آريائيانو لوي خداي او واحد مطلق جل شانه هم پيژاند، مگر د خالق تعالي د قدرت طبعي مظاهر لکه آسمان، لمر، سپوږمۍ، اور، باد او رڼا ئې هم مجلل او محترم بلل، او د دغو شيانو په واسطه ئې د لوي څښتن پرستش کاوه، دلته فقط د هغو له نومو سره زموږ کار دي.

ديوس Dyaus

[1] تاريخ افغانستان، ج ۱ ص ۱۳۵.

په دې نامه آريائيانو يو رب النوع ستايه چه د آسمان او رڼا رب النوع ئې ګاڼه او ټول نوراني او مفيد عناصر ئې ده ته منسوبوله. د دې نامه اصلي ماده ديو ده چه عنصر ئې له (ډ، ي، و) څخه مرکب دي، او دا ماده او اصل د "ځليدلو او رڼيدلو" مفهوم له ځانه سره لري، دا ماده په آريائي ژبو کي دوني عامه ده، چه اکثرو قديمو اقوامو له دغي مادې څخه د خداي تعلي نوم جوړ کړي دي مثلاً پخپله هندي آريائيان لوي خداي جل شانه ډييوس پاتر Dyeus-Pater بولي يعني لوي او اعظم.[۱]

په سنسکريت کي ډيوا، ډيواس د لمر او رڼا په معناؤ دي، او خورا ډيري کلمې له دغه ريښې څخه په هغه ژبه کي را وتلي دي، لکه چه ډنکن فوربس ليکي: ويدي ماده ئې ډيا Diya ؤ د څراغ په معنا.[۲]

وګوري دغه کلمه په يوناني کي ذيوش Zeus او بيا زيوش، زيوس سوه، د لاتين ډووس او ډيوفيس او جوفيس او جو پټير هم له دغي کورني څخه دي، په زړه الماني ژبه کي ذيو او په اسلاوي کي ډيواس، په ايتالوي کي ډيو د پرتګالي او هسپانوي ډيوس ټول له دغي ريښې څخه را وتلي اسما دي په نورو نوو ژبو کي ډيوډيوس، او ډيو هم پدغه ريښه اړه لري ډيويس Dious او ډيواين divine هم له دې کهوله دي.[۳]

په پښتو کي تر اوسه څراغ ډيوه divah بولو او دا کلمه دوني شهرت لري چه له پخوانو زمانو څخه تر اوسه په دې ژبه که ژوندي پاته ده، او سړي په ټينګه ويلاي سي، چه هم هندي او هم نورو آريائي ملتو دا کلمه له دې مځکي څخه وړې ده.

لکه چه ومولوستل: ډييوس اسماني رب النوع و، او په دغه تقريب دا نوم ټولو آريائي مللو د خداي تعالي لپاره غوره کړي و، ځکه چه رڼا له اسمانه څخه وه، نو ګويا ډييوس آسمان وو، چه په مقابل کي يې د دې رب النوع د مځکي بل رب النوع هم موجود و. که د ډييوس کلمه تحليل کړو، پښتو کلمه ډيوه به واخلو چه د چراغ او رڼا معنا لري، او د نسبت ادات (يز) به ورسره ونښلوو ډيويز Dyvis به سي، يعني رڼا وال، منور، د چراغو ډک، چه عيناً د آسمان ظاهري شکل هم دغه دي. او ډيوس Dyaus او ډيويز هم ډير سره نژدې دي، ډيوه په پښتو ادب کي ډيره راغلې ده لکه دا لنډۍ:

ته به د کوم مجلس ډيوه يې زه د هجران په تاريکو کي ناسته يمه

ډيويز هم د آسمان د صفت په ډول مستعمل و لکه په دې لنډۍ کي:

د توري شپې ډيويز آسمانه سترګي دي وزه که به لمر را خيژوينه!

---

[۱] تاريخ افغانستان، ج ق ص ١٤٤.

[۲] هندوستاني قاموس، ص ٤٠٦.

[۳] تفسير الجواهر - ويدک انډيا، ص ٨٥.

دلته معشوقه له مين سره د شپې وصل شوي ده، نو نه غواړي چه ژر سهار سي او لمر را وخيژي، نو آسمان ته خطاب کوي چه اې د څراغ او رڼا خاوند آسمانه! که به لمر ژر را خيژوې نو دي سترگي ووزه!

دغه ډيويز چه د آسمان د صفت په ډول راغلي دي، کټ مټ د هغو ټولو آريائي نومو ماخذ گڼل کيږي، چه دمخه تير شول.

پريتهي وي Prithivi او نور

په ريگويدا کي د ډيوس په مقابل کي تل پرتيهي وي يعني مځکه راځي، دا هم د يو رب النوع نوم و[1] په سنسکريت کي پرتهوي prithvi د مځکي معنا لري او ډير کلمات نور هم له دي مادي څخه جوړ شوي دي، ځکه چه مځکه پرته او غوړيدلې ده، نو ښائي چه دا نوم د پښتو له (پروت مذکر، پرته مونث) سره شريک وي، ځکه چه د کلماتو ماده (پ، ر، ت) دي پريتهي او پرتهوي او پروت ډير سره نژدې دي.

راگوزن ليکي، چه په ويدي ادب کي د پروت لغوي معنا خپريدنه او پروتوالي دي، او اوريځي او غره ته هم له دې جهته پروت وايي، چه خپاره او پراته وي، پرجاينه هم په ريگويدا کي د اوريځي نوم دي چه د پروت له مادې څخه ئې نوم را وتلي دي، د اروپا آريائيانو هم له دې رب النوع سره ډيره دلچسپي درلوده. سلاو او ليتواني اقوامو ئې تر ډيرو مسيحي کلو پوري لا هم پرستش کاوه، نومونه ئې له دغي مادې څخه مشتق دي، مثلاً پرکوناس، پرکونس، پيټرون (اوريځ).[2] دا شرح چه ولوسته سي نو د سړي يقين راځي چه پريتهي وي، پرتهوي پروت، او د پښتو پروت له يوې ريښې څخه دي.

دغسي هم ماروت Marut د باد او سيلۍ رب النوع و، چه اوس دا نوم د مروت به شکل موجود او د ښتو د يوې قبيلې نوم دي.

دغسي هم د سوما ذکر چه دمخه راغي، دا هم يو رب النوع و چه په پښتو کي د نامه ريښې تر اوسه سته. په دې ډول اکثر زاړه آريائي نومونه او اعلام په پښتو کي تر اوسه موجود دي، او د لغوي پلوه ډيره نزديکي ور سره لري.

اندرا د ويدي عصر معروف جنگي رب النوع و چه نوم ئې د پښتنو پر يوې قبيلې ايښو شوي دي، او تر اوسه هم اندړ بلل کيږي.

---

[1] کمبرج هستري، ج ۱ ص ۱۰۵.

[2] ويدک انډيا ص ۱۳۱-۱۴۱.

څلرمه برخه

پښتو او د اوستا ژبه (زند)

اوستا ژبه- باختري اوستا او نوې اوستا- د اوستا ټوکونه-اوسني اوستا
په پښتوکي د اوستا ژوندی‌کلمات- په پښتوکي اوستا- زرا تشترا- سپنتمان -
اهورا مزدا- واره - بامي- اسپه- کاوه- د ځايو نومونه- مانده - راغه -
سپين غر- د ځينو وسلو نومونه- عمومي مشابهت او نزديوالي- د تطبيق جدول

پښتو او اوستا

لومړۍ خبري

لکه چه دمخه وویل شوه، اوستا ژبه هم لکه سنسکریت له آریائي پخوانو ژبو څخه ده، او د پښتو له ادبي تاریخ سره ډیره اړه لري.

اوستا د آریائي باختر او بخدي یوه زړه ژبه ده، چه موږ ئې د پښتو سره ډیر کلمات او لغات مشترک مومو، او لکه د پښتو رابطه چه د سنسکریت سره ټینګه وه، د اوستا سره هم دغسي کلکه اړه لري.

په حقیقت کي دا دري ژبي (سنسکریت، اوستا، پښتو) سره خوندي دي، او په یوه هیواد کي زیږیدلي او تربیه شوي دي، سنسکریت د هند په ارتو ورشوګانو کي خپره شوې، او اوستا په باختر کي ځوانۍ ته رسیدلې ده، پښتو د پښتنو او پکهت سره یو ځاي، پخپلو غرو کي تر اوسه ژوندۍ پاته ده.

د پښتو د ادبي تاریخ د څرګندولو او قدامت له پاره موږ نا څاره یو، چه پښتو له اوستا سره هم پر تله کړو، او په هغو اصولو چه د سنسکریت سره مو مقایسه کړې وه، (دریمه برخه) اوس ئې په دې برخه کي د اوستا سره اوړه په اوړه ودروو.

د دې له پاره چه تاسي ته د اوستا تاریخي کیفیت لږ څه معلوم سي، او هم ئې ادبي آثار وپیژنئ، لومړی به د سنسکریت په ډول په خورا لنډو کرښو کي تاسي ته د دې ژبي تاریخ او بیا ادبي آثار در وښیم بیا به نو په اصلي مقصد یعني مقایسوي څیړنه پیل وکړم.

لکه په دریمه برخه کي چه فقط د سنسکریت ځیني مشهور او خورا مهم کلمات په پښتو کي پلټل کیده دغسي به د اوستا د لغاتو او مهمو کلماتو پلټنه او پر تله وکړو.

اما د قواعدو او د ژبي د اصولو مقایسه او تطبیق به په یوه بیله برخه که وسي، دلته فقط لغوي او ژبنۍ څیړنه د لغت او کلمهٔ سازۍ له روهه کیږي.

اوستا ژبه، یا زند Avesta, Zend

دا ژبه په باختر کي له زړې اصلي آریائي ژبي څخه د ویدي ژبي سره یو ځاي او غبرګولې وزیږیده، نو ئې باختري ژبه هم بولي،اوستا ئي له دې جهته بولي، چه د اوستا د کتاب پخواني او خورا زوړ ټوک "ګاته" په دغه ژبه لیکل شوي دي، دغه ژبه زند Zend هم بلله کیږي.

مدققین وایي: چه د اوستا د ژبي چه ګاته په لیکل شوی دي، او د ویدا د ژبي لږ فرق هم نسته، او په جزوي اړولو او تبدیل سره چه معین اصول لري، د یوې ژبي یوه خبره په ها بله ژبه اړولاي سو.

د اوستا ژبي په روحاني ډله او مقدسو کتابو اړه درلوده، او بیله پخپله اوستا بل کتاب او لیک په دغه ژبه ندي پاته که څه هم د اوستا کتاب او د زرتشت دین په ایران کي خپاره سول مګر تر ایراني هخامنشي دورې (۷۳۰ تر ۳۳۰ ق،م) وروسته چه اسکندر پر ایشیا مسلط سو نو د اوستا نسخي هم ورکي شوې، مګر وروسته بیا د اردشیر

ساساني ۲۱۲-۲۲٦ع په امر اوستا را غونډه سوه نو له دغه جهته اوس د اوستا زوړ متن ندي پاته، فقط دگاته برخه ئې زړه او د زرتشت قول بلله کیږي.[۱]

دا ژبه اوستا بلله کیږي، چه شرح ئې وروسته راځي، په حقیقت کي زند Zend د اوستا کتاب پهلوي شرح وه چه وروسته دا دوه نومونه په ګډه "زند اوستا" د متن پر اصلي ژبه اطلاق شوه، که نه وي پخپله زند د اوستا د تفسیر ژبه یعني پهلوي ده.[۲]

د پهلوي تفسیر یو بل تفسیر هم درلود چه هغه (پیتي زینتي) یعني مکرر تشریح یا پازند بولي، د دی تفسیر التفسیر ابهام تر پلهوي لږ دي، او هم ئې رسم الخط نسبتاً واضح دي یا زند له پهلوي څخه لږ څه بیلتون لري او ټول کتب چه پکښې موجود دي د پهلوي نسخو تفاسیر او شروح دي.[۳]

له دې ملاحظاتو څخه داسي ښکاري، چه لومړني اوستا چه د زرتشت د عصر ژبه وه، او د اوستا کتاب په کښل شوي وو ورو ورو له باختره شا و خوا خپره شوه، په ایران کي زړه پاړسو (فرس قدیم) رواج شوه، وروسته پهلوي ژبه او پازند ځیني را ووتې، نو په حقیقت کي اوس د زړې باختري اوستایي ژبې آثار ندي پاته. ګاته چه د اوستا یو ټوک دي د محقیقینو په قول هغې زړې باختري اوستا ته نژدې دي.

باختري اوستا او نوې اوستا

باختري اوستا هغه کتاب وو، چه زرتشت په بخدي کي وکیښ او د هغه وخت باختري پاچا ګشتاسپ د ده دین ومانه او ټول د زردست قوانین ئې د غویو پر څرمن وکښل، او هري خوا ته ئې ولیږل.

یو پخواني مورخ پلینیوس Plinius د هرمپوس له کتابه په لومري میلادي قرن کي داسي لیکي چه لومړني اوستا دوه ملیونه اشعاره وه، مسعودي عربي مورخ تر ۳٤٦هـ دمخه په مروج الذهب کي هسي لیکي: چه اوستا پر دوولسو زرو د غویو څرمنو باندي لیکلې وه ، محمد جریر طبري متوفي ۳۱۰ هـ وایي: چه اوستا پر دوولسو زرو د غویو څرمنو باندي لیکلې وه، شهنامه وایي د اوستا ۱۲۰۰ فصله پر زرینو تختو کښل شوي وه، تنسر د ایران یو روحاني سړی و، چه ۱۷۰۰ کاله تر اوس دمخه ژوندي و په یوه خپل خط کي هسي کاږي: چه اسکندر زموږ د دین له کتابه دولس زره د غوئي څرمني وسوځلې له دغو روایاتو څخه د اوستا ضخامت لږ څه څرګندیږي که څه هم مبالغه لري اما دا خو ښکاره ده چه د مخامنشیانو په عصر کي اوستا ۸۱۵ فصله او ۲۱ کتابه یا نسکه درلوده. تر اسکندر وروسته چه بیرته دا کتاب سره ټول شو ۳٤۸ فصله ئې لاس ته راغله چه پر ۲۱ کتابه ئې وویشۀ. یو انګلیسي عالم وسټ West دغه ساساني ۲۱ کتابونه ۳،٤٥۷،۰۰۰ کلمې تخمین کوي، چه اوس ئې ۸۳،۰۰۰ کلمې موجودي

---

[۱] تاریخ ادبیات ایران د دکتور شفق ص ۸.

[۲] د براون تاریخ ادبیات ایران، ج۱ ص ۱٤۰.

[۳] د براون تاریخ ادبیات، ج ۱ ص ۱٤٥.

دي، یعني هغه اوستا چه په ساساني دوره کي تر اسکندر وروسته ټوله شوې وه، بیا هم په اسلامي دوره کي تلف سو، او اوس ئې فقط یوه ربع پاته ده.[1]

له دې بیانه هسي ښکاري چه د اوستا کتاب ډیري صدمې لیدلي، او څو واره له منځه وتلي او بیا سره ټول شوي دي، او ډیر نوي نوي مضامین وروسته هم پکښې داخل شوي دي، یعني دا یو کتاب دي چه پر پخواني حالت ندي پاته. ډارمسټټر فرانسوي عالم ډیري برهمني او پهلوي او او بودائي او یوناني اغیزې او عناصر په اوستا کي ښیئي[2] نو لکه د مضمون او محتویاتو له پلوه چه اوستا سره اوښتې او نوي مواد په گډ شوي دي، دغسي هم د ژبي له خوا د زړې باختري اوستائي نمایندگي نیسي کولای، او دا یو محرف کتاب دي، چه اوس ئې لږ برخي په نوي شکل پاته دي.

د استا ټوکونه

د ساسانیاونو په دوره کي له ۲۱۱ ع تر ۶۲۹ ع پوري چه زرتشتي دین رسمي گڼل کیدي ټول د اوستا کتاب ۲۱ نسکه (کتابه) و چه د دینکرد[3] په اتم او نهم فصل کي تفصیل راغلي دي، نسک په اوستا کي نسکو ذکر شوي او معني ئې دفتر او جنگ او مجموعه ده.[4]

دغه یویشت نسکه پر درې برخي ویشل کیږي چه هره برخه ئې اوه نسکه ده، لومړي برخه ئې گاتها Gatha یا گاسان Gasan بولي چه د عبادت مسایل او مذهبي اصول دي، دوهمه برخه ئې دات Dat بولي چه خاصه ده په اجتماعي او معاشرتي قوأنینو پوري، دریمه برخه یې هدهه ماتهرا Hadha-mathra ده چه الهیات او فلسفه او گډوډ بحثونه دي.[5]

اوس به د دغو درو ټوکو اجزاء او برخي هم در وښیو:

گاتها Gatha

چه د اوستا خورا مهمه برخه ده، په سنسکریت ئې گیتا بولي یعني سندري او سرودونه او دا اوه نسکه لري، چه ۲۳۸ قطعې او ۸۹۶ شعره او ۵۵۶۰ کلمې دي. گاتها دا برخي لري: [6]

ا ـ ستوت یشت Stotyast چه د اوستا خورا مقدسه برخه گڼله کیږي، او ۳۳ برخي لري چه ۲۲ ئې منظومي دي او ۱۱ نوري برخي بې په نثر او عمومي محاوره کښلي شوي دي.

---

[1] گاتها، ص ۵۰.

[2] د زند اوستا مقدمه، لومړۍ برخه.

[3] دینکرد یو پهلوي کتاب دي، چه په نهمه عیسوي پیړۍ کي لیکل شوي دي.

[4] یسنا ۲۲ برخه ۹ فقره.

[5] یسنا ۲۲ برخه ۹ فقره.

[6] زند اوستا لمړۍ برخه د ډارمستتر مقدمه.

۲- سوتکر Sutkar

۳- ورست مانسر Varst-mansar

٤- بک Bak

٥- وستک Vastak

٦- هاد هوخت Hadhokht

۷- سپند Spand

له دغو څخه سوتکر او ورست مانسر او بک هر يو ۲۲ برخي لري چه د لومړۍ قسم د ۲۲ منظمو برخو پر ډول منظومي سندري دي او د هغو شرح او تفسير ګڼل کيږي، او اوس له دغو څخه فقط د سوتکر يو څو قطعي او د ورست مانسر يوه برخه زموږ په لاس کي ده دغسي هم د بک درې برخي په يسناګاهي دي.

د وستک څخه اوس هيڅ پاته نه دي، او نه د ينکرد د دغه شرح کوي، نه ئې اصلي نسخه او نه ئې پهلوي شرح سته، اما له هاد هوخت څخه درې برخي پاتي دي، چه په يسنا کي شميرلي کيږي او يوه بله برخه ئې هم په يسنا کي ګډه او درج ده. اومه برخه يعني سپند د زردشت کيسه ده، چه په نوي ډول "زردست نامه" بلله کيږي او د ده د ژوندانه کيسې پکښې دي.[1]

دات Dat

دوهمه برخه نسکونه چه دات Dat ئې بولي، او قانوني او شرعي مباحث لري، دغه لاندي اوه برخي لري:

۱- ينکاتوم Nikatum

۲-ګندا سرنيګت Ganda-sar-nigat

۳- هوسپارم Husparam

٤- سکاتوم Sakatum

٥- ونديداد Vendidad

٦- کتردات Kitra dat

۷- بکان يشت Bakan yast

له دغو نسکو څخه فقط لومړي پنځه خاص قانوني او شرعي مباحث لري، دوه نور د عالم د خلقت cosmology بحثونه لري، او اساطير mythology دي.

له دغو لومړيو پنځو برخو څخه اوس ونديداد بشپړ پاته دي، اما د نيکاتوم، ګندا سرنيګت او سکاتوم څخه فقط يو څو څو قطعي سته، اما د هوسپارم څخه يوه مهمه برخه د خپلي اصلي نسخې text په ډول او هم ئې پهلوي ترجمه په ارپتستان Erpatistan او نيرنګستان Nirangistan کي پاته ده.

[1] د ډامستتر د زند اوستا مقدمه لومړۍ برخه.

شپږمه برخه کتردات د خلقت له ابتداء څخه تر زر تشته پوري تاریخي ابحاث لري، او اوس دغه برخه په بندهش Bundahis او شهنامه کي ساتلې ده.

اومه برخه چه بکان یشت نومیږي، ځیني مناجاتونه او دعاوي دي، چه د ارباب انواعو په نامه وې. او له دغو څخه ١٦ ټوټې په هوم یشت او سروش یشت کي سته.[١]

هدهه ماتهرا Hadha mathra

دریمه برخه نسکونه چه هدهه ماتهرا نومیږي، نه ښه پیژندل شوي، او نه ښه ساتلې شوې دي، دغه برخه هم اوه څپرکي لري:

١- دامدات Damdat

٢- ناتر Natar

٣- پاګګ Pagag

٤- رت دات ایتګ Rat-dat-itag

٥- بریس Baris

٦- کش کیشرو Kaskisrav

٧- ویشتاسپ ساست Vistasp sast

دامدات د زرتشتیانو د خلقت او د پیدایښت احوال و، د بندهش د پیدایښت او خلقت بیان له دغي برخي څخه دي، د ناتر په حال هیڅ نه یو خبر، او نه دینکرد له دغه څخه بحث کوي، له پاګګ څخه په ګاه او سي روزه Siroza کي یو څه برخه پاته ده، او د وختو ابحاث ئې درلوده، رت دات ایتګ Rat-dat-itag د قربانیو ترتیبات ښوول، او دوې قطعې ئې اوس سته.

اما پنځمه او شپږمه حصه د هغو قربانیو په بیان کي وه چه د ناوړو او جناتو د اضرارو جلوګیري ئې کوله، له دغو څخه یوه ټوټه هم نده پاته، او ښائي په پهلوي نیرنګستان کي د کش کیشرو ځیني مضامین وي.

اومه برخه چه ویشتاسپ ساست یعني د ویشتاسپ یادونه ده د دغه پاچا اوضاع له زردشت سره بیانوي چه اوس د ویشتاسپ یشت او د آخرین پیغمبر زردشت په نامه مشهوره ده، او د زردشت نامې اساس هم ده.[٢]

نتیجه

ډارمستتر چه د اروپا له اوستا پوهانو څخه لومړی او معروف سړی دي، له لوړو ابحاثو څخه په لنډ ډول دا نتیجه اخلي چه د ساساني اوستا له ٢١ نسکو څخه فقط دوه نسکه یعني وندیداد،، او ستوت یشت بشپړ پاته دي او له بکان یشت څخه هم ډیره مهمه برخه زموږ پلاس کي ده.

[١] د زند اوستا مقدمه لومړۍ برخه.

[٢] د زند اوستا مقدمه.

اما د څلورو نورو نسکو (۱- بک، ۲- هاد هوخت، ۳ ویشتاسپ ساست، ٤- هوسپارم) څخه هم غوره برخي پاته دي او له نورو څخه لږ لږ.

دغسي هم دارمستتر وايې چه په غیر مرتب او غیر مستقیم ډول له پهلوي شرحو څخه موږ ته د اوستا دور کونسکو محتویات معلومیږي او د پنځلسو نسکو لږ یا ډیري نمونې او نسخې زموږ څخه سته.

ویست West انگلیس اوستا پوهاند، د اوستا ټول ۲۱ نسکونه ۳٤۷،۰۰۰ لفظه بولي، چه اوس فقط ۸۳۰۰ الفاظ یعني څلورمه برخه پاته او نور محو شوي دي.[1]

اوسنۍ اوستا

دا لوړ تقسیم چه په اوستا کي شوي دي، لکه تاسي چه وویل د پهلوي د دنیکر دله کتابه معلومیږي، چه پخوا ئې دغه اجزاء درلودل، اما اوس د اوستا کتاب پر دغو پنځو ټوکو باندي مشتمل دي.[2]

۱ یسنا Yasna چه د کلمې معنا ئې پرستش، نمنځنه، لمونځ او جشن دي په سنسکریت کي دا کلمه یجبنه، په پلهوي کي نیرشن، په پاړسو جشن ده، دا ټوک ټولي هغه سندري دي چه د مذهبي مراسمو پر وخت ویلي کیږي، او ۷۲ فصله لري چه له دغو څخه ۱۷ فصله د هغه پخوا گاتها څخه دي.

۲- ویسپرید Vispered یعني سروران دا برخه هم مستقل کتاب ندي بلکه په لومړي برخه اړه لري، د مذهبي دعاو او اورادو مجموعه ده، چه د یسنا سره یو ځاي ویل کیږي او له ۲۳ څخه تر ۲۷ پوري فصلونه لري.

۳- وینديداد Vendidad یعني د شیاطینو دافع قانون، چه په دغه کتاب کي د اوداسه آداب او د استغفار او توبې اصول بیان شوي دیني قوانین او احکام لري، دا کتاب ټول ۲۲ فرگرد یعني بابونه لري.

٤- یشت Yasht یعني نیانش او لمونځ چه د کلمې ریښه په هغه یسنا کي ده، دا یو ډول سندري دي، چه د خدایتعالي او پریښتو ستاینه ده، یشتونه ټول ۲۱ دي.

٥- خورده اوستا، یعني کوچنۍ اوستا چه آذربد مهر اسپند د دوهم شاپور په وخت ۳۱۰-۳۷۹ ع کي تالیف کړه، د شپې او ورځي د مختلفو اوقاتو دعاوي او لمنځونه او مناجاتونه دي. دا پنځه برخي چه لوړي ذکر شوې، اوسنۍ اوستا ځیني جوړیږي. د دې کتابو ډیري پخوانۍ نسخې نسته ډیره زړه نسخه چه له یسنا څخه د کوپنهاگ په موزیم کي سته، په (۱۳۲٥ ع، ۷۲٦هـ) د هیربد مهربان کیخسرو په قلم لیکل سوي، او وسترگارد نومي ډانمارکي مستشرق مندلې، او کوپنهاگ ته ئې وړي ده.

په اروپا کي لومړی سړی توماس هائډ Thomas Hyde انگلیسي و چه په (۱۷۰۰ ع، ۱۱۱۲هـ) ئې د ایران د مذهب کتاب خپور کړ، دي په زړو ژبو پوه و، او په دې لاري کي ډیر زیار وکیښ تر دې ورسته یو بل فرانسوي عالم انکتیل دوپرن Anquetil Duperron په (۱۷٥٥ ع، ۱۱٦۸هـ) د اوستا زده کولو لپاره هند ته راغي، دې سړي لومړی پلا اوستا ترجمه او په ۱۷۷۱ ع ئې په فرانسه کي نشر کړه، بیا نو برنوف Burnouf په ۱۸۳۲ ع د یسنا ترجمه

[1] د براون تاریخ ادبیات، ج ۱ ص ۱۷۰.

[2] پورداؤ دگاتها، ص ٥٦-٥۸ - د براون تاریخ ادبیات، ج۱ ص ۱۷۲-۱۷٥.

او شرح خپاره کړل، وروسته په دې علم کې ډیر نوموړي پوهان منځ ته راغله، چه دي ساسي، اوګروټ فنټ، رولنسن، بارتولومه، میه، لاسن، اسپیګل، ګیګر، ډارمستټر، ګیلډنر، ملر، له دغي جملې څخه دي او دغو پوهانو په المان او فرانسه کي ډیر کتب د اوستا په خصوص کي وکښل او خپاره ئې کړه.[1]

په پښتو کي د اوستا ژوندي کلمات

اوس چه تاسي ته لږ څه د اوستا شرح معلومه سوه، نو به خپل اصلي مقصد ته ولاړ سو، د اوستا یو څو مشهور لغتونه به د پښتو سره تطبیق کړو.

دمخه د ویدا په بحث کي تاسي ته د تطبیق اصول معلوم سوه، هغه تحلیلي قواعد دلته هم جاري دي او زموږ د چاري اساس یو دي. دلته چه موږ د اوستا ځني کلمات د پښتو له پلوه تحلیل کوو، فقط د مثال په ډول یو څو هغه کلمات را اخلو چه په اوستا کي ډیر مشهور دي که نه وي، د ټولي ژبي تطبیق او مقایسه بیل کتاب غواړي او د پښتو د ادبي تاریخ وظیفه هم نده.

د اوستا کلمه

تر هر څه دمخه به پخپله د اوستا نوم تر تحلیل لاندي راولو، دمخه در ښکاره شوې ده، چه دا کلمه ډیره زړه ده او د آریائي باختر له پخوانو آثارو څخه ده.

د دې کلمې په معنا او لغوي تحلیل کي پوهان ډلي ډلي دي، هر چا یوه توجیه ورته کړیده او اشکال ئې هم مختلف را نقل شویدي، اوستا، ایستا، استا وستا، افستا، اپستا. د پهلوي شکل ئې اویستاک دي، چه ډارمستتر اپستاک ضبط کړیدي، په سریاني ژبه اپستاګا او په عربي کي ابستاق دي او لکه محققین چه وایي: د دې نامه ذکر تر ساساني دورې دمخه په بل اثر کي نسته فقط یو عالم اوپرت Oppert دا عقیده لري چه د داریوش[2] د بیستون په ډبر لیک (٤ لیک ٦٤ فقره) کي چه ابستام راغلې ده، دغه کلمه ده.[3]

په هر صورت اوس خو دغه کلمه ډیره مشهوره ده، او د معنا په خصوص کي دا لاندي اقوال سته:

---

[1] ګاتها، ص ۱۱- د براون تاریخ ادبیات، ج۱ ص ۷۰-۹۰.

[2] داریوش هخامنشي چه له ٥٢١ تر ٤٧٦ ق،م پوري پاچهي کړیده، د ایران د بیستون په غره کي یوه مشهوره کتیبه لري چه د خپل سلطنت او کورنۍ احوال ئې په درو ژبو پکښي لیکلي دي.

[3] د براون تاریخ ادبیات، ج ۱ ص ۱۳۹- ګاتها ص ٤٧.

۱- پروفيسور گلدنر Goldner له پروفسور اندراس څخه هسي نقل کوي چه د اوستا کلمه له پهلوي اوپستا upasta څخه مشتقه ده، چه معنا ئې "اساس، بنيان او اصلي متن" ده، پروفيسور بارتولد او ويسباخ Weissbach دغه کلمه په اوستا او هخامنشي ډېر ليک کي د "پناه او کومک" په معناو راوړي.[۱]

۲- يو بل مشهور عالم جيکسن Jackson د نيو يارک د کولمبيا کالج پروفيسر هسي وايي چه د اوستا Avesta اصطلاح له اوستاک Avistak څخه را وتلې ده، چه دا کلمه په ساساني دوره کي عموماً مستعمله وه، مگر دا نده معلومه چه اصلي معنا ئې څه ده؟ ښايي چه پهلوي اوستاک لکه د سنسکريت ويدا غوندي د "پوهني، دانش، او علم" په معنا وي يا ښائي چه معنا ئې اصلي متن the original text وي يا قانون.[۲]

۳- په شرقي کتابو او قاموسو کي هم اوستا راوړي، مثلاً د دساتير آسماني په فرهنگ کي ليکي "اوستا بفتح اول و ثاني نام کتابيکه بر حضرت زرتشت نازل شده و معني آن بهين ستايش و مهين نيايش، وستا بکسر اول مخفف اوستاست"[۳]

فرهنگ نظام ليکي: اوستا کتاب ديني زرتشت پيغمبر ايران است اسيري لاهيجي گويد: "علم معني از کتاب اوستا حاصلت نايد مکش چندين عنا". اسدي طوسي په لغت فرس کي ليکي استا، وستا، ابستا، تفسير زند است، خسرواني گفت:

چو گلبن از گل آتش نهاد و عکس افگند   بشاخ او بر، دراج گشت ابستا خوان

٤- آپرت Oppert هسې ليکي: چه د اوستا کلمه اساساً له آبستا abasta پارسي کلمې څخه جوړه شويده چه معنا ئې قانون دي.[٤]

٥- ځني نور پوهان دا عقيده لري چه اوستا د مجهول او نا مفهوم معنا لري، او دوې ټوټې کلمه ده لومړۍ ټوټه "آ" يعني "نه" دوهمه ټوټه "ويستا" يعني دانسته ده چه مرکباً "نامفهوم او مجهول، او نا دانسته" ورته وايي.[٥] او د دې نامه وجه تسميه، هم داسي بيانوي چه اصلي باختري اوستا دوې نسخې وې او دغه نسخې هم د اسکندر په تاړاک کي ورکي او تالا شوې، وروسته چه په پارتي او ساساني دورو کي د اوستا کتاب دوهمه پلا ټولونه شروع شوه نو ئې خطي ټوټې هسي وې، چه څوک نه په پوهيدل له دغه لامله ئې نو "مجهول او نامفهوم" وباله.[٦]

[۱] گاتها، ص ٤٧ - تاريخ ادبيات د براون ص ۱۳۹.

[۲] د اوستا گرامرمقدمه، ص ۱۲.

[۳] دساتير آسماني، ص ۲۳۳.

[٤] جورنال ايشياتک سوسايتي، مارچ ۱۸۷۲ ع.

[٥] د همائي تاريخ ادبيات، ج ۱ ص ۱۲۹.

[٦] تاريخ افغانستان، ج ۱ ص ۱۹٥.

په پښتو کي اوستا

د اوستا د کلمې په شرح او مفهوم کي د پوهانو له مفکورو څخه لوړي څيړني مختصراً را نقل شوې، په پښتو کي هم دا کلمه تطبيق مومي، او لکه د ويدي ژبي ډير کلمات چه په پښتوکي وکتل سوه دا کلمه هم له پښتو سره په دوه ډوله برابريږي.[1] د پنځمي مفکورې خاوندانو اوستا په نامفهوم ترجمه کړيده، او دا نظريه اسلامي مؤرخينو هم منلې ده، مثلا علي بن الحسين مسعودي مشهور اسلامي مورخ چه په ۳٤٦هـ وفات شويدي په ۳۳۲هـ کال هسي ليکي:

"زرادشت بن استيمان و هونبي المجوس الذى اتاهم بالكتاب المعروف بالز مزمه عند عوام الناس واسمه عنالمجوس بستاه... و معجم هذا الكتاب يدور علي ستين حروفا من احرف العجم، و ليس في ساير اللغات اكثر حروفا من هذا واتي زردشت بكتابهم هذا بلغتهٔ يعجزون عن ايراد مثلها، و لايدركون كنه مرادها... وكتب هذا الكتاب في اثني عشر الف مجلد بالذهب فيه وعدو و عيد و امرونهي و غير ذالک من الشرايع و العبادات، فلم تزل الملوک تعمل بمافي في هذا الكتاب الي عهد الاسكندر و ماكان من قتله لدارا ابن دارا، فاحرق الاسكندر بعض هذا كتاب ثم صار المک بعد الطوايف الي اردشير بن بابک فجمع الفرس علي قرأة سورة منه يقال لها (استاه)... ثم عمل زرادشت تفسيراً عند عجزهم عن فهۀ و سموالتفسير (زندا) ثم عمل اللتفسير تفسير أوسماه (بازند) ثم عمل علمأ هم بعد وقات زرادشت تفسير التفسير و شرحاً لساير ما ذكرناه و سموا هذا التفسير (باردم)...[2]

ترجمه: زرادشت و استيمان زوي د مجوسو بني دي، چه دوي ته ئې د ابستا کتاب راوړ، دا کتاب عوام وګړي زمزمه بولي او ٦۰ حروفه لري چه په اکثرو نورور ژبو کي ډير دغه حروف نسته زردشت دغه خپل کتاب په داسي ژبه راوړ چه بل چا هغسي نه سواي ليکلای او نه ئې څوک په مراد پوهيدل... دا کتاب په دوولس زره ټوکه کي په زرو وليکل سو، وعد او وعيد، امرا ونهي او نور شرايع او عبادات پکښې وه، پاچهانو د اسکندر تر وخته پدې کتاب عمل کاوه، مګر هغه وخت چه اسکندر دارا مړ کړ، نو ئې د دې کتاب ډيري برخي وسوځلې وروسته ملوک الطوايف راغلل، بيا چه اردشير د بابک زوي پاچا سو، نو ايرانيان د دې کتاب د يوه سورت په ويلو متفق شول چه استاه ئې باله... په دې ډول مسعودي مورخ د اوستا نامفهوم توب بيانوي، او دا خبره نور مورخين هم مني، مثلا ابن اثير پخپل کتاب (الکامل في التاريخ) کي هسي وايي چه زردشت يو کتاب (استا، اباستا) راوړ او هري خوا ته ئې واستاوه څوک ئې په معني نه پوهيدل، او مضامين ئې درک نکړه...[3]

له دغو ټولو روايتو څخه داسي ښکاري چه اوستا حقيقتاً نامفهوم وه، او ډير نور تفاسير چه پر وليکل شوه علت ئې دغه و، چه د کتاب متن ګران او مجهول و، دغه خبره تر نژدو وختو پوري هم شرقي پوهانو ته معلومه وه حتي دوي د اوستا کتاب يو راز "رمز" هم ګاڼه، لکه چه محسن فاني کشميري ۱۰۲۰-۱۰۸۱ هـ هم په دې باب کي په ښکاره

[1] جورنال ايشياتک سوسايتي، مارچ ۱۸۷۲ ع.
[2] مروج الذهب، ج ۱ ص ۱٤۲ د مصر طبع.
[3] الکامل ابن اثير.

لیکي "کتاب زند بر دو قسم است، یک قسم آن صریح و بي رمز که آنرا "مه زند" نیز می گفتند، و قسم دوم رمز و اشارات که آنرا "زند" هم مي خوانند..."[1]

د اوستا په خصوص کي د پنځمي مفکورې د خاوندانو لپاره دا ټول تاریخي دلایل موجود دي، او که موږ له دغه نقطهٔ نظر د اوستا کلمه تحلیل کړو، نو سمه راځي، په دې ډول دا نوم مرکب دي له دوو ټوټو څخه (ا ـ وستا) یعني مفتوح همزه په آریائي ژبو کي د نافیه (نا) په معنا راځي، په سنسکریت کي هم عام دي الف په (ی) هر وقت اوړي، نو (ا) ته (یه=یا) هم ویلاي سو، چه اوس د قندهار په پښتو کي کېږ مېږ د (نه، نا) په معنا د نفي لپاره دي. مثلاً احمد راغلي دي؟ یه ندي راغلي، د خلیل خان نیازی په دې رباعي کي (یه) د نفي په معنا ښه واضح شویدی.

خړي اوریځي ژاړي له پاسه کویله بړغ کا بیلتون له لا سه

یه، هغه لوني گوهر په خول ستا دا مرحبا کا ستا، ږموږ مواسه[2]

دوهم جزو (وستا) له پښتو (ویستل) څخه جوړ شویدئ چه معنا ئې ده (استخراج، د باندي ویستل) د دې مصدر اسم مفعول (ویستلي او ویستئي) دي، او پخپله (ویستا) کلمه هم په زند ژبه کي اسم مفعول دي، نو اویستا داسي معنا لري: نا استخراج شوي، نامفهوم.[3]

که په اوسنۍ محاوره دا کلمه ووایو (یه وستي) یعني (ناویستي) او نا مفهوم به وي، چه کېږ مېږ هغه "اوستا" هم دغسي ده.

د اوستا کتاب له بخدي او باختر څخه را وتلي دي، نو لکه پخپله د بخدي کلمه چه د پکهت او پښت او پښتون سره نښتې ده، د اوستا نوم هم دغسي له پښتو سره اړه لري، او د دې کتاب نا مفهوم توب د اسیري لاهیجي له هغه ذکر شوې پارسي بیته هم ښکاري، ځکه چه دی وایي: له اوستا څخه معني نسي درک کولای، بیهوده زیار مکاږه، د پنځمي مفکورې له رویه خو د اوستا کلمه په دې ډول تجزیه شوه (ا ـ ویستا) اما که د دریمي نظر ئې له مخه د شرقي لیکوالو په قول اوستا "بهین ستایش او مهین نیایش" وگڼو نو به ئې په پښتو کي داسي تحلیل کړو.

اوستا دوې کلمې دي (او ـ ستا) لمړي جزو ئې (همزه) او (واو) دي. همزه حلقي حرف دي، او ډېر ځله له (هـ) سره بدلیږي مثلاً هلک ـ الک، هگۍ ـ اگۍ او نور د سنسکریت د کلمې په تحلیل کي تاسي ولوستل چه په هغه ژبه کي سو su د "ښه" په معنا دی، ځکه چه د سنسکریت (س) په اوستا کي تل په (هـ) اوړي، نو (سو) په اوستا کي (هو) شو په پاړسو کي هـ (خ) کیږي لکه هوارزم چه خوارزم سویدي په پښتو کي دغه د اوستا (هو) په (او) بدل شو، یعني "ښه" په فرس قدیم کي هم دغه د اوستا (هو) په (او) بدل شوی دي، د داریوش په ډبر لیک

[1] د بستان مذاهب، ص ۹۷.

[2] پټه خزانه، ص ۷۷.

[3] فقه اللغه.

کي (او اسپ) یعني ښه آس (او اومرتیا) یعني ښه سړی راغلي دي[۱] او پخپله (هو) هم په پښتوکي د ایجاب کلمه ده، چه اوس هم ژوندۍ ده، او هغه د "ښه" معني لري.

دوهم جز چه (ستا) دي، ریښه ئې (س، ت) دي، چه له دې ځخه د پښتو (ستایل، ستاینه، ستانه) د پاړسو (ستایش، ستودن) را وتلي دي. ستایوال هم په پښتو ستایش کننده ته وایي، امیر کروړ سوري چه د پښتو خورا پخواني ادیب او شاعر دي پخپله حماسه که وایي:

نړۍ زما ده نوم مي ستایي، پر دریځ ستایوال[۲]

په پهلوي کي هم د "ستا" ریښه وه، اسدي طوسي لیکي: چه "آفد ستا" مرکب دي له افد یعني شگفت او ستا یعني ستایش ځخه لکه دقیقي چه وایي:

جز از ایزد تو ام خداوندي　　　　کنم از دل بتو بر آفد ستا[۳]

له دې ځخه هم معلومیږي، چه له پخوا ځخه دا ریښه په پښتو او نورو آریایي ژبوکي وه، نو له دغه جهته ویلاي سو چه د اوستا دکلمې دوهمه ټوټه (ستا) له دغه ستایلو ځخه ده.

په دې ډول به (اوستا) پخپله د اوستا ژبي په اصطلاح (هوستا) او په پښتو به (اوستا) یعني (ښه ستاینه) او هغه "بهین ستایش او مهین نیایش" سي، چه دا لغوي تحلیل هم د اوستا دکلمې ریښې په پښتوکي ځرگندوي.

زراتشترا Zaratashtara

تر اوستا وروسته دوهم مهم نوم د دې کتاب د راوړونکي نوم زراتشترا یا زردشت دي، چه دا سړی د بخدي آرئیایانو یو نوموړي دیني مبلغ او موسس دي. د زردشت له نورو سوانحو او د ده له دین اوکتابه سره دلته موږ نور کار نه لرو فقط د ده د نامه تحلیل د پښتو له پلوه کوو. د ده د ژوندانه د عصر په خصوص کي فقط دوني وایو، چه مورخین مختلف دي خو اکثر هسي وایي، چه زردشت د (٦٥٠ ځخه تر ٥٥٠ ق،م) پوري یعني په دغه یوه قرن کي ژوندي و،[٤] ځکه چه دا سړی هم د بخدي او باختر ځخه را وتلي دي، نو بیشکه باید د ده په نامه کي د پښتو ریښې هم وي.

نوي او زاړه محححقین د زراتشترا په نامه کي مختلف دي، مثلاً په دغو ډولو دا نوم له قدیمه تر اوسه ضبط شویدي، زراتشترا، زارتشت، زارهشت، زاردشت، زرادشت زردهشت، زرتهشت، زره تشت، مگر په گاتها کي زرتشترا راغلي، او دا ډول ئې پخواني دي، یونانیانو زورا دروس، زاروس، زراتش زاروستر هم را وړي دي.[۵]

[۱] گاتها، ص ٨٩.
[۲] پټه خزانه، ص ٣٥.
[۳] لغت فرس، ص ٥.
[٤] تاریخ عمومي عالم، ج ١ ص ٣٢١.
[٥] گاتها، ٢٢.

لکه د دې نامه په ظاهري ډول او شکل کې چه اختلاف دی، په معنا کې هم دغسې مختلفې مفکورې موجودې دي، هر چا يوه توجيه کړېده، او مشهور اقوال ئې دغه دي:

۱- دينون Deinon يوناني مورخ وائي، چه زرتشتر يعني (د ستورو ستايونکي) دا مورخ چه تقريباً دوه زره کاله تر اوس دمخه ژوندی و هسې راې لري.[1]

۲- نوی اروپائي محققين هم ډول ډول ترجمې ورته تراشي. مثلاً کاسل Cassel وايي، معنا ئې (د ستورې زوي ده) ونيډشمن Windischman او ميولر Muller دا عقيده لري، چه معنا ئې (د دلاور اوښ خاوند) ده، هارلز Horlez ئې په (لکه طلا داسې بريښېدونکي) سره ترجمه کوي، دارمستتر وايي چه معنا ئې (د ژېړ اوښ خاوند) ده بارتومه ئې (د زاړه اوښ خاوند) بولي، جاکسن انګليس هم دغسې وايي، پروفيسور رات ئې د (زرګر) په معنا اخلي.[2]

۳- شرقي پوهان د دې نامه معنا (آوردهٔ نخست يا آفريدهٔ اول) ليکي. او ځيني ئې په (فرستادهٔ يزدان يا نفس کل، نور مجرد، نفس ناطقه) سره ترجمه کوي.[3]

٤- ځيني پوهان داسې وايي: چه دا کلمه له سامي ژبو څخه راغلې ده راولينسن انګليسي ليکي چه لومړی جزو ئې (زرد) له (زيرد) څخه جوړ شوی دی چه معني ئې، زاده ده دوهم جزو ئې اشترا د زهري ستوري نوم دی، نو مرکباً ئې داسې معنا کيږي (زادهٔ ستارهٔ زهر) د کلدانيانو په عقايدو کې زهره د (ايستار) ظهر و، چه د عشق رب النوع او د جګړو ملکه وه.[4]

٥- دا ټول نظريات چه ذکر شول د ځينو نورو پوهانو له خوا رد شوي دي ځکه چه هر چا يوه تقريبي او تخميني مفهوم ورته ټاکلی دی، پورداؤد وائي:

ښائي چه يوه دغه نظريه سمه نه وي، ځکه که لومړي جزو (زر) وبولو، دا کلمه خو په اوستا کې زيريت Zairita وه، او زرنت د (زوړ او پير) په معنا دی، مګر په ترکيب کې دا کلمات په څه ډول (زرت) شول؟[5]

په هر صورت نظريات مختلف دي، او د نامه تحليل هم سخت دی. خو تر ټولو معقوله او لغوي تحليل ته نژدې مفکوره د پروفيسور هاګ Haug ده، دی وايي: چه لومړی جزو زرت (زړه) او دوهم جزو له يوتارا Uttara څخه مشتق دی، يعني (اعلي) نو چه مرکباً ئې معنا وکړو زرا تشترا (د اعلي زړه خاوند) مفهوم لري، که څه هم هاګ دې نامه ته نوري معناوي لکه ستايونکي او سندري ويونکي هم ږدي، مګر موږ ته د لغوي څېړنې په رڼا کې تر ټولو د ده لومړۍ نظريه معقوله ايسي.

---

[1] ګاتها ۲۲.

[2] تاريخ عمومي عالم، ج ا ص ۳۲۰.

[3] فرهنګ ناصري.

[4] تاريخ عمومي عالم، ص ۳۱۹.

[5] ګاتها، ج ۲ ص ۲٤٦.

د نامه تجزیه

په پښتو کي د زره تشتره نوم د هاگ د عقیدې پر اساس داسي تجزته کولاي سو چه لومړی جزو ئې یقیناً د اوستا زرته Zaretha او د پښتو زړه دي چه پارسي دل ته ئې په اوستا زرته وایه.[1] چه ورته څېر سو د کلمې استاسي عناصر (ز-ر) دي چه د اوستا (ر) د (ت) په ملگري یو راز آوازکاوه، چه د (ته=ذ) تر منځ ؤ، او دغه آواز د پښتو (ړ) اداکړی دي، نو اساساً گویا دوهم اواز یو قسم درنه (ر) وه!

د زړه له مادې څخه ځني نور اسماء هم په اوستائي دوره کي سته، او مور ته دا ثابتوي، چه د زردشت په عصر کي له دې مادې څخه ډېر نومونه جوړ شویدي، مثلاً د بلخ په مشهورو تاریخي پهلوانانو کي یو (زریر) دي چه "یاتکار زیریران"کتاب د ده په نامه کښل شوي، او په پهلوي ژبه کي سته، زریر د ویشتاسپ ورور او اصلاً ئې نوم د مسترِ وست په قول "اسپه یاودا" و، او په اوستا کي ده ته (زري واري) لقب ورکړ شوي دي[2] چه لومړي جزو ئې زري (زړه) او دوهم جزو ئې (واری) د پښتو اوسني د فاعلیت ادات (ور) دي، نو زری واری (زړه ور) پښتو کلمه ده چه دغه زری په زره تشتر کي هم سته، زره، زري، زرته ټول دغه د پښتو (زړه) ته راځي.

اوس چه تاسي ته په اوستائي نومو کي د (زړه) د کلمې ریښې معلومي شوې، او دا مو ومنل چه د زراتشتر د نامه لومړی ټوټه هم دغه (زره=زړه) ده، نو به دوهمې ټوټې ته ولاړ سو، چه دغه څنگه ده؟

لکه چه تاسي وکتل: اکثرو خلقو دوهم جزو (اشترا) یعني اوښ بللي دي، په حقیقت کي د (ت،ش،ت،ر) اساسي حروف داکلمه تشکیلوي، چه (ش،ئې، ښ) او (ر، ئې، ن) هم ویل کیږي، نو تشتر د پښتو (تښتن) دي چه معنا ئې صاحب، خاوند، مالک ده، او دا کلمه په پښتو کي د "څښتن" په شکل هم موجوده په ادب او محاوه کي عموماً ژوندی او مستعمله ده.

د (ش) او (ښ) ابدال عمومي دي، دا دواړه حروف له یوه مخرجه او یوه اصله دي د پارسي اکثر (ش) د پښتو په (ښ) بدلیږي، اخرني حرف ئې (ر) ده، چه په پښتو کي په (ن) اوښتې ده دا ابدال هم روا دي، ځکه چه دواړه توري له تالو څخه اداکیږي او د یوه مخرج دي. نو به اوس دا کلمه په پښتو کي په دې ډول ترجمه شي زره تشتر یعني (د زړه تښتن) چه په پارسي ئې (صاحب دل) ترجمه کوي.

ځکه چه زردشت روحاني سړی و، نو ده ته د زړه تښتن او صاحب دل ویل، تر نورو ټولو نومو افضل دي او دا اصطلاح تر اوسه هم په دغسي ځایو کي سته، که د زره سره (ور) یو ځاي کړو، هلته، شجاعت، دلاوري افاده کوي، که (تښتن) ور سره ووایو، نو روحانیت او معنوي احوال، او هادي توب او رهنما والي را ښئی.

سپنتمان Spentoman

دا کلمه د زردشت د نامه سره ډېره راځي وایي چه سپیتمه Spitama د زردشت د کورنۍ نوم و او د ده نهم نیکه هم په دغه نامه یادیدی. د یسنا په ۱۹ قطعه کي دا نوم راځي په پهلوي کي سپیتامان، سپیتمان ویل کیږي.

[1] فرهنگ نظام، ج ۳ ص ۷۲.

[2] ابان یشت، فقره ۱۱۲-۱۱۳.

لومړۍ برخه ئې سپيت (سپيد) ده او د دې نامه معنا داسي کيږي "سپين نژاد" په گاتها کي هم دا نوم ډير ځله راوړي.[١]

سپين نژاد خو داسي مفهوم لري چه بايد دي له سپينه پښته وي، او سپين پوستي وئ، مگر ښائي چه دا نوم معنوي جنبه هم ولري چه د ده اصل او خټه سپينه وه يعني له ښې او روحاني او شريفي کورني څخه و لکه چه ځينو خلقو دغه سپيتمان په (پاک روان) هم ترجمه کړي دي.[٢]

په هر صورت دا فاميلي نوم د ترکيب او معنا له پلوه پښتو دي او د پښتو پر اساس ئې لومړی جزو (سپين) صفت دي. چه تر خپل موصوف دمخه راغلي دي دوهم جزو ئې (تمان) موصوف دی چه اوس د دې کلمې شکل په پښتوکي (تومنه) ده، يعني اصل او مايه. په قندهارکي داکلمه اوس هم په دغو معناو سته مثلا د مستو تومنه هغه مستې بولي، چه د مايئې په ډول ئې تودو شدو ته اچوي چه مستې سي.

د بد خلق سړی په خصوص که وايی "تومنه ئې خراپه ده" يعني اصل او نژاد او مايه ئې ورانه ده[٣] نو په پښتو کي به هغه تاريخي سپيتمان (سپين تومني) يعني (سفيد نژاد) سي، چه فقط يو د سپين آخرني (نون) د تخفيف له پلوه حذف شويدي، او د تومنی (واو) هم ځکه چه حرف علت دي، په الف اوښتي، او له خپله ځايه ښوريدلي پسله (م) راغلي دي. او داسي تغيرات چه په څو زره کاله کي دې کلمې ته ور پيښ شوي دي، د ژبو په تحول کي عمومي دي.

د سپيتمان لومړي جزو چه (سپين) دی، په اکثرو آريائي نوموکي ريښه لري، يعني د باختر آريائيانو د اکثرو نومو په سرکي سپين کلمه راځي، مثلاً سپين دات **Spendat** سپين تا **Spenta** سپينتو داتا **Spentodata** او نور چه د اوستا په ونديدادکي داسي نومونه ډير دي او د لومړی جزو معنا ئې هم دغه سفيد دي، چه د پښتو "سپين" کټ مټ پکښې معلوميږی.

نو په دغه تاريخي استناد په ټينگه ويلاي شو، چه د (سپيتمان) لمړی جزو هم دغه (سپين) دي چه د هغه عصر په ټولو نوموکي و او د دغي کلمې په معرب شکل (اسفنتمان) کي هم دغه پښتو صفت ساتلي شوي دي.

اهورا مزدا Ahura Mazda

په اوستاکي اهوره مزده د لوي خالق نوم دي، چه داکلمه (اور مزد) هم نقل شوې، او مخفف ئې (اور مز) هم ده، په لوي سرکي د (خداوند دانا او وجود اعلي) نوم و، وروسته ئې ډيري نوري مجازي معناوي هم موندلي دي.[٤]

---

[١] گاتها، ٩٢.
[٢] تاريخ افغانستان، ج ١ ص ١٩٠.
[٣] آريانا، ج ٢ ص ٣٨، شمارهٔ ٢.
[٤] فرهنگ نظام، ج ١ ص ٤٨٨.

ګايګر الماني وايي: چه اهوره مزده د عالم پاچا او د غيب او شهود مالک و. هر ځاي د خالق تعالی نوم داسي په اوستا کي ذکر شوی دي[1] په هر صورت خو دا نوم د اوستائي ژبي يو مهم اسم دي او تر اوسه هم په پاړسو ژبه کي د (اور مزد) په ډول موجود دي، که موږ دا نوم تحليل او تجزيه کړو درې ټوټې دي (اهور=اور) دوهم (مزدا) او په دې ډول دا دواړی ټوټې په پښتو کي ريښه لري.

تاسي دمخه د سنسکريت په څېړنه کي د (مزدا) د کلمې نظاير او امثال او ريښې په پښتو کي وليدې، نو ئې دلته تکرار ښه ندي، فقط د لومړۍ ټوټې تحليل دلته ولولئ: اوستائي (اهور) د (هور) په شکل اوس په پاړسي ادب کي موجود دي چه معنا ئې نور، لمر ده، ځکه چه هر وخت د اوستا (هـ) په سنسکريت کي په (س) اوړي، نو دا کلمه په سنسکريت کي سور او سوريا شوې ده چه لمر ته ويل کيږي.[2] فردوسي وائي:

از ويست شادي و زويست زور　　　　خداوند کيوان و ناهيد و هور

ځکه چه له هور څخه مقصد رڼا او بيا لمر ؤ، نو له دې جهته کله ستوري او طالع ته هم مناسبتاً (هور) ويل شويدي، فردوسي وائي:

به يکبارگي تيره شد هور تو　　　　کجا شد چنان مردي و زور تو؟

په پاړسو کي د اوستا (هـ) په (خ) هم بدليږي لکه چه دمخه هم ويل شوي دي نو دغه کلمه (خور) هم شوه، چه لمر ته وائي، دکتور ګايګر هسي شرح ورکوي چه هور يعني لمر او نور چه د اهورا مزدا مخلوق دي، د نورالانوار او ضياي مطلق په مفهوم هم و.[3] پخوانو انسانانو رڼا او نور مقدس ګڼل، او احترام ئې کاوه، ځکه نو دوي لمر په اسمان کي مقدس ګاڼه چه د نور منبع دي، او په مځکه کي بيا د نور منبع (اور) باله او مقدس ئې ګاڼه، لکه چه په ويدا او اوستا دواړو کي د اور په نمايندګي ارباب انواع سته مثلاً د ويدا يو مشهور رب النوع (اګني) يعني (اور) دي، چه د دوي په عقيده ئې لمر، بريښنا، او اور درې بدنونه دي، او د رڼا او اور د تقديس عقيده په اوستائي آريائيانو کي هم وه[4] ګايګر وائي: چه په مځکه کي د ټولو رڼاؤ مرکز (اور) دي، او بيله اسماني رڼاؤ، دلته د هري رڼا منبع (اور) ګڼل کيږي، ځکه نو پاک شي بلل شوي دي او د آسماني رڼا منبع (لمر) هم د مزدا د ابدي رڼا نماينده ګڼل کيدي.

دغه د اهورا يا هور يا اور کلمې دي، چه واو ئې په (ی) هم اوښتي او (هيربد) ځيني جوړ شويدي، چه اصلاً بايد (هوربد=اوربد) وي.

[1] د خاوری ايرانيانو تمدن، ج ١ ص ١٤١.

[2] فرهنګ نظام، ج ٥.

[3] تمدن ايرانيان خاوري، ج ١.

[4] تمدن ايرانيان خاوري، ج١ ص ١٦-١٧.

هوربذ د زردشت لقب دي، او معنا ئې ده (د اور خدمتګار) یا (اور مشر)، عربو دا کلمه هربذ کړه چه جمع ئي هرابذه ده، علامه خوارزمي وایی: چه دا د فرس پهلوي لغت دي، او معنا ئې خادم النار او عبدالنار ده.[1]

په پاړسو ادب کي هم هیربد د زردشت د لقب په ډول استعمال شوی دي "ندانم که آن هیربد را که کشت؟"

له دغو ټولو تاریخي او لغوي څیړونو څخه تاسي ته ښکاري چه په مځکه کي (اور) د آسماني (اهورا=هور=اور) نمایند ؤ، او دا پښتو کلمه په اوستا کي په لوړو صورتو موجوده وه، کله ئې معنا رڼا، کله لمر، کله اور وه.

پوهان وایي: چه په ویدا کي (ورن) یو رب النوع دي، چه دغه کټ مټ د یونانیانو (اوري ناس) او د اوستا (اور مزد) دي، او د دې نومو ماده او عنصر هم (ور) ده.[2] نو که دې کلمو ته سړي ځیر سي، لومړي جزو ئې دغه پښتو (اور) دي (ور=اوری=اور) چه د ایران د مخامنشي دورې د زړې پارسي په کتیبو کي هم (اورمزد) راغلي دي.[3]

نو که د دغه لغوي تحلیل له رویه، تاریخي مواد هم په نظر کي ونیسو، او د اوستا، د (اهوره مزده) معنا وکړو باید داسي ووایو (نمنځلي اور) یا (مجلله رڼا) یا (د عبادت وړ رڼا) چه ذات واحدلا شریک دي.

د دې کلمې اوستائي ترکیب هم د پښتو سره سم دي، ځکه (مزدا) چه صفت دي تر اهورا موصوف دمخه دي په دې ډول (مزدا اهورا)[4] چه له دغه څخه ئې هم پښتو ته نردیوالي ښه ښکاري.

واره Vara

دا کلمه هم ډېره تاریخي او مهمه ده، اوستا په وندیداد کي دا نوم راوړي، او داسي ښکاري چه په بخدي کي دا لومړۍ وداني ده، چه یما Yama د اهورا مزده په امر جوړه کړه. پخپله اوستا د دې وداني په خصوص هسي وایي: "تر ژمي دمخه په هیواد کي ډېر واښه د ژویو لپاره را شنه شول او اوبو ښه خړوب کړل، نو اوس به تر واوري لویدو وروسته (اې یما!) دوني نوکي ځاي چه د پسه پښه پر ایښوکیږي، عجیب ښکاره سي!

نو له دې جهته ته جوړ کړه یوه واره، چه د آس د سپرلو د ډګر غوندي ئې هره خوا ارته وي او هلته د پسو او غویو، او سړیو او سپیو او مرغانو تخمونه، او سور بریښیدونکي اور در سره یوسه!

نو له دې جهته ته جوړه کړه یوه واره چه د آس د سپرلو د ډګر غوندي ئې هر اړخ وي، او دا ځاي خلقو ته ټاټوبي وي، یوه واره چه د آس د سپرلود ډګر غوندي ئې هر اړخ وي، د غویو او پسو لپاره هلته ته اوبه وبهووه، په

[1] مفاتیح العلوم، ص ۲۶-۷۱.
[2] د ویدو تعلیم، ص ۱۸.
[3] آثار العجم.
[4] تاریخ عمومي عالم، ج۱ ص ۳۲٦.

یوه واله کي چه هیوه هاتره[1] اوږده وي، هلته ښائي چه ته یو ټاټوبي ودان کړې، چه یو کور وي د لوړي خوني او غولي او دالانه سره!

هلته ښائي چه ته د سړیو او ښځو تخمونه یوسې کوم چه ډېر لوي او خورا ښه او غوره وي پر مځکه، هلته ښائي چه ته د هر راز ژویو تخمونه یو سې، کوم چه ډېر لوي او خورا ښه او غوره وي پر مځکه؛

هلته ښائي چه ته د هر راز ونوو تخمونه یو سې، کومي چه ډېري جګي دي، او خورا ښه بوي ئې ځي، پر دې مځکه هلته ښائي چه د هر راز میوو تخمونه یو سې کومي چه خورا ښه خوند او ښه بوي لري.

له دغو ټولو تخمو څخه ښائي چه ته دوه دوه له هره ډوله څخه یو سې، او په ډېر زیار ئې خوندي کړې، تر څو چه هغه سړي ټول په (واره) کي هستوګن سي.

هلته ښائي، چه ټیټي یا خیټو، یا لیني یا لپوني، یا بد خواه، یا درواغجن، یا کین کښ، یارخن (حاسد) یا وران غاښي، یا پیس استوګه وکړي... د دې ځاي په لویه برخه کي ښائي چه ته نه واټونه جوړ کړې، شپږ په منځ کي او دري نور په هغه کوچنی برخه کي، د لویئ برخي په واټو کي ښایي چه ته زر سړي او ښځي واچوې په منځني برخه کي ښائي چه شپږ سوه وي، او په کوچنۍ برخه کي درې سوه، ښائي چه دغه واره په خپل طلائي مهر ټاپه کړي، او یو ور او کړکۍ ورته جوړه کړي، چه پخپله یو له بله سره ورځي.

دلته نو یما له ځانه سره وویل دغه وراه چه ما ته ئې اهوره مزدا د جوړولو امر وکړ زه په چا جوړه کړم؟ اهوره مزدا ورته وویل: اي ښکلي یما، د ویوانګهت زوا! مځکه د خپلي پښې په پونده وخره او بیا ئې په خپلو لاسو خټه جوړه کړه لکه کلالان چه د خپلو لوښو لپاره خټي جوړوي!

بیا نو یما دغسي وکړه، لکه اهوره مزدا چه ویلي وه، مځکه ئې په پښو وخرله او پخپلو لاسو ئې خټه جوړه کړه لکه د لوښو خټه. نو یما یوه واره ودانه کړه، چه د آس د سپرلو د ډګر غوندي ئې هر اړخ ؤ او ده هلته د پسو او غویو او سړیو او سپیو او مرغانو تخمنونه، او ځلاند سور اور یووړ، ده جوړه کړه یوه واره، د سپرلو ډګر په شان، د سړیو د ټاټوبي لپاره، او یوه واره د سپرلو د ډګر په شان د غویو او پسو لپاره!

هلته ده د اوبو واله چه یوه هاتره اوږده وه، جوړه کړه او هلته ئې مرغان پر داسي چمن کښینول، چه کورټ نه زمول کیدي، او نه ئې خواړه ناغه کیدل؛ هلته ده یو ټاټوبي ودان کړ، چه یو کور او لوړه خونه، او دالان او غولي ئې درلود.

هلته ده د سړیو او ښځو تخمونه یووړل، کوم چه پر دې مځکه خورا لوي او خورا ښه او غوره وه. هلته ده د هر راز څارویو څخه چه پر دې مځکه خورا لوي او خورا ښه او غوره وه یووړل، هله ده د هر راز ونو څخه چه پر دې مځکه ډېري جګي او ښه بوي لرونکي وې، تخمونه کښیښوول. هلته ده د هر راز میوو څخه چه ډېري خوندوري او

[1] یوه هاتره تقریباً یو میل کیده.

ښه بوي لرونکي وې تخمونه یووړل. له دغو ټولو تخمو څخه ده دوه دوه یووړل، او په زیار ئې هلته وساتل تر څو چه دغه واره په سړیو ودانه سوه.[1]

په ورستنیو فقروکي کټ مټ هغه د مخني د واره ودانولو اصول بیرته راغلي دي، چه دمخه ذکر شول، او وایي چه یما دغسي وکړه، لکه چه امر ورته شوي و، څو چه واره ودانه شوه.

پدې ډول اوستا د واره ودانولو نقشه مفصله کاږي او لدې څخه هسي ښکاري چه یما د اهوره مزدا په ښوونه واره جوړه کړې او څه هغه کي د مدنیت لومړی اساس ایښې و.

واره په بخدي کي وه او تر اوسه ئې هم آثار د نو بهار په نامه سته هغه وخت چه د یما په دغه تاریخي ټاټوبي کي زردشت را وپاڅیدي نو ده له درو زامنو څخه یو چه یوروتاد نره Urvatad-nara نومیدي واره مشر ټاکلي شوي و یعني Temporal lord of the Vara.[2]

د اوستا دا (واره) وروسته عجیب تاریخ لري او هم دا کلمه د زمانو د تیریدلو سره هسي رنگونه مومي، چه کورټ نه پیژندله کیږي، ځکه چه په پښتو کي ریښه سته، نو دلته څه نه څه د دې لغت تاریخي او ادبي تحولات بیانوم.

په سنسکریت کي له دغي ریښې څخه ډېر کلمات جوړ شوي دي، مثلاً واړ var یعني محوطه، ځاي، د هندوانو دستیٔ کولو ځاي. واړا vara د یو ښار څلورمه برخه، یو ځاي چه د هري طبقې خلق پکښې اوسئ، واړی Vari یوه محوطه، غولي، دربار، با غ.[3]

د سنسکریت (واړه) د اوستا له (واره) سره هم په تلفظ هم په معنا کي یوه ده، او دا یوه آریائي پخواني کلمه ده، چه وروسته په بودائي دوره کي (وهار) شوه، ځکه چه دغه د بخدي (واره) هم وروسته د یوه معبد په ډول د زرتشتي دین کانون او مرکز وه، نو هغه وخت چه د زردشت اتباع ورک شول او د ده دین له منځه ولاړ، نو پر پښتونخوا او باختر د بودائي مذهب خپې راغلې، او افغانستان د دغه مذهب مرکز سو، بامیان ئې د بتخانو او معابدو کانون و، نو هغه د اوستا (واره) چه د زرتشتي دین معبد وه، اوس د بودائي دین کانون شوه.

اوس هغه لوړ او جگ بیرغونه چه د بخدئ ښار ئې په نامه یادیدي (د لوړو بیرغو ښکلي ښار) اوس د بودا د اتباعو له خوا لوړ شول نو دوي د اوستا (واره) په بودائي اصطلاح (وهار) تبدیله کړه او هغه زرتشتي آتشکده او بتخانه شوه او دغه (وهار) ؤ چه وروسته بهار شو او په اسلامي دوره کي دغه د بخدي معبد "نو بهار" باله کیده.[4]

---

[1] وندیداد فرگرد ۲، ۲ برخه له ۲۱ تر ۴۳ فقرې پوري.

[2] اوستا، ص ۲۱، حاشیه د ډارمستټر له خوا.

[3] هندي قاموس، ص ۷٦۱.

[4] تعلیقات هند و عرب، ص ۱۱۲.

که څه هم ځني ليکوال لکه د هند مولانا سيد سليمان ندوي په تعلقات هندو عرب کي دغه معبد کورټ يو بودائي بودتون ګڼي او وائي چه بلاذري مورخ په ۲۴۷هـ کي د عربو د بريو پر وخت ډير داسي وهارونه په سيند کي ښوولي دي چه سرې جنډې به ئې در لودې[۱] مګر لکه محققين چه وائي لومړي دا د بلخ (وهار) يوه زرتشتي آتشکده وه[۲] وروسته چه بودايي مذهب راغي نو دا ځاي يو بودائي بودتون (بتخانه) سوه، مشهور مستشرق زخاؤ هسي وايي: چه د نوبهار کلمه اصلاً نووهار او بودايي خانقاه وه.[۳]

برتهالډ W. Barthald نومي مستشرق همداسي وايي چه د يوه چيني سياح او ابن فقيه له بيانه هسي ښکاري چه دغه نوبهار د بودائيانو (نو وهار) و.[٤] پدې کي شک نسته چه د بلخ واره چه په اوستا کي ذکر شوې ده د زرتشتيانو مرکزي معبد ؤ مګر د اسلام د راتګ پر وخت يعني په شپږمه عيسوي پيړۍ کي ټول تاريخي روايات دا ښکاره کوي چي دا ځاي بودائي بودتون ؤ مثلاً هيوان تسنګ چيني سياح چه په شپږمه عيسوي پيړۍ کي بلخ ته راغلي ؤ دغه معبد يو بودائي بودتون ښکاره کوي.[٥]

او دا هغه وخت دي چه تر ده وروسته نو اسلامي فاتحين دلته را رسيدلي دي او پدغه وخت په سنده کي هم د نو بهار په نامه بودائي بتخانې موجودي وې.[٦] چيني زاير هيوان تسنګ چه دمخه ئې ذکر وشو د بلخ دغه معبد ويهارا بوللي دي وايي چه دلته دوه بودتونونه موجود وه چه يو ويهارا بلل کيده بل ناو او يهارا يعني نوبهار چه اسلامي مورخين هم د نو بهار ذکر کوي. مسعودي وايي: د نو بهار عمارت ډير پوخ او جګ و، زرغونې جنډۍ په نيزو وپيلي لوړي پر ريپدې څلورو خواو ته ئې ديوالونه وه او دا جنډۍ دوني لويي وې چه له ليري ښکاريدې.[٧]

ابن الفقيه همداني وائي: نو بهار برمکيانو جوړ کړي و، دوي د بتانو پرستش کاوه، دوي چه د قريشو د مکې حال وارويدي، نو ئې دا معبد جوړ کړ، چه نوم ئې نوبهار و يعني نوی د دې ځاي يوه ګنبده (اشبت) سل ګزه لوړه او سل ګزه ارته وه، شا و خوا ئې د متوليانو ۳٦۰ کوټې وې مشر متولي ئې برمکا نوميدي، د چين او کابل پاچهان د دوي په مذهب وه او لوي بت ته ئې سجدې کولې.[٨]

ياقوت حموي چه يو اسلامي مشهور جغرافيا ليکونکي دي د ٦۰۰هـ په حدودو کي هسي ليکي: برمکيان تل په بلخ کي معزز وه د نو بهار وداني په دوي اړه درلوده چه څلورو خواو ته ئې بوتان ولاړ وه ځکه چه پر دې وداني

---

[۱] فتوح البلدان، ص ٤۳۷.
[۲] د براون تاريخ ادبيات ايران، ج ۱ ص ۲۵۹.
[۳] دکتاب الهند انګريزي مقدمه، ص ۳.
[٤] انسکلوپيديا آف اسلام، ج۱ ص ٦٦۳.
[٥] انسکلوپيديا آف اسلام، ج ۱ ص ٦٦٤.
[٦] چچ نامه د اليټ ترجمه، ج ۱ ص ۱۵۰.
[٧] مروج الذهب، ج٤ ص ٤۸.
[٨] کتاب البلدان، ص ۳۲۳.

هر کال په پسرلي خلقو گلونه اچول، نو په نوبهار مشهوره شوې وه. د دې ځاي لوړه جنډۍ له بلخه په ترمذ کي ښکاره کیده، د هندوسستان او چین او کابل پاچهان د دوي په مذهب او بت پرست وه.[1]

علامه قزویني داسي وایي: په بلخ کي د نو بهار ودانيٍ او تر ټولو لویه بتخانه وه، چه په وریښمو او جواهر سنبال شوې وه، سل گزه لوړه او سل گزه ارته وه. برامکه د دې ځاي اصلي متولیان وه.[2]

د اسلامي مؤرخینو له دغو روایاتو څخه هم د بلخ د نوبهار د ودانۍ شهرت معلومیږي او ښایې چه هغه قدیمه واره ورانه شوې وي، او لکه یاقوت چه وایي بیرته د برمک له خوا ودانه شوی او "نو بهار" بللې شوې وي.[3]

په هر صورت دلته زموږ مقصد دا ندي چه د نو بهار تاریخ ولیکو فقط د دغو تاریخي روایاتو په سیوري کي غواړو چه د دغه نامه لغوي تحلیل وکړو، او په پښتو کي هم ریښه ومومو.

تاسي ولیدل چه اصله اوستائي کلمه واره وه په سنسکریت کي په لږ تغیر واړه شوه چه معنا ئې ښار او محوطه او کلا غوندي وه ځکه چه د بخدي واره د زرتشتي مذهب مرکز و او بیا نو د بودائیانو بوتون ځني جوړ شوي و په دې لحاظ په اسلامي دوره کي هغه بودائي وهاره هم لفظاً هم معناً لږ څه واوښته او لکه دمخه چه تاسي ډېر نور مثالونه ولیدل (و) پخپله هم مخرجه حرف (ب) بدل شو (بهار) وگرزیدي او بیا (نو) یعني نوي هم ورسره زیات شو (نوبهار) او تر اسلامي دریمی پیړۍ پوري دغه بودتون موجود و او لکه چه لوړ مو ولوستل د عربو مشهور مؤرخینو ئې ذکر راوړي دي.

د بهار کلمه په پاړسو کي ډېري معناوي لري چه یوه مشهوره معنا ئې بتکده هم ده شمس فخري وایي:

رسید موسم نورورزکز نسیم بهار   شود بساتین آراسته بسان بهار

فرالاوي وایی:

نه همچون رخ خوبت گل بهار   نه چون تو به، نیکوئي بت بهار

نظامي وایي:

بهار دل افروز در بلخ بود[4]   کزو سرخ گل را دهان تلخ بود

له دغو بیتو څخه د بلخ د بهار ښکلي توب او زیبائي ښکاري اما له لاندي اسنادو څخه ئې معنا ښه څرگندیږي. منصور رازي وایي:

بهار بتانست و محراب خوبی   بروی دلارام و زلفین دلبر

فرخي وایي:

هنگام خزان است و چمن را بدراند   نو نو زبت زرین هر سوی بهاریست

بل ځاي وایي:

---

[1] معجم البلدان، ج۸ ص ۳۲۱.

[2] آثار البلاد قزویني، ص ۲۲۱.

[3] معجم البلدان، ج۸ ص ۳۲۱.

[4] فرهنگ نظام، ج۱ ص ۷۷٦.

چه شهر شهر و بدو اندرون سراي سراي   چه کاخ کاخ و بدو اندرون بهار بهار[1]

په حقیقت کي دغه د بتکدې معنا بهار ته مجازي ده اصلاً خو وداني او کلا غوندي یو شی و او دغه حقیقي معاني ئې اوس په پښتو او پاړسو دواړو کي پاته دي په پاړسو کي باره او بارو د هار او کلا په معناو سته لکه چه قاآني ویلی دي:

صد باره براوردند بهتر   صد باره ز بارهٔ سکندر[2]

د پاړسو د یوار په کلمه کي هم وار په خپل اوستائي شکل موجود دي چه په پښتو کي (ر) په هم مخرج حرف (ل) اوښتې ده او (ویوال) وایو اما پخپله هغه پخواني کلمه (واره) هم په پښتو کي په هغه زاړه مفهوم سته فقط (و) په (ب) اوښتي او (باره) شوې ده چه (باړه) هم تلفظ کیږي.

باره په اوسني پښتو کي د اوبو بند او ډېرین دیوال په معنا ده چه کلا او حصار ته ورته وي او پر کښت او غوجل ئې راگرزوي په اوستا کي چه کومه واره د غوجل لپاره یما جوړه کړې وه شکل او لغت ئې تر اوسه په پښتو کي موجود دي دا کلمه په پښتو ادب کي هم وه لکه چه خوشحال خان وایې:

خوشحاله چا ته وایې پندونه   خلق خوشحال دي په خپل سندونه

که زړه دي وارکا ژبه قراره کړه   مات دي د پند د باړي بندونه

یعني د پند د دیوال او حصار بندونه مات دي او اثر نلري.

رحمان بابا وایې:

باړه وتړه نور هله زراعت کړه   تقوا دار شه هله تمه د جنت کړه

باره یا باړه د محوطې او داسي ځای په معنا هم راځي چه ترکلي دباندي د بازیو لپاره جوړوي او شاو خوا یو لنډ دیوال پر راگرزوي لکه پدې لنډۍ کي:

دا اوسني داسي زلمی دي   په ساگو ډک شی په تیندک باړو له ځینه

اوس نو موږ له دغو تاریخي او لغوي څیړونو څخه دغه نتیجه اخلو چه په لوي سر کي د کوټې او حصار او کلا او دیوال لپاره چه پر یوه وداني راگرزیدلي وي په آریائي ژبو کي عنصري توري (و=ب) او (الف) او (ر=ړ) دی چه کله (ر) یا (ړ) په ل هم اوړی د دغه مفهوم لپاره په اکثرو آریائي ژبو کي متحد اشکال موجود دي پدې ډول:

اوستا: واره، وار vara د یما ودان کړي ښار په بخدي کي

سنسکریت: واړ var محوطه، ځاي، د دیوال په منځ کي ځاي

سنسکریت: واړا var د یوه ښار څلورمه برخه

سنسکریت: واړی vari غولي، دربار، باغ، محوطه

بودائي: وهار vahar معبد، بودتون

زړه پارسي: بهار bahar بتکده، د بلخ د نو بهار معبد

[1] لغت فرس اسدي، ص ۱۲٤.

[2] فرهنگ نظام، ج۱ ص ٥٦۲.

پاړسي: باره barah بارو baru حصار، کلا

پاړسي: د (ديوار) آخرني جزو (وار) var

انگليسي: وال wall د ديوار په معنا

پښتو: باره barah يا باړه barah بند ديوال، حصار، کلا

پښتو: د ديوال آخرني جزو وال wall

پدې ډول نو د اوستا د تاريخي نوم (واره) ريښې په ټولو آريائي ژبو مخصوصاً په پښتو کې کېږ مېږ سته او له دغه څخه هم د پښتو تاريخي رابطه له اوستا او بخدي سره ښه ښکاري.

د تلفظ او معنا لږ څه تحول او تغير هم د ډيرو پيړيو تيريدلو اثر دی او په پښتو کي چه کوم مفاهيم باره لري هغه اصلي تاريخي مفهوم ته ډير نژدې دي، دا هم بايد دلته هير نکړو چه لدغي ريښې څخه (هار) تر اوسه هم د ډيرو ځايو په نومو کي سته او په ښکاره د حصار او ښار معنا لري، مثلاً کندهار، ننگرهار، چپرهار، نندهار، وهار چه دا ټول د ځايو او ښارو نومونه دي، او موږ ته ښکاره کوي چه دغه ريښه د ودانۍ، ښار، حصار په مفهوم له قديمه موجوده وه او اوس هم سته!

دلته دا خبره هم د ويلو وړ ده چه د نوبهار نوم تر اوسه هم په بلخ کي موجود دي. د بلخ وران ښار جنوبي دروازه ترا اوسه هم "دروازهٔ نوبهار" بولي او لکه محمد صالح ورسجي چه د ۱۰۰٦هـ په حودود کي ليکي: په دغه وخت کي چه لا د بلخ ښار ودان ؤ، او شپږ دروازې ئې درلودې. يو ور ئې نو بهار نوميدي چه بعضو خلقو دروازهٔ سلطان احمد يا دروازهٔ بابه قو هم باله.[1]

بامي Bami

دمخه تاسي د (پکهت=پښت=پښتون) او (بخد=بخدي=بلهيکا) د کلمو په تطبيق او نژدې والي کي د بلخ او باختر د نامه ريښې وليدلې او دا هم درته معلومه سوه، چه پښتون کام په پښتونخوا کي تر خپريدو دمخه د بخدي په ورشوگانو کي و، نو ځکه د بخدي او بختي او پکهت او پښتون نومونه هم سره نژدې او شريک او له يوه اصله دي. له خورا قديمي زمانې د بخدي يا بلخ ښار يو صفت له ځانه سره لري، چه دغه صفت په اوستا کي يو ځاي سريرا srira يعني ښکلي ذکر کيږي، او وروسته هم دغه صفت باميک يا بامي دي چه معنا ئې ځلاند يا ښکلي گڼله شوي، او په پاړسو کي بلخ درخشان يا د دقيقي شاعر په اصطلاح "بلخ گزين" او د مسعودي مورخ په ترجمه په عربي "بلخ الحسنی" بلل شوی دي.

جيکسن معروف مستشرق وايي: چه د اوستا يوه پهلوي نسخه په سمرقند کي پيدا شوې، او د اتم مسيحي قرن ده، په دغه نسخه کي راغلي دي، چه د ويشتاشت زوي په بلخ باميک Balkh Bamik کي د نوازک Navazak

[1] د بلخ مزارات، ص ٥٥ قلمي.

ښار جوړ کړ.[1] دارمستتر وایي: چه بامیک درخشان معنا لري، او په اوستائي ژبه او زند کي ریښه بامیه Bamya ده چه ځلاند ته وایي.[2]

له دغي تاریخي پلټني ځخه ښکاري چه بامیک زړه اوستائي کلمه ده چه په پهلوي ژبه کي هم پاته وه، او وروسته په پاړسو ادب کي بامي شوه، د پاړسو ادب په لومړیو آثارو کي دا کلمه وینو، مثلاً فرخي سیستاني چه د ٤۲۹هـ په حدودو کي مړ دي وائي:

مرحبا اي بلخ بامي همرهٔ باد بهار — از در نوشاد، رفتي یا ز باغ نو بهار

حکیم اسدي طوسي په ٤٥۸هـ هسي وایي:

بفروختن این حال گیتي فروز — سپه راند از امل شه نیمروز

سوی شیر خانه بشادي وکام[3] — که خواني ورا بلخ بامي بنام

فردوسي طوسي د ٤۰۰هـ په شا و خوا که وائي:

سوي بلخ بامي فرستاده شان — بسي پند و اندر زها داد شان

یا دا:

درم بستد از بلخ بامي برنج[4] — سپر دو نهادیم یکسر بگنج

علامه البیرني د ٤۱۰هـ په حدودو کي د بلخ ذکر کوي او وائي: بلخ واسمه في القدیم بامي[5] لکه لوړ چه مختصراً در ښکاره شوه، بامي تل د بلخ سره یو ځاي راغلي دي، او د استعمال له ډول او مورد ځخه هم دا څرګندیږي، چه بامي د دې ښار لقب ؤ او یا د دې ښار په صفاتو او جغرافیوي اوضاعو اړه لري، چه قدماو بامي بللي دئ.

د پاړسو ژبي د لغاتو پلټونکو او فرهنګ لیکونکو هم د دغي کلمې معنا لکه د استعمال له مورده چه ښکاره کیږي، ضبط کړې وه، یو فرهنګ لیکونکي داسي وائي "بامي د بلخ لقب او تلفظ ئې د راضي پر وزن کیږي."[6]

د بامي کلمه چه سړی واوري ژر ئې فکر د بامیان خوا ته هم ځي چه بامیان هم یو تاریخي ښار دي او ښایي چه د بلخ بامي او بامیان تر منځ تسمیوي اشتراک هم وي.[7]

---

[1] د ویلیم جکسن زوراستري ښووني، ص ۲۷۲.
[2] د زند اوستا فرانسوي ترجمه، ج۱ ص ۸ نوټه ۱٤.
[3] ګرشاسپ نامه ص ۳۳٥.
[4] شهنامه، ج ۳ ص ۱۲۸٥، ج ٦ ص ٤۸۲.
[5] قانون مسعودي، ص ٤۳.
[6] فرهنګ نو بهار، ج ۱ ص ۹۸.
[7] فرهنګ انندراج، ج۱ ص ۳۷۸.

بعضې مورخین داسې هم لیکي: چه بلخ بامي د بلخ بامیان په نامه هم ذکر شوي دي، بامي او بامیان دواړه مشهور دي.[1] ذکي ولیدي توغان چه د اسلامي آثارو او زړو کتابو پېژندوني، او د استانبول د پوهنتون د تاریخ استاد او پوهنوال دي هم وایي چه ښایي د بامیان نوم له بامي څخه اخیست سوي وي، نو بامیان باید بلخیون یعني د بلخیانو په معنا وي، او ښایي چه د بامیان ښار د بلخ خلقو ودان کړي ځای وي.[2]

لکه چه د دغو محققو تاریخ پوهانو راي ده، باید هم ضرور د بامیان نوم له بامي سره اړه ولري، ځکه چه دا دوه معروف او مشهور ښارونه هر وخت تر یوه اداره لاندي وه، یو ثقافت ئې درلود، د یوه مدنیت مراکز وه نو لیري نده چه موږ د علامه زکي ولیدي خبره ومنو او د گنج دانش په روایت ویسا وکړو.

اوس چه تاسي ته تر یوې اندازې د بلخ بامي د نامه تاریخي او ادبي شهرت ښکاره سو نو به د بامي د کلمې شرح د پښتو ژبې له خوا هم لاندي ولیکم چه دغه کلمه اصلاً پښتو ده او دا نوم هم پښتو دي. د پښتو په اسماء الرجال کي موږ د بامي نوم اوس د یوه قوم پهړول وینو، بامیزي د ابدالیو له ځیرک څخه د پوپلزو په ښاخ کي یوه پښه ده[3] او د دې قبیلې افراد تر اوسه هم په قندهار کي سته د قندهار په اوسنی ښار کي یوه مخصوصه محله د بامیزو کوڅه بلله کیږي. د دې قوم په نامه، پدې ډول خو بامي یو علم یعني د سړی نوم دي او موږ ته دا ښکاره کوي چه دا کلمه د نامه (اسم) په ډول زموږ په اسلافو او پخوانو کي مستعمله وه او دوی بامي پر سړو نوم ایښو.

که څه هم د علمي قانون له رویه اسما او اعلام معلول په علت ندي مگر بیا هم د یوه علم اطلاق پر سړیو باندي بیله کومي نژدې یا لیري وجه تسمیي نوی او کومه رابطه د اسم او مسمي تر منځ هم کله کله موجودیږي که موږ د پښتنو اسماء الرجال او اعلامو ته ځیر سو دا به را ښکاره سي چه د دوي په پخواني ژوندانه کي د قدرت او د طبیعت له مظاهرو سره رابطه ټینگه وه یعني دوي د یوه نوم د ایښوولو پر وخت د هغو شیانو نومونه اخیسته چه هغه شیان د دوي په حیات کي داخل وه او دا هم هغه د طبیعي محیط یوه غیر شعوري اغیزه ده چه پر ټولو مخلوقاتو باندي جاري ده او په پای کي د اجتماعي پوهانو له خوا دغه د "قانون تطابق محیط" په نامه یادیږي، ښه اوس به نو وگورو چه بامي د څه شي نوم و؟ او له کومي خوا راغي چه د پښتنو په نومو کي ځای ونیو؟ پښتانه د گلانو سره ډیره علاقه لري، او د دوي په غرو کي طبیعي او غرني گلان خورا ډیر کیږي. مثلاً په پښتو کي جندي خان، پوپل، گلاب، غاټول او دغسي نور ډیر نومونه سته چه هر یو د یوه گل نوم دي بامي هم د دغه ډول نومو څخه گڼل کیږي او اوس ښکاره او څرگنده او زباده شوی ده چه بامي هم د یوه گل نوم و مثلاً شیخ اسعد بن محمد سوری د ٤٢٥هـ متوفي چه د پښتو یو خورا پخواني شاعر دي په یوه قصیده کي وایي:

نه غټول بیا زرغونیږي په لاښونو　　　　نه بامي بیا مسیده کا په کهسار[4]

---

[1] گنج دانش، ص ١١٤.

[2] د ذکي ولیدي توغان حواشي پر قانون مسعودي ص ٤٣.

[3] حیات افغاني، ص ١١٨.

[4] پټه خزانه، ص ٤٣.

غټول يا غاټوي يا ختول خو موږ پيژنو چه لاله دي مګر بامي زه تر اوسه نه پيژنم چه د کوم ګل نوم دي؟ ښائي چه غټول د لاله عمومي نوم و او بامي ئې بيا مخصوص خاندان او فرعي قسم وي!

موږ ته دا هم ښکاره ده چه په بلخ کي تر اسلام دمخه يو معبد و چه نووهار ئې باله او شرح يې دمخه راغله. دې بودتون لوي لوي عمارتونه او جګي جندۍ درلودې چه له ليرو ځايو څخه ئې خلق ليدلو ته ورتله د مورخينو په قول ئې بيرغونه په ترمذ کي دوولس فرسخه ليري ليدل کيده[1] که موږ په تاريخي سترګو وګورو د دې بيرغو آثار په خورا پخوانۍ زمانه کي هم وينو ځکه چه په اوستا کي هم بخدي د جګو او لوړو بيرغو هيواد بلل شوي دي.

د ګلانو استعمال او وجود د بلخ په نوبهار کي هم له قديمه څخه و ځکه چه هغه معبد به هر کله په ګلو ښکلي و حتي دا رسم اسلامي مورخينو هم ليدلي و ياقوت حموي خپل کتاب ئې تر ٦٠٠هـ وروسته کښلي دي د عمر بن الازرق الکرماني په روايت ليکي چه نوبهار په بلخ کي يو مشهور او لوي معبد و چه هر کله به په حريرو او نورو ښکليو او قيمتي ټکرانو پوښلي و او د هغه ځاي د خلقو دا دود و چه يوه نوی او ښه بنا به ئې جوړه کړه نو په ګلانو به ئې پوښله او د پسرلي په وخت به ئې لمړني ګلان هم پر دې نو بهار اچول، او د نو بهار پر شا و خوا لکه ښار ډيري ودانۍ وې، چه زايرين به هلته اوسيدل.[2]

د ياقوت له دې روايته ښه څرګنديږي، چه په پخواني بلخ کي نو بهار و او په نو بهاروکي د خلقو دا دود و چه په پسرلي به ئې دا خونه په ګلانو پوښله ځکه چه بامي په پښتو د ګل نوم دي، او بلخ هم بلخ باميان يا بلخ بامي بلل کيدي، او د دغو ګلانو استعمال د بلخ د خلقو مذهبي دود او رسم و، نو هيڅ ليري نده چه بلخ په همدې سبب بلخ بامي نوميدي، او تر اوسه هم د ګل سرخ د پسرلي ميله په مزار شريف کي جاري ده، چه د سخي په مزار کي کيږي.

د ادب او بلاغت په علوموکي دا خبره هم زباده شوې ده، چه يو لغت د زمانې د تيريدلو او د محيط له ګرزيدلو سره سم د معنا او استعمال له پلوه تطور مومي، لکه چه تاسي په دې کتاب کي ډير وليدل له حقيقته مجاز ته ګرزي او ډيري نوي نوي معناوي په تقريبي ډول مومي، نو د زړو آثارو په استناد د بامي معنا هم دوه احتماله لري.

لومړی دا چه دا د زاړه سريرا (ښکلي) پر ځاي په حقيقي مفهوم دريدلي وي نو ئې معنا هم ښکلې او درخشان ده، دوهم دا چه معنی ئې اصلاً لکه په پښتو کي چه سته يو ګل وي ځکه چه د ګل او ښکلي توب تر منځ يوه حقيقي او ازلي او خلقتي او طبيعي علاقه سته نو به وروسته د مجاز په ډول د (ښکلي او ځلاند) په معنا مشهور شوې وي.

[1] معجم البلدان، ج٨ ص ٣٢٠.
[2] معجم البلدان، ج ٨ ص ٣٢٠.

په دواړو صورتو د بامي کلمې اصل او ريښه په پښتو کي سته، او لکه لوړ چه ذکر سوه د پښتو بامي او د بلخ بامي او باميان تر منځ يوه ټينګه علاقه سته، چه دلته د تاريخي او لغوي اسنادو په ويسا په لنډ ډول ښکاره کړه سوه.[1]

اسپه Aspa

د باختر په تاريخ کي دا کورنۍ ډير شهرت لري او په اوستائي نومو کي د آس په نامه تسميه خورا ډيره ده د هغه وخت خلقو ځانونه د حيواناتو مخصوصاً د آس په نامه يادول او تر اوسه هم دغه آريائي رسم په پښتو کي سته مثلاً ډير خلق خپل نومونه سکاڼ، کورنګ، او مشکي، بورخان بړدي، چه د آسانو اقسام دي.

ځکه چه په باختر کي تر اوسه هم ښه اسان پيدا کيږي، نو له قديمه دا رسم عام دي او د بلخ پاچهانو يوه مشهوره کورنۍ داسي ده، چه د اکثرو پاچاهانو د نومو په پاي کي اسپه کلمه راځي[2] او دا نومونه اکثر هم پښتو دي.

پخپله اسپه د آس مونثه کلمه ده، او تر اوسه هم په پښتو کي دا عام رواج دي، چه د مالدارۍ حساب په مؤنث جنس کوي مثلاً داسي وايي، فلاني زر اوښي لري يا زر ميږي لري، نو ځکه په قديمه زمانه کي هم د آس پر هر ځاي اسپه مستعمله شوې ده. له دغو پاچهانو څخه دغه نومونه چه ټول اوستائي دي کټ مټ پښتو دي:

مثلا خواسپه يعني ښه اسپه چه لومړی کلمه ئې هغه (خو=هو=ho) ده چه د پښتو ښه او خه تر اوسه په هغه معنا سته. يا لهر اسپه چه لومړی جزو ئې لهر دي، دا کلمه په پښتو کي د موج او تند او چابک معنا لري، چه کټ مټ ئې دغه معنا په اوستا کي هم درلوده ځکه چه دا نوم په اوستا کي په قديم ډول اورت اسپه Aurat Aspa هم راغلی چه معنا ئې چابک آس دي.[3] اما لهر په پښتو کي په لوړه معنا داسي مستعمل دي لکه خوشحال خان چه وايي:

خوار خوشحال ئې لکه خس هسي لاهو کړ   چه د عشق سيلاب را وخوت لهر لهر

عبدالقادر خان وايي:

ګوره څو عالم به ورک څو به خراب کا   لور په لور د غمو سند وواهه کا لهر[4]

دغسي هم په دغه عصر کي چه اوستا د زردشت له خوا راوړله کيږي موږ ډير دغسي نومونه وينو: مثلاً د اوستا بيان له قراره د زرتشت څلورم نيکه هچتسپه Haechataspa دي[5] او دا نوم هم دوه جزوه لري هچت - اسپه. ځني پوهان وايي چه د لومړي جزوه معنا (نم زدن او د اوبو پاشل) دي نو ځکه د هغه لومړي جزو د دوهم سره

---

[1] دا مضمون د کابل ج۱۳ په ۱٤۹ ګڼه کي هم خپور شوی دي.
[2] د خاوري ايرانيانو مدنيت.
[3] ګاتها ص ۹۵.
[4] آريانا - د ښاغلی بينوا مضمون.
[5] يسنا ٤۷ فقره ۱۵-۵۳-۳.

مناسبت مشکل دي[1] مگر که موږ وگورو دغه لومړي جزو ښکاره ښښتو (وچت) دي چه اوس ئې (هـ) په (و) یا (او) بدلوو، او اوچت هم وایو، نو اوچته اسپه یعني جگه او قوي او مشهوره اسپه.

کاوه Kava

کاوه، کاوي، کوي، کاویا، کي په اوستائي دوره کي ډېره مشهوره کلمه ده او دا یو مجلل عنوان و چه د قدیم مشرانو ته ورکول کیدي، مثلاً کاوي یا کواني یا کیاني د بلخ د مشهورو پاچهانو د کورنۍ نوم دي او په اوستا کي دا عنوان د ویشتاسپ سره ذکر کیږي، چه د زرتشت حامي پاچا و.[2] دغسي دا لقب د ډېرو اوستائي نومو سره راځي لکه کي خسرو، کیقباد او نور.

کوي، کاوي، په ویدا کي هم راځي، او هلته د دانا معنا لري[3] او ځئي ئې د پیشوا او پیغمبر په معناو اخلي، او ارباب انواعو ته هم دا عنموان استعمال شوی دي.[4] په سنسکریت کي کاویه شاعر او سرود ویونکي ته وایي.[5]

په دې ډول تاسي ته ښکاری چه د کاوه کلمه له ویدا او اوستا څخه ژوندۍ وه او د دانا او سردار او روحاني مشر په معناو راتله، د پښتو په پخواني ادب کي هم دغه کلمه مستعمله وه او ظاهراً داسي ښکاري چه د نجات او هوښیارۍ مفهوم ئې درلود مثلاً شیخ رضي لودي د شیخ حمید لودي ورور تر ٤٠٠هـ دمخه له ملتانه د سلیمان غرو ته د اسلام د تبلیغ لپاره راغلي و، دلته ئې وارویده چه د ده وراره نضر ملحد شوي دي، نو ئې یو شعر ورولیږي چه یو بیت ئې دا دي:

نصره! نه مو یې له کهاله لودي نه بې په کاوه[6]

دلته ښایي چه کاوه دا معنا ولري، چه په دانائي او پوهي او نجابت او سرداري کي داسي نه یې لکه لودي، چه په دغه کلمه کي کټ مټ هغه ویدي او اوستائي زوړ رنگ سته او دا ښکاره کوي چه دغه ریښه پخوا هم په دغه لست کي وه.

د ځایو نومونه

په اوستا کي ډېر د ځایو نومونه ذکر شوي دي چه اکثر زموږ په هواد اړه لري یعني د دې زاړه کتاب جغرافیائي معلومات ټول د هغو ځایو بحث کوي چه زموږ په وطن کي واقع دي، د دې نومو څېړنه هم موږ ته د پښتو لغات په اوستا کي په لاس راکوي او دا را ښئي چه پښتو لغات او کلمات په هغه عصر کي دوني خپاره وه چه د اکثرو ځایو

---

[1] گاتها، ص ۹۵.
[2] یسنا ٤٦-١٤ او ٥١-١٦ او ٥٣-٢.
[3] مذهب ویدي، ج ۲ ص ۳۳۸.
[4] کاتها، ص ۹۳.
[5] هندوستاني قاموس ۵۵۵.
[6] پټه خزانه، ص ۷۱.

نومونه پښتو وه. په دې کتاب کي د اوستا جغرافيائي معلومات زموږ مقصد ندي فقط د هغو ځايو نومونه تحليل کوو چه د پښتو لغاتو څرک پکښي معلوميږي.

مانده Mandeh

دا کلمه په پښتوکي اوس عامه ده، مانده لوئې شيلې ته وايي چه د سيل اوبه پکښي بهيږي. په قندهارکي ډير ځايونه په دې نامه اوس هم سته لکه ميل مانده، مړوندۍ مانده، شاشک مانده او نور.

دا نوم له پخوانو زمانو څخه د هيواد د رودو او غرو په نومو کي داخل دي په اوستا کي ډير داسي نومونه سته چه آخره کلمه ئې مانده وي.

لومړي پلا موږ د اوستا د شپاړسو آريائي هيوادو په بيان کي يوولسم هيواد هيتومنت وينو په دې ډول: :له هغو ښو مځکو څخه چه اهوره مزدا پيدا کړي يوولسمه رڼه او مشرفه مځکه هيتومنت Haetument ده.[1]

دا نوم لکه ډارمستتر چه ليکي په يوناني کي ارى منتس Erymanthus او اوس هيرمند او هلمند بلل کيږي.[2]

لکه چه ښکاره ده، د دې نامه اخر جزو منت دي، چه وروسته دا کلمه مند هم ضبط شوې ده، او هتومند Hetumand شوې ده.[3] په ونديداد کي دوه غرونه چه سيامکه او فراييو دي هم ذکر شويدي[4] د ډارمستتر په قول دغه غرونه په بندهيش کي د سياک اومند Siyak-omond(تور غر) او وفار اومند Vafar-omand يعني اورين غره په نومو راغلي دي[5] د دغو غرو په نومو کي اورمند هم دغه مانده دي چه له هغه اوستائي منته سره نژديوالي لري، ځکه چه غر او مانده سره لازم او ملزوم دي، نوکله پر مانده هم د غره اطلاق شويدي. علاوه پر دغه په دوهم نوم کي وفار په ښکاره دغه پښتو واوره ده، چه يو (و) په خپل هم مخرجه حرف (ف) اوښتي دي، او ډارمستتر ئې هم معنا واوره، برف بولي.

نو له دغو تاريخي څيړنو څخه داسي نتيجه اخستلاي شو، چه د اوستا منت mant او د بنداهش مند mand او بيا اومند omand او د يوناني منتس manthus او د دغه اوسني هلمند آخرني مند او د پښتو اوسني مانده ټول سره يو دي.

علاوه پر دغو نومو ډير داسي نومونه هم لرو، چه په پاي کي اوس هم مند راځي، لکه د هلمند په مقابل مالمند او نور. نو له دغه جهته وايو: چه د پښتو مانده د رود او غره په معناو له قديمه پاته دي، او د ډيرو تاريخي نومو ريښه هم له دغه څخه اوړده شوې ده.

راغه Raga

---

[1] ونديداد فرکرد، فقره ١٤.

[2] اوستا، ص ٧ اومه نوټه.

[3] بنداهش فصل ٢٠ فقره ١٦، ١٧.

[4] زميادېشت فقره ٥.

[5] اوستا، ج ٢ ص ٢٨٨- ٧ نوټه.

په اوستا کې چه د شپاړسو هیوادو نومونه راغلي دي، له دغو څخه دولس مملکت راگه ragha یاد شویدي چه درې قومه پکښې اوسیدل.[1]

که څه هم د دې ځاي د جغرافیائي موقعیت په تعین کې پوهان مختلف دي، ځني ئې ري او آزربایگان بولي، ځني وائي چه د بدخشان راغ دغه ځاي دي مگر دلته ئې زموږ له جغرافیائې موقعیت سره هیڅ اړه نسته، فقط د یوه اوستائي لغت په حیث ئې اخلو او په پښتو کې ئې مومو.

کټ مټ دغه راغه اوس په پښتو کې د وښو شین دښت ته وایي، چه په پونده و خلقو کې دا لغت ډیر مستعمل دي، خوشحال خان وایي:

چه تل مي ځاي شول غرونه رغونه زه دا په چا پسې مجنون صفت یم

سپین غر Spinghar

دا غر د هیواد په شرقي ولایت ننگرهار کې ډیر مشهور غر دي، ځکه چه هر وخت ئې سر په واوره پټ وي، نو سپین غر بلل شویدي او دا نوم له قدیمه تر اوسه هم سته.

په اوستا کې دا غر د سپیتاگونا کري Spita-gaona-gairi ذکر شویدي[2] او لکه پوهان وایي دغه اوسني سپین غر دي.،له دې نامه څخه هم پښتو کلمات په اوستا کې موندل کیږي او دا نوم په ښکاره درې ټوټې لري:

۱- سپتا: چه دمخه ئې شرح ولیکله شوه، او دغه پښتو سپین دي.

۲- گونا: دا کلمه په پښتو کې د مخ رنگ او بڼې ته وایي، مثلاً احمد زیړه گونه راغي یعني د مخ رنگ ئې ژړ و، یو شاعر وایي: ژیړه گونه گرزم په دربار کې د خوبانو. نو ئې پخوانی مفهوم ښایي چه مطلق رنگ او ډول و.

۳- د گیري د کلمې شرح د کتاب په لومړی ټوک کې ولیکله شوه، چه دا قدیمه آریائي کلمه او د پښتو اوسني غر ده، نو په مجموعي صورت د دې غره د نامه معنا داسي کیږي: سپین رنگی غر، چه اوس ئې د گونه کلمه حذف شوې او سپین غر ئې پاته دي.

د ځینو وسلو نومونه

د اوستا په تاریخي کلماتو کې چه موږ ئې په پښتو کې ریښې مومو، ځیني د وسلو نومونه هم دي چه اوستایي آریایانو په باخدي کې لرلې.

له دغو کلمو څخه خودهه khaodha ډیره مشهوره کلمه ده[3] چه د پښتو خول ئې په پښتو او خود ئې به پاړسو کې نمایندگي کوي، (د) ئې په خپل هم مخرجه حرف (ل) تبدیل شوي دي، بله اوستائي کلمه چکوشه chakusha چه د یوې وسلې نوم ؤ او اوس دغه کلمه په پښتو کې د چکوښ په ډول موجوده ده او خپل قدیم

[1] وندیداد، افرگرد، فقره ۱٦.

[2] ۱۰یسنا ۱۱ فقره هوم یشت ۲.

[3] ۱۳ یشت، فقره ٤٥؛ یشت ۱۵ فقره ۵۷.

رنګ ئې ساتلي دي، د دوي بله مشهور وسله غشي او لینده وه چه غشي ته ئې ئي شو ishu وایه او د غشي کلمې ته ډیره نژدې ده.

عمومي مشابهت اونزدیوالی

په تیرو دوو برخو کي تاسي ته ښکاره سوه چه عموماً پښتو ژبه لومړۍ له ټولو آریائي ژبو بیا په تیره له ویدي ژبي او سنسکریت او اوستا سره خورا مشابهت او نژدي والي لري تاسي ولیدل چه د ویدا او اوستا خورا مهم او عنصري مواد اوس په پښتو کي داخل دي، او د دې ژبي تاریخي اصالت ښکاره کوي.

اوس غواړو چه لږ څه دغه مشابهت او نژدیوالي په ښه ډول څرګند کړو، او خپل نظر له ویدا او اوستا څخه په تطبیقي ډول نورو آریائي ژبو ته هم واړوو. الفاظ او کلمات لکه نور حیه ذوات او ژوندي اشخاص دغسي مستقل، شخصیت او ځانته ژوندون او د ژوندانه اصول او قوانین لري د لغاتو او الفاظو لپاره موږ عناصر پیدا کولای سو لکه له تیرو ابحاثو څخه چه ښکاره سوه د مختلفو ژبو د الفاظو عنصر یو وي او دغه عنصر په خپل فطرت کي معاني او مفاهیم لري چه په هره ژبه کي تطبیق کیدلاي شي په حقیقت کي کلمات او الفاظ له اصواتو څخه جوړیږي. دوه دري ږغونه د یوې معنا لپاره عنصر ګڼل کیږي او نور اصوات چه ور سره زیات سي معنا ئې تغیر په مومي.

د مثال په ډول د (س،ت) اصوات په خپل فطرت کي د توقف، دریدلو او استقامت مفهوم لري نو د علم لسان په اصطلاح دغو اصواتو ته د دریدلو او توقف او استقامت د مفهوم "عنصر" ویلاي سو. په پښتو ناسته کښیناستل، دغه عنصر لري، د پاړسو (ایستادن) هم له دغي ریښې څخه دي د انګلیسي stand, stay, statue, station, stead, stool او نور کلمات دغه عنصر لري، عین دغه عنصر په سنسکریت کي هم سته[1] په اوستا او سنسکریت دواړو کي (استا) د دریدلو معاني لري.[2]

په دې لنډه څیړنه کي به دلته پر دغه علمي اساس سم د پښتو او نورو آریائي ژبو نژدوالي او مطابقت څه نه څه څرګند کړو.

لومړی باید هغه قانون چه د حرفو د اوښتلو په خصوص کي مو دمخه لوستي و، را په یادګړو چه د یوه مخرج حروف عموماً او بیا د نژدو مخارجو توري یو له بله سره اوړي او کله دا ابدال د لیرو مخارجو څخه هم بالواسطه کیږي تر دې قانون لاندي نو کلمات وګورو.

---

[1] ویدک انډیا، ص ٣٤.

[2] فرهنګ نظام، ج ٤.

غویی د آریائیانو د ژوندانه مهم عنصر ؤ ځکه چه دوي زراعت پیشه قوم ؤ په پښتو کي د دې نوم عنصر (غ،و) دي، په سنسکریت کي ئې ګئو مفردګاوس جمع ده په پښتو د غویو ګلې ته ګورم وایي.

دغه ماده په ټولو آریائي ژبو کي سته په زړه جرمني ئې (چو) په نوي جرمني ئې (کر) په انګریزي ئې کاؤ بولي په سلاوي ژبه ګوویاوو (ګورم) او په نوي سرویني ژبه ګوو دار (غوبه) په روسي ګوو یا دینا (د غوایي غوښي) او ګوسو پودین "بادار" ګوس پود خدای، ګوس پووار "د جنوبي سلاو حکام" بلل کیږي یعني د غویو خاوندان چه په زړه سنسکریت کي "ګوپ" نومیدل له دغي مادې څخه د سنسکریت ګوتر (غوجل) هم دي چه وروسته پر کورني او خاندان اطلاق کیدي.[1]

په خپله په پښتو کي د "غویي" له نامه څخه ډیر دغسي نومونه سته چه عنصر ئې (غ،و) (ګ،و) دي مثلاً، غویي، غوا،غوجل (آغیل)، غوبه (پاده بان) غوبون، ګوروان (پاده بان)، غوبارې (مګس حیوانات)، ګوبا (زن ګاو هیکل احمق)، ګورم، ګوار، ګویر (پاده) او نور. که دغه کلمات موږ له لوړو آریائي کلماتو سره کښیږدو، یا ئې د اوستا له (ګو) د پهلوي له (ګوو) او د پاړسو له (ګاو، ګو) سره تطبیق کړو، د آریائي ژبو نژدیوالي سره معلومیږي. وګورئ په پښتو ګوار، ګویر، ګورم سره یو شي دي، دا کلمه په سنسکریت کي ګواره وه چه په پاړسو کي (ګاواره سوه، چه کټ مټ هغه ګوار ته نژدې ده، ابن یمین وائي:

چون شیر شرزه یک تنه مي باش در جهان   مانند ګاو چشم زګاو اره بر مدار

میکس مولر مشهور د ژبو عالم لیکي "چه شعرا له الفاظو څخه اشعار او نظمونه جوړوي که موږ هر لفظ ته په غور وګورو، نو به ښکاره سي چه دغه لفظ هم یو نظم دي، ولي چه د دې چاري ثبوت کوي چه زموږ پلرو او نیکونو پخوا کوم کوم کار کړي او کوم خیال ئې په ذهن کي موجود ؤ، مثلاً د پتر (پلار)کلمه درې معناوي لري، (۱) غذا ورکونکي (۲) ساتونکي (۳) مشرتوب کونکي. دغه درې خیالات ټینګه اړه سره لري، او تعمق او څیرتوب ځیني ښکاري، نو هر وخت چه موږ الفاظ په علمي ډول تجزیه کوو د انسان د دماغ ډیر مهم رازونه او اسرات راته څرګندیږي.[2]

پر دغه اساس موږ د ژبي هر لفظ یو ځانیه مستقل عالم ګڼو، او د تحلیل له لاري ئې مهم مقاصد کشف کولای سو، تاسي دمخه (پتي او پت) بحث ولوست په آریائي ژبو کي لومړی عنصر پا pa دي، وروسته (ت، ر) هم ورسره ملګري کیږي، د پښتو پلار، پت، پالل، پالنه، پال، له دغي ریښې څخه دي. د (پ او ت) په عنصر کي د ساتني او پالني معناوي پټي دي، وګورئ پتري pitri په سنسکریت کي پلار دي، د دې ریښې نور مشتقات دمخه هم د پتي په بحث کي راغلل، یوناني پټریارک (بطریق) هم دغه عنصر لري. د لاتیني پاتر د جرمني او انګلیسي

[1] ویدک انډیا، ص ۳٦.

[2] د الفاظو د سرګذشت دیباچه.

واټر او فادر چه د ټيوټن له فادر څخه جوړ شويدي، د ايتالوي پادري، او د فرانسوي پير ټول د (پ،ت،ر) له عنصره مشتق دي.[1]

ما ma يوه ماده ده، چه په فطرت کي د (اندازه کولو، او ويشلو) معاني پراته دي، ځکه چه د مور وظيفه په کورنۍ کي دغه کارونه دي. تل غذا ويشي او اندازه ئې کوي، نو په ټولو آريائي ژبو کي دغه ريښه له دغه نامه سره ځي مثلاً د پښتو مور چه د لهجې په اختلاف (مير) هم بلله کيږي. گويا ريښه ئې هغه (ما) دی چه په نورو ژبو کي (ت،ر) هم زياتيږي، د سنسکريت ماتار، د اوستا ماتر، د يوناني ميتير، د لاتين ماتر د سلاوي ماتر، د روسي ماتي، د جرمني مټر د انگريزي مدر، د ټيوټن موادئير، د هسپانوي او ايتالوي مادري، د فرانسوي مير، دا ټول له يوه عنصره زيږيدلي دي، بلکه ډير نور کلمات هم لرو چه د (ما) له عنصره دي مثلاً (ماس) چه په پښتو ئې، مياشت او په پاړسو ئې (ماه) او په هندي (مهينه) بولي، په سلاوي ژبو کي (ميياټس) ده، وجه تسميه ئې دا ده، چه مياشت د وخت اندازه کول کوي او په اکثرو آريائي ژبو کي له دغي مادې څخه نوم جوړ شوی دي.[2]

د ژبو ابتدائي مواد هم دغه مور او پلار او د نورو خپلوانو نومونه دي، او په ټولو ژبو کي سته، نو ځکه د تطبيق کار هم لومړي له دغو نومو څخه شروع کيږي. ده مور او پلار تحليلي څيړنه مو ولوسته، اوس به يو څو نور لغتونه هم شروح کړه سي:

ورور، خور: د ورور عنصري حروف (و،ر) دي، واو په (ب) هم اوړي کله (ت) يا (د) هم ور سره راځي، اما خور (خ،ت،ر) دي، چه (خ) په (هـ) او بيا په (س) اوکله په (ش) اوړي (ت) کله وي کله نه وي.

پښتو	ورور	خور
سنسکريت	بهراتر	سواسار
اوستا	براتر	هونهار
يوناني	اردرفوس	اردفي
لاتيني	فراتر	سوردر
ټيوټن	بروتهار	سوسټار
جرمني	بردر	شويستر
انگليسي	بردر	سسټر
ايتالوي	فراټي، فراټيلو	سواورا، سوريلا
پاړسو	برادر	خواهر

لور: د دې نامه عنصر (ل ـ د) او (و) او (ر) دي، پښتو نوم لنډ او سپک دي، د نورو ژبو دا نسبتاً درانه دي، په دې ډول:

سنسکريت	دوهی تر

[1] ويدک انډيا، ص ۳۸.

[2] ويدک انډيا، ص ۳۹.

اوستا	دگدهر
پاړسو	دختر
یوناني	تهگاتیر
جرمني	ټوخټر
انکلیسي	ډاټر
آئرش	ډیر
سلاوي	ډشټر
روسي	ډاچر، ډاچ

لیور: د میره ورور ته لیور وایي، عنصري توري ئې (ل=د) او (و،ی) او (ر) دي په لاندي ډول:

پښتو	لیور
سنسکریت	دیور
پاړسو	ایور
روسي	دیور
لیتواني	دیورس
یوناني	دایر
لاتین	لیور

(مر، مړ) په سنسکریت کي (م،ر) د مرگ او هلاک لپاره عنصري ږغونه دي، د پښتو (م،ړ) هم کټ مټ دغسي دی، مړ (مرده) مړتوب (مردگي) مړام (مرده مانند) مړامجا (تنبل مانند مرده) مړینه (مرگ) ټول له دغي ریښې څخه دي، دا عنصري توري په اکثرو آریائي ژبو کي د (هلاکت او مرگ) لپاره مستعمل دي د پاړسو (مرگ، مرده) هم ورته نژدې دي، اما په نورو آریائي ژبو کي ریښه بل راز سته.

د آریائیانو لومړی تگ له دریابه لیري ؤ دوي چه شا و خوا سره خپاره سول دریاب ئې وپېژاند د سلاو او ټیوټن اقوام چه د بحر اسود او بالټیک پر غاړه اوسیدل هغه دریابونه ډیر طوفاني او مهلک او متلاطم وه، نو دوي په خپلو ژبو کي له زړې آریائي آري (م،ر) څخه د بحر لپاره نوم جوړ کړ، ځکه چه بحر د دوي په نظر کي د هلاکت او مرگ ځاي ؤ په دې ډول:[1]

سلاو	موري
لاټیني	مار
ایټالوي	ماري
هسپانوي	ماري
فرانسوي	میر

[1] ویدک انډیا، ص ٤٢.

جرمني	میر
انگلیسي	میر

شکره، کند: گني د افغانستان د مشرقي خواؤ مخصوصه میوه ده، په هند کي هم ډیر دي د گني ځخه خوږه ماده جوړوي چه په پښتو کي (گوړه، شکره) بولو، په سنسکریت کي نوم شرکیرا sharkara دي، دا نوم داسي عام دي چه په سامي ژبو کي هم سکر راځي، په اروپائي ژبو داسي دي:

لاتیني	سکارم
انگلیسي	شوگر
سلاو	سکهر
جرمني	زوکر
ایتالوي	زکیرو
هسپانوي	اشوکر
فرانسوي	سکري
عربي	سکر
پاړسو	شکر

وگوري، عنصري توري ئې (س=ش) او (ک=گ) او (ر) په ټولو ژبو کي سته علاوه پر دغه د شکري پاک کړي ډول ته (کند) وایو، چه په پاړسو (قند) شویدي، دا نوم خورا زوړ دي، په سنسکریت کي کهانډ khand و.[1] په اوستا کي (خئذه) شرینۍ ته وایي ځکه چه شکره او قند له هنده ځخه عربستان ته وړل کیده، نو عربو سنسکریت کهانډ معرب او په (قند) تبدیل کړ[2] او قندید ئې هم وباله، چه جمع ئې قنود او قنادید راځي[3] په اروپائي ژبو کي هم کیندي او سکري کینډي سته، چه زموږ (قند) ته وایي[4] که په غور ورته وگورو عنصري توري ئې (ک=ق) او (ن) او (د=ډ ذ=ړ) دي، نو کهانډ او قند او کند له یوې ریښې دي، او ښائي چه د اوستا (خئذه) او د پښتو (خوږ) چه دواړه د شیرین په معنا دي، هم ور سره شریک وي، ځکه چه د (ک ـ خ) ابدال عام دي، او د (د=ذ=ږ) اصوات هم سره ورته دي، (د) په (ذ) بدلیږي، په پخوانۍ پاړسو کي عموماً (د) په (ذ) کښل کیدي لکه میکند=میکنند، په پښتو د پاړسو گذر=گدر بولي. (ذ) په (ز) اوړي، ځکه چه د یوه مخرجه دي. (ز) او (ږ) هم سره بدلیږي، لکه دوزخ=دوږخ.

[1] هندوستاني قاموس، ص ۵۹۲.
[2] فرهنگ نظام، ج٤ ص ١٤٢.
[3] المنجمد، ص ٤٧١.
[4] ویدک انډیا، ص ١٨.

د تطبیق جدول

د دې څېړنې په پای که دا جدول چه د آریائي ژبو تطبیق ښکاره کوي د کتلو وړ دي. دا جدول هم د دغو ژبو خپلوي او سره نژدیوالي ښه څرګندوي، او د پښتو قدامت هم زیادوي.

پښتو	سنسکریت	اوستا	پاړسو
غنم	ګودهوم		ګندم
ښاخ	شاکها		شاخ (درخت)
پاڼه	پرڼه		برګ
اوبه	آپ	آپه	آب
مخ	موکه		روي
غوږ	ګرڼه		ګوش
زوړ	جوړن	زورا	پیر،کهنه
څرمن	چرمن	چرمن	چرم
کپړۍ،کوپړۍ	کپنال		کله
کشر	کنشتهتیر	کاسو	کهتر
مشر	مشر، مهتر		مهتر
نو،نوم	نابهي	نافیه	ناف
ورون	راوني	رانه	ران
ړون، روڼ	روچن	راوچه (روز)	روشن
ستر	ستهویر	ستاورا	بزرګ
میږ	میښ	میشي	میش
پړ	پت	پریت	ملامت
پیري	آپ سرا	پیریکا	پري
خوب	سواپ	خوفنه	خواب
ښاد		شاته	شاد
سر	شیره	سره	سر
مستې	مستو		ماست
ستوري	ستاره	ستویسه	ستاره
سپین	سپیت (شویت)	سپیتا	سپید

خر	کهر		خر
نوم	نام، نامن		نام
نوي	نو	نوا	نو
انګار	انګار		اخگر
کال	کال (بمعني وقت)		سال
وار (نوبت)	وار		بار
کشپ	گچه چپ		سنگ پشت
کان (معدن)	کهان		کان
کله	کدا	کدا	کي
زوم	جاماتر	زاماتر	داماد
غر	گیری	گیری	کوه
غرمه	گهرمه	گرم	چاشت
جینۍ (دختر)	جینی	جینی (زن)	زن
ژۍ	جیا	جیا	زه
ځمکه	جماکه	زیم	زمین
ژبه (جبه)	جهوا	هرو	زبان
تود	تاپ	تپت	گرم
لس	دش	دسن	ده
ملا	مدهی	میدیه	کمر
شپه	شپ	خشب	شب
کرښ (خط کښل)	کریش	کرښ	کشیدن
ونه	ون	ون	درخت
دوږخ دوغښ		دوژگه، داوژگهه	دوزخ
ماغزه، مازغه	مچه	مزگهه	مغز
اننگي	انیکه	آینیکه	پیشاني
گروې	گریوا	گریوه	چنبر گردن
شا	پرشتها	پرشتي	پشت
هیواد	سد	هد، هدمن	نشیمن
کرل	کرش	کعش	کاشت
مامته		میتنه، میته	کشت زار

ښار		شوتیره	شهر
پوت[1]	پوتره	پوتراو	پسر
نیکه		نیاکه	جد
تره (مذکر) ترروۍ (مونث)	بهراترویه	براتوپریه	عم، عمه
سخر، خسر	سوسوره	هوسوره	خسر
ژمی	هیم (برف)	زیم، زیار	زمستان
غښتلي	ستاتر	خشتاوي	قوي و دلیر
دښت	دش	دش	دشت
غوا	گئو		ماده گاو
سپی	شوک	شپان	سگ
بزه، وزه	آج	بوزیه	بز
ستن	ستهوڼ	ستونه	ستون
وینی	شونی	وهونی	خون
نر	نر		نر
ماښام	شایم		شام
کرښت	کرشټ		کشت
بلگ	ورک		برگ
زنگل	جنگل		جنگل
ورجي	بریهی		برنج
شیدې	کهشیر		شیر
آس، اسپه	اشوا	اسپا	اسپ
چندال	چنډال		جندال (بیهوده)
مرغه	مرگه	میریغه	مرغ

[1] خوشحال خان وایي، چه د پلار په بدگوئۍ سر شي پوت، په پښتوکي د زوي معنا لري.

پنځمه برخه

پښتو او سنسکريت او اوستا ته مقايسوي کاته،
او په اساسي اصولوکي مشابهت
(۱) ږغپوهنه، فونولوژي
صايت توري ــ زورکي ــ مقايسه - صامت توري -
د اصواتو تطبيق له سنسکريت او اوستا سره،
(۲) تلفظ
ابتداء په ساکن ــ خج يا ايکسينت
(۳) گرامر
اسماء - کميت - جنس - اعداد - افعال - د تانيث حروف -
د نفي حروف - دکلماتو د ساختمان اصول

ضماير
پښتو او ميدي ژبه - پښتو او زړه پارسي (فرس قديم)
د زړو ژبو او پښتو عروض - پاي
دکتاب مآخذ

ږغپوهنه Phonology

(۱) ږغونه او توري

د ژبي اساس هغه ږغونه او اصوات دي، چه له خولې څخه را وزي، دا اصوات چه سره یو ځاي سي، یوه کلمه ځیني تشکیل کیږي. د اصواتو او ږغو د ښکاره کولو لپاره ځیني اشکال وضع شوې دي، چه هغه موږ حروف او توري بولو.

هره ژبه ځانته ځیني مخصوص اصوات لري، او ځیني اصوات بیا د اکثرو ژبو تر منځ مشترک دي، د ژبو د مخصوصو اصواتو د مقایسې له خوا موږ کولاي سو، چه د دوي نزدیوالي یو له بله ومنو.

په ټولو ژبو کي ځیني توري صایت (ږغیږ) وي، چه د دوي په واسطه د نورو صامتو توریو تلفظ کیږي او دغه لومړي ډول توریو ته چه د تلفظ واسطه دي، حروف علت vowels وایي، دوهم ډول توري چه صامت او صحیح دي، حروف صحیحه consonants ئې بولي.

دلته زما مقصد دا دي، چه پښتو او سنسکریت او اوستا ته د اصواتو او ږغونو د مقایسې په سترګه وګورم او تهجي حروف ئې سره پر تله کړم.

صایت توري (حروف عله) او حرکات vowel system

د پښتو په الفبا کي ږغیږ توري یعني هغه حروف چه د صحیحو توریو د تلفظ لپاره کار کوي، اساساً درې دي (ا، و، ی) دا توري هم په لوي سرکي هر یو دوه ډوله ږغ لري، لنډ ږغ، او اوږد ږغ.

د لنډ ږغ صورت ئې دا دي، چه د حرکت کار ورکي لکه په (کړ) کي چه (ک) مفتوح دي، په حقیقت کي د (ک) او (ړ) د ږغ ښکاره کولو لپاره د الف یوه نماینده (یعني زور) راغلي دي، او په تلفظ کي کومک ور سره کړي دي.

دغسي هم (و) د پیښ کار ورکوي، که سپک او لنډا داسي مثلاً (پړ) او (پل) چه د پیښ د اظهار لپاره باید (پوړ) او (پول) ولیکل سي، دغسي هم (ی) په لنډ ږغ سره د (زیر) کار کوي، لکه (خږ) او (پس) چه د زیر د اظهار لپاره باید (ي) هم ورسره ولیکله سي (خیږ او پیس).

نو په پښتو کي دا درې توري هغه وخت صایت توري بولو، چه دمخه توري ئې متحرک او دوي پخپله وچ (ساکن) وي. اما که دغه درې توري په اوږده ږغ یعني درانه ډول اداء سي، نو ولاړ الف او مجهول (و-ی) ځیني جوړیږي لکه کار، نور، تیر.

اما یو بل صوت هم دغه حروف لري، لکه د پاړسو (بود) او (نمود) یا (تیر او شیر) چه دغه راز اصوات پښتو نلري، نو صایت توري ټول دا شکل مومي:

توري	لنډ بږغ (د حرکت حالت)	اوږد بږغ
الف	زور لکه بر، لر	(آ) لکه آس، آره (ا) لکه باد، لار
و	پیښ (و) لکه سر (سور) لر (لور) پل (پول)	مجهول واو: لور، پور، سور
ی	زیر(-) لکه تر (تیر) منه (مینه)	مجهوله یاء: تیر، مینه

زورکي یا مخصوص حرکت

لکه لوړ چه وویل سوه، د پښتو حروف علت درې دي، او هر یو دوه حالته لري، چه ټول شپږ سي، د درو حرکاتو تر منځ یو بل حرکت هم سته، چه موږ ئې زورکي بولو، دا حرکت اصلاً د زور او زیر او پیښ تر منځ یو مخصوص صوت دي، چه د درو حروفو علت صوت، پر درو نورو اقسامو ویشي په دې ډول:

۱- د الف سره (آ) لکه تر، پړ، بر چه دلته د الف په نمایندګي د حرکت کار ورکوي، او که د کلمې په پای کي راسي، نو ئې د اظهار لپاره (هـ) لیکله کیږي، له دغه جهته (هـ) هم که حرکي کار ورکي، له صایتو حروفو څخه شمیرله کیږي. مثلاً ښځه، پسه چه تر (هـ) دمخه زورکی دي. او (هـ) ئې فقط په اعرابي کیف لیکله کیږي دغسي (هـ) چه په پښتو کي ډیره ده، له حروف علت څخه ګڼله کیږي او په درج او ترکیب کي د حروف علت حکم پر جاري کیږي.

۲- که دغه زورکي د (واو) دمخه راسي، نو ئې صوت په مخصوص ډول ورګرزوي، چه د (آؤ) بږغ پکښې وي، لکه کټو.

۳- که زورکي د (ی) دمخه راسي، نو ئې صوت داسي وي (آئ) لکه کوئ، تللئ، بخښلئ او نور.

د صائتو حروفو ټول بږغونه

له لوړو پلټونو څخه موږ د پښتو د صایتو حروفو بږغونه په دې ډول ضبط کولاي شو، یعني حرکات د مختلفو صایتو حروفو سره دغه بږغونه لري:

(الف)

۱- الف د حرکت په شکل (زور) دي لکه کر، بل، بر، چه د (ک،ب) صوت ښکاره کوي.

۲ـ الف تر زور وروسته ولاړ الف. لکه کال، بار چه دمخه حروف ئې زور لري.
۳ـ الف تر الف وروسته لکه آس، آره چه دمخه حروف ئې هم زور لرونکي الف دي.
٤- الف د پخ حرکت په شکل، چه زورکی دي، لکه کر، بل، بر، چه د (ک،پ) صوت په منځني ډول ښکاره کوي، او په پښتو لیک کي اکثراً (هـ) نمایندګي کوي.

(و)

۵- لنډ معروف واو د حرکت په شکل چه (پیښ) دي لکه کر (کور) بر (بور) چه د (ک،ب) صوت ښکاره کوي او لنډ ږغ لري، او کله د کلماتو پای ته هم راځي لکه پاو، نیاو.
٦- اوږد واو مجهول چه له دوو پیښو څخه جوړیږي، لکه کور، بور چه اوږد ږغ لري.
۷- واو چه دمخه ئې زور وي، لکه ځور، بور، چه د (او) ږغ لري.
۸- واو چه دمخه زورکي وئ لکه کټو چه د (او) ږغ لري.

(ي)

۹- لنډه معروفه یا د حرکت په شکل چه (زیر) دي، لکه تیر، پیر، چه د (ت،پ) ږغ ښکاره کوي، او کله ئې ږغ د کلمو په پای کي مطلق وي، لکه پای، ځای.
۱۰- اوږده مجهوله یاء چه له دوو زیرو څخه جوړیږي، لکه تېر، پېر چه اوږد ږغ لري.
۱۱- یاء چه دمخه ئې زور وي لکه ښی، تی چه د (ای) ږغ لري.
۱۲- یاء چه دمخه زورکی وي لکه ښیے، تی چه د (ای) ږغ لري.

له لوړي څېړني څخه تاسي د صایتو حرفو ۱۲ شکله زده کولای سوای، دغه دوولس شکله، پر اساسي درو ږغو بنا کیږي، څکه چه صایت حروف او د دغو ږغونه د ژبي د فونیک phonics (ږغپوهني) اساس دي نو سړی کولای سي، چه د مقایسې او پر تللې لپاره کار ځیني واخلي.

د دغي لوړي خبري د څیړني لپاره لاندي پښتو حروف علت او ږغونه ئې له سنسکریت او اوستا سره پر تله کیږي، چه د دغو ژبو سره نژدیوالي او د پښتو اصالت ښه ځیني معلومیږي.

مقایسه

مشهور انګلیسي مستشرق هـ جولیس اګلنګ H. Julius Eggeling د ایډنبرګ د مقایسوي فیلولوژي پروفیسور، د سنسکریت د صایتو حروفو په باره که داسي لیکي:

”له هندي ایرانیو دورو څخه (چه آریائي اقوام لا سره ګډ وه) د دوي د ژبو حروف علت vowel system په ارث پاته شوی، او تغیر ئې ندي کړي، اما فقط هندي ایراني لنډو دوو مرکبو صائتو حروفو په دې ډول تغیر کړي دي:

له دوو صائتو توریو څخه مرکب آریائي بړغونه[۱] چه ای ai او au وه، او په اوستا کي اې +ae او ao لوستل کیده، هغه وخت چه د هندگرامر پوهانو واخیسته، نو ئې په اې E او O تبدیل کړه، اما هغه اوږده بړغیز مرکبات چه آي ai آو au وه په لنډ دول ئې ai-au وویل.

مثلاً د اوستا ډئیو daevo د سنسکریت ډیوه devah

د اوستا هومو houmo د سنسکریت سومه somah

د اوستا یوکسایس uxsais د سنسکریت یوکتهي ukthaih

د اوستا گاوش gaush د سنسکریت گئوه gauh

د هندي ایراني دورې د واویل سیستم سادگي له دې څخه ښکاري، چه فقط د aa (ا_آ) بړغونه دوني ډیر او قوي وه، چه د هندو اروپائي ټولو صائتو توریو پر ځاي ولاړ وه، مثلاً د E-O-A-U پر ځاي فقط A اود د E-O-A پر ځاي فقط آ A ویل کیدئ، او دغه دوولس هندو اروپائي ډفتونگه Au-ou-eu-ai-oi=ei=au-ou-eu-ai-ei-oi ټول د سنسکریت په څلورو بړغو Au-Ai-O-E کي سره یو ځاي کیږي.

له لاندي جدول څخه د اصواتو مقابله ښه معلومیږي:

هندو آروپائي	سنسکریت
i=oi-e	E-i
لکه یوناني leipi چه وروسته	rekah=recati
loipei وروسته elipa سو	aricat

په دې ډول د سنسکریت واویل سیستم له قدیمه پر دغو بړغو باندي بنا دي.[۲]

A:A-I.E.Ai.U.O.Au.R.Ar

د اوستا حروف علت هم د سنسکریت سره تقریباً یو او نژدې دي، او اساساً پر اوږدو او لنډو ډولو باندي ویشل کیږي[۳] اوکوم تنوع چه لکه سنسکریت دا ژبه وروسته د حروف علت لامله مومي، او له پښتو سره لږ اختلاف پیدا کوي هغه هم ښائي چه د محیط او زمانو اغیزه وي. د پښتو د صائتو جروفو ۱۲ بړغونه چه دمخه ولیکل سوه، په لاندي ډول له سنسکریت او اوستا سره سمیدلاي سي:

---

[۱] د دوو صائتو توریو مرکب بړغ ته په علمي اصطلاح dipthong وائي، لکه ای، او، وی.

[۲] بریتانیکا، ج ۱۹ ص ٦٥٥.

[۳] د اوستاگرامر، ص ۱.

(الف)

۱- زور په سنسکریت او اوستا کي سته، خو د زیر او پیښ تر منځ یو صوت لري. نو ځکه باید د پښتو زورکی ته نژدې وګڼل سي، اما اساساً زور او زورکی د پښتو له پلوه دوه بیل بړغونه دي، چه د کلماتو معاني هم اړوي لکه: تِل، تَل، بِل، بلَ او نور. د الف وچ بړغ هم عام دي.

۲- د الف اوږد بړغ (آ A) هم سنسکریت هم اوستا لري او د دې لپاره چه له هغه بل الف څخه ئې تفریق وسي نو په دواړو بړغوکي بیل شکل ځان ته لري.

(و)

۱- واو معروف د حرکت په شکل (u) په دواړو ژبوکي لکه پښتو شته، او ځانته بیل شکل هم لري.

۲- د واو، بل صوت (u) په اوستا او سنسکریت کي سته، چه په پښتوکي دا بړغ نسبتاً اوږد او د مجهول واو په شکل دي، چه نژدې دغه مجهول آواز ته ئې هم دغه ژبې لري.

۳- تر واو دمخه که زور وي دا بړغ په سنسکریت او اوستا دواړوکي سته (au).

٤- تر واو دمخه چه زورکی راسي، دا صوت هم په تخمیني ډول (ښائي چه کټ مټ نه وي) په دغو ژبوکي سته ځکه چه د اوستا هغه (au) په سنسکریت کي بل بړغ لکه (ai) مومي چه دغه پښتو بړغ ته نژدې دي.

(ی)

۱- لکه واو، یا هم دغسي ده چه معروف بړغ ئې د زیر په شکل په دروسرو ژبوکي سته، او په سنسکریت او اوستا که بیل شکل هم لري.

۲- بل بړغ ئې اوږد دي چه موږ مجهوله یا ورته وایو، او په سنسکریت او اوستا کي دا بړغ هم تقریباً پښتو ته نژدې سته.

۳- تر یا دمخه چه زورکي راسي، دا صوت هم په تخمیني ډول په دواړو ژبوکي سته.

٤- تر یا دمخه چه زور وي، دا حرف په دواړو ژبوکي بیل بړغ او شکل لري.[۱]

توضیح: ځیني حروف علت چه په سنسکریت کي سته، لکه خفیف لام او (ر) غالباً دا هغه نوي اثرونه دي، چه پر سنسکریت باندي د هند په ورشوګانوکي سوي دي، که نوي اساسي صایت حروف ئې د پښتو سره مشترک دي.

صامت (صحیح) حروف Consonants

ټوله ژبې ځیني صحیح حروف هم لري، چه بړغونه ئې د صائتو حروفو په کومک ښکاره کیږي. دغه صامت حروف د ژبو اساسي بړغونه دي، چه په اکثرو ژبوکي سره مشترک دي، او ممکنه ده چه ځیني ژبې مخصوص صامت توري هم ولري.

[۱] دا تطبیق د فرهنګ نظام (ج٤) اوګرامر اوستا، او د بریتانیکا (ج۱۹) له رویه په تخمیني صورت شوی دي، ځکه چه د تخمین او تقریب لاس ور سره دي، او په دې موضوع کي مفصل معلومات نسته نوکه تیروتي یم، معافي غواړم.

دلته تر هر څه دمخه باید په دې پوه سو، چه د ژبو په صوتي سیستم کي د محیط او اقلیم او اجتماعي ضروریاتو اثر دوني دي، چه په نزدو اقلیمو کي دغه ږغونه سره اوړي لکه ژبه چه احتیاج پیدا کړیده دغه ږغونه هم ضرورت منځ ته را باسي، مثلاً یو توري په یوه ځاي کي خلق یو راز وائي، بل ځاي هغه توري بل ډول ږغ لري، دغه طبیعي احتیاج دي چه ژبي او د ژبو ږغونه سره اړوي.

مجرد ږغونه او مرکب ږغونه

د صامتو توریو ږغونه موږ پر دوه ډوله ویشلاي سو، یو هغه ږغونه دي، چه اساساً او پخپله یو ږغ او مجرد صوت وي، له یوه مخرجه څخه په یوه وار راوزي، دغو ته موږ مجرد ږغونه او یوازیني توري ویلاي سو.

ځیني داسي ږغونه هم په ژبو کي سته، چه دوه ږغه سره ګډ شوي او یو رنګ ئې موندلي وي، داسي ږغونه موږ مرکب ګڼو او هغه توري چه نمایندګي ئې کوي، ګډ توري ئې بولو.

د ژبو د تطبیق او نشوونما به سلسله کي مجرد اصوات لمړني دي، وروسته چه په نویو خلو کي لویږي، او نویو محیطو ته ځي په ځینو تورو نوي اصوات ګډیږي، او مرکب صورت مومي، د پښتو ژبي الفباء ته چه سړی ځیر شي، له دیرشو توریو څخه مجرد اصوات دغه دي:(ب،پ،ت.ټ،ج،چ،خ،ځ،څ،د،ډ،ر،ړ،ز،ژ،س،ش،غ،ک،ګ،ل،م، ن).

اما څلور صایت توري (ا،و،هـ،ی) خو بیل دي، د صحیحو او صامتو حروفو په ډله کي نه شمیرل کیږي، نور نو دغه توري مرکب صوتونه لري (ږ،ښ،ڼ)

(ڼ) یو خیشومي ږغ دي، چه له (ړ) او (ن) څخه مرکب شوی دي:

ړ ← ڼ ←ن

او (ږ، ښ) داسي توري دي، چه مختلف اصوات لري، او په ډول ډول اداء کیږي، په حقیقت کي مبدا، هغه اساسي او مجرد توري (ژ، ش) دي، چه د نورو توریود ترکیب په سبب ئې ږغونه ګرزیدلي دي.

دا نقشه وګوري



په دې نقشه کې د دوو توریو گډ صوت په (=) سره د دوي تر منځ ښکاره سوي دي، وگوري د (ژ) مرکب ږغ داسي تغیر مومي:

ژ ← (ژ=ږ) ← ږ ← (ږ=گ) ← گ

اما د (ش) ږغ هم داسي مرکب کیږي:

ش ← (ش=ښ) ← ښ ← (ښ=خ) ← خ

اوس چه تاسي ته د مرکبو او مجردو اصواتو تشریح وسوه، نو به ولاړ سو، د ږغو د مقایسوي بحث comparative phonology پر اساس به صحیح او صامت توري هم د سنسکریت او اوستا سره وگورو.

د سنسکریت او اوستا مرکب ږغونه

د سنسکریت ټول تهجي حروف ٤٦ دي، چه له دغو څخه ٢٥ اصلي او صامت او نور صایت او د اعراب توري دي، پنځه ویشت صامت توري هم پر پنځو برخو ویشل کیږي:

١- ستونیز (حلقي) gutturals

٢- تالوئیز (کامي) palatals

٣- ژبیز (زباني) cerebrals

غاښیز (دنداني) dentals

٥- شونډیز (لبي) labials

چه هر ډول له دغو څخه پنځه توري لري.[1]

اما په دغو توریوکي اکثر مرکب توري دي، چه له مجرد بڼغ سره یو د (هـ) سپک بږغ ملگري کیږي، مثلاً (که، گه، چه، جه، ټه، ته، دهـ، په، به) نو ځکه موږ دا ویلاي سو، چه اصلاً آریائي بږغونه چه په اصلي آریائي ژبه کي وه، هغه مجرد بږغونه دي، چه د پښتو په اصلي حروفو کي سته دغه د ترکیب صورت ئې وروسته موندلي دي او دا اصوات په پښتو کي هغه وخت وي چه د حرفو حرکت زورکي وي. په دغه صورت کي مرکب بږغ مومي چه لکه نیمه (هـ) داسي ویل کیږي نو گویا هر حرف که په زورکی ووایو د (هـ) یو سپک صوت مومي چه هغه موږ نه لیکو.

دا هم باید ووایو چه د مرکبو اصواتو طبیعت شرقي دي نه غربي یعني له بخدي څخه غربي خوا ته تر اروپا پوري مرکب اصوات چه د (هـ) په خلط جوړ شوي دي لږ دي بلکه سته هم نه بالعکس د بخدي شرقي خوا ته په هندکي دا بږغونه ډیر دي او سنسکریت او نوري هندي پراکریت ژبي ټول داسي مرکب بږغونه د (هـ) به خلط لري. پښتو موږ پوره غربي یعني له ایراني څانگي څخه نسو بللاي چه دغه بږغونه په نیم ډول پکښي سته، او هم ئې شرقي یعني هندي نسو گڼلاي ځکه چه لکه هندي ژبي مرکب بږغونه ئې پوره او بشپړ ندي.

د اصواتو تطبیق

دمخه د پښتو ژبي د الفبا مجرد او مرکب بږغونه وپیژندل سوه اوس هغه ټول د سنسکریت او اوستا له اصواتو سره لاندي تطبیق کوو.

ب: په دواړو ژبو کي دا مجرد صوت سته. سنسکریت ئې مرکب صوت (ب، هـ) هم لري چه په اوستا کي نسته.

مثالونه: د اوستا بغه bagha (خدای) مجرد بږغ B

د سنسکریت باټ bat (لار) مجرد بږغ B

مرکب به لکه د پښتو اوبه، مرکب بږغ Bh ب زورکی لري.

پ: په سنسکریت او په اوستا کي سته چه په دواړو ژبو کي مرکب صوت په Ph هم لري چه د اوستا بږغ ئې (ف) او د سنسکریت بږغ ئې پښتو زورکی لرونکی (په) ته نژدې دي.

اوستا پ: لکه پرتو peretu (پل) مجرد بږغ P

ف: لکه فروشي frovashi (مقتدر) مرکب بږغ F, Ph

سنسکریت: پ لکه پاتي pati (کاغذ، خط) مجرد بږغ P

سنسکریت: پهه لکه پهاند phand (بوریا، تور) مرکب بږغ PH مرکب ته نژدې پښتو بږغ ئې لکه پړ (ملامت) په (در) پ زورکي لري.

ت: په اوستا کي سته او په سنسکریت کي هم چه په دواړو ژبو کي مرکب بږغ (تهـ) Th هم لري، مثلاً:

[1] د ماکډونل ویدیک گرامر او فرهنگ نظام.

اوستا: ت لکه تنو tanu (تن) مجرد ږغ T
اوستا: تهه لکه تهوخش thvaxa (يو نوم دي) مرکب ږغ TH
سنسکريت: ت لکه تاپ tap (تود) مجرد ږغ T
سنسکريت: تهه لکه تهالي thali (تالۍ) مرکب ږغ TH
مرکب ته نږدې پښتو ږغ لکه: تل (هميشه) تلل (وزن کردن) ت زورکي لري.
ټ: اوستا دا ږغ نلري، اما سنسکريت ئې هم مفرد ږغ T او هم مرکب ټهه TH لري مثالونه:
سنسکريت: ټ لکه ټسر tasar (ټيسر) مفرد ږغ T
ټهه لکه ټهانو thanu (ټانه) مرکب ږغ TH
مرکب ته نږدې پښتو ږغ لکه: کوټل (کوفتن) ټهل (تحمل) ټ زورکی لري.
ج: په اوستا او سنسکريت کي سته چه مرکب ږغ هم په سنسکريت لري (جه) JH
اوستا: ج لکه جفر jafar (ژور) مفرد ږغ J
سنسکريت: ج لکه جاتر jatru (زاير) مفرد ږغ J
سنسکريت: جهه لکه جهاټ jhat (ساييان) مرکب ږغ JH
مرکب ته نږدې پښتو ږغ: جر (اسم صوت) جگ (بلند) چه زورکی لري
چ: په اوستا او سنسکريت کي سته چه (چه) مرکب ږغ هم لري مثلاً
اوستا: چ لکه چش chash (چشيدن) مفرد ږغ CH
سنسکريت: چ لکه چاتر chatur (لايق) مفرد ږغ CH
سنسکريت: چه لکه چهند chhand (عروض) مرکب ږغ CHH
مرکب ته نږدې پښتو ږغ لکه چغ (پردهٔ ني) چخ (خليده) چ زورکی لري.

خ: په اوستا کي سته چه يو مرکب ډوله ږغ بل، هم لري، خو khv مثلاً مفرد ږغ ئې لکه خرتو khratu (خرد) او مرکب ږغ ئې لکه خوفن khofna (خواب) سنسکريت پخپله دا صوت نلري، او په عوض کي (ک،که) تلفظ کوي. په پښتوکي هم که په زورکي وويل سي، د (خه) ږغ ورکوي، مثلاً خر (اسم صوت) خږ (خاکي)

دلته دا هم بايد وويل سي، چه د سنسکريت او اوستا له مقايسې څخه داسي معلوميږي چه په مرکزي آريائي ژبوکي دا ږغ يو مستقر ږغ ندي، ځکه نو په سنسکريت کي په مستقل ډول نسته، او له پښتو څخه هم لکه د (ک ، که) خوا ته، او لکه د (ښ،ش) خوا ته ميل کوي. مثلاً د پښتو خر په سنسکريت کي کهر او د پښتو پخول په هندي کي پکاول سو، د خان کلمه هنديان کان وايي، پخپله په پښتوکي هم ځني قبايل چه د (خ) تلفظ کوي هغه کلمات بيا نور قبايل په (ښ،ش) اړوي مثلاً (خه، ښه، شه) چه دمخه د دې ابدال نقشه تاسي وليدله نوگويا (خ) د پښتو نيم مجرد توري دي، او پوره استقلال او استقرار نلري.

څ: دا يو قسم صوت دي چه د (ت،س) يا (ث، ت) گډو اصواتو ته نږدې دي، پخپله په سنسکريت او اوستا کي نسته، مگر نوري آريائي ژبي ئې لري، مثلاً روسي (څ) لري، د الماني (تست Z) صوت هم دې ته نږدې دي.

څ: دا صوت د (ز،ج) تر منځ ویل کیږي، په پاړسو کي عوض (ج) دي، مثلاً جان=ځان. هغه څوک چه دا صوت نسي اداکولائ، عوض ئې (ز) وایي، له دې معلومیږي چه د دغو دوو توریو له جنسه دي.

په سنسکریت کي دا بږغ نسته، بلکه د (ج) خوا ئې غالبه ده، مثلاً روج په سنسکریت کي روز ته وایي، چه په پښتو ئې روځ بولي، ارز په پارسي قدر او قیمت ته وایي چه (ز) په (ج) هم آوړي ارج او ارجمند ځیني جوړیږي، په سنسکریت کي هم ارج په دغه معنا دي. د پښتو ارځ او ارځیدل هم کټ مټ دغسي دي. مګر (ز=ج) په (ځ) اوښتي دي، چه کله په (ز) هم ارزیدل ویل کیږي.

له دې ځخه معلومیږي چه د (ځ) بږغ اصلاً په مرکزي آریائیانو کي و، مګر په هند او ایران کي په غوض نور نور بږغونه دریدلي دي. اوستا یو حرف لري، چه بږغ ئې (ځ) ته نزدې دي، هغه (ذ dh) دي، چه دا حرف هر وخت د کلماتو منځ ته وي مثلاً پوخذه pukhdha (پنځم) چه هغه (ذ) په پښتو (ځ) بدل شوې دي.

د: په سنسکریت کي غاښیز حرف دي چه په اوستا کي هم سته دا صوت عموماً په ټولو ژبو کي مشترک دي، سنسکریت ئې مرکب صوت (دهـ) هم لري مثلاً:

اوستا: (د) لکه درفش drafsha (بیرق) مجرد بږغ D

سنسکریت: (د) لکه دته datta (داده) مجرد بږغ D

سنسکریت: (د هـ) لکه دهرم dharm (انصاف، مذهب) مرکب بږغ Dh

مرکب ته نزدې پښتو بږغ لکه در (بطرف مخاطب) دي (هست) دال زورکی لري.

ډ: دا حرف اوستا نلري، په سنسکریت کي سته او مرکب صوت (ډهـ) هم لري، داسي معلومیږي، چه د (ډ) طبیعت شرقي دي، که بخدي د آریا مرکزي ځاي وګڼو نو غربي خوا ته دغه توري نه ویل کیږي، شرقي خوا ته سته مثلاً:

سنسکریت (ډ) لکه ډاین dayan (ساحره) مجرد بږغ D

سنسکریت (ډهـ) ډهګ Dhig (خوا، نزدې) مرکب بږغ Dh

پښتو بږغ چه مجرد دي لکه ډم (آب ایستاده) ډب (زمین عمیق) ډ زور لري.

پښتو بږغ چه مرکب ته نزدې دي ډم (مطرب) ډب (اسم صوت) ډ زورکی لري.

ر: په اکثرو آریائي ژبو او په اوستا او سنسکریت کي سته دا توري په سنسکریت کي نیم صوتي semi vowel کیف هم لري، مثلاً:

اوستا: (ر) لکه رتو ratu (سردار دیني) مفرد بږغ R

سنسکریت: (ر) لکه راج raj (حکومت) مفرد بږغ R

ړ: د دې توري طبیعت هم شرقي دي، اوستا او پارسي ئې نلري، پښتو او سنسکریت دا بږغ لري او په مخرج کي د (ر) او (ډ) تر منځ ویل کیږي، په سنسکریت کي د کلماتو په سر کي ډیره لږ وي، مګر په منځ او پاي کي ډیره ده مثلاً :

سنسکریت: (ړ) لکه ړوړا rora (ډبره) مفرد بږغ R

پښتو: (ړ) لکه ړوند، پړ، پړاو، او نوړ.

ز: سنسکريت دا ږغ نلري، په عوض کي (ج) وايي لکه (روز_ روج) يا (زانو=جانو) يا (زن=جني) د دې توري طبيعت غربي دي او په پښتو کي متعدد ساري لري، مثلاً کله په (ژ) کله په (ج) کله په (ځ) اوړي. مثال:

اوستا: (ز) لکه زاته zata (زاده) مفرد ږغ Z.

ژ: دا ږغ هم سنسکريت نلري، او په پښتو کي مستقلاً موجود دي، اوستا ئې هم لري. مثلاً ژنو znu (زانو). دا حرف هم په پښتو کي د (ز، ج) سره خپلوي لري، مثلاً (ژبه=زبه=جبه) چه درې ډوله ويله کيږي. خو طبيعت ئې غربي دي، د شرق خوا ته چه نزدې کيږي، په (ج) اوړي، لکه د پارسي (اژدر) او د سنسکريت اجگر.

ږ: لکه دمخه چه تاسي ته وويل سوه، دا توري مرکب صوت لري، نو ځکه متغير دي، له تيري نقشې څخه ئې تاسي ته د ږغ تغيير هم ښکاره سو، په سنسکريت او اوستا کي د دې نظير نسته، له (ژ،ج) سره اوړي مثلاً:

کږ =کج =کوږ يا اژدهار = اږدهار اما پخپله پښتانه ئې د (گ) ساري گڼي.

س: په سنسکريت کي له مهمو حروفو څخه دي، په اوستا کي هم سته په اکثرو ژبو کي دا ږغ عام دي، مثلاً

سنسکريت: (س) لکه سات sat (اوه) مجرد ږغ S

اوستا: (س) لکه ستو stu (ستايل) مجرد ږغ S

په پښتو کي دا ږغ (څ) ته نزديوالي لري او کله کله سره اوړي هم مثلاً سرگند، څرگند.

ش: دا هم مهموس حرف دي، په سنسکريت او په اوستا کي سته مثلاً:

اوستا: (ش) لکه هورشته hvarshta (ښه رشه) مفرد ږغ Sh

سنسکريت: (ش) لکه شاپت shapit (معلون) مفرد ږغ Sh

ښ: دمخه مو دا توري په مرکب صوت سره در وښوه د دې صوت نطاير په آريائي ژبو کي سته ، مثلاً روسي کټ مټ (ښ) لري، دغسي هم په اوستا کي يو مشدد (ش) سته چه شکل ئې هم بيل دي مثلاً شاته shata (يعني ښاد) چه په پارسي (شاد) شوي دي. دا ږغ د پښتو (ښ) ته نزدې دي، او په پښتو ئې هم عوض دغه (ښ) دي.

سنسکريت هم يو بل راز (ش) لري چه ږغ ئې له اصلي (ش) څخه بيل دي، او جلا شکل هم لري، د ژبې سر چه په تالو پوري ونښلي، دا ږغ ادا کيږي، د پښتو (ښ) اصلي مخرج هم دغه دي چه وروسته په (ښ=خ) او (خ) بدل سوي دي. د سنسکريت دغه راز (ښ) مرکب صوت هم لري؛ او د هند په ښاروکي مختلف ږغونه لري. مثلاً کله د (ک) سره گډ سي او د (کش، کهي، چه) ږغ ورکوي لکه لکشمي=لکهمي=لچهمي (دولت) دا ږغ په پاړسوکي په (ش) اوړي، مثلاً د پښتوکښت په پارسي کشت چه په برج بهاشا ژبه کهيت شوي دي، او لدغو ټولو مثالو څخه د دغه توري مرکب والي ثابتيږي.

غ: په حقيقت کي دا توري او (گ) له يوې کورنۍ دي، د سنسکريت او اوستا په حلقي توريوکي آوازونه سته، اوستا يو ږغ (گه) لري، چه پښتو ږغ ته نزدې دي، سنسکريت هم دغسي ږغ لري، مثلاً:

سنسکريت :(گه) لکه گهات ghat (وژل) مرکب ږغ Gh

اوستا: گه لکه گهژر ghzar (موج) مرکب ږغ Gh

نو د (غ) ږغ په پښتو کي مجرد و، مگر په شرقي هجرت کي د هند خوا ته دا ږغ (گ) ته مايل سو، او يو راز صوت ځيني پيدا سو، چه د (گ=غ) تر منځ دي، لکه داغ =داگه=شغال = شگال.

ک: په اوستا او په سنسکريت کي سته، چه بل مرکب ډول (که) هم لري. مگر د اوستا صوت ئې پښتو ته نزدې، او د سنسکريت ږغ ئې هم هغسي په حلق کي اداء کيږي، او لږ څه ليري دي. د دې توري طبيعت د (خ) خوا ته نزدې دي، او د سنسکريت ږغ ئې هم هغسي په حلق کي اداء کيږي. نو گويا دغه (ک=که) شرقي لوري ته تل د (خ) نمايندگي کوي، ځکه چه شرقي آريائيان (خ) نشي ويلای.

اوستا: (ک) لکه کامه kama (کام) مجرد ږغ K

سنسکريت: (ک)= کاټ kat (کاټ) مجرد ږغ K

(که) = کهال khal (پوست، ډنډ) مرکب ږغ Kh

گ: په اوستا کي مجرد ږغ (گ) او په سنسکريت کي هم سته، مگر د سنسکريت ږغ ئې خورا په حلق کي ادا کيږي، چه کټ مټ د پښتو سره يو راز ندي او د حلقي توريو طبيعت هم دغه دي چه پخپل شرقي هجرت کي خورا پسې حلقي کيږي، مثلاً:

اوستا: (گ) لکه گامه gama (گام) مجرد ږغ G

سنسکريت: (گ) لکه گوند gond (گند) مجرد ږغ G

په سنسکريت کي که دا ږغ مرکب سي (گه) نو (غ) ته نزدې کيږي، لکه دمخه چه وويل سوه.

ل: دا ږغ په اوستا کي نسته، او نه په زړه پاړسو کي و، مگر په پهلوي کي پيدا سوی دي. په اوستا کي عوض خپل قريب المخرج توري (ر) و، او په سنسکريت کي کله (ر) او کله (ل) وي په حقيقت کي (ل، ر) په اکثرو آريائي ژبو کي سره اوړي، د پښتو ديوال په پاړسو ديوار دي، چه په انگليسي که هم دغه ريښه وال wall سته. د سنسکريت (ل) په اوستا کي د (ر) ږغ ورکوي مثلاً:

سنسکريت: شريلاس shrilas (ښکلي)

اوستا: سريرو sriro (ښکلي)

سنسکريت: هوکلپته huklpta (ښه جوړ شوې)

اوستا: هوکرپته hukerepta (ښه جوړ شوې)

م: دا توري په اوستا او به سنسکريت کي سته چه په خيشومي اصواتو کي شمېرل کيږي او په دغو دواړه ژبو کي عموماً سره يو دي او په پښتو او نورو آريائي ژبو کي هم عام دي، خو کله د (ن) سره اوړي مثلاً لنبه=لمبه.

سنسکريت: (مه) لکه نامه nama (نوم) مجرد ږغ M

اوستا: مه لکه نمه nama(نوم) مجرد ږغ M

ن: په سنسکريت کي مجرد ږغ (نه) دي، او مرکب ږغ هم د پښتو (ڼ) په ډول سته. په اوستا کي هم د لومړي ډول په مقابل کي او هم د دوهم ډول په مقابل کي حروف سته چه دوهم صوت ئې د پښتو (ڼ) ته نزدې دي، او په تيينکو کي ويل کيږي:

اوستا: (ن) لکه نافیه nafya (ناف، نو) مجرد بږغ N
اوستا: (ان) لکه انتر antara (اندر، دننه) تقریباً مرکب بږغ N
سنسکریت: (نه) لکه نابهي nabhi (نو، منځ) مجرد بږغ N
سنسکریت: (ڼه) لکه ورڼ vran (آماس) مرکب بږغ[1] N

(۲) تلفظ Pronunciation

لکه دمخه چه وویل سوه، د پښتو او اوستا او سنسکریت د بږغیزو او صحیحو توریو تر منځ ډیر مشابهت دي، او په درو سرو ژبو کي د اعرابي حروفو په کومک د اصلي حروفو تلفظ کیږي، لاندي د تلفظ ځیني خصوصیات راوړل کیږي:

ابتداء په ساکن

په سنسکریت کي په ساکن توري ابتداء کیده، او لکه چه ځیني محققین وائي، دا خاصیت د آریائي ژبو دي، او هر څوني چه ژبي غربي خوا (یا سامي خوا) ته میل کوي، دا خاصیت ځیني ځي.

پښتو او سنسکریت دا آریائي مذیت تر اوسه خوندي کړي دي، په اروپائي ژبو کي هم عمومي دي مګر په پارسي ژبه کي ښائي چه له دې جهته نسته، چه پر دغي ژبي د سامي ژبو اثر خورا ډیر لویدلي دي، ښائي چه پخپله په اوستا او لومړنۍ پهلوي کي په ساکن ابتداء کیده، مګر وروسته چه د سامي تمدن اثر پر ایران ولوید نو ابتداء په ساکن محاله سوه.

ډیر داسي کلمات په پارسي ژبه کي سته، چه یو زاید الف د تلفظ د سهولت لپاره په سر کي ور اچول شوي دي، لکه اشګرف=شګرف، اشکم=شکم، اشتر=شتر، اسمندر=سمندر.

ښائي چه اصلاً دا کلمات پخوا په ساکن سره شروع کیده، مګر وروسته چه سامي اغیزي ډیري سوې، یو زاید الف ور اچول سوي دي.[2] نو د ساکن د ابتداء په خاصیت کي پښتو ډیره سنسکریت ته ورته ده، او ښائي چه دا خاصیت دواړو ژبو له اصلي آریائي ژبي څخه موندلي وي.

خج (ایکسینت) Accent

ایکسینت یعني د تلفظ زور او د بږغ تکیه چه په پښتو ئي خج بولو په اکثرو آریائي ژبو کي اوس هم سته، مګر په سنسکریت کي خورا ډیر ؤ، له ویدا او قدیمو ګرامر پوهانو له بیانه ښکاري، چه د سنسکریت ایکسینت یو ډول

[1] دا تطبیق د بریتانیکا (ج ۱۹) او ویدیک ګرامر، او اوستا ګرامر، او فرهنګ نظام او ګاتها، او دروس پهلوي په کومک لیکل سوي دي.
[2] سخندان فارس، ص ٥٦ - فرهنګ نظام، ج٤.

موسیقیت درلود، او د ټونیک tonic په رنگ و، د ږغ فشار نه و، او پخوا ئې درې ډوله درلوده (۱) لوړ خج udatta (raised) (۲) کښته خج anudatta (unraised) (۳) لوړیدونکې او کښته کیدونکې خج the svarita (raising-falling) چه هغه لومړی ډول ئې د هندو اروپائي ژبو د خج سره ډېر مشابهت لري، او د سنسکریت خجونه اکثراً په شعر کې وه.

علاوه پر دغه چه له ایکسینت څخه په نظم کې کار اخیستل کیدی، او په ویدي قدیمو متونو کې هم موجود و، او وروسته هم هر وید ځانته د ایکسینت سیستم درلود، په عمومي ډول هم ټولو ویدي الفاظو پر یوه یا دوه سلایبلو باندي ایکسینت درلود، لکه چه په هندو اروپائي ژبو کې سته. او کله به هم په ترکیبي الفاظو کې ایکسینت مکرر کیدې چه غبرگ خج double accent ورته وایو. د سنسکریت د مرکباتو ایکسینت accentuation of compounds بیل احکام او اصول درلوده، او تقریباً په ټولو گرامري احکامو کې ایکسینت بیل بیل اثر کاوه.[1]

د اوستا په قدیمو نسخو کې (پر خلاف د ویدا) هیڅ ډول ایکسینت نه لیدل کیږي، او نه په لیک کې راغلي دي[2] او له دغه جهته هم ایکسینت په پارسي کې خورا لږ مراعت کیږي. مگر په پښتو کې ایکسینت یو د تلفظ مهم رکن دي او ډېر کلمات په همدغه ذریعه کې څه هم په حروفو او حرکاتو کې سره یو وي، خو په خج سره بیلیږي، مثلاً وړي (برده) وړی (پشم) توري (حرف، تلخه) توری (ترائي) اته (مقیاس طول باندازهٔ یکدست) اته (هشت) چه له دې قسمه کلمات په پښتو کې خورا ډېر دي، او لکه ایکسینت چه په سنسکریت کې ډېر عمومیت درلود او عمومیت لري په ښتو کې هم کټ مټ هغسي دي.

نو سړي داسي ویلاي سي چه ایکسینت د آریائي ژبو یو مهم خاصیت دي، او ښائي چه په آریائي اصلي ژبه کې هم و، مگر وروسته چه ویدي او سنسکریت ژبه په هند کې د علم ذریعه وه، او د آریائیانو اکثر علمي او ادبي آثار هم نظم وه، نو په سنسکریت کې خج ډېر انواع وموندل، او په نظم کې ډېر داخل سوه.

(۳) گرامر Grammar

د پښتو گرامري ساختمان او بنیه ډېره قوي ده او په اساسي قواعدو کې هم له زړو آریائي ژبو سره ورته ده. د مقایسوي څیړني د تکمیل لپاره زه غواړم چه دلته د گرامر ځیني اساسي او بنیادي مواد له سنسکریت او اوستا سره وگورم او په خورا لنډ ډول ئې شرح کړم.

[1] بریتانیکا، ج ۱۹ ص ۹۵۵ - ویدیک گرامر، ص ۷۷-۱۰۷.
[2] اوستا گرامر، ص ۲-۲۹۳.

اسماء Nouns

د ژبي له اساسي ارکانو څخه نومونه (اسماء) دي چه د جملې په ترکيب کي هم دغه مواد ډير په کار کيږي او د استعمال چاري ئې هم تفاوت کوي.

په پښتو کي اسماء ځانته مخصوص حالتونه لري چه په هر حالت case کي د هغه اسم په آخر پوري حرکات يا حروف نښلي لکه فاعلي، مفعولي، ندائي او نور حالتونه.

په سنسکريت او اوستا کي هم اسماء اته حالتونه لري، او په هر حال کي ځيني اسماء په آخر کي تغير مومي. د اسم حالتونه په اوستا او سنسکريت کي دا دي: (۱) فاعلي nominative (۲) مفعولي accusative (۳) آلي instrumental (٤) مفعولي بالواسته dative (٥) عليت ablative (٦) اضافي يا ملکيت gentive (۷) ظرفي lacative (۸) ندائي vocative[١].

ښايي چه په آريائي ژبو کي دغه حالتونه له هند اورپائي مشترکي دورې څخه پاته وي، په پښتو کي هم اسماء دغسي حالتونه لري عمومي نومونه او مخصوصاً بيا هغه نومونه چه د پاي حروف ئې ږغيز (صايت) دي په مختلفو حالتو کي تغيير مومي او اکثر دغه ذکر شوي حالتونه د پښتو اسماء هم لري.

مگر له ځينو آريائي ژبو څخه دغه د حالتو په سبب تغير وتلي، او دا قديم خاصيت ئې بايللي دي مثلاً فارسي او انگليسي دا خاصيت لږ لري.

کميت Number

په سنسکريت او اوستا کي نوم د شمير له پلوه پر درې ډوله دي مفرد، تثنيه، جمع. مگر په اوستا کي تثنيه يو مخصوص کيف لري، چه د ظرفي حالت يو مخصوص شکل ښکاره کوي[٢] او عمومي نده.

مگر وروسته له آريائي ژبو څخه تثنيه ووتله او فقط مفرد او جمع پاته شول، په پښتو او پارسي او اکثرو اروپائي ژبو کي تثنيه نسته. ښائي چه تثنيه اصلي آريائي ژبني خاصيت نه وي، او د سامي مدنيت يوه اغيزه وي، ځکه چه په اکثرو سامي ژبو کي دا خاصيت تر اوسه هم پاته دي.

د دې خبري يو دليل دا دي چه بيله سنسکريته په نورو آريائي ژبو کي تثنيه اوس نده پاته، نوکه دغه خاصيت خاص آريائي واي، ښائي چه داسي به په عمومي ډول نه زايل کيداي.

له دې څخه چه په اوستا کي هم دا خاصيت، د سنسکريت غوندي قوي او مطرد ندي، معلوميږي چه اصلي آريائي به نه وي، علاوه پر دغه تثنيه په پهلوي ژبه کي هم نه وه، او فقط مفرد او جمع ئې درلوده.[٣]

---

[١] اوستا گرامر، ص ٦٢ - بريتانيکا، ج ١٩ ص ٩٥٥.

[٢] اوستا گرامر، ص ٦٢.

[٣] دروس پهلوي، ج ١ ص ٣١.

جنس Gender

سنسکريت او اوستا دواړو تذکير او تأنيث درلود، او د جنس له پلوه کلمات سره بيليده، په دواړو ژبو کي درې جنسه اسماء موجود وه:

۱- مذکر masculine

۲- مؤنث feminine

۳- مخنث neuter[۱]

داسي ښکاري، چه دغه د جنس gender تقسيم په اصلي آريائي ژبه کي هم وو، وروسته چه سنسکريت او اوستا او پښتو ځيني وزيريدې، هم د دغو درو جنسو تقسيم پکښي پاته سو. په پهلوي کي هم د تذکير او تأنيث لحاظ کيدي، مگر له پارسي ژبي څخه بالکل ووت. په ځينو اروپائي ژبو کي تر اوسه هم د مذکر او مؤنث وجود لږ او ډير سته.

په پښتو کي هم لکه سنسکريت او اوستا مذکر او مؤنث اجناس موجود دي، چه لکه هغه ژبي مؤنثات ځانله نښانې او علايم لري، اما مخنث چه په الماني او روسي کي هم سته، هغه کلمه ده، چه ظاهراً د مؤنث علامه نلري، او په مقابل کي نر جنس هم موجود نه وي، مگر مؤنثه شميرله کيږي، دې ته موږ اوس سماعي مؤنث وايو، چه د سنسکريت د گرامر په اصطلاح ئې مخنث بولي.

اعداد Numerals

د اعدادو په نومو او ترتيب کي اکثر آريائي ژبي سره نزدې دي سنسکريت، اوستا، پښتو هيڅ بيلتون نه سره لري او په خاص ډول پښتو ور نزدې ده په عمومي هندو اروپائي ژبو او په سنسکريت کي له يوه تر لسو پوري اعداد بيل نومونه لري، وروسته پر عشري سيستم برابر، هغه تر لس گښته اعداد له ۱۰، ۲۰، ۳۰ او تر سله پوري ور سره يو ځاي کيږي، سل زره په ويدائي دوره کي loksoh بلل کيده، چه وروسته د lakh کلمه ځيني جوړه سوه.[۲]

په سنسکريت او اوستا کي کټ مټ لکه اوسنۍ پښتو ، تر آحاد وروسته چه عشرات شروع کيږي، نو لومړي آحاد وروسته عشرات تلفظ کيږي، په يوناني او لاتيني کي هم دغسي دي. مگر په پارسي کي دا نظام لکه انگليسي تر شلو پوري د سنسکريت او اوستا په شان دي خو تر شل لوړ اوړي، يعني لومړی عشترات وروسته احاد ويل کيږي.

مثلا په سنسکريت کي وايو ايکاده شه (۱۱) دواده شه (۱۲) په اوستا کي وايو دايوه ده سه (۱۱)، دوه ده سه (۱۲) چه په پارسي او انگليسي کي هم دا نظام قايم دي، يازده، دوازده eleven, twelve او نور مگر وروسته چه تر شل لوړ سي، په پارسي او انگليسي کي دا نظام گرزي، دمخه عشرات وروسته آحاد ذکر کيږي لکه بيست و يک

---

[۱] اوستا گرامر، ص ٦٢ - بريتانيکا، ج ۱۹ ص ۹٥٦.

[۲] بريتانيکا، ح ۱۹ص ۹٥۲.

twenty one او نور، مگر په پښتو او سنسکریت او اوستا کي تر آخره پوري لومړي احاد، وروسته عشرات ویل کیږي. لاندي د اعدادو د نومو جدول وگوري، چه پښتو ته څنگه نژدې دي.[۱]

اعداد	پښتو	اوستا	سنسکریت
۱	یو	aeva ایوه	ekam ایکم
۲	دوه	dva دوه	dva دوا
۳	درې	thri تهري	tri تري
٤	څلور	catwar چتور	catvar چتوار
٥	پنځه	panca پنچه	panca پاڼچه
٦	شپږ	shvas ښوش	sas شش
۷	اوه	hapta هپته	sapta سپتا
۸	اته	asta اشته	asta اشتا
۹	نه	nava نو	nava ناوه
۱۰	لس	dasa دسه	dasa داشه
۲۰	شل (ویشت)	visaiti ویسیتي	visati ویشتي
۳۰	دیرش	thrisat تهریست	thriset تریشت
٤۰	څلویښت	catwarest چتوریست	catwarisat چتواریشت
٥۰	پنځوس	pancasat پنچاست	pancasat پنچاشت
٦۰	شپیته	shvasti ښوستي	sasti ششتي
۷۰	اویا	haptaiti هپتایتي	saptati سپتتي
۸۰	اتیا	astaiti اشتایتي	asiti اشیتي

[۱] اوستا گرامر، ص ۱۰٦.

۹۰	نيوي	نوايتي navaiti	نوتي navati
۱۰۰	سل	سته sata	شتا sata

په دې ډول پسله سله هم په درو سرو ژبو کي احاد تر عشراتو دمخه دي، او لکه د اعدادو نومونه چه په درو ژبو کي سره نزدې دي، نظم او قواعد ئې هم دغسي سره ورته دي.

افعال Verbs

په افعالو کي هم د سنسکريت او اوستا او پښتو مشابهت سره ډير دي، د زمانو اقسام او معروفو او مجهولو افعالو ډولونه، او د افعالو اوښتنه د سوابقو او لواحقو په واسطه، او ضمير او تصريف او تغير دا ټول هغه خصوصيات دي، چه په پښتو کي اوس هم سته.

د پښتو اکثر مصادر لکه سنسکريت يوه اسمي ريښه لري چه له هغه څخه بيا د اداتو په الحاق افعال بندکيږي، فقط فرق دوني دي، چه د پښتو افعال تثنيه نلري، او د سنسکريت افعال ئې لري، په دې خصوصيت کي پښتو له پارسي او اروپائي ژبو سره نزدې ده.

د تأنيث حروف

په سنسکريت کي هم لکه پښتو د تأنيث حروف سته، چه که کومه کلمه وغواړي چه مؤنثه ئې کړي، هغه حروف ئې پاي ته راوړي: (آ ـ ی)[1] او په پښتو کي دا کار (هـ) ورکوي مثلاً خر ـ خره، وز ـ وزه، او نور.

د نفي حروف

په سنسکريت کي هم د نفي حروف لکه پښتو (آ ـ ن=يه ـ نه) دي، چه دا حروف په پښتو کي د نفي لپاره استعماليږي، مثلاً: نه ځم ـ يه نه ځم.

د کلماتو د ساختمان اصول

په پخوانو آريائي ژبو کي که مطالعه وسي، او کلمات او الفاظ ئې په غور وکتل سي نو دا ښکاره کيږي، چه اکثر اسماء او کلمات مشتق دي. او جامد اسماء لکه په سامي ژبو کي چه سته په آريائي ژبو کي نسته. اوستا او سنسکريت دواړه دا خاصيت لري او د آريائي ژبو عمومي ډول دغسي دي.

سنسکريت جامد اسماء نلري، علماء وايي: چه ټوله کلمات ئې ريښې لري، او مشتق دي، او ټول معلول په علت دي، او د سنسکريت د کلماتو ټولي اصلي ريښې تر ٤۰۰ زياتي ندي، نو د سامي ژبو هغه کليه چه (اسماء

---

[1] فرهنگ نظام، ج ٤.

معلول په علت ندي) په آريائي ژبو کي نه تطبيق کيږي، او که موږ پښتو ته وگورو، کلمات او الفاظ ئې عينا لکه اوستا او سنسکريت له ريښو څخه مشتق دي.

مثلاً اشوه چه په سنسکريت کي آس ته وائي، له (اش) او (وه) څخه جوړ سوی دي، (اش) تگ ته وايي او دا ريښه تر اوسه هم په پښتو کي سته هغه وخت چه خر يا آس شړي وايي (اشه=برو) او (اش) دگوچنو په ژبه بوده ته هم وايي، د سنسکريت (وه) يو لاحقه ده، چه مصدر اسم کوي.

نو د پښتو اش=آس=اسپه د سنسکريت (اشوه) دواړه له دغي ريښې څخه را وتلي دي، هم له دغي ريښې څخه (سپور=سور=سوار) جوړ سوي دي، چه (اسپ بار) وو.[1]

دغسي هم ډير نور کلمات چه مثلا اوس په پارسي کي د بسيطو الفاظو په ډول راغلي دي، پخوا ئې ريښې درلودې. هغه وخت چه د سنسکريت او اوستا څخه پهلوي ته راغلي، د اشتقاق ريښې ئې ورکي شوې، مثلاً آزردن (ځورول) د دې مصدر ريښه په سنسکريت کي (جر) وه يعني زړيدل، ذليل کول. (آ) چه سابقه ده د نزدی او طرف په معنا دمخه ئې راغله (آجر=آزر) سو، چه په پهلوي او پارسي کي آخر ته مصدري (دن) ور زيات سو، نو آزردن سو.[2] د پښتو ځورول او زړيدل هم دواړه دغه د (جر) ريښه لري، او دا مصادر د (ځور=زور= زوړ = جر) له ريښې څخه را وتلي دي.

د دې خبري لپاره يو بل مثال هم دا دي، چه نشستن پارسي مصدر مرکب دي، په سنسکريت کي ريښه (سد=ست) ده، (نی) سابقه ده، چه د کښته معنا لري نو کلمه (نی سد=نی شد) وه په پلهوي کي آخر دال په (س) واوښت، او مصدري علامه ور سره ملگرې سوه (تن) نی شستن سو، چه په پارسي کي (ی) هم حذف سوه، نشستن پاته سو.[3]

که موږ په غور وگورو د پښتو ناست او ناستل چه وروسته يوه سابقه (کښې) عيناً د هغه (نی) په معنا په سر کي ور زياته شوې ده، له دغو ريښو څخه دي ځکه چه عنصر ئې هغه (سد_ست) دي چه په سنسکريت کي هم و، او د پښتو په (سته) کي هم تر اوسه سته.

پر دغه اساس گويا آريائي زړې ژبي ټولي د کلماتو د ساختمان لپاره اصول او ريښې لري، چه د پښتو ژبي اوسني ژوندي اکثر کلمات هم دغسي دي، او ضرور يوه ريښه مومي او له بسيطوالي او جامدوالي څخه مرکب والي ته ځي.

مثلاً لومړۍ پلا چه هديره يعني قبرستان کلمه سړی ووائي، داسي ښکاري، چه بسيط کلمه ده حال دا چه دا کلمه مرکبه ده هډ يعني استخوان ديره يعني قرارگاه، دا دوې کلمې سره ونښتې يو (د) يا (ډ) حذف سو هديره

[1] فرهنگ نظام، ج ۳.
[2] فرهنگ نظام، ج ۳.
[3] فرهنگ نظام، ج۳.

ځيني جوړه سوه. دغسي هم مثلاً پزه يا پوزه په پښتوکي بيني ته وايو په پارسي پوز د انسان او حيوان د مخ راوتلي برخي ته وائي. پوزه هم په پارسي جگ او راوتلي ځاي ته وائي. په پهلوي کي هم پوز په دغو معناو مستعمل و[1] او (پوز ـ پوزه ـ پزه) په آريائي ژبوکي مستعمل او عنصري توري ئې (پ ـ ز) دي نوگويا په پښتوکي (پزه ـ پوزه) چه (بيني) ته ويل شوې دي معلول په علت دي او دا نوم په يوه مناسبت پر ايښو شوی دي چه د آريائي ژبو د لغاتو له ساختمانه سره سم دي.

دا قديم اصول لکه په سنسکريت او اوستا کي چه پر لغاتو اوکلماتو باندي جاري وه، تر اوسه هم په پښتوکي جاري دي، که عوام وغواړي چه د يوه نوي شي لپاره نوم وضع کړي طبعاً له دغو اصلي قواعدو څخه کار اخلي. مثلاً تحت البحري د نوي عصر له اختراعاتو څخه ده چه حسب الضروره ئې په پښتوکي اوبتل obtal بللې ده. دا نوم مرکب دي له اوبه او (تل=عمق) څخه دغسي هم ايروپلان يعني طياره الوتکه بولي ځکه چه الوزي او د گرامافون ريکارد ټيکله بولي ځکه چه لکه ټيکله گردی دي.

[1] فرهنگ نظام.

ضمایم

پښتو او میدي ژبه

لکه چه د کتاب په لومړیو برخو کي هم اشاره وسوه، میدیان یا مادیان آریائي خلق وه، چه د قبل المسیح د اومي پیړۍ په ابتداء کي دوي په غربي ایران کي یو سلطنت جوړ کړ، مؤرخین وائي چه دا خلق تر مسیح لس پیړۍ دمخه هلته تللي وه.[1]

په دې کتاب کي موږ نور له دغه ماد قومه سره اړه نلرو، خو ځکه چه دوي هم قدیم آریائي اقوام دي او ژبه ئې هم پسله اوستا څخه قدیمه آریائي ژبه ګڼله کیږي، نو ښائي چه د ژبي د قدامت له پلوه د پښتو سره تطبیق کړه سي.

دارمستتر وائې چه اوستا هم لومړي په مادي ژبه نوشته سوې وه، او دغه مادي ژبه له پخوانۍ پاړسو Old Persian سره ډېره نزدي وه، او اوسنۍ کردي ژبه هم له مادي ژبي څخه مشتقه سوې ده.[2] ځکه چه دغه میدي اقوام هم پسله عمومي هجرته چه آریائیانو له باختره کړي دي، د ایران په ورشو ګانو کي سره خپاره سوي دي، نو ښائي چه د دوي په ژبه کي هم باختري آثار وي.

متأسفانه له میدي ژبي څخه موږ ته اوس څه ندي پاته چه هغه د پښتو سره مقابله کړو، فقط هیروډوت د مؤرخینو پلار، له دغي ژبي څخه یوه کلمه ضبط کړیده او هغه سپاکه spaca ده، چه سپۍ bitch معنی لري.[3]

ګریرسون وائي: چه میدي ژبي د ایران په شرقي خوا کي ویلې کیدې ځکه نو د پامیر او د هندوکش د جنوب ژبي لکه غلچه، اورمړي، بلوڅي او پښتو ټوله په میدي ډله کي داخلوي، چه د ده په اصطلاح نن پرشک Non-Persic ژبي دي.

د دغو ژبو نزدیوالي هم له دې خبري څخه ثابتوي، چه په اورمړي ژبه spuk او په پښتو سپۍ spae هغي یوي کلمې ته چه له میدي ژبي څخه پاته ده، ډېري نزدې دي، حال دا چه په پهلوي او پارسي ژبي ئې سګ sag بولي چه له میدي څخه لیري کلمه ده.[4]

که د میدي ژبي نور کلمات او الفاظ اوس موجود واي، نو به د پښتو مطابقت له دغي زړې ژبي سره ښه ښکاره سوي واي، خو دلته پر دغه یوه کلمه اکتفا وسوه، چه د پښتو سره نزدیوالي لري.

---

[1] ایران قدیم، ص ۳۹.
[2] ایراني مطالعات.
[3] د هیروډوټ جغرافیا، ص ۲۸۹.
[4] لنګوستک سروې آف انډیا، ج ۱۰ ص ۲-۳.

پښتو او زړه فارسي (فرس قديم)

د مورخينو په اصطلاح زړه پارسي يعني فرس قديم Old Persian هغه ژبه ده، چه پخوا په خاص ايران "پارس" کي ويله کيده، او د مخامنشي دورې رسمي ژبه وه، د دوي نوشتې او دفاتر او ډېر ليکونه ټول په دغه ژبه دي، پاچهانو په دغه ژبه خبري هم کولې، مگر اوس د دغي ژبي آثار بيله ځينو ليکونو چه پر ډبرو پاته دي، بل څه نسته.[1] له دغو ليکونو څخه د ژبو پوهانو فقط د زړې پارسي ٤٠٠ الفاظ موندلي دي، چه په ميخي خط کښلي سوي دي.[2]

زړه پارسي زند ژبي ته ډېره ورته وه، لکه زند ٢٤ توري لري، اما لږ څه تر زند ساده ده، په دغه ژبه چه ډېر ليکونه په ايران کي سته، د هخامنشي دورې د مؤسس، کوروش (٥٥٩-٥٢٦ ق،م) له عصره شروع کيږي، او په درو څلورو ژبو په ميخي خط کښلي شوي دي، يعني يو مطلب هم په زړه پارسي هم په آسوري هم په عيلاي ژبه نوشته سوی دي.[3]

که څه هم زړه پارسي له پښتونخوا څخه ليري په پارس کي پيدا سوې وه، او بايد له پښتو سره ډېره نزدې نه وي، مگر بيا هم ځکه چه ريښې يې له اوستا سره نښتي دي، او د باختر له سرچينې څخه اوبه خور مومي نو به ضرور لغوي قرابت سره لري.

په لاندو کرښو کي زه د زړې پارسي، يو څو کلمات له پښتو سره مقابله کوم، کم چه له هغې ژبي څخه اوس پاته او ما ته معلوم دي، له دغي مقابلې څخه به ښائي د قديمو ژبو روابط، د پښتو سره تاسي ته ښکاره سي:

١ـ اورمزد: چه په اوستا کي اهوره مزدا دي، او د دې کلمې شرح دمخه ليکلې سوې ده، چه لومړي جزو يې د پښتو اور دي، د ايران د زړې پارسي په ډېر ليکو کي هم (اور مزد) ضبط سوې ده.[4]

٢- منه: يعني (آدم، سړی)[5] چه دمخه د دې کلمې ريښه په سنسکريت او ويدا کي د (منو) تر عنوان لاندي در وښوولي سوه، او پښتو ئې تر اوسه هم ژوندۍ ده.

٣- آبي: يعني (اوبه، آب) چه د پهلوي آو او د اوستا آپ هم ور نزدې دي.[6]

٤- هو: يعني ښه چه په سنسکريت کي (سو) دي او د پښتو ايجابي (هو) اوس ژوندۍ کلمه ده.

---

[1] د ايران د ادبياتو تاريخ. براون، ج١ ص ١٤٠.

[2] د شفق تاريخ ادبيات ايران، ص ٤.

[3] د همائي تاريخ ادبيات ايران، ج ١ ص ١٣٨.

[4] آثار العجم.

[5] آثار العجم.

[6] آثار العجم او فرهنگ نظام.

۵- دروکا: یعني دروغ چه په اوستا کي درواغه او په سنسکریت کي دروه او په پهلوي کي دروغ و[۱] په اوسنۍ پښتو کي درواغ او دروه دواړه ژوندي دي.

٦- وسپا: یعني اسپ، چه په سنسکریت کي (اشوه) او په اوستا کي (اسپه) او په اوسنۍ پښتو کي (آس-اسپه) دي. چه شرح ئې دمخه هم تیره سوه.

۷- یوترا: یعني پسر. دا کلمه د استخر د داریوش په کتیبه کي د زوي په معنا راغلې ده.[۲] چه په اوستا کي هم (یو تهره) او په سنسکریت کي (پتره) او په پهلوي کي پور=پوس=پوش وه.[۳]

د پښتو (پوت) هم په دغه معنا دي، چه دمخه ئې ذکر وسو.

۸- پیسو pisu: یعني پیس، دا کلمه په پښتو کي هم تر اوسه (پیس) ده، چه په عربي دا مرض برص بولي او په اوستا کي (پئیسه) او په پهلوي کي (پسک) وه.[٤]

۹- پمون pamon: یعني گرک، چه اوس په پښتو کي پم یعني گرگ او پمن گرگین سته.

۱۰- نامکا namka: یعني نام، دا کلمه په سنسکریت کي (نامن) او په اوستا کي (نامن) او په پهلوي او پارسي کي (نام) ده، په پښتو کي (نوم) بولي، په زړه پارسي کي (نامکا) وه، په هخامنشي کتیبو کي د یوې میاشتي نوم (انامکا) و، یعني بې نومه.[٥]

۱۱- مرگا marga: یعني مرغ دا کلمه په سنسکریت کي مرگه (جاندار و چارپا) او په اوستا کي مرغه او په پهلوي کي مروک وه.[٦] په زړه پارسي کي مرگازانا د یوې میاشتي نوم و، چه د ایران په زړو کتیبو کي ذکر راغلي دي. مرگا یعني مرغه او (زنا) یعني زوول. ځکه چه دا میاشت د مرغانو د زوکړي وخت و، نو په دغه نامه یاده سوې ده.[۷] د پښتو مرغه (پرنده) او (زوول) دغو قدیمو کلمه ته نژدې دي.

۱۲- ویاخنا vyakhna: دا هم په زړه پارسي کي د یوې میاشتي نوم و، چه په اوسني پارسي ئې اسفند بولي، کلمه داسي معنا لري: وی یعني بی، اخنا یعني یخني او ساړه. لومړي جزو ئې هغه د پښتو (یه) = د سنسکریت (۱) دي چه په زړه پاسي کي (وی) هم و. دوهم جزو ئې (اخنا) دغه اوسني د پښتو (یخني) کلمه ده، چه اوس د سرما او زمستان په معناو مستعمله ده.

[۱] فرهنگ نظام، ج ۳ ص ٤٥.

[۲] نمونهٔ ادبیات ایران.

[۳] فرهنگ نظام، ج ۲ ص ۱۲٤.

[٤] فرهنگ نظام، ج۲ ص ۱۵۱.

[٥] تاریخ عمومي عالم، ج۱ ص ۳۷۷.

[٦] فرهنگ نظام، ج۵ ص ۱۱۰.

[۷] تاریخ عمومي عالم، ج۱ ص ۳۷۷.

داکلمه په اوستاکي (ايسي) ده، چه (س) په (خ) اوښتي دي، او په سنسکريت (يخ) د بريښيدلو په معنا و، چه د يخي صفت دي، او د سنسکريت (ج) په اوستاکي په (س) اوښتي و.[1]

له دې لنډې مقايسې څخه چه فقط په يو څو لغتوکي وسوه، د پښتو نزديوالي له هغې زړې پارسي ژبې سره هم ښکاري، او دا څرگندوي، چه زړې پارسي هم باختري عناصر درلوده.

[1] فرهنگ نظام، ج۵ ص ۵۴۸.

د زړو ژبو او پښتو عروض Versification

په آریائي اقوامو کي زاړه کتب او آثار ټول نظم دي، لکه د کتاب په لومړیو برخو کي چه اشاره وسوه، ریګویدا او ګاتها دواړه یو راز نظم دي، دا نظمونه په مخصوصو لحنو او وزمو ویل کېده، تر دې حده چه اسلامي مورخینو د زردشت کتاب اوستا زمزمه باله.[1] علاوه پر دغو کتابو د هند آریائیانو ډېر نور منظومات هم درلوده، د دوي قصص او روایات لکه مهابهارتا او رامایناً او نور ټول منظوم وه، په دوي کي نظم دوني رواج درلود، چه اکثر علوم لکه طب، نجوم، ریاضیات ئې منظوم کړي وه، او دا منظومات به ئې په یادوله، البیروني دا مطلب په ښه ډول تصریح کوي، حتي دي وایي چه ما د اقلیدس او مجسطي او اسطراب ترجمه په سنسکریت کي دوي ته وکړه، دوي فوراً په اشلوک یعني یو راز نظم تبدیل کړه.[2]

ځکه چه نظم په دوي کي ډېر رواج درلود، او اکثر دیني او علمي او ادبي متون ئې منظوم وه، نو هم له دې جهته د نظم کولو علم (چهند) لکه دمخه چه مو ویلي دي، په ویدي علومو کي ډېر اهمیت درلود، او پر هر عالم لازمه وه، چه دا علم زده کړي.

د آریائي اقوامو قدیم منظومات، په سنسکریت او اوستا او پهلوي ژبو کي د سلایبل (هجا) په حساب وه لکه اوس چه په اروپائي ژبو کي هم دغه نظمي اصول جاري دي، د منظوماتو د ټوټو د سلایبل (ګڼ) تناسب او په شمیر کي مطابقت ضروري و، قافیه ډېره لازمه نه وه.[3]

که څه هم د سنسکریت علم العروض (چهند) ډېر ارت علم دي، او هم ډېر کتابونه پکښي کښل سوي دي، او علامهٔ البیروني پخپل کتاب الهند کي یو باب د دغه علم د تفصیل لپاره مخصوص کړي دي، مګر اساسي قاعده هغه د سلایبل (ګڼ) شمیر دي. البته د شعر ټوټې په هر موقع کي د ګڼ په حساب بیل بیل رنګ مومي، او اوزان او بحور هم له دې لامله تغیر کوي.

د پښتو د خپل شعر او نظم اساس هم د ګڼ حساب دي، چه د یو نظم او شعر ټوټې د دغه حساب له رویه باید برابري وي او دا ډول اشعار تر اوسه هم په پښتو کي سته، ټول ملي اشعار یعني هغه شعرونه چه د پارسي او عربي په تقلید کي ندي ویل سوي، دغه رنګ او خاصیت لري.

البته پښتو ځني مدون او مردف اشعار هم لري چه د پارسي د غزل قصیدې، رباعي او نورو بحورو پر وزن ویل سوي دي، مګر که دقت وکړو هغه هم تر عربي عروض چه خلیل بن احمد ته منسوب دي، نسي لاندي کیداي.

---

[1] د مسعودي مروج الذهب.

[2] کتاب الهند، ج ۱ ص ۱۸۱.

[3] فرهنګ نظام، ج ٤.

نوګويا ټول پښتو اشعار، کم چه په ديوانوکي مضبوط دي يا شفاهي اشعار چه خلق ئې لولي، او سينه په سينه نقل کيږي، د سلايبل اوګړ پر حساب برابريږي، مثلاً د پښتو د ملي شعر يو مهم وزن لنډۍ ده، چه د دغه لومړۍ مسرۍ به ضرور (۹) ګړه، او دوهمه مسرۍ به ئې (۱۳) وي،چه د يوې لنډۍ مجموع ګړونه (۹+۱۳)=۲۲ کيږي.

د پښتو علم العروض (چهند) هم پر دې اساس بنا کيږي، او دا دګړ حساب يو خاص آريائي عروضي اساس دي چه په ټولو هندو اروپائي ژبوکي له قديمه پاته دي. د پښتو او سنسکريت او اوستا زاړه منظومات ټول تر دې علمي اساس لاندي دي، او په ټولو اروپائي ژبوکي دا قانون په نظم کي جاري دي.

اما د خليل بن احمد عروض يو سامي اساس دي، چه پارسي ژبه ئې هم تر خپل اثر لاندي کړې ده، او دا کار هم تر اسلام وروسته درې څلور سوه کاله پس سوي دي، البته د پارسي زاړه آثار به هم لکه پهلوي پر قديم آريائي قانون برابر وه.

پاي

تر دې ځايه ما د لوي ښتن په مدد د پښتو ادب لومړی ټوک وکيښ، او په دې برخه کي مي هغه ابحاث سره يو ځاي کړه، کم چه د پښتو پر اصالت او قدامت دلالت کوي.

ځکه چه دا کتاب پخپل مبحث کي اول کتاب دي، او دمخه چا په دې کارګوتي ندي پوري کړي، او هم ماخذ او مراجع نسته، نوکه زه په ځينو خبروکي تير وتي يم، ښائي چه پوهان به ما وبخښي.

کابل، جوی شير، د سهار ۹ بجې ۲۳ د جوزا ۱۳۲٤

استدراک

بد=بت

د کتاب په ۷٦ مخ کي د (بد=بت) بحث سته، او هلته د البيروني له کتاب الهند څخه د (بدهـ) اصل بيان شوي دي، وروسته چه ما آثار الباقيه وکوت البيروني وايي چه د ماني په (شاپورگان) کتاب کي هم د هندوستان مشهور داعي (بودا) د (بد) په ډول راغلي دي. د آثار الباقيه فاضل مترجم (صيرفی) په حاشيه کي ليکي، چه (بد) په عربي کي هم د (بت) په معنا و لکه ابوالعلاء معری چه د دنيا غندنه کوي او وائي:

و القلب من اهوائه عابد   ما يعبد الکافر من بده

(د آتار الباقيه ترجمه، ص ۲۲۹)

تومان

په ۱۳۱ مخ کي چه د زردشت نوم سپيتمان تحليل شوي دي د نامه آخره ټوټه (تومان) دي چه په پښتو ئې تومنه بولي. دا نوم په صريح ډول البيروني (سفيد تومان) ليکلي دي چه د (سپين تومان) پارسي شکل دي.

د آثار الباقيه فاضل مترجم چه د دغه کتاب ځيني برخي، له قديمو نسخو څخه لاس ته راوړي دي، هلته د زردشت په مبحث کي دا کلمه راغلې ده (د آثار الباقيه د ترجمې آخر).

د دې کتاب ماخذ

دکتاب په ليکلوکې ما له ځينوکتابو څخه اسفاده کړيده، او هر مقصد چه مي له يوه‌کتابه را اخستي دي، د مخو په لاندي برخه‌که مي هغه‌کتاب او مخ او ټوک ښولی دي، دلته فقط د هغوکتابو نومونه بيل راوړم. (حبيبي)

١- قاموس فيروز آبادی
٢- اقرب الموارد
٣- معيار اللغه
٤- تعريفات سيد شريف جرجانی
٥- دايرة المعارف بستانی
٦- علم الادب
٧- جواهر الدب هاشمی
٨- ارشاد القاصد سخاوی
٩- روح تنقيد، محی الدين قادري
١٠- ادبيات انکليسی بروک
١١- د ادبياتو زدکړه جان مورلی
١٢- عين الادب و السياسه د ابن هذبل
١٣- مقدۀ ابن خلدون
١٤- طبقات الادباء
١٥- محجم الادباء - ياقوت
١٦-کشف الظنون - حاجی خليفه
١٧-کشاف اصطلاحات فنون - تهانوی
١٨- تاريخ ادبيات ايران - جلال همائی
١٩- نفايس الفنون
٢٠- انسکلوپيډيا بريتانيکا
٢١- انسکلوپيډيا - امريکانا
٢٢- زبدة الصحايف فی اصول المعارف
٢٣- الفلسفة اللغويه - جرجی زيدان
٢٤- آرينز -گورډن چائيلډ
٢٥- پښتوگرامر - راورټی
٢٦- تمدن ايرانيان خاوري - جيگر
٢٧- ايران قديم - پرينا
٢٨-کمبرج هستري آف انډيا - ج ١
٢٩- ويدک انډيا راگوزن
٣٠- تاريخ هريوډوټ- مکالي
٣١- تمدن هند -گوستاو لوبون
٣٢- هند قديم
٣٣- تاريخ هنديها - هنتر
٣٤- اثار عتيقۀ آريا
٣٥- هند ريگويدي - داس
٣٦- هند و اروپائی - دولا واله دوپوسن
٣٧- تاريخ افغانستان -کهزاد
٣٨- هند قديم - پاينکار
٣٩- اوستا - دارمستتر
٤٠- ميخي خطوط - ويسباخ
٤١- مردمان قديم
٤٢- مقدمۀ تاريخ هند قديم - اکبر شاه
٤٣- ريگويدا ـگريفت
٤٤- اتهروا ويدا -گريفت
٤٥-گاتها - پور داؤد
٤٦- قاموس پښتو - راورټي
٤٧- قاموس پښتو - پښتو مرکه (قلمي)
٤٨- تاريخ مرصع - افضل خان خټک
٤٩- تاريخ ادبيات ايران - براون
٥٠- تاريخ شرق اقصی
٥١- هند مدنيت بخش
٥٢- ريگويدک کلچر
٥٣- حيات افغاني - حيات خان
٥٤- آريانا -کهزاد
٥٥- مها بهارت اردو - افق
٥٦- مطالعات افغانی
٥٧- جغرافيای هيرودوت - ويلر
٥٨- جغرافيای تاريخي ايران - بارتولډ
٥٩- انسکلوپيډياي اسلام
٦٠- تاريخ باختر - راولسن
٦١- تاريخ الکامل ابن اثير
٦٢- تاريخ طبري - ابن جرير
٦٣- تاريخ سيستان
٦٤- عمل صالح (شاه جهان نامه)
٦٥- پښتانه شعراء - حبيبی
٦٦- پټه خزانه - ناشر حبيبی
٦٧- متريديتس، ج١ - ايډلنگ
٦٨- وقايع کابل- الفن سټون

۶۹-گرامر پښتو - بیلو
۷۰- ترانهاي ملي افغان - دارمستتر
۷۱-گرامر پښتو - ترومپ
۷۲- سلسلهٔ لسانیات اکادیمي لنین گراد، ج ٤
۷۳-گرامر پښتو - لوریمر
۷٤- راپورت السنهٔ هند ـ گریرسن، ج ۱۰
۷۵- علم ادیان ـ فرلانگ
۷٦- معلومات هندي ـ ویبر
۷۷- مذهب ویدي - اولډنبرگ
۷۸- مذهب ویدي - بلومفیلډ
۷۹- تاریخ ابو الفداء
۸۰- حدود العالم
۸۱-گزیټر افغانستان
۸۲- نسبت نامهٔ افاغنه - عبدالسلام خان
۸۳- فرهنگ اوستا
۸٤- خورده اوستا
۸۵- قاموس هندي و انگلیسي ـ ډنکن فوربس
۸٦- السنه پامیر
۸۷- طبقات ناصری (قلمی) جوزجانی
۸۸- فرهنگ نظام - محمد علی
۸۹- ویدا در ممالک شمال - لاکمینا
۹۰- تاریخ ادبیات سنسکریت - مکډونل
۹۱- جغرافیاي شمال غرب هند
۹۲- آرین ساختن هند - دوت
۹۳-کتاب الهند - البیرونی
۹٤- بودهست انډیا
۹۵- تعلیمات ویدا
۹٦- التنبیه و الاشراف - مسعودی
۹۷- مفاتیح العلوم - خوارزمي
۹۸- المنجد
۹۹- الصیدله - البیروني
۱۰۰- مخزن الا دویه
۱۰۱- فقه اللغه پښتو - یعقوب حسن خان
۱۰۲- دساتیر آسماني
۱۰۳- منوشاستر
۱۰٤- مجلهٔ آثار عتیقهٔ هند، ج۱۱
۱۰۵- زین الاخبار - گردیزي
۱۰٦- آداب الحرب - فخر مدبر
۱۰۷- آثار الباقیه - البیرونی
۱۰۸- تفسیر الجواهر - طنطاوی جوهری
۱۰۹- تاریخ ادبیات ایران ـ شفق
۱۱۰-گرامر اوستا - جکسون
۱۱۱- جورنال ایشیاتک سوسایتی ۱۸۷۲
۱۱۲- مروج الذهب مسعودی
۱۱۳- دبستان مذاهب - فاني
۱۱٤- لغت فرس - اسدي
۱۱۵- تاریخ عمومي عالم ـ رضا اخوی
۱۱٦- فرهنگ ناصری
۱۱۷- مجلهٔ آریانا - کابل
۱۱۸- تعلقات هند و عرب - سید سلیمان ندوی
۱۱۹- فتوح البلدان - بلاذری
۱۲۰- چچ نامه، ترجمهٔ الیت
۱۲۱-کتاب البلدان ـ ابن فقیه همدانی
۱۲۲- آثار البلاد ـ قزوینی
۱۲۳- مزارات بلخ (قلمی) محمد صالح ورسجی
۱۲٤- معلومات زرتشتي - جیکسون
۱۲۵-گرشاسپ نامه
۱۲٦- شهنامه - فردوسی
۱۲۷- قانون مسعودی - البیرونی
۱۲۸- فرهنگ نوبهار
۱۲۹- فرهنگ انندراج
۱۳۰-گنج دانشش
۱۳۱- مجلهٔ کابل
۱۳۲- سرگذشت الفاظ - میکس میولر
۱۳۳-گرامر ویدی - مکډونل
۱۳٤- سخندان فارس ـ آزاد
۱۳۵- آثار العجم - فرصت
۱۳٦- دروس پهلوی
۱۳۷-کتاب الهند - البیروني
۱۳۸- مطالعات ایراني - دارمستتر
۱۳۹- نمونهٔ ادبیات ایران